بسم الله الرحمن الرحیم

# شیخ زاید پوهنتون

## شیخ زاید علمي - څېړنیز ژورنال

د شیخ زاید پوهنتون علمي څېړنیزه درې‌میاشتینۍ خپرونه

( ټولنیز او طبیعي علوم )

د ۱۴۰۴ل (۱۴۴۶ ق) کال لومړۍ ګڼه، غبرګولې ـــ پرله‌پسې ۳۸مه ګڼه

۳۸

# شیخ زاید پوهنتون

# علمي څېړنو معاونیت

# علمي مجلې آمریت

# علمي مجلې عمومي مدیریت


د امتیاز خاوند: شیخ زاید پوهنتون

مسؤول مدیر: پوهندوی دکتور سبحان الله شهاب

علمي مجلې عمومي مدیر: نورمحمد انقلابي

علمي مجلې نشراتو مدیر: رحیم الله راحل

متونو سمونې مدیر: نعمت الله ذهین

برېښنالیک: journals@szu.edu.af




| کتنپلاوی | |
|---|---|
| پوهنوال  محمد شفیق مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال  عبدالخلیل افغاني | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال زرولي صدیقي | ټولنیزو علومو پوهنځی |
| پوهنوال محمد الله مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال عبدالتواب عزیزي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهنوال امان الله ځدراڼ | حقوقو او سیاسي علومو  پوهنځی |
| پوهنوال شفیع گل شفیقي | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال صالح خان صالح | کمپیوټر ساینس پوهنځی |
| پوهنوال سید کمال شاه بنوري | شرعیاتو پوهنځی |
| پوهندوی دوکتور سبحان الله شهاب | ژبو او ادبیاتو پوهنځی |
| پوهندوی غازي جان محمدي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهندوی نقیب الله عطیش | ژورنالېزم او عامه اړیکو  پوهنځی |
| پوهنمل گوهرشاه گوهري | کمپیوټر ساینس پوهنځی |




پته: شیخ زاید پوهنتون، علمي څېړنو معاونیت، د علمي مجلې آمریت خوست- افغانستان

۰۰۹۳۷۷۷۷۹۱٦۵۳ / ۰۰۹۳۷۷۴۳۰۲۴۷۷

## د علمي ـ څېړنيزې مقاله ليکنې لارښود

درانه څېړونکي دې د علمي مقالې د ليکلو پر وخت لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

- ✓ مقاله بايد مخکې نشر شوې نه وي او نه هممهاله بلې مجلې ته لېږل شوې وي.
- ✓ د کتابتوني مقالې اړين توکي په ترتيب سره دا دي: عنوان، د ليکوال نوم او پته، لنډيز، کليدي کلمې، سريزه، موخې، کړنلاره او کارتوکي، اصلي متن، پايله، وړانديزونه، اخځليکونه او د طبيعي علومو په علمي مقالو کې مناقشه هم اړينه ده.
- ✓ عنوان بايد مانا لرونکی او له موضوع سره بشپړ مطابقت ولري. د کلمو شمېر يې له (۱۵) څخه زيات نه وي، سايز يې بايد (۱۴) بولډ او د پاڼې په منځ کې وي.
- ✓ د ليکوال پېژندنه دې په دې ډول وي: د ليکوال علمي رتبه، بشپړ نوم، تخلص، پوهنتون، پوهنځی او څانګه. ورپسې دې لاندې ښي اړخ ته په (۱۱) سايز کې برېښناليک راوړل شي.
- ✓ لنډيز دې د (۲۰۰- ۲۵۰) کلمو پورې وي او د لنډيز عنوان دې (۱۲) بولډ وي.
- ✓ کليدي کلمې دې د الفبا په ترتيب له (۵- ۷) پورې راوړل شي.
- ✓ سريزه دې په بسم الله الرحمن الرحيم او د الله تعالی په ثنا او صفت پيل شي ورپسې دې د موضوع وضاحت، ستونزې، موخې، پخوانيو ليکنو ته کتنه، د څېړنې اهميت او تګلاره راوړل شي.
- ✓ د موخو ليکلو لهپاره دې (SMART) ته پاملرنه وشي، يعنې موخې دې مشخصې، د اندازه ګيرۍ وړ، د لاسرسي وړ، په واقعيت ولاړې او د وخت مطابق وي.
- ✓ د څېړنې اهميت او تګلاره کې دې واضح شي، چې کومې نيمګړتيا دغه څېړنې ته هڅولی يې؟ په کوم سبب زما څېړنه مهمه ده؟ کومو لوستونکو سره به مرسته وکړي او څه مثبت تغير پېښولی شي؟
- ✓ په تګلاره او کارتوکو کې دې خپل د ليکنې روش او تګلاره څرګنده شي او د ميتود ډول دې واضح شي.
- ✓ په اصلي متن کې دې له امانتدارۍ او د ماخذ ليکلو له سمې طريقې استفاده وشي. د قران کريم او نبوي احاديثو په ژباړه کې دې دقت وشي او په خنجري ليندېو ﴿﴾ کې دې ونيول شي. د مقالې د کلمو شمېر

دې (۵۰۰۰ - ۶۰۰۰ ) کلمو پورې وي، لیکنه دې د لیکدود او ګرامر له مخې سمه وکښل شي، د پښتو لهپاره (Bahij Zar) ، د دری لهپاره(Bahij) فونټونه، د عربي لهپاره (Traditional Arabic) او د انګلیسي متن لهپاره دې (Time New Roman) فونټونه وکارول شي .

- ✓ له منځپانګې بشپړولو وروسته دې پایله، مناقشه او نتیجه ګیري راوړل شي. په پایله کې دې هره نتیجه په ځان ته پراګراف کې راوړل شي.
- ✓ وړاندیزونه دې د پایلې، مناقشې او نتیجه ګیرۍ څخه په الهام راوړل شي.
- ✓ د انګلیسي (Abstract) د لیک سایز دې (۱۲) وي، د کلمو شمېر دې یې د (۲۰۰- ۲۵۰) وي. د (Abstract) لاندې دې (Key Words) راوړل شي، چې شمېر یې د (۵- ۷) پورې وي او د (Abstract) سر ته دې په انګلیسي ژبه د لیکوال بشپړ نوم، علمي رتبه، پوهنځی، څانګه، ګرځنده شمېره، برېښنالیک، د تقریظ ورکوونکي بشپړ نوم او د مقالې عنوان ولیکل شي.
- ✓ مأخذونه باید د الفبا په تورو ترتیب، شمېر یې له اتو کم نه وي، د ټولنیزو علومو مأخذونه دې د (APA style) کې او د طبیعي علومو مأخذونه دې د (Vancouver Style) کې راوړل شي.

| گڼه | سرلیکونه | لیکوال | مخگڼه |
|---|---|---|---|
| | د ټولنیزو علومو برخه | | |
| ۱ | د جرم مادي عنصر تر سره کول په نا تکمیل شوې بڼه | پوهنوال عبدالرحمن رحیمي | ۱ |
| ۲ | په خوست کې ولایت کې د ښځو میراث حق څېړنه | پوهنوال حسام الدین رحیم‌زی | ۱۱ |
| ۳ | سانسور | پوهنوال محمدخان نیازی | ۳۱ |
| ۴ | د قران کریم اسباب النزول پېژندنه | پوهنوال سیدکمال شاه بنوري | ۴۵ |
| ۵ | د ملګرو ملتونو په سازمان کې د قواوو تفکیک | پوهنوال محمدالله مندوزی | ۵۹ |
| ٦ | شعر او ترنم د اسلام لهٔ نظره | پوهندوی ظاهر شاه زهیر | ۷۳ |
| ۷ | په معاصره ټولنه کې د عامه اړیکو ارزښت | پوهندوی اسدالله تنی | ۸۵ |
| ۸ | د سازمان په مدیریت کې د عامه اړیکو ونډه | پوهنمل محمد یوسف ثاقب | ۹۵ |
| ۹ | مرور بر عقاید دینی در تمدن مصر باستان | پوهنمل فقیرالله اسایش | ۱۲۵ |
| ۱۰ | تاثیر اخلاق استاد در جذب آموزش و توانمندی محصلان | پوهنمل عبدالبصیر حکیمي | ۱۴۱ |
| ۱۱ | د هېواد په اقتصاد باندې د خارجي پانګونې تاثیرات | پوهنمل خالد پښتون | ۱۵۵ |
| ۱۲ | د انګلیسي ژبې زده کړې په پرمختګ کې د ځیرک ټیلیفونونو رول | پوهنمل سیف الرحمن رحماني | ۱٦۵ |
| ۱۳ | په خوست کې د کوچنیو کاروبارونو د له منځه تلو علتونه او حل لارې | پوهنمل رحمت الله منګل | ۱۷۵ |
| ۱۴ | په افغانستان کې د سوداګریزو معاملاتو د تشخیص حقوقي اړخونه | پوهنیار یعقوب جان صمیم | ۱۸۵ |
| ۱۵ | د ښاري لوحو د سمونې او اصلاح ارزښت | پوهنیار حمدالله وصال | ۱۹۹ |
| ۱٦ | د عامه اړیکو ستراتېژیک مدیریت لپاره اساسي تیوری | پوهنیار هارون برهان | ۲۰۷ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۷ | د انګلیسي ژبې د ژباړې اغېزې پر نورو ژبو | پوهنیار شمس الرحمان ځدراڼ | ۲۲۷ |
| ۱۸ | د اسلامي فقهې او مدني قانون له نظره د نسب د ثبوت سببونه، طریقې او آثار | پوهنیار عبدالوهاب ایوبي | ۲۴۷ |
| **د طبیعي علومو برخه** | | | |
| ۱۹ | تحلیل دوره‌های برقی با استفاده از معادلات دیفرانسیلی خطی با ضرایب ثابت | پوهنوال احدخان پیاوړی | ۲۵۹ |
| ۲۰ | د خوړو پر سالمیت د اقلیمي بدلون اغېزې | پوهندوی محمدحنیف هاشمي | ۲۷۱ |
| ۲۱ | د پیازو پر تولید او اقتصادي ګټورتوب د کر فاصلې او نایتروجن اغېزې (اقتصادي ګټورتوب پرتلنه) | پوهندوی قسیم الله ریان، پوهنمل احمدیار احمدي، پوهنمل قیام الدین اباد، پوهنوال شفیع ګل شفیقي | ۲۹۱ |
| ۲۲ | پر روغتیا د خوړو غیر سالمیت ناوړه اغېزې | پوهندوی محمد حنیف هاشمي | ۳۰۵ |
| ۲۳ | بنزیل زنک کلوراید استعمال ځېړل | پوهنیار زرګل منګل | ۳۲۳ |
| ۲۴ | د کرنیزو آفت وژونکو ډولونه او د هغوی د اغېزو ارزونه | پوهنیار عبدالولي حقیار | ۳۳۷ |
| ۲۵ | د کمپلکس مرکباتو ساختماني ایزومیري | پوهنیار محمد نور محمدي | ۳۵۱ |
| **Page** | **Abstracts in English** | | |
| 361 | | | |

# د جرم مادي عنصر ترسره کول په نا تکمیل شوې بڼه

پوهنوال عبدالرحمن رحیمی، شیخ زاید پوهنتون، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، حقوق څانګه.
برېښنالیک: Abdurahmanrahimi97@gmail.com

**لنډیز**

د جرم مادي عنصر د جرم له قانوني عنصر وروسته دویم مهم عنصر دی، چې د جرم په تشکیل کې مهم نقش لري. له دې امله اړینه ده چې د جرم د مادي عنصر اجرا، په ځانګړې توګه د هغې د پیل حالتونه په دقیقه توګه وپېژندل شي. د جرم مادي عنصر د جرم د کولو یا د هغې له پیلولو څخه عبارت دی. له دې امله په زیاترو مواردو کې کېدلای شي یو جرمي عمل بشپړ شي او له هغې څخه جرمي نتیجه لاسته راشي او کله هم بشپړ نشي او یواځې پیل ور باندې وشي او نتیجه هم لاسته رانشي. په دې مقاله کې به د یادو مواردو څخه دویم مورد یعنې د جرم مادي عنصر پیل او د هغې اړونده موضوعات د کتابتوني راټولیدنې په توګه تشریح شي، په ترتیب سره به ارادي انصراف، د ارادي انصراف او ندامت ترمنځ توپیرونه، تشبث په جرم، د تشبث شرطونه، د عقیم جرم او تشبث ترمنځ توپیر، د تشبث جزا، پر جرم د تشبث په هکله د اسلامي شریعت دریځ د بحث لاندې ونیول شي او موضوع به په هر اړخیزه توګه د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو په رڼاکې د جدا جدا عنوانونو په ترڅ کې وڅېړل شي. د جرمي او غیر جرمي عملونو ترمنځ به توپیر وشي او د تشبث حالت او د جرم د مادي عنصر د اجرا د نورو حالتو ترمنځ به توپیرونه په ډاګه شي.

**کلیدي ټکي:** ارادي انصراف، تشبث په جرم، پر جرم د تشبث په هکله د اسلامي شریعت دریځ، د تشبث شرطونه، د عقیم جرم او تشبث ترمنځ توپیر، د تشبث جزا.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

په دې کې شک نشته چې په هره ټولنه کې هم جرم شته، هم مجرم شته او هم د جرم د ارتکاب لپاره بېلا بېل عوامل شته . له دې امله ده چې په هره ټولنه کې زیات شمېر وګړي د جرمونو له ارتکاب څخه ځوریږي. جرمونه له دې کبله چې هر جرم یو ناروا فعل دی او پر هر جرم جزا ایښول شوې، ټول سره شریک دي او هر جرم د درېیو عناصرو د اجرا وروسته بشپړېږی، چې د قانوني، مادي او معنوي عناصرو څخه عبارت دي. د جرم قانوني عنصر د یوه عمل اجرا، چې د اسلامي شریعت او د جزا قانون له خوا د دغه عمل اجرا منعه شوی وي یا د یوه عمل د اجرا څخه امتناع څخه، چې د اسلامي شریعت او د جزاقانون له خوايې پر اجرا حکم شوی وي، عبارت دی. د جرم مادی عنصر عملاً او مادتاً د یوه جرمي عمل اجرا یا د جرمي عمل له پیل څخه عبارت دی. د جرم معنوي عنصر د یوه جرمي عمل په اجرا کې، د فاعل شخص د ارادې له شتون څخه عبارت دی. څرنګه چې زموږ د بحث مو ضوع د جرم د مادي عنصر په اړه ده، له دې کبله د جرم د قانوني او معنوي عنصر د بحث څخه ډډه کوو او خپله لیکنه (د جرم مادي عنصر) په توضیح باندې راڅرخوو

## موخې

د دې علمي مقالې څخه لاندې موخې په پام کې نیول شوې دي.

۱- د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو له پلوه د جرم مادي عنصر پرتلیزه څېړنه.

۲- د تشبث حالت او د جرم مادي عنصر د اجرا د نورو اقداماتو ترمنځ توپیر.

۳- د جرمي او غیر جرمي عملونو ترمنځ توپیر.

## د کار مواد او میتود

د مقالې په ترتیب کې د معتبرو علمي کتابونو، مقالو او قوانینو څخه ګټه اخیستل شوې ده او همدارنګه د مقالې مواد د کتابتوني څېړنې په بنه تر ډېره حده د موضوع د اړونده موادو څخه د عمومي برداشت په اخیستنې سره په روانه ژبه او د صفحې د منځنې ماخذونو په ذکر کولو سره د توصیفي تحلیلي څېړنې په بڼه ترتیب شوې ده.

## د جرم مادي عنصر

په زیاترو جرمونوکې د جرم مادي عنصر بشپړېږي او غالباً د هغو څخه جرمي نتیجه لاسته راځي. د مثال په توګه سلیم غواړي د دوی د کور تر څنګ د برق غځېدلي کیبل څخه برقي انرژي غلا کړي، په همدې موخه برقي

کیبل ته د برق هادي چنگکونه اچوي او د تنویر لپاره ورڅخه په کور کې استفاده کوي. دا ډول جرم ته چې نتیجه یې لاسته راغلې وي تام جرم ویل کیږي (رحیمي، ۱۳۹۲، ص. ۸۷).

ولې کله ناکله داسې هم امکان لري چې جرم تکمیل نه شي یعنې د جرم مادي عنصر د ځینو عواملو پربنسټ بشپړنه شي او مجرم په خپله اراده یا په غیر ارادي توګه د جرم مادي عنصر د پاتې برخې د تکمیل څخه لاس په سر شي، چې دغه حالت ته تشبث په جرم وايي (دانش، ۱۳۹۹، ص. ۱۴٦).

د دې لپاره چې زموږ د بحث موضوع ډېره اوږده نشي، په (بشپړ شوي شکل د جرم مادي عنصر د ارتکاب) څخه تېرېږو او مشخصاً (د جرم مادي عنصر اجرا په ناتکمیل شوې توګه) موضوع په لاندې توګه د دوو بېلابېلو مبحثونو په ترڅ کې، په ترتیب سره په لومړي مبحث کې (ارادي انصراف) او په دویم مبحث کې (تشبث په جرم) جدا جدا مطالعه کوو.

لومړی مبحث-ارادي انصراف : ارادي انصراف په دې معنا دی، چې شخص د جرمي نتیجې د لاسته راوړلو څخه وړاندې په ارادي توګه د جرمي عمل څخه منصرف شي. د ارادي انصراف په صورت کې جرم نه واقع کیږي او شخص د جرمي عمل د شروع څخه مسؤول نه ګڼل کیږي؛ خو که چېرې جرم ترسره شوی وي او نتیجه یې لاسته راغلې وي او مجرم هڅه وکړي د هغه اثار ترمیم کړي او غلا شوي توکي بیا په هماغه ځای کېږدي او هلته یې ځای پر ځای کړي، ارادي انصراف نه؛ بلکې دغه عمل ندامت یا پښیماني بلل کیږي، ځکه ارادي انصراف له وروستۍ نتیجې څخه وړاندې صورت مومي، په داسې حال کې چې ندامت همیشه له وروستۍ نتیجې څخه وروسته د جرم د پټ ساتلو یا د هغه د اثارو له منځه وړولو په غرض تر سره کیږي. له دې امله ندامت یا پښیماني د عمل جرمي وصف له منځه نه وړي، ولې د مخففه حا لاتو په حیث منل کیږي (صانعي، ۱۳۸۲، ص. ۳۴۷).

د ارادي انصراف د ښه وضاحت لپاره لومړی د ارادي انصراف او ندامت ترمنځ توپیرونه او ورپسې په ارادي انصراف کې د شخص د نه مجازات کیدو دلایل د دوو بېلابېلو عنوانو لاندې مطالعه کوو.

ارادي انصراف د ندامت سره په لاندې دوو نقطو کې توپیر لري.

**الف – د ارادي انصراف او ندامت ترمنځ توپیر**

۱- په ارادي انصراف کې جرم منځته نه راځي په داسې حال کې چې د ندامت په حالت کې جرم منځته راځي.

۲- په ارادي انصراف کې شخص ته جزایي مسؤولیت نه راجع کیږي او نه هم پر هغه جزایي مؤیدات پلي کیږي؛ ځکه په ارادي انصراف کې نه جزایي مسؤولیت شته او نه جزایي مؤیدات! په داسې حال کې چې په ندامت کې هم جزایي مسؤولیت شته او هم جزایي مؤیداشت. (دانش، ۱۳۹۹، ص. ۱۵۰).

ب – په ارادي انصراف کې د شخص د نه مجازات کېدو دلایل: داچې ارادي انصراف په حالت کې شخص د جزا وړنه بلل کېږي دغه موضوع دلایل لري، چې په لاندې توگه ترې یادونه کوو.

**لومړی دلیل – جرم ته د شخص د تشویق له حیثه**

په ارادي انصراف کې د شخص د نه مجازات کیدو یو دلیل دا دی، چې که چېرې په دغه حالت کې شخص مجرم وبلل شي، نو د پاتې جرم د تکمیل لپاره تشویقېږي؛ ځکه هغه فکر کوي چې که جرم بشپړ هم نه کړي، بیا هم د جزا وړبلل کېږي، نو د دې لپاره چې شخص د جرم د اشباع لپاره ونه هڅول شي دا به مناسبه وي، چې شخص په دغه حالت کې د جزا وړ ونه بلل شي (رحیمي، ۱۳۹۲، ص. ۸۹).

**دویم دلیل – د شخص د اصلاح او تربیې له حیثه**

په ارادي انصراف کې د شخص د نه مجازات کیدو دویم دلیل د مرتکب شخص اصلاح او تر بیه ده، ځکه چې جزا په مجرم باندې دغچ اخیستلو په غرض نه؛ بلکې د هغه د اصلاح او تربیې په موخه پلې کېږي. داچې د ارادي انصراف په حالت کې شخص له وړاندې اصلاح شوی اوغالباً د هغه څخه دا ویره نشته چې بیا به د جرم مرتکب شي له دې امله په دغه حالت کې د هغه د مجازات کیدو اړتیا نشته (رحیمي، ۱۳۹۲، ص. ۸۹).

دویم مبحث- تشبث په جرم

لکه چې وړاندې مو یادونه وکړه د ځینو عواملو د موجودیت پر بنسټ کله ناکله د جرم مادي عنصر نه بشپړیږي، له دغو عواملو څخه ځیني یې داخلي جنبه لري لکه د مجازاتو د ترحم له امله د جرم د ارتکاب څخه د فاعل شخص انصراف، چې وړاندې مو د ارادي انصراف تر عنوان لاندې مطالعه کړ؛ ولی کله ناکله ځیني عوامل جبراً د دې سبب کېږي چې مجرم د خپلې ارادې پرته د جرمي اقداماتو څخه په شا شي، دغه حالت د تشبث حالت په نوم یادیږي. د دی لپاره چې د تشبث په حالت ښه پوه شو لومړی د تشبث حالت، شرطونه او ورپسې د تشبث جزا د بېلا بېلو عنوانو په ترڅ کې تر مطالعې لاندې نیسو.

الف – د تشبث شرطونه: د افغانستان د ۱۳۹۶ هـ ل کال د جزا کوډ (۴۷) مادې د تشبث په اړه داسې صراحت لري: ((په جرم پیل د جنایت یا جنحې د ارتکاب په قصد د عمل په اجرا له پیلولو څخه عبارت دی په داسې ډول چې د هغه اثار د فاعل له ارادې څخه بهر اسبابو په پام سره متوقف یا حنثی شوي وي .)) (جزا کوډ، ۱۳۹۶، ص. ۹۴-۹۵).

د دې مادې د متن په پام کې نیولوسره د جرم د شروع د تحقق لپاره دوه شرطونه ضروري دي یو دا چې د جنایت یا جنحې د ارتکاب په قصد به د فعل په اجراء شروع شوي وي دویم داچې د جرم د ارتکاب بهیر به د

خارجي عواملو پر بنسټ دریدلی وي یعنې مجرم به په خپل میل او اراده د جرم څخه منصرف شوی نه وي( محسیني، ۱۳۸۲، ص. ۱۷۰). د موضوع د روښانه کولو لپاره دواړه شرطونه د جدا جدا عنوانو په تر څ کې مطالعه کوو.

**لومړی شرط – د جر مي عمل د اجراء پیل**

مخکې مو یادونه وکړه چې جرم د مختلفو پړاوونو د تیریدو وروسته تحقق پیداکوي او نوموړي پړاوونه سره له دې چې د جر م تحقق لپاره ضروري دي؛ ولې بیاهم که چېرې یو شخص د جرم د ارتکاب لپاره له ځینو پړاوونو تېرشي مجرم نه بلل کېږي. یا په بل عبارت دغه پړاوونه د تتشبث په عنوان د جزا وړ نه دي لکه: د جرم ارتکاب لپاره جرمي فکر، تصمیم یا د وسایلو تهیه کول، ولي د هغه وروسته که د جرم د ارتکاب لپاره کوم اقدامات پیل کېږي، دغه اقدامات د جرمي عمل د اجراء پیل ګڼل کېږي، چې د تشبث لپاره د لومړي شرط په حیث منل شوي دي یعنې د دې لپاره چې یو عمل د تشبث په حیث وګڼو لومړی باید د جر مي عمل په اجراء  پیل شوی وي رحیمي،۱۳۹۲، ص. ۹۰- ۹۱).

**دویم شرط – غیرارادي انصراف**

د دې لپاره چې د تشبث حالت تحقق پیدا کړي، یواځې دا بس نه ده چې د جرمي عمل په اجراء د شروع شوي وي؛ بلکې د دې تر څنګ دا هم اړینه ده چې د جرم د شروع وروسته او د جرمي نتیجې د منځته راتلوڅخه وړاندې دې نوموړی جرم د شخص په خپله اراده نه؛ بلکې په غیرارادي توګه د یوه خارجي علت پر بنسټ درېدلی وي ( اردبیلي، ۱۳۸۳، ص. ۲۲۳).

د مثال په توګه یو شخص د غلا په نیت د چا کورته ورننوځي؛ ولې وړاندې تر دې چې د کور څخه څه شی یوسي د کور خاوند یېویني، له دې امله د کور څخه خالي لاس بېرته وځي. لکه چې لیدل کېږي په دغه حالت کې شخص په خپله اراده نه؛ بلکې د یوه خارجي علت له امله وتلی، بناً د کور څخه د شخص فرار یو غیرارادي انصراف دی؛ ځکه شخص د کور څخه په خپله اراده نه دی وتلی؛ بلکې  د کور څخه هغه وخت په وتلو مجبور شو، چې د کور مالک یې ولید، که هغه یې نه وای لیدلای حتماً یې د سرقت جرم ترسره کاوه؛ خوکه چېرې شخص کور ته د ننوتلو وروسته پرته له دې، چې د کور مالک یې وویني یا د نورو خارجي عواملو پر بنسټ د جرم له ارتکاب څخه منصرف شي او په خپله اراده د کور څخه ووځي، نو دغه حالت غیرارادي انصراف نه؛ بلکې ارادي انصراف دی (رحیمي،۱۳۹۲، ص. ۹۱).

د ماهيت يا طبعيت له مخې ځينې جرمونه داسې دي، چې په هغه کې تشبث هېڅ معنا نه لري. يا د دې وجه دا ده، چې په دا ډول جرمونو کې جرمي نتيجه په پام کې نه نيول کېږي، يا يې وجه دا ده چې په دا ډول جرمونو کې د جرم ارتکاب د نتيجې سره تړلی عمل وي. په هغو جرمونو کې چې جرمي نتيجه په پام کې نه نيول کېږي، ښه مثال يې د رشوت جرم دی، چې يوازې د وعدې يا نقدو روپيو په اخېستلو يا د مال او منفعت په غوښتلو سره منځته راځي؛ ځکه په دا ډول جرمونو کې يا تشبث په خپله يو مستقل جرم دی، يا دا چې د تشبث له امله د يوه بشپړ جرم په څېر منځته راځي. يا لکه زهر ورکول چې يوازې د زهرو په ورکولو سره بشپړېږي، صرف نظر له دې نه چې د هغه څخه جرمي نتيجه منځته راشي يا رانشي. د هغو جرمونو په اړه چې د جرمي عمل ارتکاب يې د نتيجې سره تړلی عمل وي کولای شو د دروغو شهادت جرم په پام کې ونيسو په دې معنا، چې د دروغو شهادت جرم هغه وخت منځته راځي، چې د شهادت پربنسټ د محکمې لخوا حکم صادر شي، که د محکمې حکم نه وي صادر شوی او شخص د خپل شهادت څخه منصرف شي يعنی هغه څه چې حقيقت وي ووايي، د شهادت جرم منځته نه راځي. د ځينو دولتونو په جزايي قوانينو کې د دروغو له شهادت څخه د شاهد رجوع او د محکمې د حکم وړاندې د حقيقت بيان د شاهد مسؤوليت له منځه وړي، اګر چې دغه حالت زمونږ د جزا په قانون کې يوازې د جزا د تخفيف په حيث منل شوی دی( باذل،۱۳۶۳، ص ۸).

**ب ــ د عقيم جرم او پر جرم تشبث ترمنځ توپير**

د عقيم جرم او تشبث په جرم ترمنځ توپير دا دی چې د تشبث په حالت کې مجرم د جرمي قصد په لرلو سره خپل اجرائيوي عمليات پيلوي، ولې اجرائيوي عمليات د ځينو عواملو پربنسټ دريږي او نتيجې ته نه رسيږي، په داسې حال کې چې په عقيمو جرمونو کې د جرم مرتکب د خپل جرمي قصد د تحقق لپاره ټول اجرائيوي عمليات ترسره کوي، ولې د ده کار بې نتيجې او بې اثره پاتې کېږي(وليدي، ۱۳۸۲، ص.۲۴۳).

**ج – د تشبث پر جرم جزا**

يو شخص هغه وخت مجرم او د جزاوړ بلل کېږي چې د داسې عمل ارتکاب کوونکی شي، چې د اسلامي شريعت او د جزا قانون له خوا د جرم په حيث پيژندل شوی وي او د هغه لپاره يې لازمه جزاء ټاکلي وي. جرم د هغه عمل اجراء وي چې اسلامي شريعت او د جزا قانون د هغه د اجراء څخه خلک منعه کړي وي يا د هغه عمل امتناع وي، چې اسلامي شريعت او د جزا قانون پرې د اجراء حکم کړ ی وي، باک نه لري چې د هغو څخه جرمي نتيجه پيدا شوې وي يا نه وی پيداشوې؛ ځکه د جرم څخه د جرمي نتيجې پيداکيدل يا نه پيداکيدل د جرمونو په نوعيت پورې اړه لري دا ځکه چې عملاً د ځينو جرمونو څخه جرمي نتيجه نه پيداکېږي، خو که چېرې مجرم جرم تکميل نه کړي، يا په بل عبارت د جرم په مادي عنصر شروع وشي، په داسې ترتيب چې دغه

شروع په ارادي تو گه نه؛ بلکې په غیر ارادي توگه د یوه خارجي عامل په ذریعه ودریږي، چې په حقیقت کې دغه حالت د تشبث حالت دی، نو په دې اړه د سړي په ذهن کې لاندې پوښتنې مطرح کیږي :
ایا د تشبث حالت د جزاء وړ دی که نه ؟ که د تشبث حالت د جزاء وړ وي، نو ایا دغه جزاء به د اصلي جرم د جزاء په اندازه وي او که د هغې څخه به کمه یا زیاته وي ؟
د لومړۍ پوښتنې دځواب په هکله باید یادونه وکړو، چې د تشبث د جزاء په اړه چې ایا هغه د جزاء وړده او کنه، کوم مشکل نشته؛ ځکه په دې اړه ټول حقوقپوهان په دې باور دي چې د تشبث په حالت کې شخص د جزا وړ دی( دانش، ۱۳۹۹، ص. ۱۵۰ ).
د دویمې پوښتنې د ځواب په هکله باید یادونه وکړو، چې دغه موضوع د بحث او مناقشې وړ ده او انشاء الله نوموړې موضوع به د دوو بېلا بېلو عنوانو په تر خ کې چې په تر تیب سره، لومړی به د حقوقپوهانو نظریات او وروسته به په دې اړه د اسلامي شریعت دریځ د بحث او مطالعې لاندې ونیول شي.

**لومړی- د حقوقپوهانو نظر یات**

لکه چې وړاندې مو یادونه وکړه ټول حقوقپوهان په دې هکله یو نظر لري، چې د تشبث حالت د جزاء وړ ده یعنې د تشبث په حالت کې شخص مجرم او جزاء ورباندې پلي کیږي، ولې په دې هکله چې ایا د تشبث جزاء به د تکمیل شوي جرم په اندازه وي او که د هغې سره به کوم توپیر لري، په دې هکله حقوقپوهان یو ډول نظر نه لري. په عمومي توگه په دې اړه د حقوقپوهانو تر منځ دوې نظریې موجودې دي چې په ترتیب سره یې په لاندې توگه مطالعه کوو.

لومړۍ نظریه: هغه علماء چې دغه نظریه یې وړاندې کړې ده، د تشبث په اړه د شدیدو جزاگانو غوښتونکي دي او د تشبث د جزاء په اړه د جرم شدت او خفت ته اعتبار ورکوي. په دې معنا چې د دوی په اند په ټولو جنایتونوکې تشبث همیشه د جزاء وړ دی او په ټولو قباحتونو کې تشبث همیشه د جزاء وړ نه دی. د هغه جرمونو په اړه چې نه ډیر شدید او نه ډېر خفیف وي، یعنې ټول هغه جرمونه چې د جنحو په ردیف کې قرار لري، دغه نظریه د تشبث د جزاء لپاره د قانون صراحت په پام کې نیسي، یعنې په ټولو هغو جنحو کې چې قانون پیشبیني کړي وي تشبث د جزا وړ ده او په ټولو هغو جنحوي جرمونه کې چې د تشبث په حالت کې قانون ورته جزا نه وي پیشبیني کړې تشبث د جزا وړنه ده. دغه علماء سره له دې چې د تشبث لپاره د هغه جزاگانو غوښتونکي دي چې د تکمیل شوي جرم لپاره ټاکل کیږي، ولې بیا هم د تشبث حالت په اړه مخففه حالت مني یعني محاکم او قضات عملاً کولای شي د تشبث په اړه د تکمیل شوي جرمونو په پرتله خفیفې جزاگانې وټاکي( دانش، ۱۳۹۹، ص. ۱۵۱).

دویمه نظریه: د دې نظریې پلویان د لومړۍ نظریې د پلویانو پر خلاف د تشبث حالت لپاره د خفیفو جزاګانو غوښتونکي دي، نه د شدیدو جزاګانو. همدارنګه د تشبث حالت د جزاګانو د ټاکلو لپاره د جرم شدت او خفت په پام کې نه نیسي، بلکې هغه څه چې په دغه نظریه کې د تشبث د جزا د ټاکلو لپاره ډېر ارزښت لري د مجرم قصد دی او بس. له دې امله په ټولو قصدي جرمونو کې تشبث د جزا وړ دی او په ټولو غیر قصدي جرمونو کې تشبث د جزا وړ نه ګڼل کېږي. داچې د دغه نظریې له مخې د تشبث جزا باید د اصلي جرم د جزاڅخه کمه وي، په دې اساس علماوو د تشبث جزا د ټاکلو لپاره یو حد ټاکلی او د دوی په باور د تشبث جزا باید د اصلي جرم د جزا له نیمایي څخه زیاته او د دریېمې برخې څخه کمه نه وي( دانش، ۱۳۹۹، ص.۱۵۲).

د افغانستان د۱۳۹٦ هـ ش کال د جزا په کوډ کې هم د تشبث حالت د جزا وړبلل شوی دی، ولې په څرګنده توګه یې د تشبث جزا د اصلي جرم د جزاڅخه کمه ښودلې ده. د مثال په توګه د نوموړي کوډ (۵۰) مې مادې د جنایت جرم د تشبث جزا د اصلي جرم سره جوخت داسې ذکر کړې ده: ((په جنایت پیل کوونکی په لاندې مجازاتو محکومېږي، خو دا چې په دې قانون کې بل ډول تصریح شوي وي)).
۱- په هغو مواردو کې چې د اصلي جرم جزا اعدام وي په (۲) درجه دوام حبس.
۲ – په هغو مواردو کې د اصلي جرم جزا (۱) درجه دوام حبس وي په اوږده حبس.
۳- په هغو مواردو کې چې د اصلي جرم جزا (۲) درجه دوام حبس وي په متوسط حبس.
۴- په هغو مواردو کې چې د اصلي جرم جزا اوږد حبس وي په قصیر حبس ( جزا کوډ، ۱۳۹٦، ص. ۳٦).

همدارنګه د نوموړي کوډ( ۵۱ ) مه ماده د جنحې جرم د تشبث جزاء په اړه داسې یادونه کوي: (په جنحې د پیل کوونکې مجازات د هغې جزا چې په قانو کې د اصلي جرم لپاره پیشبني شوې ده د اقل حد له یو پر څلورمې زیاته نه وي، خو داچې په دې قانون کې بل ډول تصریح شوي وي ( جزا کوډ، ۱۳۹٦، ص. ).

همدارنګه د یاد کود په(۵۳ ) مه ماده کې د قباحت د جرم شروع کوونکی د جزا وړ نه ګڼل کېږي.
د دې قانون د( ۵۴) مې مادې له مخې د تبعي یا تکمیلي جزاګانو او امنیتي تدبیرونو پورې ځانګړي حکمونه چې د بشپړ شوي یا تام جرم په هکله په پام کې نیول شوي، د نوموړي جرمونو د تشبث حالت لپاره هم د اعتبار وړ دي.

**دویم ـد جرم د تشبث په هکله د اسلامي شریعت دریځ**

په اسلامي شریعت کې جرمونه په تامو او ناتامو ډولونو ویشل شوي دي او په دې اړه یې عامه قاعده وضع کړې ده. د حدودو او قصاص په جرمونو کې د تام جرم جزاء د نا تمام جرم سره برابره نه ده او د دې قاعدې څخه وتل

د حدودو او قصاص په جرمونو کې امکان نه لري. د مثال په توګه که څوک د زنا په جرم شروع وکړي او هغه بشپړ نه کړي، نو په شروع کوونکي باندې د زنا د تام جرم جزا، چې د محصن لپاره د رجم او د غیر محصن لپاره درې دي نه پلي کېږي یا د غلا په جرم باندې د شروع په حالت کې د اصلي جرم جزا چې قطع ده نه پلي کېږي. دغه قاعده د حضرت رسول اکرم صلي الله علیه وسلم د دې حدیث څخه سرچینه اخلي چې فرمایلې یې دي:(( من بلغ حدا من غیر حد فهو من المعتدین.)) ژباړه : څوک چې چاته د حد پر ته د حد جزا ورکوي دا په حقیقت کې پر هغه باندې تېرى دی (البیهیقي، ۲۰۰۳، ص. ۵۶۷).

داچې په اسلامي شریعت کې د تام جرم جزا د نا تمام جرم په اندازه نه ده ، د دې دوې وجې دي، یوه وجه یې داده، چې د فعل د شروع او انجام تر مینځ ډېر توپیر او تفاوت موجود وي، نو له دې امله مجر م باید په هغه اندازه جزاء وموميي په کومه اندازه یې چې جرم تر سره کړی، نه د هغه نه زیاته؛ ځکه که چېرې په مجرم باندې د خپل حد څخه زیاته جزا تطبیق کړو، نو په حقیقت کې دا پر هغه باندې تېرى دی. دویمه وجه یې داده چې که چېرې مونږ تام جرم د نا تمام جرم سره مساوي وګڼو، په دې معنا چې کومه جزا د اصلي جرم نه مجرم مومي په هماغه اندازه د غیر تام جرم څخه هم ومومي، نو په دې صورت کې مجرم دې ته هڅول کېږي، چې د شروع وروسته خامخا جرم بشپړ کړي؛ ځکه مجرم فکر کوي چې په شروع باندې د تام جرم جزا مومي، نو ولې هغه نه ترسره کوي. که څه هم دغه قاعده یواځې د حدودو او قصاص جرمونو په باره کې ده، ولې امکان لري د تعزیري جرمونو شروع د حدودو او قصاص په جرمونو قیاس کړو او ووایو چې هغه عامې قاعدې، چې د حدودو او قصاص په جرمونو باندې جاري کېږي هغه په تعزیري جرمونوهم جاري کیدلای شي؛ ځکه د جرمونو دا دوه ډولونه ( حدود او قصا ص ) د جرم مهم ډولونه دي او کوم شی، چې په مهمو جرمونو جاري کېږي په غیر مهمو جرمونو یې هم د تطبیق امکان شته ( عوده، ۱۳۸۴، ص. ۳۲۹).

**وړاندیزونه**

د جرم مادي عنصر د جرم قانوني عنصر وروسته دویم مهم عنصر دی چې د جرم په تشکیل کې مهم نقش لري، له دې امله اړینه ده چې د جرم د مادي عنصر د اجرا په ځانګړې توګه د هغې د پیل حالتونه په دقیقه توګه وپېژندل شي او د جرم د مادي عنصر د اجرا د نورو حالتونو سره یې توپیر وشي. د مطلوب شخص مسؤولیت او عدم مسؤولیت تثبیت شي او پر واقعي مجرمینو جزا پلې شي، تر څو د جزا په تطبیق سره هغوی اصلاح او تربیه شي او ټولنه د دوی د ناوړو عملو پر وړاندې حمایه او دفاع شي او پر بې ګناه او غیر مسؤولو کسانو باندې د جزا د پلي کیدو مخه ونیول شي.

**پایله**

د جرم مادي عنصر اجرا (په ناتکمیل شوي شکل) کې جرمي عمل په دوو حالتونوکې نه بشپړیږی، یو د ارادي انصراف په حالت کې، چې شخص د خپل عمل د اجرا څخه په خپله اراده په شا کیږي. دویم کله چې شخص د یوه خارجي عامل پر بنسټ د جرمي عمل د پاتې برخې د تکمیل څخه منصرف شي. د دغو دواړو حالتونو ترمنځ توپیر دادی چې په لومړي حالت کې مورډ شخص ته مجرم نشو ویلای او نه یې هم عمل ته د جرم اطلاق کولای شو. همدارنګه نوموړې شخص د جزا وړ هم نه بلل کیږي، خو په دویم حالت کې هم د شخص عمل جرم دی هم ورته د مجرم اطلاق کولای شو، همدارنګه د جزا وړ هم دی؛ ځکه په دې دواړو حالتونو کې چې کوم شی مهم دی هغه د جرم د ارتکاب یا نه ارتکاب په اړه د شخص قوي هوډ دی. څرنګه چې په لومړي حالت کې شخص په خپله نه غواړي چې جرمي عمل ترسره کړي، نو نه باید مجرم وګڼل شي، خو په دویم حالت کې چې شخص په خپل میل او اراده د جرمي عمل د ارتکاب هوډ لري، ولې د یوه خارجي عامل پر بنسټ له جرمي عمل څخه منصرف کیږي، نو باید نوموړی شخص مجرم وګڼل شي او جزا ور باندې پلې شي.

**منابع**

البیهیقي، احمد بن الحسین. (۲۰۰۳). السنن الکبری، ج ۸، ص ۵٦۷، رقم ۱۷۵۸۴. بیروت: دارالکتب العمیه.

اردبیلي، محمدعلی . (۱۳۸۳ ). حقوق جزای عمومی. جلد نخست، چاپ هفتم، تهران: نشرمیزان.

باذل، محمدیونس. (۱۳٦۳ ). حقوق جزای عمومی. کابل: اداره نشرات وتبلیغ حقوقی ستره محکمه.

دانش، حفیظ الله. (۱۳۹۹). عمومي د حزا حقوق. لومړی ټوک اووم چاپ. کابل: مسلم خپرندویه ټولنه.

رحیمي، عبدالرحمن. جزایي مسؤولیت. کابل: مستقبل خپروندویه ټولنه. (۱۳۹۲ش).

محسني، مرتضی. (۱۳۸۲). پدیده جنایي، جلد دوم، چاپ سوم. کتابخانه گنج دانش.

صانعي، پرویز. (۱۳۸۲). حقوق جزای عمومي. ۱۰- صانعي، پرویز.

ولیدی، محمد صالح. (۱۳۸۲). بایسته های حقوق جزای عمومی. چاپ اول، تهران: چاپ خانه خورشیدی.

عوده، عبدالقادر. (۱۳۸۴). د اسلام جنایی تشریع او وضعي قوانین، ژباړن: عبدالهادي هدایت،دویم چاپ.پیغام نشراتي مرکز.

عدلي وزارت. (۱۳۹٦). د جزا کوډ رسمي جریده، ګڼه(۱۲٦۰)، کابل

عدلي وزارت. (ش۱۳۹۳) د جزایي اجراأتو قانون، رسمي جریده، ګڼه(۱۱۳۲). کابل: عدليې وزارت.

.

# په خوست ولایت کې د ښځو میراث حق څېړنه

پوهنوال حسام الدین رحیم زی
برېښنالیک:hisamudinrahimzai@gmail.com

**لنډیز**

ښځو ته د مړي په متروکه کې میراث نه ورکول د ښځو پر وړاندې د اقتصادي تاوتریخوالی یوه بېلګه ده، چې له یوې خوا ښځې په اقتصادي لحاظ ربړوي او له بلې خوا یې په ټولنه کې دیني، انفرادي، ټولنیزې او اقتصادي ستونزې هم را پیدا کړې دي، په داسې حال کې چې د اسلام مبارک دین ښځه د میراث مستحقه بللې ده؛ ځکه چې په ټولنه کې ښځه یا میرمن ده، یا لور ده، یا خور ده، یا مور ده، چې د قرآن کریم د سورة النساء په (۱۱-۱۲) او (۱۷۶) آیتونو کې یې د میراث حق یادونه شوې ده او د ټاکلیو شرایطو په ترڅ کې یې د میراث وړ بللې ده.په خوست ولایت کې د ښځو میراث حق په اړه د ستونزو او خنډونو پلټنه او په اړه یې شرعي حکم څرګندول د څېړنې اساسي موخه ده، چې د ساحوي څېړنې پر مټ د خوست ولایت په قومونو کې د ګوګل فورم په مرسته سرته رسېدلې ده. د څېړنې په پایله کې جوته شوه، چې په خوست ولایت کې نږدې (٪ ۸، ۷۳) سلنه وګړو نظر دا دی چې په ټوله کې ښځې ته میراث نه ورکول کېږي. د څېړنې ارزښت په دې کې دی چې په خوست ولایت کې به ښځې د خپلو مالي ستونزو رفع کولو لپاره د اقتصادي خپلواکی څښتنې شي؛ ځکه چې د میراث حق په تطبیق کې ښځو ته منقول او غیر منقول اموال لاسته ورځي، چې په ترڅ کې به یې د هېواد کاري ځواک لوړ شي او کورني تولیدات به زیات شي.

**کلیدي وییونه**: حکم، حق، خوست، څېړنه، ښځې، میراث، ولایت.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

**قال الله تعالي:﴿ لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَفْرُوضًا﴾ (النساء: ۷ ).**

د جاهلیت او ناپوهۍ په دور کې د عربو د ظلمونو په لړ کې دا هم وو، کله به چې یو سړی مړ شو؛ نو ټوله شتمني به د هغه چا لپاره وه، چې د کار سړی او د جګړې په میدان کې به ښه ځواکمن و. له همدې امله ښځو، ماشومانو، بوډاګانو او لورګانو به په مېراث کې برخه نه درلوده؛ ځکه چې دوی د جګړې کولو وړتیا نه درلوده.

کله به چې په ورثه وو کې ښځې، لورګانې او وروڼه پاتې ول؛ نو وروڼو به د مړي ټوله متروکه ترلاسه کوله؛ همدا وو چې د میراث په برخه کې الله جل جلاله د جاهلیت د دغه ناوړه دودونو د پای ته رسولو او د صحابه وو رضی الله عنهم د ذهنیت جوړولو په پار لومړی په اجمالي توګه د سورت النساء (۷) آیت، چې د نارینه او ښځینه دواړو د میراث حق یادونه پکې شوې، نازل شول. بیا الله تعالی د هر وارث لپاره اړونده ټاکلې برخې د النساء سورت په (۱۱، ۱۲، ۱۷۶) آیتونو کې په تفصیل سره بیان کړې دي.

لنډه دا چې اسلامي شریعت د عدالت نظام دی، د نورو بېلګو ترڅنګ یې د میراث حق غوره بېلګه ده، چې په ترڅ کې یې د ټولنې هر ډول فرد په نظر کې نیولی دی. د دې ټولنیز عدالت په مراعتولو سره د ټولنې هغه قشر (ښځه) چې په نننۍ ټولنه کې تر ټولو بې وزله او ناتوانه دی، د اسلام میراثي نظام یې ملاتړ کوي او د دوی میراثي حالات یې په بشپړه توګه مراعات کړي دي، د مړي په ورثه وو کې د زوی، ورور، پلار، نیکه او دې ته ورته نورو نارینه وو سربېره د مړي میرمنې لور، مور، خور او نورو ښځینه ورثه وو لپاره یې هم برخې ټاکلې دي.

همدا لامل شو چې زه د خوست ولایت په قومونو کې د اسلامي شریعت خلاف د میراث د نه ورکړې ستونزې او خنډونه څرګند کړم او د له منځه وړلو په پار یې ډول ډول تګلارې او حللارې په ګوته کړم؛ څو په راتلونکې کې د دې سیمو وګړي یو لړ، مذهبي، سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي.

## د څېړنې ستونزې

دا چې په ټولنه کې د ناوړه دودونو شتون د ټولنې د ودې ا و پرمختګ خنډ ګرځي، له بلې خوا ښځو ته د میراث د نه ورکړې ناوړه دود په ټولنه کې دیني، انفرادي، ټولنیزې او اقتصادي ستونزې را پیدا کوي، چې زموږ کړېدلی ولس نور د دې زغم نه لري؛ نو ښځو ته د میراث حق نه ورکړه د خوست مېشتو وګړیو لپاره یوه ټولنیزه ستونزه ده، چې باید څرګنده شي او حللارې ورته ولټول شي.

## د څېړنې فرضیه

زموږ د څېړنې ستونزه دا ده چې په خوست ولایت کې ښځو ته په بشپړه توګه میراث نه ورکول کېږي، چې دا ستونزه په سیمه کې د وګړیو ترمنځ مذهبي، اقتصادي او ټولنیزې ستونزې راپیدا کولای شي.

د دې دلیل په ټولنه کې د عامه پوهاوي او د معیاري څېړنو نه شتون، بې سوادي او هم د مطالعې سره د مینې کمښت فرض کېږي او حللارې یې په ټولنه کې د بې سوادی له منځه وړل، د مطالعې دودول او هم د معیاري څېړنیزو مقالو لیکنه او نشرېدل دي.

## د څېړنې پوښتنې

**اصلي پوښتنه:** آیا په خوست ولایت کې ښځو ته د میراث حق ورکول کېږي، په اړه یې خنډونه څه دي او په اړه یې اسلامي شریعت څه حکم لري؟

## فرعي پوښتنې

۱- آیا په خوست ولایت کې ښځو ته د مړي په متروکه کې ټاکلی حق ورکول کېږي؟
۲- په خوست ولایت کې ښځو ته د میراث حق پر وړاندې خنډونه او ستونزې څه دي؟
۳- په اسلامي شریعت کې یې اړونده حقونه او میراثي حالات څه ډول پېژندلی شو؟

## د څېړنې موخې

**د څېړنې عمده موخه:** په خوست ولایت کې د ښځو میراث حق په اړه د ستونزو او خنډونو پلټنه او په اړه یې شرعي حکم څرګندول.

## د څېړنې فرعي موخې

لوستونکي به د څېړنې په پای کې په دې وتوانېږي چې:
۱- په خوست ولایت کې د ښځو د میراث حق پر وړاندې پر ستونزو خبر شي
۲- ښځو ته د میراث نه ورکړې په لاملونو به پوه شي
۳- د ښځو میراث حق په اړه به د اسلامي شریعت احکام وپېژني

## د څېړنې مخینه

د ښځو د میراث حق په اړه لیکنه نوې لیکنه نه ده، د هغو لوستنو او مطالعاتو له مخې چې په دې برخه کې ترسره شوې دي څرګندېږي، چې له هېواده بهر او د ننه د علم المیراث او علم الفرایض په کتابونو کې د نورو ورثه وو ترڅنګ د ښځو د میراث حق په اړه جامع او ګټور بحثونه شتون لري، لکه:

۱- **الشریفیه** نومي کتاب، چې د سعید شریف علی بن محمد الجرجاني په ګوتو لیکل شوی او په ۱۴۴۰هـ. ق کال په کابل کې د حقانیه خپرندویه ټولنې له لورې چاپ شوی دی.

۲- **الســــــراجي في المیراث**، نومي کتاب چې سراج الدین محمد بن عبدالرشـید په قلم لیکل شـوی او په ۱۴۳۵س کال په پېښور کې د المکتبة البشری له لورې چاپ شوی دی.

۳- **موسوعة احکام المیراث**، نومي کتاب چې شـوقي عبده الساهي په ګوتو لیکل شوی او په ۱۹۸۸م، کال په بیروت کې د دارالفکر چاپ خونې له لورې چاپ شوی دی.

۴- **احکام المواریث فی الشـــــریعة الاسلامیه**، نومي کتاب چې مصـطفی السباعي لیکلی او په قاهره کې د دارالمعارف چاپ خونې له لورې چاپ شوی دی.

لنډه دا چې د فقهاوو د دې لوی کار په لیکلو کې د ښځو د میراث حق په اړه بډایه زېرمې شتون لري، په دې اړه پوهانو خورا زیاتې څېړنې کړې دي، همدا ډول د اسلامي نړۍ معاصرو علماوو هم د ښځو د میراث حق په اړه ګڼورې او هر اړخیزې لیکنې کړې دي، خو دا ټولې څېړنې کتابتوني دي او په خوســت ولایت کې د ښــځو د میراث حق په اړه میداني څېړنې شـتون نه لري، چې له سـیمې څخه د ښـځو د میراث حق په اړه بشـپړ معلومات راټول شي او تحلیل شي؛ نو همدا زموږ د څېړنې عمده لامل دی، چې له نورو لیکنو غوره والی څرګندوي.

## د څېړنې ارزښت او اړتیا

د څېړنې په بشــپړتیا سره به د خوســت ولایت په قومونو کې د اســلامي شریعت خلاف د میراث د نه ورکړې سـتونزې او خنډونه څرګند شي او د له منځه وړلو په پار به یې د ډول ډول تدابیرو څخه کار واخېستل شي؛ څو په راتلونکې کې د دې سیمو وګړي یو لړ، مذهبي، سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي.

همدا ډول د ښځو د میراث حق په اړه څېړنه د هېواد د وګړیو د اقتصاد په پیاوړتیا کې مهم رول لري، په ځانګړې توګه په دې څېړنې سره به د هېواد د ښـځو اقتصـاد پیاوړی شي؛ ځکه چې د میراث حق په تطبیق کې ښـځو ته منقول او غیر منقول اموال لاس تـه ورځي، چې پـه ترڅ کې بـه یې د هېواد کـاري ځواک لوړ شي او کورني تولیدات به زیات شي.

## د څېړنې کړنلاره

۱- د څېړنې ډول نظر (Application) ته (Pure)خالص دی؛ ځکه چې د څېړنې په اوږدو کې د خوســت ولایت په قومونو کې د شریعت خلاف دودونه راڅرګندېږي، له څرګندولو وروســته په کتابتون کې د څېړنې لاندې نېول کېږي.

۲- د څېړنې ډول نظر هدف ته توضیحي او تحلیلي دواړه دی؛ ځکه چې په سیمه کې د میراث حق د څېړنې په اوږدو کې ستونزې توضیحیږي، له توضیح وروسته په تحلیلي ډول د څېړنې لاندې نیول کیږي.

۳- د څېړنې ډول نظر د مسئلې طرحې ته کمي دی؛ ځکه چې د څېړنې په اوږدو کې په خوست ولایت کې د ښځو د میراث حق پر وړاندې ډول ډول ستونزې او خنډونه را څرګندیږي.

۴- په خوست ولایت کې ښځو ته د میرث حق د ستونزو حللارې په قرآني آیتونو، نبوي احادیثو او فقهي مراجعو کې څېړل کیږي.

۵ - د څېړنې په اوږدو کې لومړی له اصلي مراجعو څخه ګټه اخیستل کیږي.

٦ - د لیکنې په اوږدو کې مأخذونه د (**APA**) سیستم مطابق کارول کیږي.

۷- دا چې څېړنه په پښتو ژبه ده، نو د پښتو ټول ژبني قواعد او ارونه پکې مراعاتیږي.

۸- څرنګه چې په خوست ولایت کې زیات نفوس شتون لري، زیاتې ولسوالۍ او زیات قومونه لري، په قومونو کې زیات کلي او کورونه موجود دي؛ نو دا به ناشونې وي، چې په ټولو قومونو، کلیو او په ټولو کورونو کې د ښځو د میراث حق پر وړاندې ستونزو پسې وګرځو؛ نو زموږ به هدف شوی نفوس (Target population) دا وي، چې په ځینو ولسوالیو کې د یوه قوم، یا په قومونو کې د یوه کلي د ښځو د میراث حق ستونزه معلومه کړو او نور به وربانديې قیاس کړو.

**په خوست ولایت کې ښځو ته د میراث حق په اړه موندنې**

زموږ ساحوي څېړنه د ګوګل فورم پر اساس سرته رسېدلې ده او په یاد فورم کې شوې پوښتنې د تحلیل په پایله کې په لاندې ډول ځواب شوې دي:

**۱- جنسیت مو څرګند کړئ؟**




جدول نمبر: ۱

پورتنې پوښتنه (٪ ۹٦،۷) سلنه نارینه وو او (٪ ۳،۳) سلنه ښځینه وو ځواب کړې ده.

**۲- ځوکلن یاست؟**




جدول نمبر: ۲

پورتنی پوښتنه له (۱۸- ۳۰) کلونو ترمنځ وګړو نږدې (٪ ۸، ۳۲) سلنه، له (۳۱- ۴۰) کلونو ترمنځ وګړو نږدې (٪ ۴، ۵۷) سلنه او له (۴۱- ۵۵) کلونو ترمنځ وګړو نږدې (٪ ۸، ۹) سلنه ځواب کړې ده.

**۳- فعلي استوګنه مو په لنډه توګه ولیکئ؟**

پورتنی سروې د خوست ولایت اړوند د لاندې سیمو اوسېدونکو له لورې ځواب شوې ده:

خوست ښار، آزادی مېنه، متون، مندوخېل، صحرا کنډي، مته چینه، ورغه کلی، شکرې کلی، لکڼ، صبري، اسمعیل خېل او مندوزي، ډېوال، دلپوري، څرېن، دیګان، ورزه، چراګاه، موسی خېل، تڼي، لغوړي پیران، باک، نادرشاه کوټ، المره، علیشیر او تریزایي، مهمندي او یعقوبي.

**۴- تحصیلي کچه مو څرګنده کړئ؟**




جدول نمبر: ۳

په خوست ولایت کې د ښځو د میراث حق په اړه څېړنه کې (٪ ۱، ۳٦) سلنه لیسانس، (٪ ۳، ۴۴) سلنه ماستر، (٪ ۳، ۳) سلنه دکتور، (٪ ۳، ۳) سلنه مفتیانو، (٪ ۱، ۱۳) سلنه ۱۲ م پاسانو ګډونوالو برخه اخېستې ده.

### ۵- اوس مهال مو دنده څه ده؟




جدول نمبر: ۴

د څېړنې اړوند پوښتنپاڼې په ځوابولو کې (٪ ۵، ۵۲) سلنه د پوهنتون استادانو، (٪ ٦، ۱) سلنه د دیني مدرسو مدرسینو، (٪ ۹، ۴) سلنه د ښوونځیو ښوونکو، (٪ ٦، ۱) سلنه قومي مشرانو، (٪ ۹، ۴) سلنه د کورنیو مشرانو، (٪۱۴) سلنه د امارتي ادارو کارمندانو، (٪ ۲، ۸) سلنه د پوهنتون محصلینو او (٪ ۳، ۳) سلنه د دیني مدرسو طالبانو ځواب کړي ده.

### ۷- آیا تاسو په سیمه کې ښځو ته په میراث کې د اسلامي شریعت مطابق برخه ورکول کېږي؟




جدول نمبر: ۵

پورتنې پوښتنه کې(٪ ۸، ۵۰) سلنه وګړو ویلي دي چې ښځو ته په میراث کې نه د میراث قوانیو مطابق او نه هم د پښتنو دودونو مطابق برخه ورکول کېږي.

او (٪ ۲، ۴۹) سلنه وګړي په دې آند دي چې ښځو ته میراث ورکول کېږي؛ خو د اسلامي شریعت مطابق نه ورکول کېږي؛ بلکې د پښتنو دودونو مطابق ورکول کېږي.

**۸- په ټولنه کې کوم ډول ښځو ته میراث ورکول کېږي؟**




جدول نمبر: ٦

د پورتنۍ پوښتنې په ځواب کې دې پایلې ته رسېږو چې په خوست ولایت کې نږدې (٪ ۸، ۷۳) سلنه وګړو نظر دا دی چې په ټوله کې ښځې ته میراث نه ورکول کیږي، هغه که د مړي میرمن وي، که د مړي مور، که د مړي خور، که د مړي لور، همدا ډول لورګانې او خویندې وده شوې وي او که نه؛ د مړي په میراث کې د اسلامي شریعت مطابق میراث نه ورکول کیږي.

**۹- ولې په خوست ولایت کې ځینې وګړي ښځو ته په میراث کې ټاکلی حق نه ورکوي؟**




جدول نمبر: ۷

دا چې په وړاندې پوښتنو کې څرګنده شوه، چې په ټوله کې ښځو ته د میراث په ورکړه کې ستونزه شته؛ نو اوس پوښتنه دا ده چې ولې ښځو ته د مړي په میراث کې حق نه ورکول کیږي؟ د دې پوښتنې په ځواب کې لاندې پایله ترلاسه کېدای شي:

د څېړنې پوښــتنپاڼو په ځوابولو کې نږدې (٪ ۹، ۲۷) ســلنه وګړي وايي چې: د اســلامي شريعت په احکامو د ناپوهۍ له امله، (٪ ۱، ۳۱)ســلنه وګړو په آند: په دې اړه د ســيمې علماوو له اړخه د عامه پوهاوي د نه شــتون له امله، (٪ ۳، ۲۱) سـلنه په دې آند دي چې د دې ستونزې حل په موخه اړوندو سـکتورونو په خپلو پاليسـيو کې ځای نه دی ورکړی، نږدې (٪۹، ۴۵) سـلنه ځواب ويونکې په دې اند دي چې په پښـتنو سـيمو کې ښـځو ته په ميراث کې حق نه ورکولو دود موږ ته د جاهليت له مهاله راپاتې دی او (٪ ٦، ۲۴) سـلنه ځواب ويونکي په دې اند دي چې زموږ په ټولنه کې ښځو ته ميراث ورکول شرم دی.

**۱۰- که په ټولنه کې ښـځو ته د ميراث قوانينو مطابق ميراث ورکړل شي، د ښـځو پر ژوند به څه ډول مثبت اغېزې ولري؟**

د دې پوښـتنې د ځوابونو له تحليل څخه لاندې پايلې ترلاسـه کېدای شي: که په اسـلامي ټولنه کې ښـځې ته د مړي په متروکه کې خپل حق د شرعي اصــولو مطابق ورکړل شي؛ نو ښــځه به د خپل شرعي حق څخه برخمنه شي، ښـځه به د ملکيت څښتــنه شي، له دې مال څخه به د اړتيا پر مهال نفقه برابره کړای شي، د ښــځو په هر اړخيز ژوند به مثبته ااغېزه ولري، تر ټولو مهمه يې دا چې د مېړه په کور کې به له ځانګړې عزت برخمنه شي، ښځه به په اقتصادي لحاظ خودکفا شي، کولای شي چې کوچنۍ سوداګري پيل کړي او خپله کورنۍ به له اړتيا وژغوري.

**۱۱- په ټولنه کې ښــځو ته په ميراث کې د ټاکلي حق ورکړې لپاره له کومو اغېزمنو لارو څخه ګټه اخېستی شو، خپل نظر مو وليکئ؟**

د پورتنۍ پوښتنې د ځوابونو له شننې څخه د لاندې اغېزمنو لارو او چارو يادونه کولای شو:

۱- په دې اړه حقوقي شعور لوړول او د سيمې علماوو له اړخه عامه پوهاوی رامنځته کول.

۲- اړونده سکتورونه دې په خپلو پاليسيو کې د ښځو د ميراث حق ورکړې په اړه ښکاره تګلارې ولري.

۳- د ښځو د ميراث حق په اړه دې د ښوونځيو، مدرسو او پوهنتونو په نصاب کې مباحث زيات شي او په زده کړه دې زيات تمرکز وشي.

۴- بله اغېزمنه لاره يې دا ده چې دعوت ارشــاد او حج اوقاف رياســتونه دې د ښــځو د ميراث حق په اړه خطبې ترتيب کړي او د جوماتونو امامانو او خطيبانو سره دې شريکې کړي؛ څو مقتديانو ته يې د ممبر له

لارې بيان کړي. همدا ډول دې يادې ادارې په سيمه کې د ښځو د دې شرعي حق د ورکړې نظارت ترسره کړي.

۵- همدا ډول اطلاعات او کلتور رياستونه دې ياده موضوع ټولو رسنيو سره شريکه کړي؛ څو په دې اړه وخت پر وخت خپرونې چمتو شي او په ټولنه کې د نارينه وو او ښځينه وو تر غوږونو ورسېږي.

۶- په افغاني ټولنه کې ښځو ته د خپلو حقونو ترلاسه کولو په پار دې داسې ځانګړې ادارې او محکمې جوړې شي، چې ټول ستاپ يې ښځينه وي؛ ځکه که د پښتني ټولنې ښځې موجوده محاکمو ته عارضې شي؛ نو د کورنۍ او خپلوانو له خوا يې د شرم له امله زيات مخنيوی کېږي.

**د مړي په ميراث کې د ښځو حقونه د اسلامي شريعت له آنده**

دا چې په وړاندې بحث کې د ساحوي څېړنې پر مټ څرګنده شوه چې د مړي لورګانې او خويندې د هغه په پاتې متروکه کې حق نه لري؛ په دې بحث کې هڅه کوو چې د اسلامي شريعت په رڼا کې يې ټاکلې برخې څرګندې کړو.

په اسلام کې ښځو ته د سياسي، کورنۍ، تربيوي، کار، زده‌کړې، تدريس، ملکيت او نورو مالي او غير مالي حقونو سربېره په ميراث حق کې هم په بشپړه توګه برخه ورکړل شوې ده.

اسلام حقوقي او ميراثي نظام په ميراث کې د دوی حق څرګند کړی دی، په دې اړه الله تعالی فرمايي: ﴿ **لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا**﴾ **(النساء: ۷ ).**

ژباړه او تفسير: د نارينه وو لپاره هم په هغه مال کې برخه ده، چې مور او پلار او نورو خپلوانو يې پرېښي وي او د ښځو لپاره هم په هغه مال کې برخه ده، چې مور او پلار او نورو خپلوانو يې پرېښي وي؛ هغه مال لږ وي او که زيات، دا برخې د الله تعالی له خوا ټاکل شوې دي(عزيز، ۱۳۹۱هـ.ل، ج۳، ص۷۸).

په دې آيت کې الله تعالی يوازې په اجمالي توګه دا خبره څرګنده کړه، چې د مړي په متروکه کې که زياته وي او که کمه، نارينه او ښځينه دواړه ټاکلې برخې لري. بيا الله تعالی د هر وارث لپاره ټاکلې برخې د النساء سورت په (۱۱- ۱۲) او (۱۷۶) آيتونو کې په تفصيل سره بيان کړې دي.

د میراث شرایطو، ارکانو او اسبابو ته په کتو، چې د میراث موانع هم شتون ونه لري ښځه د خپل مړي په متروکه کې د اړوند حالاتو په نظر کې نیولو سره د میراث وړ بللې ده، که څه هم په ځینو حالاتو کې نارینه د ښـځو په پرتله دوه برابره برخه لري، چې دا کار د ښځو پر وړاندې تاو تریخوالی نه بلل کېږي؛ ځکه چې د اسلام میراثي نظام د دې لپاره مستند دلایل او فلسفه بیان کړې ده، چې په اړوند بحث کې به وڅېړل شي.

**په میراث کې د ښځو حالات**

وړاندې مو هم یادونه کړې، څوک چې ښـځو ته په میراث کې تاکلی حق نه ورکوي؛ نو دا د ښـځو پر وړاندې اقتصـادي تاوتریخوالی او ظلم بلل کېږي، چې په اسـلام کې د ښـځو پر وړاندې هر ډول تاو تریخوالی او پر حقونو یې تېری ځای نه لري؛ ځکه چې د النساء سورت په (۱۱- ۱۲) او (۱۷۶) آیتونو کې په څرګند ډول ښځو ته د مېرمنو، لورګانو، خویندو، مور او نیا په صـفت په میراث کې حق ورکړل شـوی دی او په لاندې ډول یې اړوند حالات په نظر کې نیسو!

**د زوجاتو (مېرمنو) د میراث حالات**

په ورثه وو کې میرمنې د خاوند په متروکه کې له څلورمې او اتمې زیاته برخه نه لري، هغه که یوه وي او که څلور.

الف- د خاوند په متروکه کې څلورمه برخه: هغه مهال څلورمه برخه ورکول کېږي، چې د مړي اولادونه نه وي، په دې اړه الله تعالی فرمايي: ﴿ **وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَد** ﴾ (النساء: ۱۲).

ژباړه او تفسیر: او د مېرمنو لپاره څلورمه برخه ده له هغه مال نه چې تاسې خاوندان یې پرېږدئ، که چېرې تاسو اولاد ونه لرئ.

ب- د خاوند په متروکه کې اتمه برخه: هغه مهال، چې د مړي (خاوند) اولادونه شـتون ولري؛ نو د مېرمنې یې له ټول مال څخه اتمه برخه جوړېږي (السجاوندي، ۱۴۳۰ هـ. ل، ص۱۸).

په دې اړه الله تعالی فرمايي: ﴿ **فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ** ﴾ (النساء: ۱۲).

ژباړه او تفسـیر: او که اولاد ولرئ؛ نو د ښـځو (مېرمنو) لپاره اتمه برخه ده له هغه مال نه چې تاسـې خاوندان یې پرېږدئ.

**د سکنیو لورګانو د میراث حالات**

سکنۍ لورګانې د میراث حق لپاره درې حالتونه لري: الف- نیمه برخه: لور ته د مړي له ټولې متروکې هغه مهال نیمه برخه ورکول کېږي، چې یوه وي، یعنې: د مړي بله لور شـــتون ونه لري او بل هغه مهال نیمه برخه آخلي، چې په ورثه وو کې به داســې څوک شــتون نه لري، چې دغه د مړي لور عصــبه کړي، لکه: خپل ورور (د مړي سکنی زوی)، په دې اړه الله تعالی فرمایي: ﴿ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ﴾ (النساء: ۱۱).

ژباړه او تفسیر: او که د مړي په ورثه وو کې یوه لور وه؛ نو د هغې لپاره د مړي په متروکه کې نیم مال دی.

ب- دوه پر درې (ثُلُثان): د لور لپاره په متروکه کې هغه مهال دوه پر درې برخه ټاکل شـــوې ده، چې له یوې زیاتې وي او بل هغه مهال چې په ورثه وو کې به داسې څوک شتون نه لري، چې لورګانې عصبه کوي، لکه: د دوی خپل ورور. په دې اړه الله تعالی فرمایي: ﴿ فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ﴾ (النساء: ۱۱).

ژباړه او تفسـیر: که د مړي په ورثه وو کې له دوو زیاتې لورګانې وې؛ نو هغوی ته دې له متروکې له دریو څخه دوې برخې ورکړل شي.

ج- تعصیب بالغیر: لورګانې د پلار په متروکه کې د عُصوبت پراساس مېراث اخلي، هغه مهال چې د دوی سره د مړي زوی شتون ولري، چې خپل ورور یې کېږي، په دې اړه الله تعالی فرمایي: ﴿ يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ ﴾ (النساء: ۱۱).

ژباړه او تفسیر: الله جل جلاله تاسو ته ستاسو د اولادونو په باره کې لارښوونه کوي، چې د نارینه وو برخه د دوو ښځو په اندازه ده (عثیمین، ۱۴۰۶ه_. ق، ص ۵۰).

**د زوی لورګانو (د زوی له اړخه لمسۍ) د میراث حالات**

د مړي د زوی لورګانې د مړي په متروکه کې د مېراث اخیســتنې په موخه پنځه (۵) حالتونه لري، چې لومړي درې حالتونه یې د سکنیو لورګانو په څېر دي؛ خو هغه مهال چې سکنۍ لور به شتون نه لري.

د- شپږمه برخه: د زوی لورګانو لپاره د مړي له متروکې څخه هغه مهال شپږمه برخه ټاکل شوې ده، چې د مړي یوه سکنۍ لور هم شتون ولري؛ خو د سکنۍ لور سره به خپل ورور نه وي او هم به د زوی لور سره خپل ورور شتون نه لري، په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: **عَنْ هُزَيْلٍ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: لَأَقْضِيَنَّ فِيهَا بِقَضَاءِ**

**النَّبِيِّ صَـلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ أَوْ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَـلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ: «للاِبْنَةِ النِّصْـفُ، وَلِابْنَةِ الِابْنِ السُّـدُسُ، وَمَا بَقِيَ فَلِلْأُخْتِ»** (بخاري، ۱٤۲۲هـ. ق، ج۸، ص۱۵۲).

ژباړه: له هزیل بن شرحبیل رضـی الله عنه څخه روایت دی، وایي چې عبدالله بن مسـعود رضـی الله عنه ویلي دي: زه به په دې مسئله کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په څېر پرېکړه کوم او یا یې وویل چې نبي صلی الله علیه وسـلم (د هغه سـړي په حق کې چې په ورثه وو کې ترې لور، د زوی لور او خور پاتې وي) فرمایلي دي: د لور لپاره د متروکې نصف، د زوی لور لپاره د متروکې شپږمه او پاتې برخه د مړي خور ته د عصوبت پر اساس ورکړئ.

د دې حدیث د استدلال وجه دا ده چې د یوې لور په شتون کې د زوی لور ته شپږمه برخه ورکول کېږي؛ څو په ټوله کې د لورگانو هغه د ثلثان حق بشـپړ شي؛ ځکه کله چې سـکنی لور نصـف برخه واخلي؛ نو د ثلثان بشپړتیا په موخه سدس ته اړتیا پیدا کېږي.

هـــــ- له میراثه بې برخې کېدل (حَجب): د زوی لورگانو ته د مړي د زوی او د دوو یا زیاتو سـکنیو لورگانو په شـتون کې میراث نه ورکول کېږي؛ د مړي د زوی په شـتون کې ځکه نه ورکول کېږي چې د زوی لورگانې د مړي په زوی سره مړي ته نسبت کېږي، کله چې واسـطه په خپله موجوده شي؛ نو د واسـطې خاونده په میراث کې برخه نه لري؛ د دوو یا زیاتو سـکنیو لورگانو په شـتون کې ځکه نه ورکول کېږي چې سـکنیو لورگانو خپل حق (ثُلُثان) بشپړ کړی او د زوی لورگانو ته څه پاتې کېږي نه(الزحیلي، ب.ت، ج ۱۰، ص۴۳۵).

**د سکنیو خویندو د مېراث حالات**

د مړي اعیاني(سکنۍ خویندې، هغه خویندې چې مور او پلار یې دواړه یو وي) د مړي په متروکه کې د مېراث اخیستنې په موخه درې (۳) حالتونه لري:

الف- له متروکې نیم مال: له متروکې هغه مهال نیم مال ورکول کېږي چې یوه وي، د مړي به سـکنی ورور، د مړي زوی، لور او پلار شـتون نه لري، په دې اړه الله تعالی فرمایي: ﴿ **وَلَهُ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْـفُ مَا تَرَكَ..** ﴾ (النسـاء: ۱۷۶).

ژباړه او تفسـیر: او که څوک بې اولاده ومري، پلار یې هم نه وي او د هغه یوه خور وي؛ نو خور به د هغه مړي نیمه برخه میراث واخلي.

ب- له درېیو دوه برخې (ثُلُثان): له متروکې هغه مهال دوه پر درې برخه ورکول کېږي چې له یوې زیاتې وي، د مړي به سکنې ورور، اولادونه او پلار شتون نه لري، په دې اړه الله تعالی فرمايي: ﴿ فَإِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ ﴾ (النساء: ۱۷٦).

ژباړه او تفسیر: که د مړي په ورثه وو کې دوه سکنې خویندې پاتې وې؛ نو هغوی به د ترکې له درېیو څخه د دوو برخو حقدارې وي.

ج- تعصیب بالغیر: هغه مهال د عُصوبت (هغه ورثه چې ټاکلي برخې نه لري او له ذوي الفروضو پاتې مال ورکول کېږي) پراساس برخه لري چې خویندو سره خپل سکنی ورور هم شتون ولري او هم به د مړي نارینه اولادونه او پلار شتون نه لري، په دې اړه الله تعالی فرمايي: ﴿وَإِنْ كَانُوا إِخْوَةً رِجَالًا وَنِسَاءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ﴾ (النساء: ۱۷٦).

ژباړه او تفسیر: او که د مړي ډېر ورونه خویندې وي؛ نو د هر نارینه به د هرې ښځې په تناسب دوه برابره برخه وي.

د- تعصیب مع الغیر: دغه حالت هغه مهال رامنځته کېږي، چې د مړي یوه او یا زیاتې لورګانې هم شتون ولري؛ خو د مړي به سکنی ورور، نارینه اولادونه او پلار شتون نه لري، په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: عَنْ هُزَيْلٍ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: لَأَقْضِيَنَّ فِيهَا بِقَضَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لِلِابْنَةِ النِّصْفُ، وَلِابْنَةِ الِابْنِ السُّدُسُ، وَمَا بَقِيَ فَلِلْأُخْتِ» (بخاري، ۱٤۲۲هـ. ق، ج۸، ص۱٥۲).

ژباړه: له هزیل بن شرحبیل رضی الله عنه څخه روایت دی، وايي چې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ویلي دي: زه به په دې مسئله کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په څېر پرېکړه کوم او یا يې وويل چې نبي صلی الله علیه وسلم (د هغه سړي په حق کې چې په ورثه وو کې ترې لور، د زوی لور او خور پاتې وي) فرمايلي دي: د لور لپاره د متروکې نصف، د زوی لور لپاره د متروکې شپږمه او پاتې برخه د مړي خور ته د عصوبت پر اساس ورکړئ.

د دې حدیث د استدلال وجه دا ده چې د یوې لور په شتون کې خویندې محجوببږي نه، لکه څه ډول یې ابن عباس رضی الله عنهما محجوبوي؛ بلکې د لور په شتون کې به د عصوبت پر اساس د متروکې پاتې مال ورکول کېږي.

د- له ميراثه بې برخې کېدل (محجوبېدل): د مړي سکنۍ خويندې د مړي د پلار او نارينه اولادونو په شتون کې په ميراث کې برخه نه لري، دليل يې د سورة النساء ۱۷٦ آيت دی. د استدلال وجه يې دا ده چې الله تعالی هغه مهال د مړي ورونو او خويندو ته په ميراث کې برخه ورکوي چې مړی کلاله (هغه څوک چې نه نارينه اولادونه ولري او نه هم پلار) وي، کله چې پلار، زوی او يا د زوی زوی شتون ولري؛ نو مړی کلاله نه دی، د اعياني وو لپاره د مړي په لور سره خويندې او ورونه نه محجوبېږي؛ ليکن د نيکه په شتون کې اختلاف دی.

**د پلرنۍ خويندو (علاتي) د ميراث حالتونه**

علاتي خويندې (له هغو خويندو څخه عبارت دي چې پلار يې يو وي او ميندې يې جلاجلا وي) د مړي په متروکه کې د مېراث اخېستنې په موخه شپږ(٦) حالتونه لري، چې لومړني څلور حالتونه يې د سکنيو خويندو په څېر دي؛ خو هغه مهال چې سکنۍ خويندې به شتون نه لري.

۵ - شپږمه برخه: هغه مهال له متروکې شپږمه ورکول کېږي، چې د مړي يوه سکنۍ خور هم شتون ولري؛ خو سکنۍ ورور، پلرنۍ ورور، پلار او نارينه اولادونه به نه وي.

٦- محجوبېدل: هغه مهال له ميراثه بې برخې کېږي، چې د مړي لاندې ورثه شتون ولري:

أ- د مړي د پلار او يا د نارينه اولادونو په شتون کې، دليل يې وړاندې د اعياني خويندو د حجب په حالت کې وړاندې شوی.

ب- علاتي خويندې د مړي په دوو اعياني خويندو سره هم محجوبېږي؛ ځکه چې اعياني خويندو خپل حق (ثلثان) بشپړ کړی.

ج- د اعياني ورور په شتون کې علاتي خويندې او ورونه په ميراث کې برخه نه لري؛ ځکه چې د اعياني خويندو او ورونو ميراث د مړي د سکنيو اولادونو (اولاد الصلبية) د ميراث په څېر دی، د علاتي خويندو او ورونو ميراث د زوی لورگانو (اولاد الابن) د ميراث په څېر دی، په اړوند بحث کې مو لوستې دي چې که د مړي په سکنيو اولادونو کې نارينه شتون ولري؛ نو د زوی اولادونه په ميراث کې برخه نه لري، همدا ډول په دې مسئله کې هم که په اعياني ورثه وو کې نارينه شتون ولري؛ نو علاتي ورثه په ميراث کې برخه نه لري.

د- د هغې اعیاني خور په شتون کې هم محجوبیږي، چې د مړي په لور سره عصبه (عصبه مع غیره) شوې وي؛ ځکه چې د مړي په لور سره اعیاني او علاتي دواړه عصـبه کیږي، دا چې اعیاني خور د علاتي خور په پرتله قوي ده؛ نو د قوت پر اساس به علاتي محجوبه کړي (السجاوندي، ۱۴۰۳هـ.ل، ص۲۸).

**د مور د میراث حالتونه**

مور د مړي په متروکه کې د میراث اخېستنې په موخه درې (۳) حالتونه لري:

الف- شـپږمه برخه: هغه مهال له متروکې شـپږمه برخه ورکول کیږي، چې د مړي اولادونه او یا له یوې زیاتې خویندې او وروڼه شتون ولري.

ب- له ټول مال څخه دریمه: هغه مهال له ټولې متروکې دریمه برخه ورکول کیږي، چې نه د مړي اولادونه وي او نه خویندې او نه هم عمرتین مسئله وي.

ج- د پاتې مال دریمه: مور ته یو د زوجینو د برخې اخېستنې وروسـته په پاتې مال کې دریمه برخه ورکول کیږي، په دې شرط چې د مړي به نه اولادونه وي او نه خویندې(الزیعلي، ۱۳۱۳هـ. ق، ج٦، ص ۲۳۰).

**د نیا د میراث حالتونه**

صحیحه نیا (د مور مور، د پلار مور) د مړي په متروکه کې د میراث اخیستنې لپاره دوه حالتونه لري:

الف- شپږمه برخه: نیا هغه مهال د مړي په متروکه کې شپږمه برخه لري، چې د مړي په ورثه وو کې مور شتون ونه لري، یوه وي او که زیاتې او هم به صحیحه وي.

ب- له میراثه بې برخې کول: نیاګانې د مړي په متروکه کې د لاندې کسـانو په شـتون سره له مېراثه بې برخې کیږي: مورنۍ او پلرنۍ دواړه نیاګانو ته د مړي د مور په شتون او پلرنۍ نیاګانو ته د مړي د پلار په شتون کې هم برخه نه ورکول کیږي(عثیمین، ۱۴۰٦هـ. ق، ص ۳۵).

**د ښځو په پرتله د نارینه وو د برخو د زیاتوالي حکمتونه**

د لاندې دلایلو پر اساس ویلی شو، چې په ځینو حالاتو کې نارینه د ښځو په پرتله دوه برابره او یا یو څه زیاته برخه لري.

الف- د ښځو سره په نکاح کې د سړي پر سر د مهر دروند پېټی پروت دی، چې د نکاح پر مهال به ښځو ته ورکول کېږي؛ نو ځکه به سړی د ښځې په پرتله په میراث کې دوه برابره وي. که په غور سره ځیر شو، نو دا به راته څرګنده شي، هغه مهال چې خاوند ښځې ته نفقه ورکوي؛ نو شونې ده چې د ښځې برخه له سړي هم زیاته شي.

ب- نارینه د ښځو او اولادونو د نفقې مکلفیت پر غاړه لري، اسلامي شریعت تل نارینه وو ته حکم کوي، چې پر ښځه او اولادونو اړینه نفقه، هستوګنه، لباس او دې ته ورته نورې چارې پرخپل وخت سرته ورسوي او ښځو ته دا ډول حکم نه لري. له همدې امله د میراث حق په ځینو حالاتو کې د ښځو په پرتله نارینه دوه برابره حساب شوي دي. دغه حکم چې د ښځې په پرتله به نارینه دوه برابره وي، عامه قاعده او قانون نه دی، چې ټولو نارینه وو او ښځینه وو ته شامل شي؛ ځکه چې په دې اړه الله تعالی داسې فرمایلي دي: ﴿ يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ ﴾.(النساء: ۱۲).

او الله تعالی داسې نه دي فرمایلي: ﴿ يُوصِيكُمُ اللَّهُ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ ﴾، چې په ټولوحالاتو کې نارینه د ښځو په پرتله دوه برابره شي.

په اسلامي شریعت کې د نارینه وو او ښځینه وو ترمنځ د میراث توپیر فلسفه او معیار یوازې ذکورة او انوثة نه دی ټاکل شوی؛ بلکې د دوی ترمنځ یوازینی معیار او فلسفه مالي بوج دی، چې په ځینو حالاتو کې د نارینه وو او ښځینه وو په شتون کې د نارینه وو پر غاړه وي، هغه مهال چې دغه بوج پر سر واخلي او هره ورځ یې پر ښځه او اولادونو لګښتونه کوي؛ نو د ښځې په پرتله دوه برابروالی یې هم کم دی؛ نو شونې ده چې د لګښت څخه وروسته د ښځې برخه پرې زیاته هم شي.

که د میراث احکام او مسایل په غور سره مطالعه کړای شي؛ نو دا به راته څرګنده شي، چې ځینې مهال ښځینه جنس د نارینه له جنس څخه زیاته برخه لري، ځینې مهال نارینه او ښځینه دواړه په اړونده برخه کې سره مساوي وي او ځینې مهال داسې هم پیښیږي، چې په ورثه‌وو کې ښځه برخه واخلي او نر پاتې او محجوب شي.

ځینې مهال د نارینه وو ترمنځ هم دا مسئله پیښیږي، چې د یوه نارینه په شتون سره د بل نارینه برخه کمه شي او یا محجوب شي، چې دا اوږد بحث ته اړتیا لري (الجرجاوي، ۱۴۳۰هـ. ق، ج۲، ص۲۶۵).

**پایله** (Result)

د څېړنې په پای کې لاندې پایلو ته رسېږو:

۱- په خوست ولایت کې نږدې (٪ ۸، ۵۰) سلنه وګړو منلې ده، چې ښځو ته په میراث کې نه د میراث قوانیو مطابق او نه هم د پښتنو دودونو مطابق برخه ورکول کېږي او (٪ ۲، ۴۹) سلنه وګړي په دې آند دي چې ښځو ته میراث ورکول کېږي؛ خو د اسلامي شریعت مطابق نه ورکول کېږي؛ بلکې د پښتنو دودونو مطابق ورکول کېږي.

۲- په خوست ولایت کې نږدې (٪ ۸، ۷۳) سلنه وګړو نظر دا دی چې په ټوله کې ښځې ته میراث نه ورکول کېږي، هغه که د مړي میرمن وي، که د مړي مور، که د مړي خور، که د مړي لور، همدا ډول لورګانې او خوېندې وده شوې وي او که کنه؛ د مړي په میراث کې د اسلامي شریعت مطابق میراث نه ورکول کېږي.

۳- د څېړنې په اوږدو کې دې پایلې ته رسېږو، چې په خوست ولایت کې د اسلامي شریعت په احکامو د ناپوهی، د جهالیت له مهاله راپاتې دود، د سیمې علماوو له اړخه د عامه پوهاوي د نه شتون او هم اړوندو سکتورونو په خپلو پالیسیو کې ځای نه ورکولو له امله ښځې په میراث کې بې برخې دي.

۴- که په ټولنه کې ښځو ته د میراث قوانینو مطابق میراث ورکړل شي؛ نو ښځه به د خپل شرعي حق څخه برخمنه شي، ښځه به د ملکیت څښتنه شي، ښځه به په اقتصادي لحاظ خودکفا شي، کولای شي چې کوچنی سوداګري پیل کړي او خپله کورنۍ به له اړتیا وژغوري.

۵- د قرآن کریم د سورة النساء په (۱۱ - ۱۲) او (۱۷۶) آیتونو کې د ښځو د میراث حق د میرمنو، لورګانو، خویندو او میندو په صفت په څرګنده توګه معلوم دی، چې میراث نه ورکول یې په حقیقت کې له دې آیتونو ناخبري ده.

۶- په اسلامي شریعت کې د نارینه وو او ښځینه وو ترمنځ د میراث توپیر فلسفه او معیار یوازې ذکورة او انوثة نه دی ټاکل شوی؛ بلکې د دوی ترمنځ یوازینی معیار او فلسفه مالي بوج دی، چې نارینه یې د ښځو په پرتله زیات پر غاړه لري.

**مناقشه**(Discussion)

زموږ څېړنه نورو فقهي څېړنیزو اثارو سره پرتله شوې ده، په یادو اثارو کې په ټولیزه توګه د ښځو د میراث حق په اړه بحثونه شوې دي، د ښځو د میراث اخیستنې حالات او د حق اخیستنې دلایل یې بیان کړي دي؛ په یادو اثارو کې په ځانګړې توګه په خوست ولایت کې د ښځو د میراث حق په اړه یادونه نه ده شوې، همدا ډول د عربي نړۍ اثار زموږ د ټولنې عامو لوستونکو لپاره ګټور نه دي.

زموږ په څېړنه کې څرګنده شوه چې په خوست ولایت کې نږدې ۷۰٪ سلنه وګړي ښځو ته په میراث کې حق نه ورکوي، سره له دې چې د ښځو د میراث حق په اړه فقهاوو او څېړونکو په خپلو څېړنو کې نقلي او عقلي دلایل وړاندې کړي دي، همدا راز په اسلام کې د ښځو پر وړاندې د هر اړخیز تاو تریخوالي د حراموالي په اړه دلایل موجود دي او هم د نارینه وو او ښځینه وو د میراث د توپیر حکمتونه تشخیص شوي او څېړل شوي دي؛ خو بیا هم په افغاني ټولنه کې ښځې په هره برخه کې د کړاوونو او تاو تریخوالي سره مخ دي، چې یو له هغې میراث نه ورکول دي. دا ټول هغه څه دي چې په اسلامي شریعت کې حرام دي؛ نو زموږ د څېړنې غوره والی په دې کې څرګندېږي چې له یوه پلوه د ټولنې په ساده او روانه پښتو ژبه لیکل شوې، له بله پلوه په خوستي ټولنه د ښځو پر وړاندې د میراث په برخه کې شته ستونزې په ګوته شوې دي او په پای کې یې اړونده حقونه د اسلامي شریعت له انده ثابت او څرګند شوې دي.

**نتیجه ګیري** (Conclusion)

د مناقشې او نتیجې څخه وروستی پایله دا په لاس راځي، چې د اسلام مقدس دین د ښځو پر وړاندې له هر اړخیز تاوتریخوالي څخه منع کړې ده، همدا راز تل یې د میراثي نظام په بشپړ تطبیق ټینګارکړی دی، هغه که د لویانو میراث دی، که د ماشومانو میراث دی، که د نارینه وو میراث دی او که د ښځینه‌وو میراث دی، په دې اړه په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې څرګند او ښکاره دلایل شتون لري، چې په ترځ کې موږ ته د نارینه‌وو او ښځینه وو د میراث سپارښتنه کوي.

دا چې ولې موږ په ټولنه کې تل د ناوړه دودونو ښکار یو؟ ولې په ټولنه کې ښځه هر اړخیز تاوتریخوالي سره مخ ده؟ نو لامل یې څرګند دی، هغه دا چې موږ د اسلام ټول احکام او ارشادات پر ځان نه دي منلي، موږ یوازې په پنځه مهاله لمانځه، روژه، زکات او په حج اداء کولو ځان خلاصوو او بشپړ اسلام یوازې په دې فرایضو کې وینو؛ کله چې د اسلامي ارشاداتو ته په بشپړه توګه غاړه کېږدو، د اسلام په شمولیت ځان پوه کړو؛ نو له شک پرته چې هم به سالمه او متمدنه ټولنه ولرو، هم به د ټولنې هر فرد له شرعي حقونو برخمن شي او هم به مو په ټولنه کې د شته بدمرغیو لمن او ټغر ټول شي.

**وړاندیزونه**

۱- د سـیمې علماوو له اړخه دې عامه پوهاوی رامنځته شي؛ څو په سـیمه کې د ښـځو میراث حق په اړه حقوقي شعور لوړ شي.
۲- اړونده سکتورونه دې په خپلو پالیسیو کې د ښځو د میراث حق ورکړې په اړه ښکاره تګلارې ولري.
۳- د ښځو د میراث حق په اړه دې د ښوونځیو، مدرسـو او پوهنتونو په نصاب کې مباحث زیات شي او په زده کړه دې زیات تمرکز وشي.
۴- دعوت ارشاد او حج اوقاف ریاستونه دې د ښځو د میراث حق په اړه خطبې ترتیب کړي او د جوماتونو امامانو او خطیبانو سره دې شریکې کړي؛ څو مقتدیانو ته یې د ممبر له لارې بیان کړي، همدا ډول دې یادې ادارې په سیمه کې د ښځو د دې شرعي حق د ورکړې نظارت ترسره کړي.
۵- اطلاعات او کلتور ریاسـتونه دې یاده موضـوع ټولو رسـنیو سره شریکه کړي؛ څو په دې اړه وخت پر وخت خپرونې چمتو شي او په ټولنه کې د نارینه وو او ښځینه وو تر غوږو ورسېږي.
۶- په افغاني ټولنه کې ښـځو ته د خپلو حقونو ترلاسـه کولو په پار دې داسـې ځانګړې ادارې او محکمې جوړې شي، چې ټول سـتاپ یې ښـځینه وي؛ ځکه که د پښتني ټولنې ښـځې موجوده محاکمو ته عارضې شي؛ نو د کورنۍ او خپلوانو لخوا یې د شرم له امله زیات مخنیوی کېږي.

**د څېړنې مصادر او مراجع**

قران کریم.
الجرجاوي، علی احمد. (۱۴۳۰هـ ل). حکمة التشریع وفلسفته. ج۲. (ط. ۲). بیشاور: المکتبة رشیدیه.
بخاري، محمدبن اسماعیل. (ب.ت). صحیح البخاري. ج.۱. پېښور، محله جنګي: مکتبه حقاني.
رحیم زی، حسام الدین.( ۱۳۹۵ هـ ل). میراث حقوق.(ط. ۳). خوست: رحیمي خپرندویه ټولنه.
الزیعلي، فخرالدین، عثمان بن علي. (۱۳۱۳ هـ ق). تبیین الحقایق. ج٦. بیروت: دارالمعرفه..
الزحیلي، وهبه. (ب.ت). الفقه الاسلامي وادلته. ج۸. بیشاور، محله جنګي: المکتبة حقانیه.
الزبیدي، الحداد، ابي بکر بن علي بن محمد. (ب.ت ). الجوهرة النیره. ج۲. بیشاور، محله جنګي: المکتبة حقانیه.
السجاوندي، سراج الدین محمد بن عبدالرشید. (۱۴۳۰ هـ). السراجي في المیراث.(ط. ۲). بشاور: المکتبة البشری.
عزیز، سلطان. (۱۳۹۱هـل). عزیز التفاسیر. ج۳. بیشاور: دارالکنوزالعلمیه.
عثیمین، محمد بن صالح. (۱۴۰٦). تسهیل الفرایض.(ط. ۳). بېشاور: المکتبة رشیدیه.

# سانسور

پوهنوال محمد خان نیازی، شیخ زاید پوهنتون، ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځی، عامه اړیکو څانګه.
برېښنالیک: belalahmad2020@gmail.com

**لنډیز**

سانسور د بندیز،ځپنې، انتقاد او ارزونې په معنی دی د لومړي ځل په ۲۵۵ ق م په چین کې را منځ ته شو، بیا په اساسي ډول د روم (۴۴۳ق م) د سانسور له دفتر څخه اخیستل شوې چې د وخت حاکمانو به د ټولنې اخلاقي او ټولنیز اداب ساتل او خلک به یې نه پرېښودل چې د ټولنې د غوښتنو او دودونو مخالف کار تر سره کړي، وروروسته موضوع د حکومتونو سیاسي ډګر ته را غله چې تر ننه چارواکي او مسئولین یې د سیاسي، مذهبي او اقتصادي ګټو په خاطر پر عوامو پلي کوي، دا چې وضعه کېدل یې په نړۍ کې مختلفې ستونزې را ولاړوي. د مقالې موخه دا ده چې ولې له بشریت سره داسې کړنې تر سره کېږي؟ د څه لپاره پر ټولنو ساسور وضعه کېږي؟ دا ځانګړي ځوابونه غواړي چې هر حکومت او مسئولین به یې ځانګړی ځواب وایي، د مقالې نتیجه ښيي چې د نړۍ په مختلفو ملتونو د حکومتي چارواکو او واکدارانو له خوا د خپلو شخصي، سیاسي، صنعتي او اقتصادي ګټو په خاطر سانسور پلي کوي د همدې موخې لپاره په زرګونو، لکونو حتی میلیونو انسانانو ژوند له خاورو سره خاورې کېږي، د مقالې ارزښت دا دی چې د سانسور له کبله د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې د سیاسي ځواک او واک د ستنې، د مذهبي شعایرو د پالنې او خپل فکر د پالنې په خاطر د میلونو انسانانو ژوند، ملي ګټې، حیثیت او نوامیس ساتل کېږي، یا له پښو لاندې کېږي، څرنګه چې موضوع لرغونې دی نو له همدې کبله یې میتود کتابتوني دی دا چې په ۲۱ پېړۍ د سانسور موضوعات بالکل علني شوي نو لازمه ده چې په اړه یې معلومات ولیکل شي، څو هغه موضوعات ښه روښانه او ځلانده شي چې پر ملتونو د سانسور باعث ګرځي.

**کلیدي ټکي**: اقتصاد، حکومت، سانسور، سیاسي، شخصي،صنعتي، مذهبي.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.(وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ()القران،لقمان،ایه.۲۲)** ژباړه: څوک چې ځان خدای تعالی ته تسلیم کړي، په داسې حال کې چې نېک خویه او محسن وي، په تحقیق سره یې د الله تعالی په رسۍ منګولې خښې کړې او د امورو عاقبت الله تعالی لره دی.

دې نړۍ ته د لومړي انسان (ادم ع) تر راتګ سره سم الله ټول بشریت ته لارښود رالېږلی دی، څو انسان د خپل ژوند لپاره له ناروا  او بدو لارو څخه ځان وساتي او هغه لار وټاکي چې دنیا او اخرت یې پرې ښکلي او برابر وي، کله چې انسان د الله لاره پرېږدي بیا اصلي لار پرېږدي او د بدبختیو کندې ته غورځي، ځکه ننۍ نړۍ کې زورواکان، مفسدین، خود غرضه او ځان غوښتونکي خلک هغه څه کوي چې دوی یې غواړي، خپل اعمال او کړنې پر نورو تحمیلوي چې د همدې لپاره سانسور وضعه کوي څو خپل اصلیت او راز تر نورو پټ وساتي، وژني، له خاورو لاندې کول، پر خولو یې بالښت  ورکېښودل،  بالاخره یې پرکړنو، ویناوو یې بندیز (سانسور) وضعه کول هغه څه دي چې د انساني افکارو، غوښتنو او نظریاتو د اظهارولو لارې بندوي، دا چې سانسور د مختلفو حکومتونو، نظامونو د سیاسي، اقتصادي، صنعتي او فرهنګي حالاتو ته په کتو را منځ  کېږي او پر ټولنه پلي کېږي، دې مقاله کې همدې موضوع ته کتنه شوې چې کله، ولې  څنګه او څه لپاره پلي کېږي؟

**سانسور**

که څه هم د سانسور د کلمې د ریښې په اړه عالمان راز راز نظرونه لري، ولې د معنی له اړخه ټول یوه خوله دي چې هغه د چارواکو، زورواکواو حکومتونو له خوا د خپلو هر اړخیزه ګټو لپاره د انسانانو د وینا، افکارو، اندونو او بیانونو د کنټرول او څارنې عمل بولي؛ سانسور د لومړي ځل لپاره په ۲۵۵ قبل له میلاد څخه په چین کې د هغو حکومتي چارواکو له خوا ولګېد چې پر خپلو کړنو زیات مین وو(وردګ، ۱۴۰۲).

د سانسور اصطلاح د لومړي ځل لپاره ۴۴۳ ق م د روم د سانسور له دفتر څخه اخیستل شوې، نامتو پېښه یې ۳۹۹ ق م کې د سقراط موضوع وه چې د ارتودوکس مذهبي راهبانو سقراط  تورن کړ چې زموږ ځوانان دې له ارتودوکس مذهب څخه بې لارې کړي دي(وردګ،۱۴۰۲، ۱۹۷).
عموما سانسور د نړۍ په تاریخ کې د چارواکو او مذهبي ډلو له خوا را منځ ته شوی، د دوی موخه د خپل واک د ساتلو په خاطر د خلکو د خولو بندول وو، ځکه د همدې موخې لپاره یې په زرګونو کتابونه او رسالو ته اور اچولی دی.

ځینې وايي چې سانسور یوه فرانسوي کلمه ده، چې د مطبوعاتو او مکاتبو د تفتیش او پلټنې په معنی دی او دلته یې معنی په مطبوعاتو باندې د ځانګړیو موضاعاتو د نشرولو منع ده.

سانسور هغه عمل دی، چې د یوې لیکنې او یا یوې خبرې چې د عمومي اصلاح او یا اخلال لپاره شوې وي، د هغو طرف ته تغیر او یا د هغه مخنیوی کوي. په بعضې کتابونو کې هم د شخص د مهارولو او په هغه باندې انتقاد او له هغه څخه پوښتنه کول راغلي دي.

سانسور هغه کلمه ده چې مخکې له نشر څخه د کتابونو جریدو او داسې نورو کنترول او نظارت وشي، ترڅو عمومي اخلاقو او د حاکم دولت منافعو سره په ټکر کې نه وي.

دایرةالمعارف کې د (لاسول په قول) رانقل شوی چې: سانسور یعنې د سیاستي افکارو، عقایدو، د بیان د وسایلو او ټولو هغو اقوالو او افعالو تهدیدول چې واقعاً او یا فرضاً حاکم نظام قدرت او عمومي اخلاقو ته مضر وي پلې کیږي. (وردګ، ۱۴۰۲شوص.۲۰۲).

**تعریف:** د سانسور اصطلاح د لاتینې کلمې سنسیري(ارزونې، نظر ورکونې) څخه اخیستل شوې ده. د روم دسانسور د اداري مامورین د محکمې ریسان وو چې د نفوسو د راجسټر او دخلکو پر کړو وړو یې د څار دنده درلوده (وردګ،۱۴۰۲، ۲۰۰).

د ژورنالستیک قاموس لیکوال لیکي: سانسور د نیوکې، انتقاد، د رسمي انتقاد په معمنی دی.(ځاروان،۱۳۸۶ش).
د اکسفورد د لغت په قاموس کې راغلې، چې سانسور د(cense) له ریښې او د (censure) لاتین کلمې څخه مشتق شوې، چې د امتحانولو(to estimate)، اندازه کولو(to rate) او حساب کولو(to reckoner) په معنا وي، د (sensor) لاتیني کلمې ریښې له سانسکریت ژبې څخه ده چې د رسمي اعلان، رسمي صفت معنا ورکوي، ولې په رسیز ډګر کې د بیان د ازادي د محدودونې لپاره له ټولو دولتي او قانوني موادو او لارو چارو څخه ګټې اخیستنې ته سانسور وایي او یا هم چې د ارزونې او کله کله هم د ځینې په معنا کارول کیږي، سانسور ممکن د مختلفودلایلوله مخې تر سره شي، لکه امنیت اخلاقیاتو، یا د سیاسي او ټولنیزو چارود تنظیم لپاره مثالونه یې کېدای شي د ژورنالیستانو خبرونه، کتابونه، فلمونه، انټرنیټي معلومات وي چې له سانسور لاندي راځي، سانسور په مختلفو شکلونوترسره کیږي. لکه د محتوا حذفول، تغیرول یا د هغه د نشر بندول دي(Newth, 2010) .

د تېر ۲۰۲۴م کال پیښې که د نړۍ د مختلفو رسنیو له لوري ولولئ، ویې وینی، یا یې راپورونه وګورئ، وبه وینی، چې د منځني ختیځ دپېښو په تړاو بی بی سي، امریکا غږ، الجزیره او د عربي هېوادونو رسنۍ څه ډول راپورونه،

تبصرې او خبرونه خپروي، له ورایه به دسانسور بیلګې درک کړی، لویې پېښې او راپورونه به وړوکې او وړوکې پېښې به خورا لويي وګوری، همدغه د رسنیز سانسور هغه بېلګې دي چې موږ د همدې موضوع اصل تل ته رسوي ډېر اسرایل چې وژل شوي وي هغه به باربار په رسنیو کې یادېږي او په سلو فلسطینینو به یو عادي خبر هم نه خپروي.

د امریکا د کتابونو د ټولنې په اند سانسوردحکومتي چارواکو له خوا معلوماتو او موادو ته د خلکو د لاس رسي د مخنیوي په مانا دی.د رسنیو هغه لایحه چې په ۱۹۶۲م جوړه شوې دوی د مطبوعاتي سانسور په اړه وايي چې هغه خپرونې به سانسور وي چې لاندې اندېښنې ولري.

- **د مطبوعاتو او وینا له ازادۍ سرغړونه**
- د اخلاقي او امنیتي دلایلو له مخې کتابونو فلمونو او خپرونو د نشر او وېش مخنیوی

اوران ډکشنري لیکي: دهرې هغې وینا رسمې محدودونه چې فکر کیږي سیاسي، ټولنیز یا اخلاقي نظم ګډوډوي، سانسوربلل کیږي، د امریکا اکیډمیک دایره المعارف د سانسورپه اړه لیکې: د یوې ټولنې د روانو حالاتو او اطلاعاتو کنټرول اویا پرې څار ته سانسور وایي. امریکایانو همدغه کار په افغانستان کې کاوه، ټولې هغه رسنۍ چې دوی را منځ ته کړې او بیا تمویلولې څارلې، د څار لپاره یې ځانګړي کسان ګومارلي وو، دوی به رسنیو ته موضوعات، معلومات او چمتو کړې خپرونې د رسنیو ادارو ته لیږلې، هغوی به د پیسو په مقابل کې خپرولې او که کومه خپرونه، خبر، معلومات یا نور څه چې د دوی په ضد به د رسنیو له خوا خپاره شول، بیا به یې هغه ټاکلې پیسې نه ورکولې بلکې شرط به دا وو چې هر هغه څه چې زموږ په ضد وي نه به یې خپروی، مسلکي، تکړه خبریالان به یې تهدیدول، ډا رول او وژل به یې، په خوست کې یې شهید احمدشاه د خپلو قاتلانو په لاس د یو څېړنیز رپوټ د خپرولو په خاطر شهید کړ.

په ډېری هېوادونو کې سانسور په هغه وخت کې پلي کېږي چې حکومت له ملت سره په مخالف جهت کې قرار ولري، ښې بېلګې یې د سوریې د تېر رژیم کړنې وې چې ډېری مخالفین یې ژوندي تر ځمکې لاندې کړل، همدارنګه ایران، چین، شمالي کوریا او امریکا هغه هېوادونه دي، چې ګټې یې له منځه ځي، بیا هیڅ سرحد نه ساتي، بلکې هر هغه څه کوي چې دوی تر موخو رسوي، بیا د دې لپاره چې مخالفین وځپي د بشري حقوقو، د ښځو د حقوقو نارې او چغې وهي، موږ په ټوله بشري نړۍ کې د اسرایلو په ضد د فلسطینیانود ملاتړ په خاطر د چا غږ وانه ورید، چې د مظلومو فلسطینیانو مظلومیت غږ پورته کړي اوملاتړ یې وکړي.

**د سانسور ډولونه**

د نړۍ د مختلفو سیاسي، نظامي، اقتصادي، فرهنګي او مذهبي ګټو له مخې سانسور هم په مختلفو بڼو، وضعه کېږي، چې موخه یې د خپلو سیاسي، فرهنګي اقتصادي څواک، ګټو ساتنه او پالنه وي، پوهانو یې ځینې مشهور ډولونه په ګوته کړي چې ستاسو درانه حضور ته یې د روښانتیا په خاطر وړاندې کوم.

**سیاسي سانسور**: معمولاً سیاسي سانسور د دولت په واسطه د ملي امنیت او عمومي مصالحو د ساتنې د امنیتي، نظامي اسرارو د خوندیتوب او د مخالفانو د افکارو د خپرېدو او د هغوی د سیاسي فعالیتونو د مخنیوي لپاره ترسره کیږي، په دې ډول سانسورکې دولتونه یا حکومتي اداري په عمده ډول د سیاست اړوند معلومات، خبرونه او نظریات محدود یا منع کوي. ولې په هغو هېوادونو کې چې قدرت د یوې ځانګړې ډلې(طبقې) په واک کې وي هلته زور واکان د خپلو رازونو، فسادونو، خیانتونو، معلوماتو او اطلاعاتو د نه افشا کولو او د خپلو سیاسي، مخالفو ډلو د ټکونې او ځپنې لپاره سانسور وضعه کوي، ځکه دوی نه غواړي چې د دوی د کړي فساد راز، خیانت او کړنې رسوا، او په نتیجه کې ملت ورڅخه نا راضه او په مقابل کې یې خوځښتونه را منځ ته شي.(چین، پاکستان، شمالي کوریا، روس، امریکا او پلویان یې همدې وخت ښې نمونې دي).

**اخلاقي او ټولنیز سانسور**: د نړۍ هره ټولنه ځانګړي اخلاقي، ټولنیز او مذهبي اصول لري چې د هغو رعایتول، هغو ته غاړه کېښودل او منل د هغې ټولنې اخلاقي، ادبي او ټولنیز انسان بلل کېږي، ولې په ټولنه کې ټول هغه اخلاقي کړنې چې د ټولنې له معنویاتو، ادبیاتو او کړنو سره سمون نه خوري سانسور کېږي، ځکه د یوې ټولنې د ارزښتون مخالف کار پر ټولنه کې شخص بد معرفي کوي. اخلاقي سانسور د نړۍ له لرغونو سانسورونو څخه ګڼل کېږي چې پیل یې د روم له امپراتورانو څخه شوی ، ځکه په لرغوني روم کې به هر هغه څه چې د ټولنې له اخلاقي اصولو او دودونو سره سم نه وو سانسور کېدل هڅه به یې کوله چې خلک هر هغه څه وکړي چې د ټولنې له عنعناتو سره سم وي (Jennifer M. Kinsley1, 2023).

**فرهنګي سانسور**: فرهنګي سانسور د اخلاقي سانسور یو اړخ او لمن یې زیاته پراخه ځکه د ژوند ټولې هغه برخې فرهنګ غني او بډایه کوي، یایې له منځه وړي، بد نامۍ یې، سپکوي یې او یا یې د فشار او زور له لارې د یو بل څه خپلو لو، منلو او پرېښودو ته مجبوریو په فرهنګي سانسورکې حسابېږي، هغه هېوادونه چې د نړۍ د زورواکو، زبرځواکونو د جبر او ستم له لاسه د ارام ورځ نه لري تل له مختلفو ستونزو سره لاس او ګرېوان وي، پوهان، عالمان، متخصیین یې خپله خاوره پرېږدي او نورو هېوادونو ته هجرت کوي خپل ټول علمي فرهنګي، اخلاقي او ملي نوامیس ترې پاتې کېږي او ټوله خواري یې له صفر سره ضربېږي، د سانسور د همدې ډول برخه

ده، همدا علت دی چې غربیان په اسلامي نړۍ کې د ملتونو تر منځ په سیاسي، مذهبي، قومي، سمتي، ژبني او فرهنګي اختلا فاتو مصروف دي، نه پرېږدي چې بې پوهې کړېدلي مسلمان ملتونه د ارام سا واخلي، څرنګه چې د ټولنې اخلاق د ځانګړي او ټاکلي فرهنګ په غېږ کې را منځ ته کېږي نو له همدې کبله انسان د ټولنې په منځ کې د همغې ټولنې ټولو ارزښتونو ته ژمن او تابع وي، بلکې په خپله ځان سانسوروي، نه غواړي چې د ټولنیزو ارزښتونو خلاف عمل تر سره کړي، سره له دې چې هر انسان ځانګړې نفسي غوښتنې، ضرورتونه او امېدونه لري ولې د ټولنې د ارزښتونو د پالنې اوساتنې لپآره صبر کوي نه غواړي داسې څه تر سره کړي چې خلک یې په ټولنه کې بد معرفي کړي، افغاني سبېڅلي دودونه د همدې ټولنیز فرهنګي سانسور ښې بیلګې دي (حیا، درنښت، دښځو او مشرانو احترام، د خپل عزت، حثیت او عفت د ساتنې په خاطر سرښندنه، وطن پالنه او کلونه مسافري...). یې ژوندۍ بېلګې دي ((Jennifer M. Kinsley1, 2023).

څرنګه چې فرهنګي سانسور له علم او پرمختګ سره تړلی دی له همدې کبله د مختلفو هېوادونو هغه ساینس پوهان چې د هستوي انرژي د رامنځ ته کېدو وړتیا لري د یهودانو او د هغوی د طرفدارانو له خوا په مختلفو اړخونو، بدنامېږي، تورنېږي او بالاخره وژل کېږي؛ ولې په اسلامي نړۍ کې داسې خلک نشته چې د هستوي سلاوو وړتیا ولري؟ د پاکستان د اتومي بم جوړوونکی عبدالقدیر چې اصلا یې نیکه او نصب له افغانستان څخه وو، ولې د مشرف د حکومت له خوا کړېده؟ د صدام حکومت په څه بانه له منځه ولاړ؟ ایران ته نړیوال ولې ستونزې جوړوي؟ هغه مسلمان علمای کرام چې د اسلاي امت طرفداري کوي ولې د امریکا له خوا نیول کېږي، وژل کېږي، بندیز پرې لګېږي، همدا نن (۲۰۲۵ د جنوري) لومړی ورځ په امریکا کې چې کوم پخواني پوځي پر خلکو موټر خېژولی علت یې څه دی؟!. دا او دې ورته پېښې ټولې د غرب د اقتصادي هوس او هڅو د لېونتوب نتیجه ده د دوی سرتېري په دې پوهېږي چې موږ په ظلم لګیا یو.

**نظامي سانسور**: په نړۍ کې هر هېواد ځانګړي نظامي اصول، مقررات او قواعد لري چې د هغو په نظر کې نیول، هغو ته غاړه کېښودل او پرځای کول یې د هر نظامي فرد مسئولیت ګڼل کېږي همدا علت دی چې هغوی د خپلو نظامي اسرارو، مقرراتو، تکتیکونو ، پلانونو او امنیتي تدابیرو د ساتنې لپاره خپلو پرسنلو ته ځانګړې سپارښتنه کوي چې اداري راز باید پټ وساتل شي، د همدې موخې لپاره پر مختلفو مسایلو سانسور وضعه کوي څکه نه غواړي هغه پلانونه(عملیات، نظامي تسلیحاتي سرار، اطلاعات، د جنګي جنایتونو راز او ...) او معلومات نه غواړي مقابل طرف(دښمن) ورڅخه خبر شي(Soengas, 2013 ).

امریکایي او نورو غربي ځواکونو د افغانستان او عراق په جګړو کې ډېر داسې کارونه وکړل چې افشاکول یې نه غوښتل حتی د شهیدانو له بدن څخه به یې مرمۍ ویستلې چې خلک پوی نه شي چې د غربي ځواکونو پر مرمیو

ویشتل شوي او وژل شوي دي ژورنالستانو ته به اجازه نه ورکول کېده چې د جګړې له ځای انځورونه او راپور خپور کړي، په هېواد هغه ژورنالستان چې د داډول پېښو معلومات به يې خپرول د ایساف د ځواکونو له خوا تهدیدل، شهیدانېدل او حتی کورنۍ يې کړېدلې، د خوست ژورنالستان يې په ځینو راپورونو بندیان او ځینې يې شهیدان کړل. (Day, 2001).

**مفکوره يي سانسور**:دا سانسور هغه حالت دی چېرې چې عقاید نظریات او باورونه محدودېږي، سیکولر هېوادونه هڅه کوي چې مذهبي اقلیتونه له مختلفو فشارونو لاندې راولي، څو يې مذهبي لوري ته میلان او ارزښت کم کړل شي، دوی هغه مذهبي وګړي چې ټولنه د حق لارې ته رابولي له مختلفو لارو ځاري، تهدیدوي يې، د چین او برما مسلمان ملتونه هغه ډلې دي چې د همدې اسلامي مفکوروي سانسور په اساس کړېږي او د ظالمانو جبر او کبر ته پراته دي.(Soengas, 2013) .

**ځاني سانسور**: د ځان هغه فکري قدرت او زور چې نفسي غوښتني او تمایلات له منځه یوسي او د هغو د ظاهرولو مانع شي ځاني سانسور بلل کیږي. ځاني سانسور همیشه له نفس څخه سرچینه اخلید ځاني سانسور اکثریت عوامل سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیز وي، په ځانګړي ډول کورنۍ، چاپېریال او والدین په د ې برخه کې غښتلی اغېز لري، چې سترګې ورڅخه نه شي پټېدلی. همدارنګه د اداري په داخل کې د اداري اصولو منل او د هغوی منل د ځاني سانسور بنسټ بلل کیږي ( (Jennifer M. Kinsley1, 2023)).

**رسنیز سانسور**: رسنۍ د دې پېړۍ له ارزانه، موثرو او نامتو وسیلو څخه ګڼل کیږي، په هدې خاطر يې د نړۍ ځواکمن هېوادونه د خپلو هر اړخیزه ګټو لپاره د ځانګړیو پالیسیو په نظر کې نیولو سره کاروي، د مسلکي ، تخنیکي او پالیسي جوړوونکو کسانو له خوا يې مختلف پروګرامونه جوړېږي او پر هدف وړ ټولنه کې يې تطبیقوي، ځکه هغه څه چې حکومت يې غواړي د رسنیو له لارې پر ټولنه تطبیقوي، ځکه رسنۍ د اړیکو او معلوماتو، له هغه چاپي او برېښنیایي وسیلو څخه عبارت دي چې خلکو ته هر اړخیز خبرونه او مالومات لېږدوي، د پاریس پوهنتون د ارتباطاتو او ټولنپېژندنې استاد ژان کازو وايي:((ډله ییزې رسنۍ هغه وسیلې دي چې د نویو تمدنونو په ځانګړیو شرایطو کې را منځ ته شوې، ځانګړتیاوې يې نفوذ، پر ټولنه اغېز اود پوښښ له پراخ اغېز څخه عبرت دي)). دولتي چارواکي د همدې ارزښت او اغېز له کبله پر ټولو هغو معلوماتو اطلاعاتو خبرونو او ویناوې چې د حکومتي چارواکو د ګټو ضد وي سانسوروي، ځکه د رسنیو سانسور نسبت د خلکو( خبرې، ویناوو ته) زیات رزښت لري، رسنیز سانسور د رسینو له ایجاد نه پیل شوی په دې ډول سانسور کې ټول هغه مواد چې د چاپ، غږ او انځوریز (د مطبوعاتو، کتابونونه، غږیزې، انځوریزې) رسنۍ شاملې دي، هغه کتابونه چې پخوا

په معبدنوکې لوستل کېدل او چاپیدل هغه هم سانسور کېدل، ځکه په هغه وخت کې مذهبي مقاماتو د سانسور حق درلوده بیا چې د چاپ صنعت پیدا شو ،نو له یوي خوا کلیسا او له بلې خوا حکومتونو دا حق ځانته واخیست چې دخپرو شوو اثارو لپاره اجازه واخلي او بیا یې خپاره کړي، یوې ډلې د خپلو ګټو لپاره مذهبي تګلارې او بلې ډلې خپلې سیاسي تګلارې او کړنلارې پاللې او ساتلې او له همدې لارې یې خپلې موخې د ټولنې له لارې لاس ته راوړلې.

په رسنیو کې سانسور هغه پروسه ده چې له مخې یې حکومتونه، سازمانونه او واکمنو لخوا د رسنیو محتوا محدودوېږي ،کنټرولېږي او یا حذف کېږي ( Bayer, No. 2019-03, May 2019) .
دا معمولا د سیاسي ،مذهبي یا اخلاقي،دلایلو لپاره تر سره کېږي. سانسور کولای شي د خلکو معلوماتو ته لاسرسي باندې ااغېزه وکړي او د ازادۍ وینا او معلوماتو د شریکولو حق محدود کړي.( Konvitz, M. R. (2003). Religion, speech, press, assembly: Fundamental)).

**خبري راپورونه:** هر حکومت د خپلو سیاسي، نظامي، امنیتي، مذهبي او فرهنګي ګټو د ساتنې لپاره ممکن د ځینو خبرونو بڼه او لوری بدل کړي، ځکه دوی نه غواړي هر هغه خبر چې د دوی د تګلارې او کړنلارې مخالف وي، یا عامه نظم ګډوډوي، خپور کړي، له همدې کبله ځینې راپورونه سانسوروي ترڅو په ټولنه کې د ګډوډې او بې نظمي را منځ ته نه شي او عامه افکار له ستونزو او بې ځایه تشویشونو څخه وساتل شي، دا دیوې باثباته او مدبرې ادارې مهم مسئولیت ګڼل کېږي.

**سوشل میډیا او انټرنیټ**: انټرنیټ هم سانسور کېږي، ځکه په انټرنیټ کې زیات داسې شیان خپرېږي چې د مسلماني ټولنې له مذهبي، فرهنګي، سیاسي، اخلاقي او ټولنیز اړخ سره په ټکر کې وي نو له همدې کبله ځینې ځانګړې ویبسایټونه شته چې د هغو له لارې د انټرنیټ ټولنېزې رسنۍ سانسور کېدلی شي( No. 2019-03, May 2019 ).

**اخلاقي سانسور**: هره ټولنه ځانګړې ټولنیز او مذهبي ارزښتونه لري چې د هغو پالل؛ بډایه کول او ساتنه د حکومت او خلکو اخلاقي مسئولیت ګڼل کېږي، د همدې کبله هر هغه څه چې د ذکر شوې ټولنې اخلاق زیانمنوي د هغو دفعه او مخنیوی ځانګړی مسئولیت، د افغاني ټولنې د اخلاقي، مذهبي او فرهنګي ګټو خلاف معلومات ، خبرونه، فلمونه او هر هغه څه چې ټولنیز اخلاق زیانمنوي سانسورول یې ملي او عقیدوي مسئولیت بلل کېږي، همدارنګه هرهغه څه چې زموږ د ذکر شویو ارزښتونو د زیان، پیکه کېدو، له منځه تلو او خرابېدو باعث ګرځي، د هغو مقابله هم زموږ ایماني او وجداني مسئولیت دی چې مخه یې ونیول شي. ټولې هغه خپرونې او معلومات باید سانسورشي، چې د ټولنې له معنویاتو، اصلیت او د ژورنالېزم له اصولو سره سمون نه لري.

مذهبي سانسور: څرنګه چې هره ټولنه ځانګړی مذهب لري نو مذهبي او حکومتي مشران مسئول دي چې د ټولنې مذهبي ارزښتونه وساتي، وبې پالي او هر هغه څوک چې تخریبوي یې مخه یې ونیسي، په همدې اساس هر هغه څه چې د مذهب د سپکاوي او بدنامي باعث ګرځي باید سانسور او خپرول یې مطلق منعه شي Irum*) .Saeed Abbasi, 2015)

**اقتصادي سانسور:** همدارنګه کله چې د یوې ټولنې سوداګریزي ګټې ټولنیزو رسنیو له لارې له ستونزو سره مخاخ شي، سانسورول یې لازمي دي؛ ځکه هره ټولنه ځانګړې ملي او اقتصادي ګټې لري چې ساتنه او پالنه یې د ژورنالستانو، رسنیو او مسؤلینو ځانګړی ملي مسئولیت ګڼل کېږي.

مونږ د نړۍ په کچه د سانسور په اړه معلومات وړاندې کړل اوس به د ګران هېواد مطبوعاتي ډګر ته راشو، وبه ګورو چې زمونږ په کورکې کله، څه وخت د چا له لاسه رسنیز سانسور پیل شو.

**په افغانستان کې د سانسور پیل**

د رسنیو د سانسور سیوری همله په غربي ټولنو کې ایسار نشو، بلکې لمنه یې د نړۍ د نوروګڼو هېوادونو په څېر افغانستان ته هم را وغځېده او په افغانستان کې د رسنیو او په تېره بیا د رسنیو له پیدایښت سره جوخت سانسور هم پیل شو، په هېواد کې شمس النهار لومنی خپرونه وه چې په ۱۲۵۷ش کل کې د انګریزانو د دویم تجاوز په وخت کې له منځه ولاړه(تنویر،۱۳۸۶ش).

دځیړونکي او استاد حبیب الله رفیع په اند د سانسور لومړنی ټک داماني دورې پر خپلواکې ورځپاڼې انیس و چې چلونکی یې غلام محي الدین د زندان تر پولو ورسید.

په افغانستان کې آزادې رسنۍ په ۱۳۰۶کال کي د اعلیحضرت امان الله خان په وخت کې د مطبوعاتو د قانون له راوستو سره منځته راغلې چې لومړی ازاده خپرونه د انیس خپرونه وه. دا خپرونه په هما غه کال ترسانسو ر لاندې راغله ،ځکه چې انیس خپرونې په پولیسو باندي یو انتقادي مضمون چاپ کړی و. انیس یې زندان ته واچاوو او د اخبار دروازه یې وتړله. او له هغې ورځې سانسور په افغانستان کې پیل او محی الدین انیس یې په داسې حال کې د اخبار په کارونو بوخت و په ۱۳۰۷ش کال د حمل په ۲۳ ونیو او لاسونه یې پرې وتړل:(وردګ، ۱۴۰۲ش).

همدارنګه د سراج الاخبار لومړنی ګڼه چې په ۱۲۸۵ش، کال کې چاپ شوه د انګریزانو له سخت غبرګون سره مخامخ او چاپ کېدل یې بند شول ( تنویر،۱۳۸۶ش).

همدغه موضوع کټ مټ استاد شفیق هم په خپل اثر(د افغانستان رسنیز حقوقي نظام کې ذکر کړې (ورګ،۱۴۰۲ش).

**د سانسور ګټې**: دا چې د نړۍ مختلف هېوادونه ځانګړې موخې، مذهب، دودونه، فرهنګ، اقتصاد او تاریخ لري له همدې کبله یې حکومتي چارواکي د ملي ګټو او ملي فرهنګ د بډاینې، پالنې او غښتلیتا لپاره غواړي پر هر هغه څه سانسور ولګوي چې د خپلې ټولنې او ګټو زیان پکې ویني، همدې مسایلو ته په کتو پر هغه ټولنه کې د سانسور ګټې او زیانو نه هم معلومېږي، پورته موضوعاتو ته په کتو غواړو د سانسور په زیان او ګټوهم څه معلومات وړاندې کړو څونوي ځوانان چې دې ډګر ته راځي د سانسور په زیان او ګټو دواړو پوی شو. Konvitz, M. R. (2003). Religion, speech, press, assembly: Fundamental liberties of a free people. New Jersey, NJ: Transaction Publishers

د سانسور ګټې: عموماً سانسور د مختلفو ټولنو مذهبي، سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، نظامي او ... ګټو ته په کتو لاندې ګټې لري.

**ټولنیز ثبات**: دا چې هر هېواد، نظام او ملت په هر ډګر(سیاسي، مذهبي او کلتوري) کې مخالفین لري هغوی غواړي چې حاکم نظام په یو نه یو ډول تخریب، تهدید او بد نام کړي، د همدې موخې لپاره له مختلفو رسنیو د حاکم نظام په ضد تبلیغات تر سره کوي چې په داسې وخت کې نظام(دولت) مجبورېږي په هغو رسنیو چې د دولت په ضد تبلیغات کوي سانسور وضعه کوي څو ټولنه یې له تبلیغاتو څخه وساتي، ددې پرځای دداسې خپرونو، اطلاعاتو معلوماتو سپارښتنه کوي چې د خلکو افکار له تخریب او بې ثباتي څخه وژغوري؛ د اعتماد او باور لوري ته یې را مات کړي.

**اخلاقي معیارونه**: دا چې هر ټولنه بېل اخلاقي خویونه، ارزښتونه او معیارونه لري، د همدغو اخلاقي خویونو، ارزښتونو او معیارونو د ساتنې په پار په رسنیو کې هر هغه څه چې د ذکر شویو اخلاقي نورمونو خلاف وي سانسوروي څو د ټولنې اصلیت او حثیت له ستونزو سره مخاخ نه شي، په غربي رسنیو کې لغړ انځورونه، له همجنسو او حیواناتو سره نکاح عادي خبره ده، ولې ذکر شوې کړنې په افغاني او اسلامي ټولنه کې مطلق منع د شرم او عزت مسئلې دي، په مسلمانه ټولنه کې د ناموس د ساتنې او پت لپاره خلک له سر او مال تېرېږي او مرګ ته ځان چمتو کوي، له همدې کبله هر هغه څه چې د اسلامي ټولنې مذهبي، معنوي او فرهنګي اړخونه ننګوي مسئولین یې په سانسورولو مسئول ګڼل کېږي.
http://edition.cnn.com/2015/04/03/us/califomia-revenge-porn-sentence

**امنیت**: د نړۍ هر هېواد ځانګړې ټاکلې جغرافیه، ملت، ملي ګټې او ملي سرې کرښې لري چې پر دولتي امنیتي ځواکونو یې ساتنه، پالنه او لارښوونه فرض ده د همدې موخې لپاره ملي امنیتي ځواکونه او مسئولین ځان قربانوي،

نو د همدې موخې لپاره هر هغه څه چې د امنيتي خطر باعث گرځي مخنيوی يې کوي او هر هغه څه خبر، معلومات، انځور او غږ چې خطر ترې را پيدا کېږي سانسوروي څو د خلکو عامه افکار زيان ونه مومي.

**رواني سلامتيا**: د ټولنې اروايي سلامتيا د حکومتونو مسئوليت گڼل کېږي، ځکه هر دولت غواړي چې خپل ملت له هر اړخه باثباته او ارام وساتي له همدې کبله هر د امنيت، پرمختگ، بيا رغونې او طرقي گام چې اخيستل کېږي موخه يې د ټولنې اروايي ارامتيا او سوکالي وي، دهمدې موخې لپاره بندونه، زراعتي کانالونه، ښارونه، پوهنتونونه او ښوونيزې ادارې جوړوي څو ټولنه ورځ تر بلې د ارام سا واخلي، د همدې هدف د لاس ته راوړلو لپاره هر هغه خوځښت چې ټولنې ته اروايي ستونزې جوړوي له منځه وړي او سانسوروي يې. (Newth, 2010)

**دسانسور زيانونه**: موږ مخکې صفحو کې د سانسور په گټو وغږېدو، ولې ځينې زيانونه هم لري چې سترگې ترې نه شي پټېدلی، اوس به هغه زيانونه هم په گوته کړو چې په ټولنه کې ستونزې را پيدا کوي.

**د بيان د ازادي محدوديت**: دا چې هر انسان ته الله ځانگړی فکر او عقل ورکړی دی ځينې وخت داسې کېږي چې ځينې سرتمبه، ځان غوښتونکي او په ځان مين خلک د نورو له حقوقو څخه بده گټه اخلي، که چېرې خلک غږ پورته نه کړي ظالمان او مفسدين د نورو پر حقوقو پښې ږدي، نو له کبله د بيان ازادي د بشر حق دی ترڅو يې حقوق ضايع نه شي. alists, 2015). T

**له حقايقو سترگې پټول**: په دې عصر کې وينو چې په نړۍ واله کچه د ملتونو حقوق تر پښو لاندې کېږي پر حق يې سترگې مړې کېږي، ظلم ورسره کېږي، که چېرې د حق په مواردو کې د سانسور په اډانه کې غور وشي بده به نه وي او د ټول بشريت خير پکې ساتل کېږي چې دا کار هغه رسنۍ او مسئوليت يې کولی شي چې ريښتين مسئ،ليت وپېژني، په ځانگړي ډول مسلکي په خپل خدای خاوره او دين مين ژورنالستان ذکر شوې موضوع ښه سپړلی شي، ولې بدبختانه هغه رسنۍ او مسئولين يې د غرب له اغېز لاندې راغلي د هغوی د گټو په خاطر د ژورناليزم په مسلک خاورې اړوي او له ټولنې حقايق پټوي، دا ډول کسان د مسلک ژورنالستان نه بلکې خاينان او د مسلک خرڅونکي دي دوی هيڅ ضمير نه لري په ځانگړي ډول هغه مسلمان ژورنالستان چې په غربي رسنيزو ادارو کې کارکوي، دحقايقو په نامه ناروا او دروغ خپروي دوی له خپل ايمان او ووجدان سره خيانت کوي الله به يې کله هم ونه بښي؛ ځکه د الله قول دی چې!( تاسو ربښتيا په دروغو مه بدلوی) دا چې څوک حق په ځای بل څه وايي ناروا او د الله امر څخه صريحاً نا فرماني ده.

**د بشري نوښت مخه نیول کېږي**: داچې هر انساني ذهن د الله د قدرت ځانګړې خزانه ده کله چې یو چاته اجازه نه ورکول کېږي چې هغه څه چې له ځان سره لري نورو ته ورسوي، په حقیقت کې د هغه ذهن له پرمختګ او نوښت څخه ساتل کېږي چې پایله کې انسان بې حسه او بې احساسه کېږي نو د دې لپاره چې هر انسان څه په ذهن کې لري نورو سره یې شریک او انتقال کړي ځکه هر انسان ته الله ځانګړی استعداد او وړتیا ورکړې که چېرې د نړۍ مشران نوښتګرو او مخترعینو ته واک ورکړي چې ټولې بشري ټولنې ته خدمت وکړي هېڅ بشر په دنیا کې وږی، بې کاره اوبې مسلکه پاتې نه شي، همدا د نړۍ د ځینو هېوادونو مشران دي چې د خپلو سیاسي، اقتصادي او نظمي ګټو په خاطر د اسلامي نړۍ نوښتګر ځوانان په عبث کارونو بوختوي، داسې علوم مسلکونه او مسایل ورته مخې ته کوي چې له پرمتګ او نو ښت څخه یې پاتې او پر ځای یې هغه ځانګړی مسلک، تخنیک او وړتیا چې نوره نړۍ دوی ته احتیاج وي پر خپلو هغو کسانو زده کوي چې د دوی په چوپړ کې مصروف وي، د همدې موخې لپاره په اسلامي نړۍ د کار خلک په مختلفو نومونو بدناموي، تورنوي یې او بالاخره یې وژني .(Newth, 2010)

**د ټولنیز پرمختګ مخنیوی کوي**: څرنګه چې انسان د الله تعالی ټولنیز مخلوق دی چې په ټولنه ک ېخپل حثیت، عزت، پرمختګ او اصلیت ثابتولی شي په ټولنه کې ژوند کول یې خپل حق دی کولی شي خپل فکر، معلومات، اطلاعات، نظریات او کړنې له نورو سره شریکې کړي، یو بل ته د مسایلو په اړه مشوره ورکړي، لارښوونه ورته وکړي او که امکان وي یو بل سره همکاري وکړي، که چېرې سانسور پرې وضعه شي نو د خلکو هغه طبعي بشري ځواک او وړتیا چې الله ورکړی دی له منځه ځي، ځکه د فکر او معلوماتو د شریکولو زمینه نه برابرېږي هغه حق چې دی یې د ټولنې په مقابل کې لري نه شي ادا کولی.

**داعتبار له لاسه ورکول**: که نړۍ ته سترګې وغړوو نو په ډاګه ښکاري هغه هېوادونه چې پر رسنیو یې د خپلو شخصي ، اقتصادي او سیاسي ګټو په خاطر سانسور پلي کړی د نړۍ ملتونو کې بې اعتباره دي، ولو که دوی د ازادي، بشر پالنې، دښځو او لړکیو د حقوقو ساتنې چغې او نارې وهي ټول دروغ او د خلکو په افکارو کې دروغجن، فریب کار او ظالم پېژندل شوي دي، د غربي رسنیو سانسور یواځې د غربي ګټو لپآره دی هر هغه څه چې غرب ته په زیان وي که څومره ربښتیا، وحشتناک، ظالمانه او غیر عادلانه بیایې هم دوی راوبولي او هغه څوک چې د خپل حق غوښتنه کوي په داسې نومونو یادوي چې د غربي سیاستو پوهانو له ورته په setting agenda د پالیسي له خوا ټاکل شوی وي لکه اورپکي، ترهګر، بېلتون غوښتونکي... نور

دا چې د دوی دروغ او ظلم ټول بشریت ته معلو وي نو په همدې اساس باور له لاسه ورکوي، دوی بیا د خپلو موخو د تر لاسه کولو په خاطر له زور، فریب او وحشت څخه کار اخلي.

**پایله**

سانسور دبندیز، انتقاد او مخنیوي په معنی دی چې د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې یې مسئولین د خپلو سیاسي، اقتصادي او مذهبي گټو لپاره وضعه کوي، چې د ټولنې لپاره په ځینو برخو کې خطرناک یا گټور وي، هغه وخت چې ټولنه له خپلو مذهبي، ملي، معنوي، مادي او فرهنگي گټو څخه سرغړونه کوي سانسور د مسئولو کسانو له خوا د ذکر شویو گټو په خاطر د ټولنې خیر او مثبت تماميږي، دا هغه وخت چې دملت علمي، مذهبي او سیاسي شعور لوړوي، غربي هېوادونه له همدغې لارې کار اخلي ولې ځینې وخت یې مشران پرته له دې چې له خلکو مشوره واخلي په خپل سر کړنې ترسره کوي چې حکومت او ملت یو بل سره متضاد اړخ نیسي چې سیاسي ستونزې را پیدا کوي، او استخباراتي اداری یې مخه نیسي.

ولې په هغو متلونو کې چې سیاسي نبوغ، علمیت، مدیریت او دیرایت یې کم وي هلته سیاسیون د خپلو سیاسي گټو لپاره د ټولنې پرحققوقو پښې ږدي او د حقایقو د اورېدلو او لیدلو په خاطر یې سترگې پټوي څو هغه راز چې دوي له ټولنې پټول غواړي افشا نه شي، دا حالت ډیری په بیرته هېوادونو کې د نورو ځواکمنو هېوادونو له لوري پلي کیږي، د دې لپاره چې حکومتونه د قدرت په وخت کې د خپلې ټولنې حقوق ادا او د هر اړخیز پرمختگ لوري ته یې وهڅوي لازمه ده چې د هر هغه څه په اړه د ملت په گټه تماميږي سانسور او برعکس د هر هغه څه چې د ټولنې خبرېدلو، پو هېدلو ته لازم وي اطلاعات او معلومات ورکړي څو حکومت او ملت داسې لاره غوره کړي چې د دواړو په خیر وي، ولې په هغو هېوادونو کې چې مسئولین یې د پردیو لاس پوڅي، جاسوسان او اجیران وي هغوی ټولنې ته د هغو اشخاصو په جامه، حثیت او بڼه ځان جوړوي چې هغه په ټولنه کې محبوب او محترم له همدې ارزښت څخه کار اخلي بې سواده، نا خبره او مظلومه ټولنه د هغوی په خبرو غولېږي او بالاخره ټولنه په لوی لاس دپردیو د گټو ښکار گرځي او له منځه ځي، د همدغې موخې په خاطر په نړۍ کې اقتصادي ځواکمن ځیرک هېوادونه په بیرته پاتې نړۍ کې د مختلفو غوړو شعارونو، بیانو او وعدو په ورکولو سره ملتونه د بدبختي کندې ته ور غورځوي ژوندی بیلگه د امریکا او زلینسکي یارانه ده چې د خپلو گټو په خطر یې یو ژوندی ملت یې له هر دول مادي او معنوي ارزښتونو خلاص او د اور گندې ته ور ټېل واهه ممکن د ټرمپ په راتگ سره موضوع بل اړخ غوره کړي، ځکه همدې میاشت ۲۰۲۵ جنوري په پای کې نتیجه معلومه شي، همدې ورته موضوع د سورې هم ده کېدی شي سوریه او اوکراین د پهلوانانو د لوبې(روس، امریکا) قرباني شي.

**وړاندیزونه**

سانسور په ځینو برخو کې د ټولنې د مذهبي، سیاسي، اقتصادي او صنعتي ګټو لپاره ګټور وي چې پلې شي، خو دا په هغه وخت کې حکومت یا حاکم نظام د خپلې ټولنې مدیریت، په پوره درایت او غور سره وکړي؛ ځکه ځینې وخت مخالف خلک، ډله، نظام د ټولنې له ناپوهي، سیاسي کمزوري بصیرت، څخه ناروا ګټه اخلي او د ګټې په ځای زیان راپاروي، نو دهمدې لپاره لازمه ده چې لاندې وړاندیزونه په دقیق ډول په نظرکې ونیول شي څو له ستونزو سره مخاخ نه شي.

۱. په سانسور کې د ټولنې مذهبي، فرهنګي او تاریخي برخې جدي په نظر کې ونیول شي.
۲. په سانسور کې د ټولنې سیاسي بصیرت، نبوغ او د ښوو نې کچه په جدي ډول په نظر کې ونیول شي.
۳. په سانسور کې د ټولنې ټولنې ټولنیز حساسیتونه په نظر کې ونیول شي، ځکه هرڅه په ټولنه کې راپورته کېږي.
۴. په سانسور کې د ټولنې کلتوري نوامیس په نظر کې ونیول شي ځکه کلتور د ټولنې په غیږ کې راپورته کېږي له منځه وړل یې لسګونه کلونه په بر کې نیسي.

**ماخذونه**

افتخار، محمدحسین. (۲۰۱۵م). کمونیکشن سټډیز. لاهور: لیت پبلکشن.

بدر، محمد زابر. (۲۰۱۳م) ابلاغیات، لاهور: یونس پرنټرز.

تنویر، حلیم. (۱۳۸۰ش) د افغانستان تاریخ او خپروني: پېښور، صبور نشراتي مرکز.

ناظم، محمد داود. ( ۱۴۰۱ش). دجرمونو په زیات والي او کموالي کې د رسنیو رول. کابل: علوم اکادومي.

عصمت، خ. (۱۳۸٦ش ). ژورنالستیک قاموس .پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

وردګ، ش(۱۴۰۲ م) رسنیز اخلاق او حقوق. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

یعقوبي، ی. (۲۰۱۰ م). ژورنالستیک اخلاق .پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

**انټرنیټي سرچینې**

**Irum Saeed Abbasi. (2015). Media Censorship: Freedom Versus Responsibility. Authors Note.*

*Bayer, J. (No. 2019-03, May 2019 ). Between Anarchy and Censorship . cpse, 8-14.*

*Jennifer M. Kinsley1. (2023). DRAFT LAW REVIEW. THE PSCYHOLOGY OF CENSORSHIP, 9-15.*

# د قران کریم اسباب النزول پېژندنه

پوهنوال سید کمال شاه بنوري، شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځی، د فقې او قانون څانگه.

برېښنالیک: saidkamalshah.banuri18@gamil.com

**لنډیز**

اسباب النزول د قران کریم د هغو آیتونو یا سورتونو د نزول ځانگړو شرایطو، پېښنو او علتونو ته اشاره کوي چې د یوې خاصې پېښې یا اړوندې پوښتنې په ځواب کې نازل شوي دي. دا علم د قرآني تفسیر او پوهې لپاره بنسټیز ارزښت لري؛ ځکه چې د اسباب النزول پوهه د قرآني آیتونو د دقیق فهم، د حکمونو د تطبیق او د ناسخ او منسوخ آیتونو په پېژندلو کې مرسته کوي. په مقاله کې د اسباب النزول د تعریف تر څنگ د دې علم تاریخي پرمختگ، د پوهانو نظریات او د اسباب النزول په روایاتو کې د کره والي معیارونه څېړل شوي دي. سربېره پر دې، د دې علم د فقهې، تفسیر او دعوت په چارو کې عملي گټې بیان شوي دي. د پای په برخه کې دې ته اشاره شوې چې د اسباب النزول علم د قرآني علومو له هغو څانگو څخه دی چې د قران کریم د ژور فهم لپاره اړین دی او د مسلمانانو لپاره یې مطالعه لازمي گڼل شوې ده.ددې مقالې عمده موخه داده چې لوستونکي به د ایاتونو اوسورتونو په سبب پوه شي. زما لیکنه کتابتوني ده نو تر خپل وسه مې اساسي مراجعو څخه استفاده کړې ده او د هر قول نسبت مې خپل قایل ته کړی دی.

**کلیدي ټکي**: اړتیا، اهمیت، تعریف، تعداد، گټې

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

الله رب العزت د انسانانو د هدایت او لارښوونې لپاره خپل عظیم کلام، قران عظیم الشان په خپل عظیم الشان رسول محمد صلی الله علیه وسلم باندې، په عظیم الشانه میاشت رمضان او په عظیم الشانه شپه لیلة القدر کې دنیا ته نازل کړو؛ الله عزوجل فرمایي: {إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنْذِرِينَ } [الدخان۳]

ژباړه: بیشکه مونږ دا قران په مبارکه شپه کې نازل کړی دی، بېشکه مونږ ویروونکي یو.

{إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ} [القدر: ۱]

ژباړه: بېشکه مونږ دا قران دقدر په شپه کې نازل کړی دی.

په دې کې شک نشته چې د قران کریم ځینې هغه ایاتونه دي؛ چې د کوم خاص سبب او پېښې په اساس نه دي نازل شوي؛ اما! یو ډول هغه ایاتونه دي چې له یوې خاصې پېښې سره تړاؤ لري، نو له دا ډول ایاتونه څخه د احکامو را ایستل پرته د هغې له سبب نزول بیانولو څخه مفهوم نه افاده کیږي؛ لکه د صفاء او مروه د سعی په اړه الله عزوجل دا قول: {إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا } [البقرة: ۱۵۸]

ژباړه: بېشکه صفا او مروه د الله د شعایرو څخه دي، پس هغه څوک چې د بیت(الله شریف) حج او یا عمره کوي، نو په دوی باندې کوم ګناه نشته چې د (صفا او مروه) طواف وکړي.

نو دلته ظاهرا دا معلومېږي چې د صفا مروه په مابین کې سعي کوم د ګناه کار نه دی؛ حال دا چې نوموړې سعي واجبه ده، او پریښودونکي باندې یې دم (قرباني) واجبېږي. نو د دې لپاره چې مونږ دا ډول احکامو باندې پوه شو؛ نو د اسباب نزول پېژندل ډېر اړین دي.

دا چې علمي امانت مو مراعات کړی وي، اړینه ده چې هغو جهودو اوکوښښونو ته اشاره وکړم، کوم چې په دې موضوع کې مخکې لیکل شوي دي، کله چې ما د دې موضوع د لیکنې لپاره کتابونو ته مراجعه وکړه، په دې اړوند ډیر اړده بحثونه موجود وو؛ خو د یوې مختصرې مقالې په شکل په پښتو ژبه کې مې کومه مقاله تر سترګو نه شوه؛ نو ومې غوښتل چې په دې موضوع باندې مستقل بحث ولیکم که څه هم زما د نېمګړي علم مطابق به

د موضوع حق اداء نه شي، اما حتی الوسع کوشش کوم چې د موضوع اړوند ټول جوانب وڅېړم، د الله رب العزت څخه غواړم چې دغه لېکنه خپل اهداف په لاس راوړي.

**د ليکني موخې**

دا لېکنه په لاندې موخو مشتمله ده .

۱ـ په دې پوهيدل چی د اسلام مبارک دين شامل اوکامل دی؛ هېڅ شی پکې پټ نه دی پاتې، شپه يې د ورځې په څېر ده، د هرڅه وضاحت او بيان پکې شته.

۲ـ د آيتونو د ناسمو تعبيراتو مخنيوی.

۳ـ د ځانګړو پېښو په رڼا کې د آيتونو ښه تشريح.

۴ـ د مسلمانانو د ژوند لپاره د لارښوونو وضاحت.

**دڅېړنې تګلاره او مېتود**

دا چې څېړنه کتابتوني ده، نو د دې څېړنې په بشپړولو کې به د بشري توان مطابق د لاندې تګلارې څخه ګټه واخيستل شي.

الف ـ د څېړنې په اوږدو کې لومړی له اصلي مراجعو څخه ګټه اخيستنه.

ب ـ د نبوي سنتو په سرچينو کې له صحاح سته او له معتمدو او باوري سرچينو څخه ګټه اخيستنه.

ج ـ د لېکنې په اوږدو کې مأخذونه د (APA) سيستم مطابق کارول.

د ـ دا چې لېکنه په پښتو ژبه ده نو د پښتو ژبې ټولو معيارونو لحاظ ساتل.

**د قران کريم اسباب النزول پېژندنه**

سبب النزول تعريف: **قد تحصل واقعة، أو تحدث حادثة، فتنزل اية، او اية كريمة فی شان تلك الواقعة أوالحادثة ، فهذا هوما يسمى سبب النزول.**[1]

(۱)- [اتبيان فی علوم القرآن/۳۳]
(2)-[المسد:1 - 5]

د یوې واقعې اوحادثې په اړه د یو آیت یا ډېرو آیاتونو نازلیدلوته سبب النزول وایي. د اول مثال یعنې هرکله چه یوه پېښه واقع شي اود هغې په اړه قرآن کریم نازل شوی وي: کله چه دآیت شریف[ وانذرعشیرتک الاقربین ] نازل شو چې معنی یې ده؛ چې [ (محمده) خپل نــــږدې خپلوان، قوم او قبیله خپله ] وویروه؛ نو نبی علیه اسلام دخپل کورڅخه ووت او صفاغونډۍ ته وختلو او په لوړ اواز یې خلک خپلې خواته راوبلل، هرکله چې ټول راجمع شول نو نبی علیه السلام ورته وفرمایل: که زه تاسو ته ووایم چې د اسونو یو لښکر د دغه غره له خوا راځي نو تاسې ما په دې خبره کې رېښتینی بولئ که نه؟ ټولو په یو آواز وویل : مونږ له تا څخه هېڅکله هم دروغ نه دي اوریدلي؛ نو نبی علیه السلام ورته وفرمایل زه تاسې د سخت عذاب د راتلو څخه ویروم؛ په دې وخت کې ابو لهب وویل : هلاک شې ای محمد! مونږ دې د دې خبرې لپاره راجمع کړي یو؟ نو په دې اړه نبی علیه السلام ته وحي راغله او سورة (المسد) نازل شو.

**{تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ (١) مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ (٢) سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ (٣) وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ (٤) فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ (٥) }**[2]

ژباړه: مات او هلاک دې شي دواړه لاسونه د ابي لهب او په خپله دې هم هلاک شی، دفعه نکړ د ده څخه دهغه مال او څه چه یې ګټلي و د الله پاک د عذاب څخه هېڅ شي، .،ژر دی چې داخل به شي په قیامت کې هغه اور ته چې خاوند د لمبو دی.

د دویم مثال چې د کوم شي د پوښتنې په اړه نازل شوی وي لکه: د اوس بن صامت (رضی الله عنه) د خپلې ښځې خوله بنت ثعلبه سره د ظهار په اړه چې د ظهار حکم نازل شو ـ

واقعه په دې ډول وه چې اوس بنت صامت (رضی الله عنه) د خپلې بي بي سره ظهار وکړو، (ظهار دې ته وایي چې څوک خپلې ښځې ته ووایې چې ته پرما د مور د ظهر (شا)په شان یې او یا یې د بل محترم عضوې سره لکه پتون، خېټه او داسې نورو سره مشابهت ورکړي).

نوهغه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته ورغله او شکایت یې وکړ حضرت عایشه ( رضی الله عنها) فرمایې چې ویې ویل:

**يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَكَلَ شَبَابِي، وَنَثَرْتُ لَهُ بَطْنِي، حَتَّى إِذَا كَبُرَتْ سِنِّي وَانْقَطَعَ وَلَدِي، ظَاهَرَ مِنِّي، اللَّهُمَّ إِنِّي أَشْكُو إِلَيْكَ، قَالَتْ: فَمَا بَرِحَتْ حَتَّى نَزَلَ جِبْرِيلُ بِهَذِهِ الْآيَةِ: " قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا "** [٢]

**ژباړه :** اې د الله رسوله(صلى الله عليه وسلم) اوس بن صامت رضى الله عنه زما ځواني وخوړه او ما ورته اولادونه وزیږول، کله چې زه زاړه شوم او د اولاد څخه شنډه شوم، نو له ما سره یې ظهار وکړ، اې الله زه تا ته خپل شکایت وړاندې کوم ، حضرت عایشه (رضی الله عنها) وايي چې:( حوله) لا نه وه تللې چې دا اياتونه نازل شول: په تحقيق سره الله پاک د هغه ښځې وینا واوریده چې سوال او ځواب یې کاوه له تاسره(اې محمده) د خپل خاوند په حق کې او الله جل جلاله ته یې شکایت کاوه.

نو له دې پورتنیو مثالونو څخه معلومه شوه چې د نزول اسباب په دوو حالتونو کې معلومېږي؛ یو دا چې کومه پېښه واقع وي دویم دا چې کومه پوښتنه وي په اړه یې قرآني آیاتونه نازل شي.[٣]

باید په یاد ولرو چې د هر آیت لپاره د نزول اسباب اړین نه دی.

**اسباب النزول کې مونږ په څه اعتماد کولی شو؟**

په دې اړه علماؤو دوه طريقې بيان کړې دي:

١- اول دا چې په خپله د رسول (صلى الله عليه وسلم) څخه تصريح وربانديې شوي وي، چې د دې آیت سبب نزول دا دی .

٢- دویم دا چې د صحابی څخه د یو آیت او سورت په اړه روایت نقل کړی شوی وي. علامه واحدي د اسباب النزول په اړه ډېر زیات تاکید کوي هغه وایي: د قرآن کریم د نزول په اړه تر هغه څه ویل نه دي پکار تر څو چې روایت سماع سره ثابت نه وي او باید د هغو کسانو څخه روایت نقل شي چې د قران کریم د نزول په وخت کې موجود وو.[٤]

٢ ـ تفسير ابن أبي حاتم (١٢/ ٢٩٢)

٣ ـ پوهندوی ،صافی عبد الغفار، قرآن پوهنه ــــــــــــ٤٣

٤ ـ (الدر المنثور في التفســير بالماثور ٨٦،٨٨)

**اسباب النزول د پېژندلو ګټې**

۱ـ په دې سره هغه حکمتونه او اسرار پېژندل کیږي کوم چې په شرعي احکامو کې پټ پراته دي .

۲ـ په دې پوهیدل چې اسلامی شریعت عامه ښېګڼو او ګټو ته څومره پاملرنه کړې ده او د حوادثو او پېښو يې پخپل وخت علاج کړی دی.

۳ـ د یو حکم خاص کول په سبب پورې اګر چې دا مسئله اختلافي ده خو دا د هغه چا په نزد چې

د لفظ عموم ته اعتبار ورکوي نه د سبب اختصاص ته .

۴ـ په دې سره مونږ د قرآنکریم په مفاهیمو او معانیو باندې په آسانه پوهېدلی شو، لکه د صفا او مروه د سعی په اړه.

۵ـ کوم آیت چې د ځانګړي شخص په اړه نازل شوی وي مونږ یی باید د شخص خصوصیت او یا د انتقام او غچ اخېستلو لپاره په چا تطبیق نکړو.[٥]

**الف: داسباب النزول تعدد**

کله چې د یوآیت دسبب نزول په اړه دوه یا څو بېلابېل روایتونه رانقل شوي وي او هر دلیل له بل سره توپیر ولري همدې ته داسباب النزول تعدد ویل کیږي.

نو د روایاتونو ترمنځ د اختلاف لاندې څلور صورتونه وجود لري.

اول):ـ که چیرې دوه روایتونه موجود وي، یو یې صحیح او بل یې غیرصحیح وي، نو دلته صحیح روایت ته اعتبار ورکول کېږي او غیرصحیح روایت رد کیږي مثلاً: [دسورة الضحی د درېیو لومړنیو آیاتونو] د نزول د سبب په هکله دوه جلاجلا روایتونه په بخاري او مسلم کې (له جندب بجلي څخه) په لاندې ډول رانقل شوي دي:

**عَنْ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ جُنْدَبًا يَقُولُ اشْتَكَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَقُمْ لَيْلَةً أَوْ لَيْلَتَيْنِ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ يَا مُحَمَّدُ مَا أُرَى شَيْطَانَكَ إِلَّا قَدْ تَرَكَكَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ { وَالضُّحَى وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى }** [٦]

(٥) ـ [ لباب النقول فى اسباب النزول ١٣، ١٥،]
(٦) ـ صحیح البخاري (٦/ ١٨٢ ح٤٩٨٣ )

**ژباړه:** له اسود بن قیس څخه روایت دی چې له جندب څخه يې اوریدلي دي چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) یوه یا دوه ورځې داسې ناروغه شو چې د پاڅېدو توان يې نه درلود، په دغه وخت کې یوه ښځه ورته راغله او ویې ویل "زما داسې گمان دی چې ستا شیطان له تا سره پریکون راوستی دی" نو الله رب العالمین دا آیاتونه رانازل کړل [قسم په څاښت چې روښانه دی او قسم په شپه کله چې تیاره شي، ستا رب له تاسره جداوالی او دوښمني نه ده راوستي].

د همدغې آیاتونو دسبب النزول په اړه په طبراني کې داسې روایت رانقل شوی:

**عن حفص بن میسرة عن أمه عن أمها. وکانت خادمةرسول الله**(صلی الله علیه وسلم) **أن جرواً دخل بیت النبی**(صلی الله علیه وسلم) **فدخل تحت السریر فمات فمکث النبی**(صلی الله علیه وسلم) **اربعة أیام لاینزل علیه الوحی، فقال:یاخولة! ماحدث في بیت رسول الله؟ جبریل لا یأتینی. فقلت فی نفسي، لوهیأت البیت وکنسته، فأهویت بالمکنسة تحت السریر فاخرجت الجرو، فجاءالنبی**(صلی الله علیه وسلم)**ترعد لحیته وکان إذا نزل علیه أخذته الرعدة. فأنزل الله:[وَالضُّحٰيۙوَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۙمَا وَدَّعَکَ رَبُّکَ وَمَا قَلٰىؕ]**[1].(1)

ژباړه: له حفص بن میسره (رض) څخه روایت دی چې هغه له خپلې مور څخه او مور يې له خپلې مورڅخه روایت کوي (چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خادمه وه) چې وایي: یو وړوکی سپی د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کور ته راننوت د چپرکټ لاندې ننوت او هم هلته مړ شو، نو بیا پر نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) باندې څلور ورځې وحي نازله نه شوه، نو نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) حولَه (۷) ته وویل یاحولَه! د الله د رسول په کور څه شوي دي؟ چې جبرائیل (علیه السلام) راته نه راځي.خَولَه وایي ماله ځان سره وویل چې راځه دا کور جارو کړه، جارومې راواخېستله او دچپرکټ لاندې ځای مې جارو کاوه چې هغه وړوکی سپی مې را وویست، نو نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) راغی په داسې حال کې چې ږیره مبارکه یې ریږدیدله[8] نو الله رب العالمین دغه آیاتونه رانازل کړل چې [قسم په څاښت چې روښانه دی، او قسم په شپه کله چې تیاره شي، ستا رب له تا سره جداوالی او دوښمني نه ده راوستي.

د پورته روایتونوپه باره کې علامه ابن حجر عسقلانی په فتح الباري (شرح صحیح البخاري) کې ویلي دي چې د دغه آیاتونو د نزول د سبب په اړه د طبراني واقعه مشهوره ده خو د طبراني دغه واقعه د دغه آیاتونو لپاره د سبب

(۷) خَولَه دنبي کریم (صلی الله علیه وسلم) خادمه وه
(۸) کله به چې پر نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) باندې وحي نازله شوله نو د هیبت له امله به لړزې ونیوه

النزول منل نا اشنا غونديٖ خبره ګڼلي ده، ځکه چې د دغه روايت په سند کې داسې راويان دي چې اعتماد وربانديٖ نه شي کيداى او کوم روايت چې بخاري او مسلم رانقل کړى دى هغه صحيح او د اعتبار وړ دى.[۹]

دويم: که چېرې د کوم آيت د سبب النزول په اړه رانقل شوي روايتونه ټول صحيح وي خو يو د دوى څخه د اسبابو د ترجيح له امله پر نورو ښه وګڼل شي، يعنې يو د دې رواياتو څخه د نورو په نسبت ډېر صحيح وي يا يې راوي دېپښې په ځاى کې حاضر وي نو دغه روايت ته پر نورو بانديٖ ترجيح ورکول کيږي، دمثال په ډول:

امام بخاري له عبدالله بن مسعود (رضى الله تعالى عنه) څخه روايت رانقل کړى چې ويلي يې دي:

**عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَا أَنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَرْثٍ وَهُوَ مُتَّكِئٌ عَلَى عَسِيبٍ إِذْ مَرَّ الْيَهُودُ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ سَلُوهُ عَنْ الرُّوحِ فَقَالَ مَا رَأْيُكُمْ إِلَيْهِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا يَسْتَقْبِلُكُمْ بِشَيْءٍ تَكْرَهُونَهُ فَقَالُوا سَلُوهُ فَسَأَلُوهُ عَنْ الرُّوحِ فَأَمْسَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِمْ شَيْئًا فَعَلِمْتُ أَنَّهُ يُوحَى إِلَيْهِ فَقُمْتُ مَقَامِي فَلَمَّا نَزَلَ الْوَحْيُ قَالَ { وَيَسْأَلُونَكَ عَنْ الرُّوحِ قُلْ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا }**[۱۰]

**ژباړه:** عبدالله ابن مسعود (رضى الله تعالى عنه) ويلي دي چې: زه له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) سره په مدينه کې روان وم چې نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) به د خرما د څانګې په امسا بانديٖ تکيه کوله، مونږ د يهودو په يوه ډله بانديٖ تېريدو چې د يهودو څخه ځينو کسانو وويل: راځئ چې څه پوښتنې ترې وکړو، نو هغوى وويل: د روح په باره کې مونږ ته معلومات راکړه، نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) لږ شېبه ودريده او خپل سر يې پورته کړ، زه پوه شوم چې وحي ورته کېږي، تر دې چې وحي راغله نو ويې ويل [ووايه دوى ته اى محمده! روح زما د پروردګار امر پورې اړه لري او تاسو ته په دې اړه علم نه دى درکړل شوى مګر ډېر لږ].

دهمدغې آيت په اړه يو بل روايت چې حاکم په مستدرک کې د عبدالله ابن عباس (رضى الله تعالى عنهما) څخه روايت کوي داسې يې ويلي دي چې:

**عن بن عباس رضى الله تعالى عنهما قال قالت قريش لليهود أعطونا شيئا نسأل عنه هذا الرجل فقالوا سلوه عن الروح فنزلت { ويسألونك عن الروح قل الروح من أمر ربي وما أوتيتم من العلم إلا قليلا }**[۱۱]

(3)ج-۱ صص-۱۱۸ ،۸۸
(۱۰) ـ صحيح البخاري ـ م م (۶/ ۸۷ ح۴۷۲۱)
۱۱ ـ مستدرك الحاكم (٤/ ١٢٦)

**ژباړه:** قريشو يهودو ته وويل مونږ ته داسې څه راپه ګوته کړئ چې د هغې په هکله مونږ د دې سړي (محمد صلی الله عليه وسلم) څخه پوښتنې وکړو، هغوی ورته وويل: تاسې ورڅخه د روح په هکله پوښتنه وکړئ. نو هغوی ورڅخه د روح په هکله پوښتنه وکړه نو پورتني آياتونه نازل شول[دوی له تاڅخه د روح په اړه پوښتنه کوي  ووايه دوی ته ای محمده! روح زما د پروردګار امر پورې اړه لري او تاسوته په دې اړه علم نه دی درکړل شوی مګر ډېر لږ].

له دويم(مستدرک له روايت) څخه معلومېږي چې په مکه مکرمه کې واقع شوی دی ځکه چې د قريشو حال يې پکې بيان کړی دی او قريش په مکه کې اوسېدل.

له لومړني روايت(چې امام بخاري روايت کړی دی) څخه معلومېږي چې په مدينه منوره کې واقع شوی دی؛ ځکه چې د يهودو له پوښتنې څخه حکايت کوي او يهود په مدينه کې اوسيدل.

لومړنی روايت د دويم روايت په پرتله د دوه دلايلو له کبله قوي او راجح دی.

الف: لومړی روايت د بخاري دی او دويم روايت د ترمذي دی، نو څرګنده خبره ده چې د بخاري روايت د ترمذي په پرتله قوي او راجح دی.

ب: دا چې دلومړني روايت راوي عبدالله ابن مسعود (رضی الله تعالی عنه) د پېښې په ځای کې حاضر ؤ او د دويم روايت راوي عبدالله ابن عباس (رضی الله تعالی عنه) دی او له هغې څخه دا معلوميږي چې نوموړی د پېښې په ځای کې حاضر نه ؤ.

بناً ويلی شو چې لومړی روايت د دويم په نسبت راجح دی او د نوموړې آيت سبب النزول ګڼل کېږي او دا هم کيدای شي چې د دواړو پيښو په اړه نازل شوی وي.

در يېم: دريېم صورت دا دی چې که چېرې د يو آيت دسبب النزول د واقعې په ارتباط څو بېلا بېل روايات شتون ولري، خو په صحت کې ټول روايات سره يو شان او برابر وي او يو پر بل کوم غوره والی يا ترجيح ونه لري او د دې رواياتو ترمنځ توافق يا مطابقت ممکن وي(د زمانې د نږديوالي په سبب). نو په دې صورت کې دغه آيت په تعدد د اسبابو باندې حمل کېږي(چې نزول يې يو او اسباب يې زيات وي)ځکه چې د علامه ابن حجر عسقلاني په نظر په تعداد د اسبابو کې کوم ممانعت نشته، مثلاً د (لعان) آيت، چې امام بخاري د عکرمه (رضی الله تعالی عنه) په سند سره د عبدالله بن عباس (رضی الله تعالی عنه) څخه حديث را نقل کړی دی چې په لاندې ډول دی:

**عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ هِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ قَذَفَ امْرَأَتَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرِيكِ ابْنِ سَحْمَاءَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيِّنَةَ أَوْ حَدٌّ فِي ظَهْرِكَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِذَا رَأَى أَحَدُنَا عَلَى امْرَأَتِهِ رَجُلًا يَنْطَلِقُ يَلْتَمِسُ الْبَيِّنَةَ فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْبَيِّنَةَ وَإِلَّا حَدٌّ فِي ظَهْرِكَ فَقَالَ هِلَالٌ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنِّي لَصَادِقٌ فَلَيُنْزِلَنَّ اللَّهُ مَا يُبَرِّئُ ظَهْرِي مِنْ الْحَدِّ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ { وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ فَقَرَأَ حَتَّى بَلَغَ إِنْ كَانَ مِنْ الصَّادِقِينَ } فَانْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا فَجَاءَ هِلَالٌ فَشَهِدَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ ثُمَّ قَامَتْ فَشَهِدَتْ فَلَمَّا كَانَتْ عِنْدَ الْخَامِسَةِ وَقَّفُوهَا وَقَالُوا إِنَّهَا مُوجِبَةٌ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَتَلَكَّأَتْ وَنَكَصَتْ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهَا تَرْجِعُ ثُمَّ قَالَتْ لَا أَفْضَحُ قَوْمِي سَائِرَ الْيَوْمِ فَمَضَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْصِرُوهَا فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَكْحَلَ الْعَيْنَيْنِ سَابِغَ الْأَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ فَهُوَ لِشَرِيكِ ابْنِ سَحْمَاءَ فَجَاءَتْ بِهِ كَذَلِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا مَا مَضَى مِنْ كِتَابِ اللَّهِ لَكَانَ لِي وَلَهَا شَأْنٌ.** [۱۲]

**ژباړه:** هلال بن امیه خپله مېرمن د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په وړاندې د زنا په تور د شریک بن سحماء سره تورنه کړه، نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل: یا به شاهدان راولې او یا دا چې حد(قذف) درباندې تطبیق کېږي نو هلال ابن امیه وویل: ای د الله تعالی رسوله! کله چې یو زموږ د خپلې میرمنې سره څوک ویني، نو دا به شاهدان لټوي؟ (په بل روایت کې راځي چې هلال وویل: قسم په هغه ذات چې ته یې په حقه رالېږلی یې چې زه ریښتینی یم او الله تعالی به هرو مرو قرآن رالیږي چې زما ظهر (شا)له حد څخه خلاصه کړي)، نو جبریل (علیه السلام) راغی او دا آیاتونه یې راوړل چې[هغه کسان چې خپلې میرمنې وولي(په زنایې تورنې کړي) او شاهدان ونه لري پرته له خپلو ځانونو...] تر دې چې د الله رب العالمین دې قول ته ورسیده چې فرمایلي یې دي[...ان کان من الصادقین].

له بل پلوه بخاري او مسلم شریف په دې اړه یو بل روایت هم رانقل کړی دی؛ چې د سهل بن سعد څخه روایت کوي:

**عن ابن شهاب أن سهل بن سعد الساعدي أخبره : أن عويمر العجلاني جاء إلى عاصم بن عدي الأنصاري فقال له يا عاصم أرأيت رجلا وجد مع امرأته رجل أيقتله فتقتلونه أم كيف يفعل ؟ سل لي يا عاصم عن ذلك رسول الله صلى الله عليه و سلم فسأل عاصم عن ذلك رسول الله صلى الله عليه و سلم فكره رسول الله صلى الله عليه و سلم المسائل وعابها حتى كبر على عاصم ما سمع من رسول الله صلى الله عليه و سلم فلما رجع عاصم إلى أهله جاء عويمر فقال يا عاصم ماذا قال لك رسول الله صلى الله عليه و سلم ؟ فقال عاصم لم تأتني بخير قد كره رسول الله صلى الله عليه و سلم المسألة التي سألته عنها قال**

---

۱۲ - (صحیح البخاري - م م (٦/ ١٠٠ ح ٤٧٤٧)

**عويمر والله لا أنتهي حتى أسأله عنها فأقبل عويمر حتى أتى رسول الله صلى الله عليه و سلم وسط الناس فقال يا رسول الله أرأيت رجلا وجد مع امرأته رجلا أيقتله فتقتلونه أم كيف يفعل ؟ فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم ( قد أنزل الله فيك وفي صاحبتك فاذهب فأت بها ) . قال سهل فتلاعنا وأنا مع الناس عند رسول الله صلى الله عليه و سلم فلما فرغا قال عويمر كذبت عليها يا رسول الله إن أمسكتها فطلقها ثلاث قبل أن يأمره رسول الله صلى الله عليه و سلم قال ابن شهاب فكانت تلك سنة المتلاعنين .** [١٣]

**ژباړه:** عويمر (رضی الله تعالی عنه) عصام بن عدي (رضی الله تعالی عنه) ته راغی چې د بني عجلان قبيلې مشرؤ نو ويې ويل: تاسې د هغه چا په هکله څه نظر لرئ چې د خپلې مېرمنې سره سړی ونيسي، که يې ووژني نو تاسې يې پرې وژنئ؟ اوکه څنگه به کوئ؟ په دې اړه د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) څخه زما لپاره پوښتنه وکړه نو عاصم نبي (صلی الله عليه وسلم) ته راغی او ويې ويل: ای دالله رسوله! "او د مسلم په روايت داسې دی چې" عاصم له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه په دې اړه پوښتنې وکړې، نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) دغه پوښتنې په دې وگڼلې او ويې غندلې، نو عويمر وويل: په الله قسم دی چې ترهغې نه منع کېږم چې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) څخه مې پوښتنه نه وي کړې، عويمر نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) ته راغی او ويې ويل: ای د الله رسوله! يو کس چې د خپلې مېرمنې سره سړی ونيسي، که دغه سړی ووژني نو بيا يې تاسې وژنئ؟ که څنگه به کوی؟ نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وويل: ستا او ستا د ميرمنې په اړه الله رب العالمين قرآن (آياتونه) رالېږلي دي.

نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) دوی دواړو (مېړه او ښځې) ته د لعان کولو امر وکړ کوم چې الله رب العالمين په خپل کتاب قرآنکريم کې په لعان يادونه ورڅخه کړې ده، نو عويمر له خپلې ښځې سره لعان وکړ.

پورتني دواړه روايتونه صحيح دي او ددواړو ترمنځ يو پر بل باندې د ترجيح کوم دليل او وجه هم نشته او دواړه پېښې په نږدې وخت کې هم واقع شوې دي؛ ځکه چې اول ځل هلال له رسول الله (صلی الله عليه وسلم) څخه پوښتنه کړې، بيا په هغې پسې عويمر ورڅخه پوښتنه کړې. مخکې له دې چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ځواب ورکړي اول عويمر د عاصم په ذريعه او بيا يې په خپله له رسول الله (صلی الله عليه وسلم) څخه پوښتنه کړې، نو الله تعالی د دې دواړو حادثو (پوښتنو) ځواب ورکړی دی، نو ويلی شو چې دغه آيات د دې دواړو حادثو په اړه نازل شوي دي، يعنې سبب متعدد او نزول يې يو دی.

---

١٣ - (صحيح البخاري (٥/ ٢٠١٤ ح٤٩٥٩)

**څلورم:** څلورم صورت دا دی چې دغه روايات په صحت کې ټول يو د بل سره برابر وي او د دوی ترمنځه يو پر بل باندې د ترجيح کوم دليل هم نه وي او مطابقت هم پکې ممکن نه وي يعنې د زمانې د بعد او جداوالي له کبله په کې جمع هم ناشوني وي، نو په دې صورت کې آيت يا حکم په تکراري نزول په اعتبار د تعدد د اسبابو باندې حمل کېږي د دې مثال: حاکم په مستدرک کې دابوهريرة(رضی الله تعالی عنه) څخه روايت نقل کړی دی چې:

**عن أبي هريرة رضي الله عنه : أن النبي صلى الله عليه و سلم نظر يوم أحد إلى حمزة و قد قتل و مثل به فرأى منظرا لم ير منظرا قط أوجع لقلبه منه و لا أوجل فقال : رحمة الله عليك قد كنت وصولا للرحم فعولا للخيرات و لولا حزن من بعدك عليك لسرني أن أدعك حتى تجيء من أفواه شتى ثم حلف و هو واقف مكانه و الله لأمثلن بسبعين منهم مكانك فنزل القرآن و هو واقف في مكانه لم يبرح { و إن عاقبتم فعاقبوا بمثل ما عوقبتم به و لئن صبرتم لهو خير للصابرين } حتى ختم السورة و كفر رسول الله صلى الله عليه و سلم عن يمينه و أمسك عما أراد.** [۱۴]

ژباړه: له ابوهريره(رضی الله تعالی عنه) څخه روايت دی چې نبی کريم(صلی الله عليه وسلم) حمزه(رضی الله تعالی عنه) ته په داسې حال کې ودريدو چې هغه شهيد کړی شوی او مثله کړی شوی ؤ. نو ويې ويل: هرومرو به په تا باندې د مشرکانو څخه اويا کسان مثله کوم نو جبريل(عليه السلام) راغی او نبي کريم(صلی الله عليه وسلم) همدغه شان ولاړ ؤ او د سورت النحل وروستني آياتونه يې راوړل چې [اوکه عذاب ورکوئ چا ته(انتقام اخلئ)نو عذاب ورکړئ په شان دهغه عذاب چې تاسې ته درکړل شوی دی او که صبر مو وکړ (له انتقام اخستلو څخه)نو دا صبر غوره دی دصبر کوونکو لپاره].

په بل روايت کې چې حاکم له ابی بن کعب څخه روايت کړی دی، داسې راغلي دي:

**عن أبي العالية قال حدثني أبي بن كعب رضى الله تعالى عنه قال كان يوم أحد أصيب من الأنصار أربعة وستون ومنهم ستة فيهم حمزة فمثلوا بهم فقالت الأنصار لئن أصبنا منهم يوما مثل هذا لنربين عليهم فلما كان يوم فتح مكة أنزل الله وإن عاقبتم فعاقبوا بمثل ما عوقبتم به ولئن صبرتم لهو خير للصابرين.** [۱۵]

ژباړه:کله چې د احد غزا وشوه نو د انصارو څخه څلورشپيته کسان او له مهاجرينو څخه شپږ کسان شهيدان شول چې حمزه(رضی الله تعالی عنه) هم پکې شامل و نو انصارو وويل:که مونږ ته کومه ورځ د دوی د وژلو فرصت په لاس

۱۴ ـ (المستدرك على الصحيحين للحاكم مع تعليقات الذهبي في التلخيص (٤/ ٣١٥، بترقيم الشاملة آليا٤٨٩٤)
۱۵ ـ (مستدرك الحاكم (٤/ ٣١ ح ٣٦٦٧)

راشي نو له دې نه به زیاته کړنه ورسره وکړو، کله چې بیا مکه مکرمه فتحه شوه نو الله تعالی دا آیات نازل کړچې[وان عاقبتم فعاقبو...] [١٦]

**پایلې**

ددی لیکني په پای کې لاندې نتایج په لاس راغلي دي.

د "اسباب النزول" علم د قرآن کریم د سمې پوهې لپاره یو اساسي بنسټ دی.

دا علم له موږ سره د آیتونو د حقیقي مفهوم په ترلاسه کولو او د هغوی د عملي تطبیق په پوهېدو کې مرسته کوي.

د دې علم زده کړه او عملي کول د هر مسلمان لپاره گټور دي، ترڅو د قرآن د سپېڅلو آیتونو څخه سمه لارښوونه ترلاسه کړي.

**وړاندیزونه**

۱ـ مونږ باید په هر څه کې د اسلام مقدسې لارې پیروي وکړو.

۲ـ علماء کرام باید په خپلو وعظونو کې د قران کریم تعلیماتو په اړه وعظونه وکړي.

۳ـ استادان باید په دې موضوع کې سیمنارونه ارایه کړي؛ ترڅو مسلمانان په اسباب النزول باندې پوه شي.

۴ـ په هر مسجد کې باید د درس قران حلقې جوړې شي.

١٦-النحل سورت آیات نمبر:١٢۶

**مأخذونه**

قرآنکریم

الحاكم، أبو عبد الله. (١٤١١هـ) .المستدرك على الصحيحين .بيروت: دار الكتب العلمية.

البخاري، أبو عبد الله محمد بن إسماعيل. (١٤٢٢هـ) .الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله ﷺ وسننه وأيامه .بيروت: دار طوق النجاة.

تهانوي، اشرف علي. (كال نه دى ذكر شوى) .الاتبيان في علوم القرآن .لاهور: مكتبه شيخ الهند.

ابن أبي حاتم، عبد الرحمن .(1997) .تفسير القرآن العظيم .سعودي عرب: مكتبة نزار مصطفى الباز.

صافي، عبد الغفار. (كال نه دى ذكر شوى) .قرآن پوهنه .جلال آباد: اسحاق زى ماركيټ.

السيوطي، جلال الدين .(1993) .الدر المنثور في التفسير بالمأثور .بيروت: دار الفكر.

السيوطي، عبد الرحمن. (كال نه دى ذكر شوى) .لباب النقول في أسباب النزول .بيروت: دار إحياء العلوم.

الطبراني، أبو القاسم سليمان .(1983) .تفسير القرآن العظيم .موصل: مكتبة العلوم والحكم.

# د ملګرو ملتونو په سازمان کې د قواوو تفکیک

پوهنوال محمدالله مندوزی، پامیر لوړو زده کړو خصوصي مؤسسه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، د نړیوالو اړیکو او سیاسي علومو څانګه.

برېښنالیک: prof.mandozay@gmail.com

**لنډیز**

د ملګروملتونوسازمان په (۱۹۴۵م) کال د سانفرانسیسکو په کنفرانس کې تآسیس شو او فعالیتونه یې ترنن تاریخه پورې دوام لري او یو اِغیزمن سامازمان بلل کېږي. نو هره اداره د خپلو پلانونو، برنامو او ورځنیو چارو د سمون او انسجام له پاره بېلا بېلې ادارې، کمیسیونونه... جوړوي او یاد سازمان هم د دغوهېوادونو په شان او په نړیوال لیول باندې د دا ډول ادارو او کمیسیونونو لرونکی دی. دا چې افغانستان د نړۍ یوه برخه ده، نو لازمه ده چې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د برخې کارکوونکی او نور مینه وال د ذکر شوي سازمان کې د قواوو د تفکیک په هکله معلومات حاصل کړي او په هغوی باندې پوهیدل د دې علمي مقالې اساسي موخه په ګوته کوي. نو د دې مقالې په لیکنه کې د ملي او نړیوالومعتبرو کتابونو څخه کاراخیستل شوی دی. د مقالې پایلې به دا وي، چې په نړیواله کچه دولتونه مکلف کېږي، چې خپلې نړیوالې ژمنې چې د نړیوالو تړونونو څخه د دولتونو په اوږه پریوزي، د ښه نیت له مخې باید ورته غاړه کېږدي. د وروستۍ پایلې په عنوان به د دې مقالې اساسي مؤثریت په دې برخه کې د کافي معلوماتو ترسره کول وي، چې په منشورکې یې په څرګنده یادونه نده شوې؛ بلکې د یاد سازمان د (٦) ارګانونوله اجرااتو او اقداماتو څخه د دغو قواوود تفکیک بوی حس کېږي. په دې معنې چې هرارګان باید د خپلو ورځنیو اجرااتو لپاره په خپل چوکاټ کې دا ډول د قواوو تفکیک رامنځته کړې، ترڅود اجرااتو لپاره یې د صلاحیتونو میکانیزم هم رامنځته شی.

**کلیدي کلمې**: ارګان، تفکیک، سازمان، کمیسیون، قواوې، ملګري ملتونه، منشور.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

دا چې د ملګروملتونوسازمان په (۱۹۴۵م) کال د سانفرانسیسکو په کنفرانس کې تآسیس شو او فعالیتونه یې ترنن تاریخه پورې دوام لري او یو پررسوخه او اِغیزمن سامازمان بلل کیږي. دا سازمان په نړۍ کې یو منل شوې سازمان دی، چې اجراات او اقدامات یې د نړۍ سرنوشت ټاکي او د نړۍ (۱۹۳) هېوادونه یې غړیتوب لري؛ نو لازمه ده چې د دې سازمان د شپږو ارګانونو پر فعالیتونو ځان پوه کړو، څو معلومه شي، چې مقننه ارګان یې کوم دی، اجرائیه ارګان یې کوم دی او قضایه ارګان یې کوم دی او کومې دندې لري.

## د څېړنې موخه

دا چې افغانستان د نړۍ یوه برخه ده، نو لازمه ده چې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د برخې کارکوونکی او نور مینه وال د ملګروملتونو په سازمان کې د قواوو د تفکیک په هکله معلومات حاصل کړي او په هغوی باندې پوهیدل د دې علمي مقالې اساسي موخه په ګوته کوي.

## د څېړنې کړنلاره او د کار توکي

د ټولنیزو علومو په برخه کې څېړنه یوازې او یوازې د کتابتوني میتود څخه ګټه اخیستل دي؛ نو د دې مقالې په لیکنه کې د ملې او نړیوالومعتبرو کتابونو څخه کاراخیستل شوی دی. په دې هیله، چې د قدرمنو لوستونکو تنده به تر یوه بریده ورباندې ماته شي.

## د ملګرو ملتونو په سازمان کې د قواوو تفکیک

د ملګرو ملتونوسازمان په داسي حال کې تآسیس شو، چې دویمه نړیواله جګړه، ښه په تېزۍ سره روانه وه او د دې جګړې په بهیر کې د ملګرو ملتونو سازمان تآسیس کیېدل د بېلابېلوهېوادونو لکه: شوروي اتحاد، انګلستان او د متحده ایالاتو مشرانو او کارپوهانو د نه ستړي کېدونکوهڅولاسته راوړنه ده. دغه هڅې د نړیوالې سولې او ټیکاو په موخه په بېلابېلو وختونو کې ترسره شوې دي. د متحدینو اعلامیه، د اتلانتیک منشور، د مسکو کنفرانس، د ډمبارټن اوکس او یالټا کنفرانسونه او د سانفرانسیسکو کنفرانس یادولی شو. د دې سازمان د تآسیس څخه موخه په نړۍ کې د سولې او امنیت ټینګښت او دې موخو ته د رسیدو په خاطر د دولتونو ترمنځ د همکارۍ رامنځ ته کول وو.

دغې لوی هدف ته د رسیدو په موخه د ملګروملتونوسازمان په خپل ترکیب کې شپږارګانونه تشکیل کړل، چې عمومي اسامبله، امنیت شورا، اقتصادي او ټولنیزو چارو شورا، قیمومیت شورا، دارالانشاء او نړیواله محکمه یادولې شو (بیګدالي، ۲۰۰۳م)، ص. ۹۹).

**د ملګروملتونو په سازمان کې مقننه قوه**

د دې سازمان هرارګان ته جلا جلا دندې سپارل شوي، چې په جلا جلا ډول يې په لاندې ډول روښانه کوو:

۱- عمومي اســامبله، چې د نړۍ ګډ کورهم ورته ويل کېږي، د هېوادونو د مشرــانو په ليول باندې په کال کې يوځل غونډه کوي او د اړتيا په صــورت کې ځانګړې غونډې هم دائيرولې شي. ياده اســامبله په خپل چوکاټ کې داسي اداري لري، چې د قانوګذارۍ، د بوديجې د سنجش، مطالعې او تصويب او د نړيوال نظم او انسجام لپاره د کنوانسيونونو او نړيوالو قواعدو د تدوين دندې هم پرمخ وړي. د بېلګې په توګه:

۱- د نړيوالو حقوقو کميسيون(International Law Commision) دی، چې د ملګرو ملتونو سـازمان د فرعي ارګان په توګه په (۱۹۴۷م) کال کې تاسيس شوی، منتخب (۱۵) غړی لري، چې دعمومي اسامبلي له خوا ټاکل کېږي. په (۱۹۵٦م) کال د ملګرو ملتونو ســازمان د غړو دولتونو د زياتوالي له امله د کميسـيون په غړو کې هم زياتوالی راغی، له ۱۵غړو څخه ۱۸ غړو ته پورته شو، په (۱۹٦۱م) کال کې د کميسيون د غړو په ترکيب کې له ۱۸ نه ۲۵ ته او په (۱۹۸۱م) کال کې ۳۴ غړوته پورته شــو. دا کميســيون يوه برجســته مرجع ده. د کميســيون موخې د ملګرو ملتونو سازمان منشورپه ۱۳ ماده او لومړۍ فقره کې درج شوې دي، چې په هغې کې په تدريجي ډول د نړيوالوعمومي حقوقو پرمختګ او تدوين کول دي. د تدوين (Codification) څخه منظور د نړيوالو کنوانسيونونو او نړيوالو حقوقًو قواعدو تصويب دی چې د نړيوال نظام د سمون او انسجام لپاره اړين قوانين بلل کېږي او دا ډول نړيوال کنوانســيونونه د نړيوالو تقنيني تړونونوپربنســټ تصــويب شــوې اود نړۍ لپاره د قوانينو حيثيت لري. د موجوده عرفي رويو له لارې د اوســنې نړيوال نظام په صراحت سره بيانول دي. دا ډول اقدامات چې د عمومي اسامبلې په چوکاټ کې ترسره کېږي د مقننه قوې بڼه لري.

۲- د ياد سازمان دعمومي اسامبلې په چوکاټ کې يوبل فرعي ارګان چې د سهميې کمېټه ورته وايې د دعوايدو اولګښتونو سنجش، مطالعه او د ملګروملتونوسازمان د کلنۍ بودجې د تصويب دنده پرغاړه لري، چې دا هم د مقننه قوې دندې په ګوته کوي.

۳- همدا شــان عمومي اســامبله يو لړ قطعنامې تصــويبوي، چې د نړيوال نظم د ســاتنې په برخه کې يې مهمې سرچينې بللی شو، چې دا کارهم د دولت د مقننه ارګان د دندوسره مشابهت يا ورته والی لري.

۴- د نړيوال نظم او انسجام د ساتنې په موخه عمومي اسامبلې د (۱۸۱۵) ګڼې قطعنامې په ترڅ کې هغه اصول تصــويب کړل، چې د هغې څخه سرغړونه نړيوال جرم بلل کېږي، چې سرغړوونکی ته يې مســئوليت متوجه کېږي، چې بايد ځواب يې ووايي (پرويز، ۱۳۸۸هـ ش)، ص.۱۷۷).

## د عمومي اسامبلې دندې او واکونه

عمومي اسامبله چې د ټولو غړو هېوادونو له استازو څخه متشکله ده، چې د منشور (څلورم فصل) د (۱۰ نه تر ۱۷) مادو پورې د حکمونو له مخې پراخ واکونه لري، چې په عمل کې د نړیوال وجدان څرګندونه کوي. د هغو مسایلو له مخې چې پدې ارګان کې وربانديې بحث کېږي، په دې توانیدلي، چې د نړیوالو په افکارو باندې نفوذ پیدا کړي. د دغو صفتونو او د زیاتو واکونو په لرلو سره نشو کولای، چې عمومي اسامبله د یوه نړیوال پارلمان په توګه تلقي کړو او یا د هېوادونو کورنیو پارلمانونو سره یې مقایسه کړو. عمومي اسامبله په عمومي ډول الزامي قوانین نه وضع کوي، په اغلب ګومان سره د هغې ټولې پریکړې د سپارښتنې په مانا دي.

د منشور (۱۰) ماده عمومي اسامبلې ته په پوره واکونو قایله شوې ده، د دې مادې د حکم سره سم (عمومي ټولنه د دغې اعلامیې د اجراتو په دایره کې په هره موضوع باندې د څېړنې واک لري او د هرې هغې ادارې پر اجراتو او اختیاراتو باندې خبرې کولای شي، چې د دې اعلامیې په اثر منځ ته راغلي وي او په استثنایي حالاتو کې، چې په (۱۲) ماده کې د هغې په باب لیکل شوي دي، د دا ډول موضوع یا معاملې په باب د ملګرو ملتونو امنیت شورا او دواړو ته سپارښتنه کولای شي ( شریفي، ۱۳۸۸هـ ش، ص. ۹۳).

د عمومي اسامبلې تصمیمونه د قطعنامو، تصویب لیکونو او د اعلامیو په تصویب باندې پای ته رسیږي.
همداشان د منشور د (۱۱) مادې د حکم له مخې ( عمومي اسامبله د نړیوال امنیت ساتلو په چارو کې یا هم د بې وسلو کولو یا د وسلو د تنظیم په باره کې حاکمو اصولو ته رسیده ګي کوي، د اصولو سره سم په ټولو برخو باندې غورکوي او اړونده ارګانونه او یا هم د امنیت شورا ته په دې باره کې سپارښتنې کولای شي.

عمومي ټولنه په داسې موضـوع باندې چې په نړیوال امنیت پورې اړه ولري، د ملګرو ملتونو کوم غړی یا د امنیت شورا او یا کوم داسې هېواد، چې د دغه سازمان غړیتوب نه لري، د (۳۵) مادې د دویمې فقرې پر بنسټ ورته وړاندې شي، پرهغه خبرې اترې کولای شي او د (۱۲) مادې پر اساس د دغې موضـوع په هکله یو هېواد او یا څو هېوادونه او یا هم د امنیت شـورا ته یا هم دواړو خواو ته سپارښتنه کولای شي، هره هغه شخړه، چې هواری یې اړین وي، د عمومي ټولنې له خوا تر بحث او څېړنې لاندې نیول کېږي او د څېړنې وروسته امنیت شورا ته لیږل کیږي ) ( شیرزاد، ۱۳۸۱هـ ش، ص. ۱۵۵).

## د عمومي اسامبلې د مصوبو ارزښت

د نړیوالې محکمې د اساسنامې په ( ۳۸) مادې کې ورته مصوبو ته چندان پاملرنه نه ده شوې، علت یې دا و چې د لیکلو پرمهال د نړیوالو سازمانونو د فعالیتونو وړاندوینه نه وه شوي او د هغوی د مصوبو اهمیت او ارزښت نه

احساسیدو. نن ورځ د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي اسامبلې فعالیتونو بله بڼه ځانته غوره کړې ده، چې نوي لیکوالان، دغه مصوبې او قطعنامې د نړیوالو عمومي حقوقو سرچینې بولې. د دې دلیل دا دی، چې دا قطعنامې د غړو دولتونو د رایو په اکثریت او یا د رایو په یووالي، چې نړیواله ټولنه تشکیلوي تصویبیږي او قبلیږي.

سرڅ- شور د نړیوالوعمومي حقوقو لیوال په دې هکله وایي، چې د نړیوالو سازمانونو پریکړې او قطعنامې له دوو اړخونو حقوقي ارزښت لري: یو دا چې د اساسنامې د مقرراتو په رڼا کې د کورنیو فعالیتونو له امله او بل د عرف به رامنځته کولو کې. د دغو سازمانونو د مصوبو له امله. عرفي قواعد په دوو لارو رامنځته کیږي:

لومړی په بېلا بېل زماني واټن کې په ډله ییز او یا انفرادي بڼه د نظر د څرګندولو په واسطه راڅرګندیږي.
دویم دا چې حقوقي باوراو اعتقاد مقدم دی، نسبت د دولتونو کړنو او عملي اقدماتو ته او دا د حقوقي قواعدو خلاف دی چې په سنتي بڼه رامنځته کیږي، چې لومړی د دولتونو په کړنو کې راڅرګندیږي او وروسته د هغوی په نسبت حقوقي باور او اعتقاو صورت مومي.

باید وواېو چې د دغو نویو عرفي قواعدو ګټه په دې کې ده، چې د نړیوالو سازمانونو د فعالیتونو په پایله کې منځته راځي، ثابت نه دي او هر وخت د نړیوالې ټولنې په ژوند او بدلونونو پورې اړه لري.

د هغې اهمیت چې د نړیوالو سازمانونو مصوبو په دې اخیره نیمه پیړۍ کې پیدا کړي دی، د دې سبب شو چې په پراخه پیمانه اغیزي ولري او نړیوال باور او اعتقاد تر لاسه کړي او دا موضوع باید و ارزول شي:

اصولاً دا مصوبې یوازې په غړو دولتونو باندې اغېز کولای شي.
نړیوال سازمانونه یوازې په کورنیو محدودو مسئایلو کې د پریکړو د نیولو حق لري چې ( لازم الاجر دي). د دا ډول پریکړو نیول د هر سازمان د اساسنامې په احکامو پورې تړلې موضوع ده او په زیاته پیمانه سره په مالي مسائیلو کې، د ارګانونو د کار په قانون او فرعي ارګانونو په تآسیس پورې اړه لري.

په زیاتو مواردو کې نړیوال سازمانونه د پریکړو کولو حق نه لري، یوازې او یوازې د قطعنامو د صدور حق لري، چې لازم الاجرا هم نه دي او د هغوی تکرار د عرفي قواعدو په رامنځته کولو کې مرسته کولای شي( طراز کوهي، ۱۳۵هـ ش، ص. ۹۹).

**د ملګروملتونو په سازمان کې اجرائیه قوه**

۱- د دغو کنوانسیونونو او ګڼ شمېر قطعنامو د پلې کېدو لپاره ستراجرائیوي ځواک د ملګرو ملتونو سازمان امنیت شورا ده. امنیت شورا د هغه مسئولیت له مخې چې د یاد سازمان د منشور په پنځم څپرکي کې ورته اشاره شوې، دنده لري، چې نړیوالې سولې او امنیت ته ورپیښ شوې ګواښونه به خنثې کوي او د هواري لپاره به یې د منشور په شپږم فصل (۳۴-۳۳) مادو کې د ذکرشویو میتودونوځخه به کاراخلي او شته خطرونه به له منځه

وړي. د سرغړونوپه صورت که به د امنیت شورا د کلک غبرګون سره مخ شي او د (۵۰) مادې د حکم له مخې به قهري اقدامات لکه: له هوايي، سمندري او ځمکني ځواک څخه په ګټه اخیستنې سره اقدام وکړي. په دغو اقداماتو کې لاریونونه، محاصره، ځمکني، هوايي او سمندري عملیات شامل دي. دا ډول صلاحیتونه په خپله د ملګرو ملتونو سازمان په امنیت شورا کې د اجرائیوي صلاحیتونو په معنا دي (قایم مقام فرهاني، ۱۳۹۹هـ ش، ص. ۱۰۱).

**د ملګرو ملتونو د امنیت شورا صلاحیتونه**

د امنیت شورا تر ټولو مهمه دنده د نړیوالې سولې او امنیت ساتنه ده. څو هر ډول خطرونه، چې نړیوالې سولې ته متوجه وي له منځه یوسي او ټولې نړیوالې شخړې په سوله ییزه بڼه هوارې کړي، چې نړیواله سوله او امنیت له خطر سره مخامخ نشي ــ که چېرې د امنیت شورا په دې پوه شي، چې نړیوالې سولې ته خطر متوجه کېږي د امنیت شورا غړي به د سولې نقض کوونکي هېواد ته سپارښتنه کوي او که دغه کار ګټور تمام نشو نو په پوځي او غیـــر پوځي اقداماتو لاس پورې کولای شي. البته د نړیوالو عمومي حقوقو د اصولو په چوکاټ کې دا ډول اقدام د نړیوالو عمومي حقوقو له نظره د مویدې په مانا دی. دغه ډول پرېکړې د ملګرو ملتونو د ټولوغړو لپاره حتمي او ضروري دي او دولتونه مکلفیت لري، چې د هغې په پلي کولو باندې لاس پورې کړې. د ملګرو ملتونو منشور (٤١) ماده امنیت شورا ته داسې واك او اختیار ورکوي:

د امنیت شورا به دا فکر وکړي، چې د خپلو پرېکړو د پلي کولو او نفاذ لپاره بې له دې، چې وسلوال پوځونه استعمال کړي، نور څه اقدامات وکړي او د امنیت شورا به د ملګرو ملتونوسازمان په غړو باندې امر وکړي چې د دغه مجلس طرحه شوي تجویزونه پلي کړي. په دغو تجویزونو کې په جزیي او یا ټولیزه توګه د اقتصادي اړیکو، ریل ګاډي، سمندري، هوائي، پستي، تلګراف، راډیوئي او نورسیاسي او مواصلاتي اړیکو پریکول شامل دي( مقتدر، ۱۳۷۷هـ ش، ص.۱۲۲).

**د امنیت شورا د عملي اقداماتو بېلګې**

- امنیت شورا په (۱۹٦۳م) کال د جولای په ۳۱ نیټه پریکړه وکړه او د ټولو دولتونو څخه یې غوښتنه وکړه، چې د پرتګال هېواد ته د وسلو برابرلو او د نورو هر ډول مرستې څخه ډډه وکړي، څو ټول مستعمره هېوادونه ازاد او د هغوی خپلواکي په رسمیت وپېژني.

- امنیت شورا په (۱۹٦۳م) کال د اګست په اوومه نیټه پرېکړه وکړه او د ټولو دولتونو څخه یې غوښتنه وکړه، چې د جنوبي افریقا هېواد ته وسلې او نورو مهماتو د برابرولو څخه ډډه وکړي.

- امنیت شــورا په (۱۹۷۰م) کال د جولای په ۲۹نیټه پرېکړه وکړه او د ټولو دولتونو څخه غوښــتنه وکړه، چې د جنوبي افریقا سره ټول دیپلوماتیك، قونســلي او نور اړیکې قطع کړي څو په نامیبیا باندې د جنوبي افریقا حاکمیت پای ته ورسوي.

د ملګرو ملتونو ســازمان د منشــور په ٤٢ ماده کې د پوځي عملیاتو په هکله داســې ویل شــوي دي. "که د امنیت شــورا په عقیده د ٤١ مادې مندرج تجویزونه کافي نه وي یا بې کفایته ثابت شي د نړیوال امنیت د ســاتنې په عرض د ځمکې، بحري او هوائي پوځونو په ذریعه ضروري عملیات کولای شي. په دغو عملیاتو کې د ملګرو ملتونو د موً‌ســســې د غړو له خوا مظاهرې، د لارو تړل او مخاصره د ځمکې ســمندري، هوائي پوځونو نور اقدمات هم شامل دي ".

٤٣-٤٤-٤٥-٤٦-٤٧ مادې د نړیوالې ســولــې او امنیت د ټینــګښــت پــه خاطــر د وسلــو او تــخنیــك څخــه کار اخیستلو څخه بحث کوي. د بېلګې په توګه د پوځي وسائیلو استعمال په (۱۹۵۱م) کال په کوریا، په (۱۹۵٦م) کال په مصر، په (۱۹٦۰ او ۱۹٦٤م) کالونو په کانګو کې څو بلیجمي قواوې له کانګو څخه ووځي. په (۱۹٦٤م) کال د مارچ په میاشت کې د قبرس په باره کې اقدمات پلي شوي دي (مندوزی، ۱۴۰۱هـ ش، ص. ۹٦).

د امنیت شورا د (۵۲) او (٥٤) مادو پر بنسټ کولای شي، چې د نړیوال سولې او امنیت په خاطرد فشار د وسیلې په څېر د سیمه ییز ســازمانونو څخه کار اخیستلې شي . د دا ډول عملیاتو په هکله سیمه ییز سازمانونه د ملګرو ملتونو سازمان د منشور (۵۴) مادې په اساس امنیت شورا په کامله توګه خبره کړي.

په همدې ترتیب د امنیت شــورا ټول تدابیر او اقدامات په نهایت کې دولتونه مجبوروي چې د نړیوالو عمومي حقوقو اصول مراعات کړي. په حقیقت کې هغه فشارونه او مویدات دي، چې دولتونه د مخالفت او سرکشۍ په صورت کې د امنیت شورا د دغه ډول معیارونو سره مخامخ کوي. څو دولتونه د نړیوالو عمومي حقوقو د نورمونو او اصولو څخه سرغړونه ونه کړي( د ملګرو ملتونو سازمان منشور، ۱۹۴۵م) کال.

۲- د ملګروملتونوسازمان یوبل ارګان چې د اقتصادي او ټولنیزو چارو شورا په نوم سره یادېږي. دا شورا په (۱۹۴٦م) کال کې تاسیس شوه . چې غړی یی د دریو کالو له پاره دعمومی اسامبلی له خوا د جغرافیایی اصل له مخې ټاکل کیږي. د ملګرو ملتونو سازمان له (۱۸) غړو څخه ترکیب شوي، چی د عمومي اسامبلی له لورې ټاکل کېږي.

په (۱۹٦۵م) کال کې د شورا دغړو شمېر له (۱۸) غړو څخه (۲۷) غړو ته پورته شو. په (۱۹۷۰م) کال د دسمبر په (۲۰) نیټه د دې شورا غړي له (۲۷) څخه (۵۴) غړو ته پورته شول.

له افریقا څخه (۱۴) دولتونه، له آســیا څخه (۱۱) دولتونه، له لاتین امریکا څخه، (۱۰) دولتونه له شرقی اروپا څخه، (۱۳) دولتونه او له لویدیځې اروپا څخه (٦) دولتونه غوره کیږي چی جمعاً (۵۴) دولتونه کېږي.

دا شورا د ملتونو د حقوقي برابرۍ پر اصل ولاړه ده. د دې شورا موخې د ولسونو د ژوند د سطحې لوړوالی، په اقتصـادي، روغتیایي، ښـوونیز، کلتوري، ټولنیز، مهاجرت او د بشرـي حقوقو په نظام کې د وړ کاري شرایطو رامنځته کول دي، چې هیڅ ډول (ژبني، مذهبي، نژادي... توپیر) نه پېژني، چې دا ډول خدمات په خپله د اجرائیه قوې د دندو څخه شمېرل کېږي. دا شـورا پنځه سـیمه ییز کمیسـیونونه هم لري چې د نړۍ په بېلا بېلو برخو کې فعالیتونه کوي، چې په لاندې ډول دي:

۱- د اروپا کمیسیون (جینوا)
۲- د آسیا او لیری ختیځ کمیسیون (تالینډ)
۳- د لاتین امریکا کمیسیون (سنتیاگو)
۴- د افریقائی هېوادو کمیسیون (ادیسابابا)
۵- د لودیځې آسیا اقتصادي کمیسیون (بغداد)

۳- د ملگروملتونوپه سازمان کې یوه بله اداره چې د قیمومیت شورا (Trusteeship) په نوم سره یادېږي.
دا نظریه دهغو ځمکو د کنترول او څارنې په موخه، چې په خوا د اسـتعماري دولتونو تر اغیزي لاندې وي د(USA) د وخت ولسـمشرـ وودرو ویلسـن (Woodrow Wilson) پخوا په (۱۹۱۹م)کال په پاریس کې وړاندې شـوه. د دې نظریې له وړاندې کولو څخه موخه د هغو سـمیو د ضـمیمه کېدو مخنیوی و، چې پخوا د مغلوبو دولتونو د اسـتعمار او کنترول لاندې وې. دا نظام د ملتونو ټولنې له خوا د (Mandate) ترسرپرسـتی لاندې اداره کېدو.

دا شـورا د هغو هېوادونو د سرپرسـتی دنده په غاړه درلوده، چی د اسـتقلال او خپلواکۍ څخه بی برخی وو. قیمومیت شـورا د دا ډول هېوادونود اوسـیدونکو سره په ټولو چاروکې مرسـته کوي. د دې شـورا په غونډو کې فرانسـه، روسـیه، چین، متحده ایالات او انگلسـتان غړیتوب لري. هغه سـیمې، چې د (۱۹۴۷م) کال نه را په دې خوا د ملگرو ملتونو سازمان د قیمومیت لاندې راغلې وي، چی وروسته د دغو سیمو قیمومیت نورو هېوادونو ته وسپارل شو.

لکه توگولېنډ چې وروسـته د گانا په نوم یاد شـو، دغه راز تنگنیا انگلسـتان، رواندا بیلجیم، نیوگینی اسـترالیا او د فاسفیک جزیره د امریکا تر قیمومیت لاندې راوستل شوي.

- په (۱۹۵۰م) کال د قیمومیت شورا د پرېکړې له مخې سومالیه (۱۰) کاله وروسته د قیمومیت شورا له سرپرستي نه خپلواکه شوه.

- په (۱۹۷۰م) کال د قیمومیت شـورا د پرېکړې له مخې توګولېنډ (۱۰) کاله وروســته د قیمومیت شــورا له سرپرستی نه خپلواکه شـوه او رسماً يي د طلا سیوز له ساحلو سره اتحاد وکړاو د ګانا په نوم یو نوی خپلواک هېواد يي رامنځ ته کړ.

- په (۱۹۶۰م) کال کې کامرون د فرانسې د قیمومیت له سرپرستي نه خپلواکي ترلاسه کړه.

- په (۱۹۷۵م) کال کې نیوګینی د استرالیا د قیمومیت له سرپرستی نه خپلواکي ترلاسه کړه. د(۱۹۷۰م) کال نه را په دې خوا دا ډول سیمي لږي تر سترګو کیږي.

تر (۱۹۸۲) کال پورې له (۱۱) نه زیاتې سیمې موجودې وې، چې د قیمومیت لاندې يې قرار درلود. (۱۰) سیمو خپلواکي ترلاســه کړي او یا دا، چې د ملګرو ملتونو ســازمان د څارنې لاندې د ټول پوښــتنې په پایله کې په ګاونډیو هېوادونو پورې وصل شوې.

- په (۱۹۶۰م) کال کې توګولند او کامرون په فرانســې)، په (۱۹۶۰م) کال ســومالي لنډ (ســومالي په ایټالیې)، په (۱۹۶۱م) کال کې بریتاناوي کامرون (د هغې یوه برخه په نایجریه او بله برخه یې په کامرون پورې وتړل شــوه)، په (۱۹۶۱م) کال کې (تانګانیا (تانزاینا))، په (۱۹۶۲م) کال کې رواندا بروندۍ (رونډا – بروندۍ)، په (۱۹۶۲م) کال لویدیځه ســاوواي (ســاحوا)، په (۱۹۶۸م) کال (نائورو) او (په (۱۹۷۵م) کال نوي ګینه (نوي ګینه پاپوا) پورې وصل شوې، چې دا ډول خدمات په خپله د اجرائیه قوې د دندو څخه شمېرل کېږي.

۴- د یاد سازمان یوه بله اداره، چې د دارالانشـاء په نوم سره یادېږي، چې د ملګرو ملتونو سـازمان کارکوونکي د عمومي منشي له خوا د هغو مقرراتو له مخې، چې عمومي اسامبلې ټاکـلې دي، ټاکل کېږي.

- د اقتصـادي او ټولنیزو چارو شـورا، قیمومیت شـورا او د اړتیا پرمهال د ملګرو ملتونو سازمان نورو ارګانونو ته به په دایمي ډول ځینې کارکوونکي ګماري، چې د سکرتریت یا دارالانشاء یوه برخه به وي.

- د کارکوونکو په ګمارنه کې به ترټولو مهم شرطونه لوړه درجه تحصـیل، فعالیت، لیاقت او د اخلاقو ډېرلوړمعیار وي. په دې ډول اقدام کې به جغرافیایې او ســیمه ییز انډول هم په پام کې نیول کېږي، چې دا ډول خدمات په خپله د اجرائیه قوې له دندو څخه شمېرل کېږي (موسی زاده، ۱۳۷۷هـ ش، ص. ۱۱۴).

**د ملګروملتونو په سازمان کې قضایه قوه**

د ملګروملتونوســازمان د نړیوالو حقوقي شــخړو دهواري لپاره قضــایه ارګان هم لري، چې دعدالت نړیواله محکمه ورته وایي، چې په (۱۹۴۵م) کال کې تاسیس اوپه (۱۹۴۶م) کال کې يي په کار پیل وکړ.

د نړیوالې محکمې قاضیان د (۹) کالو لپاره ټاکل کیږي. د ټاکلې شوې مودې له ختمیدو وروسته دوی کولای شي، چې د دویم ځل لپاره وټاکل شي. دغه د دویم ځل ټاکل کېدل د هرو (۹) کالو په پای کې صورت مومي. دغه د دویم ځل ټاکنه امکان لري، چې د دیوان دوام ته صدمه ورسوي. همدا علت دی، چې دغه د دوهم ځل ټاکنه په هرو دریيو کالو کې یو ځل د ۳/۱ قاضیان د پڅې اچونې په ترسره کولو سره د اساسنامې د (۱۳) مادې د حکم سره سم بدلون مومي.

عمومي اسامبله او امنیت شورا په خپلواکه توګه د نړیوالې محکمې قاضیان ټاکي. نوماند قاضیان باید په عمومي اسامبله او هم په امنیت شورا کې په مطلق اکثریت رایې خپلې کړي. د قاضیانو په ټاکنه کې د امنیت شورا د دایمي اوغیردایمي غړو د رایو ترمنځ هیڅ توپیر نشته.
قاضیان باید د هر ډول سیاسي او اداري ماموریت څخه چې حرفوي بڼه ولري ډډه وکړي.
د محکمې غړي په هیڅ دعوی کې مدعي او مدعي علیه، مشاور او یا د یوه اړخ وکیل واوسي او همدارنګه نشي کولای چې د ملي او نړیوالې محکمې او د څېړنې د پلاوي غړي واوسي او په هره بڼه چې وي لاسوهنه وکړي.
د محکمې د تشکیل لپاره لږ تر لږه (۹) قاضیانو ته اړتیا ده.

د نړیوالې محکمې د قاضیانو په ټاکنه کې دوه ټکي د پام وړ دي، چې په لاندې توګه ورته اشاره کوو:
لومړی ټکی دا دی، چې د قاضیانو په غوره کولو کې د امنیت شورا د دایمي اوغیر دایمي غړو ترمنځ هیڅ توپیر نه شته. که چېرې د امنیت شورا او عمومي اسامبلی خپلې رائې له یو هېواد څخه زیاتو نوماندانو ته ورکړي وي، یوازې د عمرپه لحاظ یو له دغو نوماندانو څخه چې د زیات عمر لرونکي وي ټاکل کیږي، په دې هکله د امنیت شورا د دایمي غړو د ویټو حق د بحث وړ نه دی.
هیڅ هېواد نه شي کولای، چې نړیوالې محکمې ته له یو څخه زیات نوماندان د قاضیانو په توګه وروپېژني. (د اساسنامې ۱۰ ماده )
دویم ټکی دا دی، هغه څوک چې د قاضیانو په توګه غوره کیږي، غوره کوونکي باید په پام کې ولري، چې نوماندان د نورو شرایطو ترڅنګ باید د ټولو لویو حقوقي نظامونو استازیتوب وکړای شي. دې ته په پاملرنې سره، چې د محکمې قاضیان د ټولو لویو بشري تمدونونو او حقوقي نظامونو استازیتوب کوي، نو ځکه دولتونه د قاضیانو په غوره کولو کې او محکمې ته د نوماندانو په ورپېژندلو کې نېغ په نېغه د لاسوهنې حق نه لري.
د یادولو وړ ده، چې د نړیوالې محکمې قاضیان د ملګروملتونوسازمان کارکوونکي دي، د هغوی حقوق او امتیازات د سازمان د عادي بودیجې څخه ترسره کیږي او د ټولو ډیپلوماتیک امتیازات او مصؤنیتونو څخه برخمن دي.

### د نړیوالې محکمې واکونه (صلاحیتونه)

د دولتونو ترمنځ ستونزو ته لاسرسی د نړیوالې محکمې واک په ستونزه کې د ښکېلو اړخونو په رضایت پورې تړلي دی، (ځکه چې په نړیوالو اړیکو کې محکمې ته د قاضیانو لاسرسی د دولتونو په اراده پورې اړه نه لري، بلکې د شخړې په هواری کې د دولتونو په هوکړه پورې اړه لري، چې اصلي شرط بلل کېږي ). د ( قضایي او ترافعي ) واکونوته په کتو، د دیوان د اساسنامې (٦) مادې د حکم سره سم دیوان کولای شي، په هره قضایي مسئله کې کوم، چې د ملګروملتونوسازمان په منشورکې ورته اشاره شوې ده، مشورتي نظر ورکړي، نو په همدې دلیل کولای شو، چې د محکمې واکونه په ترافعي او مشورتي واکونو وویشو، چې په لاندې توګه وربانديې بحث کېږي:

### الف – ترافعي واکونه ( صلاحیتونه )

څه ډول چې وړاندې ورته اشاره وشوه، ( هغه شخړې چې نړیوالې محکمې ته اقامه کېږي، پر دولتونو باندې الزامي دي، یا په بل عبارت مخکې له دې، چې نړیواله محکمه د شخړو ماهیت ته لاسرسی پیدا کړي، باید په شخړه کې د ښکېلو دولتونو رضایت ترلاسه کړي، پرته لدې رضایت څخه په نړیواله محکمه کې د شخړو هواری ته لاس رسی نه ممکن دی. د محکمې د اساسنامې (٣٦) ماده په ځانګړې توګه د محکمې د واک په باره کې دا ډول څرګندونه کوي:

"د محکمې واک هغه ټول اختلافات په برکې نیسي، چې د دعوی اصحاب یې نړیوالې محکمې ته اقامه کوي او یا هغه موارد دي، چې د ملګرو ملتونو سازمان په منشور او یا په نورو تړونونو کې د هغی وړاندوینه شوې ده.

### ب : د محکمې مشورتي واکونه (صلاحیتونه)

د نړیوالې محکمې مشورتي واکونه د نړیوالو مسایلو په باره کې د حقوقي او قضایي نظر څرګندولو څخه عبارت دي، چې نړیوال سازمانونه یې نړیوالې محکمې ته راجع کوي، دغه مشورتي واکونه په هغو اصولو ولاړ دي، چې انګلوساکسون په هېوادونو کې معمول او مروج دي.

په (١٩٢٠) کال کې د دغې معمول او اصول د اغیزو پر بنسټ، په انګلستان او امریکا کې د مشورتي نظر څخه په ګټې اخیستنې سره د نړیوالې محکمې په اساسنامه کې ورته ځای ورکړل شو.

د نړیوالې محکمې د اساسنامې د (٦٥) مادې د حکم سره سم د ملګروملتونوسازمان او یا د هغې د ځانګړو ارګانونو له خوا چې هره مسئله نړیوالې محکمې ته راجع شي، مشورتي نظر ورکولای شي. هغه ارګانونه یا سازمانونه، چې مشورتي نظر ته اړتیا ولري، د ملګرو ملتونو سازمان په منشور کې ورته اشاره شوې ده، په دې مانا

چې یو تعداد د دغو ارګانونو نومونه په منشور کې ذکر شوي دي او یا یو تعداد نور کولای شي، چې د مشورتي نظر د غوښتنې په موخه د عمومي اسامبلې څخه واک ترلاسه کړي.

عمومي اسامبله او امنیت شورا د نړیوالې محکمې څخه د مشورتي نظر د غوښتنې حق لري. د منشور د مقرراتو سره سم عمومي اسامبلې اقتصادي او ټولنیزو چارو شورا او قیمومیت شورا ته د مشورتي نظر څخه د ګټې اخیستنې اجازه ورکړې ده.

همدارنګه یو لړ نورو ځانګړو (اختصاصي) سازمانونو د هغې هوکړې له مخې، چې د سازمان سره یې لاسلیک کړي دي، د مشورتي نظر د غوښتنې حق ځانته حاصل کړی دی. د ملګرو ملتونو سازمان د منشورد مقرراتو سره سم په ټولو حقوقي مسایلو کې د نړیوالې محکمې مشورتي نظرحتمي بولي، چې د دغو مسایلو څخه کولای شو، لاندې یو څو په ګوته کړو:

- ✓ د سازمان دندې، تشکیلات او د کار طرز العمل.
- ✓ د سازمانونو ترمنځ ستونزې او شخړې.
- ✓ د غیرغړو دولتونو سره د نړیوال سازمان ستونزې او اختلافات.
- ✓ د نړیوالو تړونونو د متن پر سر را ټوکیدلې د سئو تفاهم تفسیر.
- ✓ د هر ډول تړونونو تفسیر او په نړیوالو حقوقو پورې تړلې مسئله.
- ✓ د نړیوالو وجائیبو څخه سرغړونه او نورې حقوقي ستونزې د بحث لاندې نیول کیږي.

د حقوقو له نظره د نړیوالې محکمې مشورتي نظرونه الزامي نه دي، مګر په هغه مواردو کې، چې د نړیوالې هوکړې پر بنسټ د محکمې مشورتي نظرونه په ټولیز ډول د یو لړ مسایلو په باره کې الزامي و پېژندل شي باید په نړیواله هوکړه باندې عمل وشي.

د دې سره سره، چې مشورتي نظرونه غیر الزامي دي، ولې په یو لړ مواردو کې د محکمې مشورتي نظرونه د دولتونو او سازمانونو د شخړو په هوارۍ کې ګټور واقع شوي دي. د بېلګې په توګه د ملګروملتونوسازمان د بودجې د لګښت په سر راپورته شوي ستونزه او په (۱۹۵۶) کال کې کانګو ته د ملګروملتونو د سازمان د سوله ساتو ځواکونو د لیږلو ستونزه. نړیوالې محکمې په (۱۹۶۲) کال د جون په (۲۰) نیټه مشورتي نظر ورکړ، چې لګښت شوي بودجه د ملګروملتونوسازمان لګښت دی او ټول غړي هېوادونه باید خپله ونډه سازمان ته ورکړي. فرانسې او پخواني شوروي اتحاد پدې پلمه، چې دغه لګښت د ملګروملتونوسازمان د عادي بودیجې له جملې څخه نه دی، نو له خپلې ونډې له ورکولو څخه یې ډډه کوله.

ولې سره د دې، چې د محکمې مشورتي نظر غیرالزامي دی، د دې سبب شو، چې د سوله ساتو ځواکونو د لېږلو لګښت د عادي بودیجې څخه وګڼل شي او ذکر شوي هېوادونه خپله ونډه د ملګرو ملتونو سازمان ته ورکړې.

د عدالت نړیواله محکمه ځانګړې اساسنامه لري، چې د ملګرو ملتونو سازمان د منشوریوه برخه بلل کېږي. د عدالت نړیوالې محکمې په اساسنامه کې ویل شوې دي" د ملګرو ملتونو سازمان ټول غړي ژمنه کوي، چې په هره قضــایي دعوا کې به د محکمې پریکړې مني، که د دعوا کوم لوری د محکمې له پریکړو څخه سرغړونه وکړي او مقابل لوری ورڅخه زیانمن شي، زیانمن لوری کولای شي امنیت شورا ته شکایت وکړي ".

د عدالت نړیوالې محکمې د بحث وړ مسائیل لکه: بشــــري ضد جرمونه، د نړیوالو تړونونو تفسیر، د نړیوالو وجائیبو د اجرآ څخه سرغړونه، جینوساید، د الوتکو تښتونه، سمندري غلاوي، تروریزم، سرحدي لانجې او نور اختلافي موضوعات په بر کې نیسي.

د دې محکمې پریکړې الزامي بڼه لري او د شــخړې ښــکیلي خواوي د هغوی په پلې کیدو باندې مکلفې دي، چې دا ډول اجراات په خپله د قضایه قوې د دندو څخه شمېرل کېږي ( د نړیوالې محکمې اساسنامه ۱۹۴۶م).

**نتیجه ګیري**

هرهغه څه چې لا تراوسه پورې محترمو استادانو او لیکوالانو ته روښانه او جوت نه وو، نو د دې مقالې په لوستلو سره به هغه څه ترلاسه کړي، چې د ملګرو ملتونو په سازمان کې درې ګونې قواوې په څه ډول فعالیت کوي. دا چې د ملګرو ملتونو ســازمان په ارګانونو کې دغو قواوو ته په څرګند ډول اشــاره نه ده شــوې، بلکې د هغوی اجراات او ځانګړتیاوي د قواوو په تفکیک سره مطالعه کولای شــو، چې د دې مقالې په محتوا کې په تفصــیل سره ورته اشاره شوې ده.

**پایله**

د دې مقالې په تحریرسره دې پایلې ته رسـیړو چې په نړیواله کچه دولتونه مکلف دي، چې خپلې نړیوالې ژمنې چې د نړیوالو تړونونو څخه د دولتونو په اوږه پریوځي، د ښـه نیت له مخې باید ورته غاړه کېږدي، د ښـه نیت، د متقابلو ګټواو د ملګرو ملتونو سـازمان په منشـورکې د درج شـویو اصـولو په پام کې نیولو سره هغه عملي کړي، څو د تړون لاســلیک کوونکی خواوي د دې تړون له ګټو څخه برخمنې شي او که دا کارد پورته ذکر شــویو اصولوسره سم ترسره نشو، د دولتونو مسئوولیت رامنځته کوي او سرغړوونکي له غبرګون سره مخامخ کېږي.

**وړانديزونه**

۱- د نړۍ ټول هېوادونه دې ملګرو ملتونو سازمان سره د نړيوالې سولې او امنيت په ساتنه کې همکاري وکړي.

۲- د نړۍ ټولو هېوادونو ته لازمه ده، چې خپل منځي اختلافات د ســوله ييزو ميتودونو له لارې چې د ملګرو ملتونو سازمان د منشور په شپږم فصل او (۳۳- ۳۴) مادو کې ورته اشاره شوې هوار کړي، څو نړيواله سوله او امنيت له خطر څخه وژغورل شي.

۳- ټولو دولتونو ته لازمه ده، چې خپلې ژمنې په ښه شان او د ښه نيت د اصل له مخې عملي کړي، ترڅو د ټولو هېوادونو ګټې خوندي پاتې شي او د غبرګونو مخه ونيول شي.
۴- ټولو هېوادونو ته لازمه ده، چې د ملګرو ملتونو سازمان په منشور کې درج شوي اصول مراعات کړي.

**مأخذونه**

بيګدالی، محمد رضا.(۲۰۰۳م) کال د نړيوالو تړونونو کنوانسيون، تهران: ګنج دانش کتابتون.
پرويز، ذوالعين.(۱۳۸۸هـ).مباني حقوق بين الملل عمومي، تهران: دفتر مطالعات سياسي و بين المللي ازانشارات وزارت امور خارجه.
شريفي، حسين. (۱۳۸۸)هـ حقوق بين الدول و سازمان ملل، تهران: نشر ميزان .
شيرزاده، حميرا.(۱۳۸۱) هـ فرهنګ روابط بين المللی، تهران: نشرات وزارت امورخارجه.
صدر جواد.(۱۳۵۰)هـ ش. تاسيسات و سازمانهای بين المللي ، تهران: موسسه علوم سياسي وحزبي.
طراز کوهي، حسن شريفې.(۱۳۸۸) هـ حقوق بين الملل عمومي، تهران: نشرميزان.
قايم مقام فرهاني، سيد عبدالمجيد.( ۱۳۷۹)هـ حقوق بين المللي و سازمانهای بين المللي، تهران: دانشګاه تهران.
مقتدر، هوشنګ.(۱۳۷۷) هــ. حقوق بين المللي عمومي، تهران: دفتر مطالعات سياسي و بين المللي ازانشارات وزارت امور خارجه.
مندوزی، محمدالله.( ۱۴۰۱هـ ش). معاصر نړيوال حقوق، خوست: حيدرخيل آدابي بهير
د نړيوالو تړونونو د حقوقو په باره کې د ويانا د (۱۹۶۹م) کال کنوانسيون، ۵۳، ۶۴ ماده.
موسی زاده، رضا.(۱۳۷۷م). د نړيوالو تړونونو د حقوقو کنوانسيون، تهران: ميزان خپرندويه
د ملګرو ملتونو سازمان منشور د امنيت شورا ځانګړې فصل.
د نړيوالې محکمې اساسنامه، ( ۱۹۴۶م) کال نيويارک.

# شعر او ترنم د اسلام لهٔ نظره

پوهندوی ظاهرشاه زهیر، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګه.
zahirzaheer123@gmail.com

**لنډیز**

شعر یا ترنم دواړه لهٔ یو بل سره لازم او ملزوم دي، د ادبیاتو پهٔ ډګر کې دواړه د بحث وړ دي او پر دواړو برخو ادبپوهانو بحثونه کړي، خو د اسلام لهٔ نظره پرې ډېر لیکل نهٔ دي شوي. هغه لیکنې چې د اسلام لهٔ نظره شعر پکې ارزول شوی دی، د ګوتو پهٔ شمېر دي، چې د هغو لهٔ جملې نه یوه لیکنه محمدعمر حماد کړې ده، چې نسبتاً یې معلومات پراخ دي. زما مقاله (د اسلام لهٔ نظره شعر او ترنم) کې نهٔ یوازې شعر او ترنم ته د اسلام لهٔ نظره کتنه شوې، بلکې د فلسفې او اروا پوهنې لهٔ نظره هم یاد موضوعات شاربل شوي دي. لهٔ مقالې څخه اصلي موخه دا ده، چې لوستونکي شعر او ترنم د دین، اروا‌پوهنې او فلسفې لهٔ اړخه مطالعه کړي او لهٔ دیني، ټولنیزو او اروایي ګټو او زیانونو یې ځانونه خبر کړي، چې کوم ډول شعر یا ترنم ټولنې ته لهٔ هر اړخه ګټه رسوي او کوم ډول شعر یا ترنم زموږ دیني، سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي ارزښتونو ته زیان رسوي؟ پهٔ دې مقاله کې لهٔ تشریحي مېتود څخه استفاده شوې. د دې مقالې څخه یو څرګند هدف پریاده موضوع پوهېدل، د شاعرانو او ادیبانو ورته پام اړول دي. د پایلې پهٔ توګه وایو، چېشعر او شاعر د یوې ټولنې د وګړو د دیني، سیاسي، فرهنګي او ټولنیز ژوند نماینده-ګي کوي. که شاعر خپل مسوولیت پهٔ ښهٔ ډول ادا کړي، نو د پورته ذکر شویو خواوو لپاره د ویښتیا او بیدارۍ سبب کېږي.

**کلیدي ټکي:** ترنم، دین، دیني علماء، شعر او نظریات

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدالمرسلين وعلى اله و اصحابه اجمعين.**

د شعر په هکله خبره کول یا شعر تعریفول یوه پېچلې موضوع ده، ځکه چې شعر د انساني ځکې (شوق، احساس او عاطفې) زېږنده وي. تر ټولو مهمه يې دا چې، شعر له ښکلا سره ټينګه اړيکه لري او ښکلا پېژندنه د فلسفې، ارواپوهنې او ټولنپوهنې له لومې ځان نه شي خلاصولی، نو په همدې اساس ويلی شو، چې پر شعر بحث کول له ستونزو خالي نه دی. ځينې ادبپوهان پر دې نظر دي، چې کله انسان پيدا شو، نو شعر هم ورسره پيدا شو، په دې معنا چې د انسان په داخلي طبيعت کې د شعر محاکات شته؛ نو ځکه په دې لنډه مقاله کې موږ شعر ته د اسلام دين له زاويې کتلي او د شعر په هکله نورې خبرې وروستی او بېل بحث دی. دغه لنډه مقاله څلورعمده برخې لري، چې په لومړۍ برخه کې د شعر د تعريف په هکله لنډه خبره شوې ده. دويمه برخه کې شعر ته د اسلام مقدس دين له اړخه کتنه شوې او په دريیمه برخه کې د شعر منبع په ګوته شوې، چې دغې موضوع ته د ارواپوهنې له نظره کتنه شوې ده. په څلورمه برخه کې پر ترنم لنډ بحث شوی. ترنم د شعر له وزني او ريتمي کيفيت سره تړل شوی دی. په پای کې د ترنم اوزمزمې د توپير په هکله څو کرښې راغلي، چې د غه توپير ته ډېری لوستي او له ادب سره تړلي خلک پام نه کوي او يوه کلمه د بلې پرځای کاروي.

**د څېړنې موخې**

له دې څېړنې يوه څرګنده موخه دا ده، چې د اسلام له نظره خلک د شعر ښه والی، بدوالی او اهميت وپېژني. ديني علماوو او ادبپوهانو چې د شعر په هکله څه ويلي دي، د هغو نظرياتو ګډې او ټکر خواوې د ادبياتو محصلانو ته څرګندې شي. بله موخه دا ده، چې د ادبياتو محصلان پردې پوه شي، چې شعر د ټولنې په نظرياتي او فکري سمون کې څومره ونډه لري.

**د څېړنې کړنلاره**

په دې ليکنه کې له تشريحي مېتود (Descriptive method) څخه استفاده شوې. تشريحي مېتود د څېړنې هغه مېتود دی، چې موضوعات په تشريحي توګه وړاندې کوي او د موضوع ناڅرګندې خواوې راسپړي. د څېړنې ډول کتابتوني دی او په دې ليکنه کې له ادبي او څېړنيزو اثارو استفاده شوې او ډېر تمرکز د شعر پر موضوعي خواوو شوی.

**۱. د شعر تعريف**

شعر عربي کلمه ده د ش په زېر سره دانش، پوهې، درک او دانايی ته وايي. عربي علماوو به هغهٔ کلام ته شعر وايهٔ، چې وزن او قافيه به يې لرله. په معاصر پېر کې د شعر په هکله نوي نظريې منځ ته راغلې او شعر يې د وزن او قافيې له محدوديته بهر کړ او هر مخيل کلام يې شعر وبالهٔ. ځينې ادبپوهان د زړهٔ خبرو ته شعر وايي او وايي

چې شعر لهٔ زړونو سرچینهٔ اخلي. مرحوم استاد گل پاچا الفت پهٔ یو نثر کې لیکي: «د انسان پهٔ وجود کې دوهٔ شیه ډېر عزیز معلومېږي، چې یو یې زړهٔ او بل دماغ دي، لهٔ زړهٔ نهٔ شعر پیدا کیږي او لهٔ دماغ نهٔ علم او فلسفه. شعر لهٔ زړهٔ نهٔ الهام اخلي. د شعر هدف حقیقت نهٔ دی، ځکه چې پر شاعر د شعر لیکلو پر وخت عقل، منطق، دلیل او برهان حاکم نهٔ وي، بلکې پر دهٔ غرایز، عواطف او احساسات حاکمیت لري.» (یون، ۲۰۱۲م، ص. ۳۲۶)

## ۲. تېرو اثارو ته کتنه

پهٔ دې برخه کې موږ مجبورېږو، چې دغه برخه لهٔ اسلامي نصوصو پیل کړو او وروسته بیا د نبي صل الله علیه وسلم مبارکو حدیثونو ته سر ورښکاره کړو. پهٔ دې برخه کې د ازادو لیکوالو شنني پهٔ نشت شمار دي او لیکل چې موږ ته مخې ته راځي، زیاتره دیني علماوو کړي. زهٔ به د حماد صیب د یوې مقالې پر ځینو برخو تمرکز وکړم او هڅه به وکړم، چې ځینو گونگو جملو ته لا وضاحت ورکړم، ځکه دا موضوع لهٔ ډېرو اړخونو پهٔ اوسمهال کې مهمه ده او پکار ده، چې نور بحثونه پرې وشي.

**وَٱلشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ ٱلْغَاوُونَ* أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ * وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لاَ يَفْعَلُونَ *إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُواْ اللَّهَ كَثِيراً وَانتَصَرُواْ مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُواْ وَسَيَعْلَمْ الَّذِينَ ظَلَمُواْ أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ.**[ سورة الشعراء ۲۲۴ – ۲۲۶]

ژباړه: د شاعرانو پیروي بې لارې خلک کوي. ایا تهٔ دوی نهٔ گورې، چې دوی پهٔ هر ناو (کنده) کې سرگردانه دي او داسې خبرې کوي، چې نهٔ یې عملي کوي. مگر هغهٔ کسان چې ایمان یې راوړ، نېک عملونه یې وکړل او الله ج یې یاد کړ او کله چې پر دوی ظلم وشو، نو غچ یې واخیست. ظالمانو ته به ډېر ژر ورمعلومه شي، چې لهٔ څهٔ ډول سرنوشت سره مخامخ کیږي (حماد، ۱۴۰۱ل، ص.۴).

پهٔ دې آیت شریف کې خو لومړی الله ج د شعر نه، بلکې د شاعرانو بد ویلي، هغه هم د هغو شاعرانو کومو چې به پهٔ اسلام او نبی صلی الله علیه وسلم پسې بد ویل. دا هغهٔ شاعران وو، چې د دوی شعرونو به مشرکینو ته د بدو ویلو موقع پهٔ لاس ورکړه او هغوی ته ورته خبرې به مشرکینو هم کولې. پهٔ هغهٔ وخت کې عربو شاعرانو شعر د بې ځایه مدحو لهٔ وجې مبالغه امیز ؤ او دوی به د شخصي او سیاسي اهدافو لپاره ډېرې موضوعات د ځان پهٔ گټه تعبیرول. کله چې دوی د نبي صلی الله علیه وسلم پهٔ وړاندې لهٔ شعر نه منفي گټه پورته کړه او د اسلام دین پیغمبر پهٔ هکله یې پهٔ شعرونو کې بدې خبرې راوړې، نو الله ج پاسنیو ایاتونو کې د دوی مذمت بیان کړ. وروسته پهٔ همدې ایاتونو کې الله ج هغهٔ شاعران مستثنا کړل، چې مسلمانان دي او پهٔ خپلو اشعارو کې د کفارو بد وایي، د مسلمانانو ښهٔ او پهٔ خپلو شعرونو باند لهٔ اسلام دین څخه دفاع کوي.

زموږ خوږ پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د شعر په هکله فرمایي: إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِكْمَةً ژباړه: رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یقینًا چې ځینی اشعار حکمت دی.

د حکمت په هکله علماوو او پوهانو ډېر بحثونه کړي، خو له ټولو سره سره د شعر یو څرګند حکمت دا دی، چې انسان له ظلم، بې عدالتی، وحشت او نورو نااوو کارونو څخه منع کوي او د حق طرف ته بلنه ورکوي. شعر په انسان کې عاطفه او رحم را ژوندی کوي او انساني ژوند پر رومونزو یې پوهوي. د اروپوهنې له نظره د شعر یو حکمت دا دی، چې د انسان اروا اراموي او د نفسي غوښتنو باطني محرک له ناروا عملي حرکت څخه ساتي.

استاد دوکتور لعل پاچا ازمون د (پښتو نظم پوهنه) په نوم یو پنډ کتاب، چې د نظم / شعر په هکله په (۸۷۵) صفحو کې بېلابېل بحثونه لري. په دې کتاب کې د شعر او نظم ترمنځ په تفکیک هم بحث شوی دی، که څه هم ډېری غیرمسلکي کسان د شعر او نظم ترمنځ توپیر نه کوي، شعر ته نظم وایي او نظم ته شعر. په دې کتاب کې یو ځای د شعر په هکله لولو: «شعر د خیال او عاطفي هغې غوټې ته ویل کېږي، چې ژبه یې آهنګینه بڼه ولري یا شعر د اهنګ لرونکو فقرو یا جملو په واسطه د واقعیتونو بیاځلې انځورلو ته وایي. شعر د هغه ریاضت ثمره ده، چې پایله یې پرانسان د یو ډول اغېز پرېښودل دي او د همغه اغېز له مخې چې اورېدونکي یا لوستونکي په انفعالي توګه اخېستی، د هغه عواطف او احساسات را وپارېږي. هرهغه فکري اثر چې د کلمو په قالب کې واچول شي، خیال او مجاز ورسره ملګری شي، اروایي تأثیر او هیجان رامنځ ته کړي، هغه شعر دی» (ازمون، ۱۳۹۷ل، ص. ۱۸۲).

ارستو وایي: شعر د طبیعت تقلید یا تمثیل دی.

سیډني وایي: شعر یو قُلابي تخلیق دی او شیان لکه څنګه چې دي، هغسې یې نه ښیي.

اډګارلن پولو وایي: که تصادف په پام کې و نه نیسو، نو شعر له وظیفې یا حقیقت سره سر و کار نه لري.

د ورډ زور په نظر: شعر د قوي احساس تخیلي څرګندونه ده او معمولاً آهنګواله ده. د چوپتیا په حالت کې د قوي احساساتو د طغیاني حالت راټولونه ده.

ټیرو واټس وایي: مطلق شعر په جذباتي او آهنګواله ژبه د بشري فکر مشخصه او هنري څرګندونه ده. شعره یوه ژبه ده چې په زیات یا کم هیجاني ډول سره هغه څه وایي، چې ویل کېدای نه شي، شعر که لوی وي، که کوچنی همدغه کار کوي. شعر باید د ژوند اړتیاوو او معیارونو تابع نه کړو. د ګلاب ګل څوک د دې لپاره نه خوښوي،

چې د هغهٔ اوبه د سترګو درمل پهٔ توګه استعمال کړي، بلکې د دې لپاره یې خوښوي چې ګلاب ګل ښکلی دی او ښکلا پهٔ خپله یو مستقل ارزښت دی (روهي، ۱۳۷۹ل، ص. ۲۳).

مرحوم استاد ګل پاچا الفت د شعر پهٔ هکله وايي: شعر لهٔ زړهٔ نهٔ الهام اخلي او لهٔ زړهٔ سره کار لري. د عواطفو روزل د شعر کار دی او شعر ته د عواطفو او احساساتو د ظهور او تجلیاتو کوه‌طور ویلی شو. څنګه چې د لمر وړانګې او پلوشې پهٔ لومړي ځل د لوړو غرو پرڅوکو پرېوځي او وروستی وداع هم د غرونو لهٔ څوکو سره کوي. دغسې د احساساتو او عواطفو رڼا هم د شاعر پهٔ زړهٔ لهٔ نورو نهٔ زیاته لوېږي، همدغه عواطف او احساسات چې د شاعر لهٔ زړهٔ نهٔ الفاظو ته را نقل شي، شعر ترې جوړ شي او پهٔ زړونو اثر کوي.

هو! د شعر موضوع ښکلي خیالات، عالي احساسات، د زړهٔ تأثرات، د غم او خوشالی‌خوبونه، د روحي او جسمي ښکلا اغېزې، عشق او محبت دي. که دغه شیان پهٔ یو ښکلي تعبیر او ښو الفاظو کې بیان شي، فصاحت او بلاغت مراعات پکې پهٔ ښهٔ شان شوی وي، شعر ترېنهٔ جوړ شي او ډېر ښهٔ شعر هماغه دی، چې پهٔ دغه معیار برابر وي. که یو شاعر د نورو پهٔ شان هر چا ته او هر شي ته سر ټیټوي او پهٔ فکر کې یې د بغاوت جذبه نهٔ وي، لهٔ هغهٔ نهٔ د ښهٔ شعر هیلهٔ نهٔ شي کېدای. شاعر ځکه پرموږ ګران دی، چې زموږ د زړهٔ خبرې کوي او زموږ خاطرات را یادوي. شعر د زړهٔ غږ دی او د زړهٔ غږ د منطق لهٔ غږ نهٔ قوي وي. شاعر پوهېږي، چې لهٔ نا اومیدی څنګه لذت اخېستل کېږي او غم څنګه خوږوالی پیدا کوي. شاعران ډېر ښهٔ خوبونهٔویني او پر همدغو خوبونو د زړونو تسلي کوي. شعر و ادب د بشر علایق لهٔ دین و مذهب سره ټینګوي او پهٔ هوښیاری کې یې بینایي او همدردي پیدا کوي. کله چې زړونهٔ کلکېږي یا توربږي، نو شعر پکې رقت او صفایي پیدا کولی شي. هغهٔ څهٔ چې انسان د مادیت لهٔ غلامی او بت پرستی نهٔ ساتي شعر دی. عارفانه ذوق، انساني عاطفه، حکیمانه شعور د شعر پهٔ نغمو کې وده کوي. کوم ملت چې شاعر نهٔ لري، زړهٔ نهٔ لري، سترګې نهٔ لري، عواطف نهٔ لري او د ذوق او تمنا لهٔ خونده محروم دي. تاسې لهٔ شعر او شاعر نه علمي حقایق مهٔ غواړئ، د شعر هدف حقیقت نهٔ دی، جمال دی. ښکلا او جمال لکه علم پهٔ ټینګ اساس نهٔ دي ولاړ. د علم پهٔ دنیا کې پهٔ یو څهٔ پوهیدل خوند لري، خو پهٔ شعر او ادب کې ابهام او ایهام مزه‌دار وي. دلته سِر او راز، پرده او حجاب کمال دی، هلته تشریح، تفصیل، تحلیل او تجزیې ته ضرورت پیدا کېږي. د ښهٔ او عالي شعر د پېژندلو معیار بل شی نهٔ دی، لهٔ ژوند سره ارتباط دی. (یون، ۲۰۱۲م، ص. ۳۲۷)

### ۳. د شعر منبع

د شعر منبع درې شیان دي: ژبه، شاعر او ټولنه، دا درې واړه لهٔ یو بل سره تړلي دي. د شعر لپاره ژبه لازمي ده، پهٔ تشو اوازونو شعر منځ ته نهٔ راځي. شاعر یو انسان دی؛ هرو مرو پهٔ یوه ژبه ګړېږي او خپل خیالات ژبې ته راوړي او موږ ته یې وایي. همدا رنګه شاعر پهٔ یوه ټولنه کې اوسېږي او د شعر لپاره مواد د همغې ټولنې نه را اخلي، نو ویلی شو چې دا درې واړه اړخونه لهٔ یو بل سره تړلي دي، که پهٔ دې کې یو هم نهٔ وي، شعر منځ ته نهٔ راځي؛ پهٔ شعر کې د همدغو درو اړخونو دخالت پهٔ لاندې توضیح کې موږ ته څرګندېږي.

د شعر لومړی منبع د انسان لاشعور دی او لاشعور بیا د شعور زېږنده ده. اروا پوهان د انسان حافظه پر درو بروخو وېشي، چې لومړی برخه یې شعور، دویمه یې تخت الشعور او درېیمه برخه یې لاشعور دی. شعور هغه څهٔ دي، چې د انسان لهٔ پېنځو حواسو سره سر و کار لري او د انسان ټول کړهٔ وړهٔ د پېنځو حواسو پرمټ د شعور تر قبضې لاندې سر ته رسېږي. دا هغه برخه ده، چې د انسان لهٔ فکر سره تړاو لري او د شعور لهٔ لارې ټولې ورځنۍ چارې سر ته رسوي. دویمه برخه هغه ده، چې کله د انسان تېر (کړي) کارونهٔ لهٔ شعور برخې نیم ازاد شي، نو تخت الشعور ته لاړ شي، چې کله انسان ووغواړي، پهٔ یاد یې راولي، را یادولی یې شي. د انسان حافظې درېیمه برخه هغه ده، چې د ډېر وخت پهٔ تېرېدو سره لهٔ تخت الشعورڅخه ذخیره شوې کړهٔ وړهٔ د لاشعور برخې ته ورشي. دا هغه برخه ده، چې د نورو پهٔ نسبت لویه ده او د انسان پهٔ ژوند کې چې څهٔ شوي دي، یا پرې فکر شوی، یا یې انسان ته خوښي ورکړې وي او یا یې خفه کړی وي؛ دا ټول پهٔ لاشعور کې پراته وي او کله کله د انسان یاد ته راځي او پرروحیاتو یې مثبت یا منفي تأثیر پرېږدي، چې ځیني یې پهٔ یوه نوې بڼه الفاظو ته راوړي او شعر ترې جوړ شي.

«پهٔ لاشعور کې رنګ پهٔ رنګه ذرې ورشي سره
جوړ پهٔ وجدان کې شي تصویر د تخیل ژبه شي»

(زهیر، ۱۴۰۰ل، ص. ۱۴۹)

پهٔ ځینو اروا‌پوهنیزو څېړنو کې لهٔ شعر او ادب نه استفاده شوې ده، چې ښهٔ بېلګه یې د فروېډ نظریات دي. کله چې د ځینو انسانانو نفسي غوښتنې نیمګړې او پټې پاتې شي، نو د دغو غوښتنو پټ تأثیر لاشعور ته ځي او دوی لهٔ هغو غوښتنو ځورېږي، چې پهٔ پایله کې پر بېلابېلو رواني ناروغیو اخته کېږي. شاعر هغه څوک دی، چې دغه غوښتنې د شعر پهٔ اوبو خړوبوي او پټ ځور یې ورسره کمېږي.

د شاعرانو د شعر زاویې ېبلاېبلې دي، د ځینو شاعرانو پهٔ شعرونو د دوی د تقوا او دیانتدارۍ لهٔ مخې تصوفي رنګ لهٔ ورایه ښکاري، دغسې شاعران د پښتو پهٔ کلاسیک دور کې ډېر او پهٔ معاصر دور کې کم موندلی شو. پرداسې شعرونو کې عاطفه دومره لوړه وي، چې د ټول انسانیت ژغورنې پیغام پکې پروت وي.

«ادام زاد پـهٔ مـعـنـا واړه یـو صـــورت دی
هــر چــې بــل ازاروي هــغــه ازار شي»
(خلیل، ۱۳۸۴ل، ص. ۳۶۰)

ځینې شعرونه حماسي رنګ لري، چې د دین او وطن نه د دفاع برم او جلال پکې لهٔ ورایه معلومېږي، چې بېلګې یې پهٔ کلاسیکه او معاصره شاعرۍ کې ښې ډېرې پیدا کولی شو.

ســتا وحشي ـ ښـکلا به ټول جنګي اسـونه رام کړي
ســـل زره لښــکر بـه د کـفـارو پـهٔ ســـلام کـړي
(کاروان، ۱۳۸۷ ل، ص.۱۹۳)

ځینې شعرونه موږ ته د ټولنیز ژوند او ژواک پهٔ هکله خبرې لري، د تفکر او تدبر لهٔ اړخه لوستونکي ته مثبته انګېزه پهٔ لاس ورکوي. د دغسې شعرونو بېلګې پهٔ کلاسیکه او معاصره شاعرۍ کې خورا ډېرې موندل کېږي.

فضـــیـلـت د انســـان عـلـم او عـمـل دی
کـه پـر سر یـې پـټـکـی شـــال او کـه مـلـمـل دی
څـو دې وس رسي پـهٔ لـوی دریـاب کـې اوســـه
پـهٔ ویـالـه کـې دې زوال ویـنـم نـهـنـګـه
نـورو پســـې تـګ ســـړی خـرمـخـی کـړي
ګـــرد دلارې وګـــوره د شـــپـــون پـــر مـخ
(پسرلی، ۱۳۷۹ل، ص. ۳۲۴)

هـــمـېشـــه وي نـرم چـوب غـذا د کـرم
شـــیـدا مـهٔ شـــه مـرد خـالي لـهٔ ســـیـاســـتـه

**۴. ترنم**

د شعر وزن پهٔ هکله یو نظر دا دی، چې د شعر موزونیت لپاره شاعر لهٔ وړاندې اګاه نه وي، چې دی پهٔ کوم وزن شعر وايي، بلکې د شعر لهٔ لیکلو او یا ویلو وروسته پردې فکر کېږي، چې ویل شوی یا لیکل شوی شعر پهٔ کوم وزن برابر دی. شعر چې موزون کلام دی، نو ویلی شو، چې وزن لهٔ شعر سره تړلی دی او د شعر پهٔ څېر د تخلیق برخه ده. ترنم بیا لهٔ موزون شعر سره تړلی دی او شعر پهٔ ځانګړې لحن ویلو ته ترنم وايي. پهٔ قاموسونو کې د ترنم کلمه د خوش اوازۍ یاد دهغهٔ اواز پهٔ معنا دی، چې نغمې ته ورته وي (دهخدا، ۱۳۷۷ل، ص. ٦٢١).

**پایله**

**عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَضَعُ لِحَسَّانَ مِنْبَرًا فِى الْمَسْجِدِ فَيَقُومُ عَلَيْهِ يَهْجُو مَنْ قَالَ فِى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « إِنَّ رُوحَ الْقُدُسِ مَعَ حَسَّانَ مَا نَافَحَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم.**

د حضرت عایشې رضی الله عنها نه روایت دی، چې حسان بن ثابت ته به رسول صلی الله علیه وسلم پهٔ مسجد کې ممبر کېښودو. حسن به پر ممبر ودرېدهٔ او پهٔ خپلو شعرونو کې به یې د هغهٔ چا بد ویل، کومو چې به پهٔ نبي صلی الله علیه وسلم پسې بد ویلي وو، نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل، رښتیا چې جبریل علیه السلام لهٔ حسن سره دی، یعني زما پهٔ دفاع کې لهٔ حسن سره ملګری دی.

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم حَسَنُ الشِّعْرِ كَحَسَنِ الْكَلَامِ وَقَبِيحُ الشِّعْرِ كَقَبِيحِ الْكَلَامِ.[سنن الدارقطنى٤٣٠٩]**

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دی، چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل:« ښهٔ شعر داسې دی، لکه ښې خبرې او بد شعر داسې دی لکه بدې خبرې.» پهٔ دې معنا لکه څرنګه چې پهٔ نثر کې یا پهٔ عامیانه خبرو کې ښې خبرې پهٔ اورېدونکي ښې لګېږي او بدې خبرې پرې ښې نهٔ لګېږي. کله چې نبي صلی الله علیه وسلم سره د مسلمانانو لښکر سره یو ځای د خندق جنګ ته ځي او پهٔ ډېره یخنۍ کې د دهٔ ملګري (صحابه) د خندق پهٔ کېندلو بوخت وو او پهٔ جوش کې یې دا اشعار ویل:

**نحن الذين بايعوا محمدا    على الجهاد و ما بقينا ابدا**

ژباړه: موږ د نبي صلی الله علیه وسلم سره تر مرګه پهٔ جهاد کولو بایعت کړی دی

نو نبي عليه السلام بې اختیاره د شعر په ژبه دا مبارک الفاظ وايي« **اللَّهُمَّ إِنَّ الْعَيْشَ عَيْشُ الآخِرَهْ *** فَاغْفِرْ لِلأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَهْ**»

ژباړه: اې الله! رښتیا چې لهٔ خونده ډک ژوند د اخرت دی ژوند دی، نو تهٔ انصارو او مهاجرو ته ښنه وکړه.

عبدالرحمن ابن الجوزی په خپل کتاب ″کشف المشکل من حدیث الصحیحین″ کی لیکی: وكان أبو بكر يقول الشعر وعمر وعثمان وكان علي أشعرهم وقال حبيب بن أبي ثابت كان ابن عباس يعجبه شعر زهير ويقضي له وكان معاوية يعجبه شعر عدي ويقضي له وكان ابن الزبير يعجبه شعر عنترة ويقضي له

حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه شعر وایهٔ، حضرت عمر رضی الله شعر وایه، حضرت عثمان رضی الله عنه شعر وایه او حضرت علي رضی الله عنه تر دوی درو واړو ښهٔ شاعر ؤ. معاویه بن ثابت وایي، چې عبدالله بن عباس رضی الله عنه ته د «زهیر» شعر خوند ورکوي او لهٔ هغهٔ سره ځان بوختوي. او معاویه رضی الله عنه ته د «عدي» شعر خوند ورکوي او ځان ورسره بوختوي، زبیر رضی الله عنه د عنتره شعر خوند ورکوي او وخت یې ورسره تېر وي.

د فقهاوو پهٔ نظر شعر پردرې ډوله دی، يو ډول يې هغهٔ دي، چې ثواب او نيکي ده. دا هغه شعر دی، چې پکې خدای تعالی ته د بلنې او خلکو ته د حق ښودلو یا حق ته رسېدلو لپاره ویل کېږي. دویم ډول یې هغهٔ دی، چې پهٔ هغه کې د طبیعي او انساني ښکلاوو ستاینه وي، خو دا ستاینه به داسې وي، چې خلک به گمراهۍ اوفحشا ته نهٔ مایل کوي او پر دیني امورو به غالب نهٔ وي، داسې شعرونه نهٔ گنا لري او نهٔ ثواب. درېیم ډول یې هغه دي، چې پهٔ هغهٔ کې د مسلمان بد بیانېږي، خلک فحشا او بدو کارونو ته هڅوي دغسې شعرونه شرعاً مکروه دي. مفتي محمد شفيع رحمه الله ليکي: شعر مطلقاً بد نهٔ دی، خو کوم شعر چې سړی د الله تعالی لهٔ ذکر نه منع کوي، پهٔ ناحقه د بل انسان بدي بیانوي او یا د فحشا کارونو لپاره محرک وي، دغسې شعرونه مکروه دي. د کومو شاعرانو شعر چې لهٔ دغو مکروهاتو پاک وي، هغوی الله تعالی پهٔ « **اِلَّا الذین امنوا وَ عَمِلُوا الصَّلِحاتِ**» سره مستثنا گرځولي. امام بخاري لهٔ حضرت ابوهريرة رضی الله عنه نه نقل کوي: «د یوسړي سینه چې لهٔ زوو او قی څخه ډکه وي، لهٔ دې نه دا غوره ده، چې لهٔ شعر څخه ډکه وي. ابن ابي حمزه رحمه الله فرمايي: ډېره قافيه بازي او هر هغهٔ علم و فن حرام دی، چې زړونه سختوي، د الله تعالی یاد نه د غفلت سبب گرځي، پهٔ عقیده کې شکونه پیدا کوي او ځیني نورې روحاني بیمارۍ پیدا کوي.

پښتو ژبه د خورا بډايه ادب خاونده ژبه ده. د پښتو ادب د پراخوالي يوه وجه دا ده، چې پهٔ پښتانهٔ لهٔ ډېرو کړاوونو تېر شوي دي او ژوند يې ډېرې جګې ټيټې لري. پهٔ پښتو اب کې د رزم او بزم دواړه اړخونه پهٔ پرېمانه کچه پيدا کېږي، ځکه يې د هرې دورې شاعري بلې ته توپير لري. پهٔ پښتو ادب کې چې څومره شاعري شوې ده، پهٔ هغه کې داسې څرګنده بېلګه نشته، چې پهٔ مطلق ډول د اسلام دين اساساتو خلاف وي، خو ځيني داسې بېلګې شايد پيدا شي، چې هغه به پهٔ يوه يا بله بڼه د اسلامي او فرهنګي ارزښتونو خلاف وي. د پښتو زياتره شاعري د عقيدې، وطن، اخلاقو او د ټولنيز ژوند د بېلابېلو اړخونو نمايندهګي کوي.

شعر او ترنم چې لهٔ يو بل سره تړلي دي او دغه تړون د شاعر يا لوستونکي لهٔ باطني احساساتو سرچينه اخلي او د انسان لهٔ فطرت سره غوټه دي. کله چې څوک پهٔ يوه مسلمانه ټولنه کې لوی شي، لهٔ ماشومتوبه تر ځوانۍ او لهٔ ځوانۍ تر زړښته ژوند وکړي، نو طبعاً د هغې ټولنې ټول ارزښتونه خپلوي او پهٔ هره برخه کې د هغو لهٔ چوکاټه نهٔ بهر کېږي. مسلمان شاعر تر څو چې پهٔ خپله ټولنه کې اوسېږي او د يو اسلامي نظام تر چتر لاندې ژوند کوي، هرو مرو به د هغې ټولنې او نظام تأثرات قبلوي او خپله شاعري به د هغو تأثراتو پهٔ دننه کې کوي. د ادبياتو پهٔ مسلک کې (ادبي کره کتنه) پهٔ نصاب کې د مسلکي مضمون پهٔ توګه شامله ده او د ياد مضمون پهٔ چوکاټ کې عقيدوي کره کتنه د ادبياتو ځينو مسلکي کسانو ورشامله کړې ده. د کره کتنې پهٔ دې ډول کې د ليکوال يا شعر پهٔ اثر کې هغه خواوې ارزول کېږي، کومې چې د اسلامي مقدساتو سره پهٔ ټکر کې وي. پهٔ مسلمانه ټولنه کې ټول ارزښتونه د توجه وړ دي، خو ديني ارزښتونه پر نورو اوليت لري او دې اوليت ته بايد هر ليکوال او شاعر پام وکړي.

يوه بله اړينه خبره دا ده، چې لهٔ شعر او ادب سره تړلې خلک د زمزمې او ترنم پر توپير نهٔ پوهېږ، ډېر کله يادې کلمې يو د بل پرځای کاروي، پهٔ داسې حال کې چې دواړه کلمې څرګند توپير سره لري. زمزمه هغهٔ بې معنا اواز ته وايي چې د خولې او پوزې څخه پهٔ داسې حالت کې وځي، چې ژبه حرکت نه کوي، خو ترنم بيا هغهٔ دی، چې پوره کلمې د ژبې پهٔ حرکت سره پهٔ يو ځانګړي لحن (غاړه) ويل کېږي. پهٔ دې هکله پښتو څېړنيزو اثارو کې کوم ځانګړی وضاحت نشته، يوه وجه يې دا کيدی شي، چې پښتنو علماوو او پوهانو داسې شيان بابېزه ګڼلي او ډېر سر يې ورپسې نهٔ دی ګرځولی، کنه پردغسې موضوعاتو پهٔ عربي او فارسي ژبو کې ډېر بحثونه شوي دي

د انسان فطرت دا دی، چې لهٔ منظمو اوازونو سره علاقه لري او پهٔ طبيعت کې چې څومره اوازونه دي د انسان پهٔ داخلي طبيعت تأثير کوي. همدا وجه ده، چې انسانان کله کله لهٔ ځان سره زمزمې کوي. شعر چې پهٔ اورېدونکو يا لوستونکو کې انفعال پيدا کوي، تر ټولو څرګنده وجه يې د شعر پهٔ دننه کې موسقيت دی. د انسان طبيعت

داسې دی، چې د غم او خوښۍ پهٔ حالتونو کې يې عواطف او احساسات لهٔ کابو نه ووځي، نو پهٔ دې حالت کې ځيني انسانان ځانګړې اوازونه کوي او د بل چا شعر پهٔ مترنم ډول لهٔ ځان سره وايي.

زبور چې د الله ج لهٔ لوري پهٔ حضرت داؤد عليه السلام نازل شوی، چې د لوست اويلو طرز ته يې مزامير وايي. د مزامير معنا پهٔ فرهنګ دهخدا کې د ښهٔ اواز پهٔ معنا دی. مزامير د مرغانو سرود پهٔ معنا هم راځي، همدا وجه وه، چې کله به داؤد عليه السلام زبور ويلو، نو مرغان به پهٔ هوا کې ورته غوږ وو. که موږ د قران عظيم الشان ژبې ته زير شو، نو طرز يې لهٔ ټولو انساني خبرو او طبيعي اوازونو نه ممتاز دی او د قران کريم لپاره قاريان بېلابېل طرزونه اوقاعدې لري او پهٔ څو ډوله طرزونو يې وايي، ځکه قراني قرأت پر انسانانو ډېر تأثير لري او رساً د انسان پرزړهٔ لرېږي.

د پښتو ادب پهٔ تاريخ کې روښانيان هغه تحريک دی، چې دوی د خپلې مذهبي ايډيالوژۍ لپاره لهٔ مسجع نثر څخه استفاده کوله او خپل اثار يې پهٔ مسجع نثر ليکل. مسجع نثر هغه نثر ته وايي، چې ټولې جملې يې مقفي وي. د معاصر ادب پهٔ تاريخ کې د جهاد او مبارزې ادب ټول پهٔ ترنم کې مخې ته راځي، چې د عامو مسلمانانو پهٔ ويښتابه کې يې بارز رول لرلی دی. لهٔ پورتنۍ توضيح موږ ته څرګندېږي، چې شعر او ترنم پهٔ اسلام کې جواز لري، خو هغه څهٔ چې پهٔ دې هکله موږ ديني علماوو ويلي، بايد پهٔ پام کې ونيسو. پهٔ قران کريم کې چې د «الشعرا» پهٔ نوم کوم سورت دی، د هغه پهٔ پای کې د شاعرانو پهٔ هکله خبره شوې او الله ج د شاعرانو ترمنځ توپير کړی. د دغو اياتونو تفسير ته که پام وکړو، نو الله ج د شاعرانو پهٔ هکله خبره کړې، نهٔ د شعر پهٔ هکله. شاعران چې انسانان دي، نو لهٔ دې معلومېږي، چې ښهٔ او نا ښهٔ شاعران شته او پهٔ دې هلکه د اسلام پهٔ دين کې وضاحت شته. لهٔ دې ټولو څرګندونو معلومېږي، چې هر هغهٔ شعر چې محتوا يې لهٔ اسلامي مقدساتو سره پهٔ ټکر کې وي، ښهٔ شعر نهٔ دی، دا چې شعر ښهٔ نهٔ دی، پهٔ دې معنا ده، چې شاعر ښهٔ نهٔ دی او د عقيدې او باور لهٔ مخې د اسلام پرته لهٔ نورو نظريو څخه متأثر دی.

**وړانديزونه**

۱. شعر د ارزښت پهٔ هکله دې نورې مقالې وليکل شي، تر څو دا روښانه شي، چې شعر د انساني ټولنو پهٔ اصلاح کې څومره ونډه لري. د دې ترڅنګ به دا هم پهٔ ډاګه شي، چې د شاعر رسالت پهٔ ټولنه کې څهٔ دی او شاعر څومره کولی شي، چې خپلو ارزښتونو ته پهٔ شعر کې انعکاس ورکړي.

۲. هغه کسان چې پر دین او ادب دواړو کې پوهه لري، باید د دین او ادب پر نېږدې والي څېړنیزې لیکنې وکړي او خپلې لیکنې دې پر ټولنیزو رسنیو خپرې کړي، تر څو نوي ځوانان پر دې پوه شي، چې د دین او ادب ترمنځ څهٔ اړیکه ده او دواړه د یو بل لپاره څومره مهم دي.

۳. د ادبیاتو مسلکیان دې د اوسني عصر ادب د خپلو ارزښتونو پهٔ رڼا کې وڅېړي او د پښتو ادب هغه اړخونه، چې د اسلام دین سره پهٔ ټکر کې دي، پر هغو دې انتقادي لیکنې وکړي. د دې ترڅنګ د شاعر او لیکوال پر رسالت هم لیکنې وکړي، تر څو دا څرګنده شي، چې زموږ د ټولنې شاعرانو او لیکوالانو د دین پهٔ فرهنګ دفاع او ساتلو کې څومره خپل رسالت ادا کړی.

## سرچینې

ازمون، ۱۳۹۷، پښتو نظم پوهنهٔ. ننګرهار: ختیځ خبروندویه ټولنه

پسرلی، محمد صدیق. (۱۳۹۰ل.ل). غزلبڼ. میدان وردګ: افغان مسلکي مطبعه

حماد، محمد عمر. (۱۷/ ۹ / ۱۴۰۳ل.ل. نن ټکی اسیا. https://www.nunn.asia

خلیل، حنیف. (۱۳۸۴ل.ل). د رحمان بابا دیوان. پېښور: دانش خپروندویه ټولنه.

دهخدا، علي اکبر. ۱۳۷۷ه ش. دویم چاپ. لغت نامه دهخدا. تهران: انشارات دانشگاه تهران.

روهي، محمدصدیق. (۱۳۷۹ل.ل). شعرپېژندنه. کابل: میهن خپرندویه ټولنه.

زهیر، ظاهرشاه. (۱۴۰۰ل.ل). مېچانۍ. خوست: رحیمي کتاب پلورنځی.

زهیر، ظاهرشاه (۱۳۹۹ل.ل). پهٔ پښتو ادب کې د کره کتنې پرتلیز جاج.

کاروان، پیرمحمد. (۱۳۸۷ل.ل). د ښاپېرۍ ورغوی. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

یون، اسمعیل. (۲۰۱۲م). د ګل پاچا الفت نثري کلیات. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

# په معاصره ټولنه کې د عامه اړیکو ارزښت

پوهندوی اسدالله تنی، شیخ زاید پوهنتون، ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځی، د عامه اړیکو څانګه.

برېښنالیک: assad.t.wj@gmail.com

**لنډیز**

په دې مقاله کې په معاصره ټولنه کې د عامه اړیکو ارزښت پر موضوع معلومات راټول او لیکل شوي، دا چې عامه اړیکې (Public Relations) په معاصره ټولنه کې د سازمانونو او خلکو ترمنځ د مثبتو اړیکو د رامنځته کولو او ساتلو یوه مهمه وسیله ده او د معلوماتو په چټکۍ سره خپرېدو او د ټولنیزو رسنیو په پراختیا، د سازمانونو د شهرت مدیریت، د عامه پوهاوي د کچې لوړولو او د بحرانونو د کنټرول په برخه کې مهم نقش لوبوي؛ ځکه سازمانونه او حکومتونه د عامه اړیکو له لارې د بحرانونو په وخت کې د خلکو معلوماتو ته چټک لاسرسی پیدا کوي او د هغه په اساس خپل بیړني اقدامات تر سره کوي او په اړوند یې لازمې ستراتیژۍ ترتیبوي. سربېره پر دې، عامه اړیکې د ټولنیزو بدلونونو د ملاتړ، د خلکو د باور او اعتماد د پیاوړتیا او د ټولنیزو مسؤولیتونو په برخه کې د سازمانونو ونډه روښانه کوي. په دې توګه عامه اړیکې په معاصره ټولنه کې د اړیکو، باور او مثبتو بدلونونو لپاره اساسي رول لوبوي. بل دا چې د دې مقالې په وسیله به معلوماتي تبادله رامنځته شي او د عامه اړیکو له لارې به اشخاص او سازمانونه وکولی شي، چې د خپلو خدماتو او محصولاتو په اړه معلومات شریک کړي او د خپلو مخاطبینو سره اړیکه ټینګه کړي؛ ځکه په معاصره ټولنه کې د عامه اړیکو په مرسته خلک کولی شي، خپل مسلکي او شخصي ادرسونه جوړکړي، ترڅو په مختلفو برخو کې د کار او فرصتونو لپاره د اړیکو لړۍ رامنځته کړي. په ټولنه کې د باور او اعتبار لوړول، د اړیکو پیاوړتیا، د اغېزمنو اړیکو په برخه کې پرمختګ او د ټولنیز مسولیت او اخلاقو ملاتړ به ددې څېړنې عمده موندنې او لاسته راوړنې وي، چې په پای کې دې پایلې ته رسیږو چې له دې ټولو دلایلو څخه څرګندیږي، چې عامه اړیکې په معاصره ټولنه کې د ارتباطاتو، پوهې، سوداګرۍ او هر اړخیز پرمختګ لپاره یوه بنسټیزه اړتیا ده.

**کلیدي ټکي:** اړیکې، ټیکنالوژي، سازمان، ستراتیژي، مدیریت او معاصره ټولنه.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

د اسلام په سپېڅلي دین کې د ژوند ټول ارزښتونه په لوړ معیار سره پالل شوي، ځکه اسلام ټولنیز نظام ته ځانګړی ارزښت ورکړی دی. د پیر او پلور په اړه اسلامي فقهاوو چې څه لیکلي تر ننه په ټوله نړۍ کې بدیل نه لري، په غیر مسلمو ټولنو کې د پیر او پلور په تړاو د عامه اړایکو په نامه ځانګړې پوهه را منځ ته شوې، که اسلامي فقې ته ځیر شو ډېری شیان یې ور څخه را اخیستي دي او د سوداګریزو عامه اړیکو داصولو په نوم یې نومولي دي. د دې لپاره چې په موضوع کې لا دخیل شو، نو په په معاصره ټولنه کې عامه اړیکې او د عامه اړیکو په رول او ارزښت، د سازمانونو ترمنځ د باور او اعتماد رامنځ ته کول چې په ټولنه کې د باور، تفاهم او همکاریو په وده کې مهم رول لوبوي او د خلکو ترمنځ اړیکې تنظیموي بحث شوی دی. عامه اړیکې (Public Relations) د هر سازمان یا ادارې د پرمختګ لپاره یو له اساسي او مهمو وسیلو څخه ګڼل کېږي، چې له لارې یې سازمانونه له خپلو هدفمندې ټولنې او عامو خلکو سره اړیکې جوړوي. همدارنګه په عامه اړیکو کې د رسنیو سره تعامل، ټولنیز کمپاینونه، د برانډ جوړول، د بحران مدیریت او د شرکتونو یا افرادو د شهرت ساتنه شامل دي.دا چې په معاصره ټولنه کې ارتباطات او معلومات په بې ساري توګه په چټکۍ سره خپرېږي، نو په دې سره په یوه معاصره ټولنه کې د عامه اړیکو ارزښت لا زیات شوی دی. عامه اړیکې نه یوازې د سازمانونو شهرت او د انځور د ښه کولو لپاره کار کوي، بلکې د خلکو او سازمانونو ترمنځ باور او اعتماد رامنځته کوي. د ټولنیزو رسنیو او ډیجیټلي وسایلو په پراختیا سره، عامه اړیکې اوس د سازمانونو لپاره د نړیوال شهرت، معلوماتو د چټک خپرولو او د خلکو د ملاتړ راجلبولو یو له بنسټیزو لارو څخه بلل کېږي. په دې توګه، د معاصرې ټولنې په پیچلي او چټک پرمختګ کې عامه اړیکې د یو سازمان اوږدمهاله بریا او دوام تضمینوي.

## موخې

د دې مقالې موخې عبارت دي:

- د خلکو ترمنځ د باور جوړولو لپاره شفافو او دقیقو پیغامونو رسول، ترڅو د سازمان یا ادارې په وړاندې د خلکو ملاتړ ترلاسه شي.
- د سازمان هویت او مثبت انځور رامنځته کول او دا باور په خلکو کې خپرول، چې سازمان خپلې موخې په صادقانه او قانوني ډول ترلاسه کوي.
- د بحران په وخت کې چټک او موثرعکس العمل، د ستونزې کمول او د خلکو باور ساتل.

- د خلکو پوهاوی لوړول او دوی ته د دقیقو معلوماتو وړاندې کول، چې دوی وکولای شي په تصمیم نیولو کې ښه ټاکنه وکړي.
- د اړیکو مؤثر مدیریت، چې ټولې ښکیلې ډلې له سازمان سره مثبتې اړیکې ولري او د متقابلو ګټو لپاره همکاري وکړي.

**د کار مېتود**

د څېړنې میتود کتابتوني ده او د مختلفو علمي سرچینو په مرسته په معاصره ټولنه کې د عامه اړیکو ارزښت تحلیلوي. په دې څېړنه کې د علمي کتابونو، څېړنیزو مقالو، ژورنالونو او د عامه اړیکو په اړه د بیلابیلو متخصصینو نظریات او راپورونه مطالعه شوي دي او ترڅنګ یې د معلوماتو د راټولولو لپاره هغه سرچینې انتخاب شوې دي، چې د عامه اړیکو او معاصرو ټولنیزو اړیکو په اړه د اعتبار لرونکو او پېژندل شویو څېړونکو او متخصصینو له لوري لیکل شوي. سربېره پر دې د وروستیو ۱۰ کلونو څېړنې او کتابونه هم په پام کې نیول شوي.

**د څېړنې ارزښت**

په معاصره ټولنه کې د عامه اړیکو د ارزښت په اړه څېړنه اړینه ده، ځکه چې دا څېړنه مرسته کوي ترڅو د پیغام رسولو اغېزمنتوب، د نوې ټیکنالوژۍ رول، د باور او وفادارۍ جوړولو لارې او د بحران مدیریت ښه وپېژندل شي. یاده څېړنه همدارنګه د عامه اړیکو رول، ارزښت او د ټولنیزو اخلاقو او اصولو په برخه کې عمده رول لري، چې په پایله کې د سازمانونو لپاره په ټولنه کې غوره مقام او باور رامنځته کوي. نو په دې اساس په معاصره ټولنه کې د عامه اړیکو (Public Relations) ارزښت لپاره څېړنه کول خورا مهم دي، د عامه اړیکو موخه دا ده، چې د سازمانونو، افرادو او نورو اړوند ډلو ترمنځ اعتماد او همغږي رامنځته کړي. دا څېړنه کولی شي مرسته وکړي چې څنګه د خلکو د ذهنیت او چلند بدلون، د ټیکنالوژۍ اغېز، د بارو فضا رامنځ ته کول، د بحران مدیریت او اخلاقي عامه اړیکو په اړوند په مؤثره توګه د عامه اړیکو د کمپاینونو له لارې رامنځته شي. چې دا د سازمانونو لپاره مهم دي چې پیغامونه یې د خلکو د اړتیاوو مطابق د ټولنیزو رسنیو او ډیجیټل پلیټ فارمونو د ودې په برخه کې لوی لوی بدلونونه رامنځ ته کړي او همدارنګه دا څېړنه کولی شي چې په ګوته کړي، چې څنګه سازمانونه کولی شي د عامه اړیکو له لارې د خپلو مشتریانو او شریکانو ترمنځ د باور فضا را منځته او د هغوي اوږد مهاله ملاتړ تر لاسه کړي. دا څېړنه د دې په پوهیدلو کې مرسته کوي چې څنګه سازمانونه کولی شي، په موثره توګه له بحرانونو او جنجالي حالاتو سره مقابله وکړي، خپل شهرت وساتي او ارزونه وکړي چې څنګه د عامه اړیکو اخلاق او اصول په سازمانونو کې مراعت کېږي او څنګه دا اصول د عامه اړیکو په اغېزمنتیا کې مرسته کوي.

**معاصره ټولنه**

معاصره ټولنه د هغه ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او کلتوري بدلونونو او ځانګړنو مجموعه ده، چې په اوسني عصر کې موجودې دي. دا ټولنه په ځانګړې توګه د ټیکنالوژۍ، نړیوالتیا او پیچلي ټولنیزو تعاملاتو له مخې پېژندل کېږي. دلته د معاصرې ټولنې ځینې مهمې ځانګړنې او بدلونونه دي:

**ټیکنالوژي او ډیجیټلي نړۍ:** ټیکنالوژي په ځانګړې توګه انټرنیټ، ټولنیزې رسنۍ او سمارټ ټیکنالوژۍ د معاصرې ټولنې بنسټیزې برخې جوړوي. خلک د معلوماتو ترلاسه کولو، اړیکو نیولو او د ژوند نورو برخو لپاره په ډېره کچه پر ټیکنالوژۍ تکیه کوي.

**نړیوالتیا (Globalization)** : نړیوالتیا په دې مانا ده چې ټولنې، سوداګریزې چارې او کلتورونه په نړېواله کچه یو بل سره نښلول شوي دي. سوداګري، سیاست او کلتور په نړیوالو کچو سره تړلي دي، چې دا د نورو هېوادونو سره د اړیکو او تبادلو لپاره نوې لارې برابروي.

**انفرادیزم او ټولنیز تنوع :** معاصره ټولنه د انفرادي حقونو او د هر فرد د شخصي انتخابونو درناوی کوي. د خلکو ترمنځ تنوع د جنسیت، مذهب، توکم او کلتوري ارزښتونو په اساس پېژندل شوې او دې تنوع ته په ډېر درناوي سره کتل کېږي.

**سریع بدلون:** معاصره ټولنه په دوامداره توګه په بدلون کې ده. د ټیکنالوژۍ وده، د بازارونو بدلون او د ټولنیزو او کلتوري نظریاتو پرله پسې تغیرات د خلکو په ژوند او کارونو کې د دوامداره نوښت او بدلون اړتیا رامنځته کوي.

**کلتوري همغږي او ټکر:** د نړیوالتیا له کبله مختلف کلتورونه په نړېواله کچه یو بل سره تعامل کوي، چې ځینې وخت د کلتوري همغږۍ او ځینې وخت د اختلافاتو یا تضادونو سبب کېږي.

**محیطي ستونزې:** د معاصرې ټولنې په لویو ننګونو کې د اقلیمي بدلون، چاپېریال ساتنې او د طبیعي منابعو د زېرمو ساتل شامل دي. معاصرې ټولنې ته اړینه ده چې د خپلو صنعتي او اقتصادي فعالیتونو اغېزې کمې کړي.

**ټولنیزې رسنۍ او د عامه افکارو جوړول:** د ټولنیزو رسنیو لکه فیسبوک، ټویټر، انسټاګرام او نورو ... له لارې د عامه افکارو پر جوړولو او د خلکو په ورځني ژوند باندې لوی اغېز شته او خلک له دې لارې د سیاست، کلتور او تجارت په برخه کې پریکړې کوي.

**سیاسي او اقتصادي جوړښتونه** : په معاصره ټولنه کې د سیاسي او اقتصادي جوړښتونو بدلونونه لېدلی شو، چېرته چې خپلواکې ټولنې، اقتصادي بازارونه او نړیوال سیاسي او اقتصادي سازمانونه لکه ملګري ملتونه، نړیوال بانک او نور رول لوبوي.په ټوله کې معاصره ټولنه د ټیکنالوژۍ په وده، نړیوالو تعاملاتو، د فردي حقونو د ارزښت او د ګلوبل ستونزو لکه اقلیمي بدلونونو په حل کولو کې مهم رول لري (Giddens, 1991).

**عامه اړیکې**

عامه اړیکې (Public Relations) یوه ستراتیژیکه پروسه ده، چې موخه یې د سازمانونو، شرکتونو، ادارو یا افرادو او د هغوی د مخاطبینو ترمنځ د مثبتو اړیکو او باور جوړول دي. دا اړیکې د پیغام رسولو او د عامه نظر مدیریت له لارې رامنځته کېږي، ترڅو خلک یا ټولنې د سازمان یا فرد په اړه ښه نظر او اعتماد ولري. یا په بله اصطلاح د یوې ادارې او خلکو ترمنځ د همغږۍ، پوهې، خبرتیا، دوامداره باور ساتلو او رامنځته کولو هڅو ته عامه اړیکې ویل کېږي (وردګ, ۱۴۰۱).

عامه اړیکې (PR) په ټولنه کې یو پراخ او ژور اغېز لري، ځکه چې دا د سازمانونو او عامو خلکو ترمنځ د اړیکو د رامنځته کولو، ساتلو، او پیاوړتیا وسیله ده، ځکه همدا اړیکې دي چې د سازمانونو، حکومتونو او عامو خلکو ترمنځ د متقابل تفاهم او همکارۍ فضا رامنځته کوي، چې په ټولنه کې د اوږدمهاله او ثابتو اړیکو لپاره بنسټیز ارزښت لري. عامه اړیکې نه یوازې په ټولنه کې د ثابتو اړیکو جوړولو لپاره، بلکې د خلکو د معلوماتو او پوهاوي په لوړولو کې هم مهم رول لوبوي. د عامه اړیکو کارپوهان د سازمانونو پیغامونه په روښانه او مؤثره توګه خلکو ته رسوي او هغوی له نویو موضوعاتو، خدماتو او پرمختګونو څخه یې خبروي. دا د دې لامل کېږي چې خلک په ټولنه کې روښانه تصمیمونه ونیسي او د پرمختګ لپاره په لوړه کچه ښکیل شي. په ټوله کې، عامه اړیکې په ټولنه کې د باور، تفاهم او همکاریو په وده کې مهم رول لوبوي، دا نه یوازې د سازمانونو او خلکو ترمنځ اړیکې تنظیموي، بلکې د ټولنیز نظم او پرمختګ لپاره هم حیاتي دي (زمر, ۱۳۹۷).

**معاصره ټولنه او عامه اړیکې**

معاصره ټولنه او عامه اړیکې د هغو اړیکو، پیغامونو او ستراتیژیو مجموعه ده چې د افرادو، شرکتونو او موسسو ترمنځ د اعتماد، شهرت او اړیکو د جوړولو او ښه کولو لپاره کارول کېږي. په معاصره ټولنه کې، عامه اړیکې د ټکنالوژۍ او ټولنیزو رسنیو له لارې د پیغامونو مؤثره رسونه، د بحران مدیریت او د مثبت شهرت رامنځته کولو لپاره یوه موثره وسیله ده، چې د همدې ټکنالوژۍ په وسیله شرکتونه او موسسې د خپلو مخاطبینو سره د نږدې اړیکو په رامنځته کولو کې استفاده کوي. معاصره ټولنــه یوه پیچلې او متنوعه ټولنه ده، چې په کې مختلف

فرهنگونه، نظریات او ټکنالوژیکي پرمختګونه په کې موجود وي، په داسې حال کې چې ټولنیزې اړیکې ورځ تر بلې مهمې کېږي، د عامه اړیکو (Public Relations) رول په دې معاصره ټولنه کې لا هم زیات شوی دی (Chiara Valentini, Dean Kruckeberg, 2011) .

اصلاً په معاصره ټولنه کې د عامه اړیکو اړتیا په دې کې نغښتې ده، چې د سازمانونو، شرکتونو او افرادو لپاره دا یوه اړینه وسیله ده، ترڅو خپل پیغامونه په مؤثر ډول خپلو مخاطبینو ته ورسوي او خپل شهرت او اعتبار وساتي. د ټکنالوژۍ او ټولنیزو رسنیو د چټک پرمختګ په ترڅ کې، خلک زیاتو معلوماتو ته اړتیا لري او د عامه اړیکو مسلکیان هڅه کوي چې، د دغو معلوماتو په سیلاب کې د سازمانونو لپاره یو روښانه او مثبت انځور رامنځته کړي. په ټولیز ډول عامه اړیکې په معاصره ټولنه کې د هر شرکت، سازمان او حتی د افرادو لپاره یوه حیاتي اړتیا ده، ترڅو د راټولو شویو معلوماتو او ډاټا پر اساس په مؤثره توګه کړنې تر سره شي او خپل هدفونه ترلاسه کړي. که معاصره ټولنه د عامه اړیکو پرته وای، نو د معلوماتو او اړیکو د مدیریت په برخه کې به لویې ستونزې او ګډوډې رامنځته شوې وای. نو په دې اساس په لاندې ډول د ځینو ستونزو یادونه کولی شو:

۱- **د معلوماتو ګډوډي**: عامه اړیکې د پیغامونو په سم او واضح ډول رسولو کې مرسته کوي. که چېرې عامه اړیکې نه وای، نو سازمانونه، شرکتونه او خلک به په دې نه توانېدل، چې خپل پیغامونه په سمه توګه خپلو مخاطبینو ته ورسوي، چې دا به د غلطو معلوماتو او اوازو د خپرېدو لامل شوي وای.

۲- **شهرت او اعتبار له لاسه ورکول**: په معاصره ټولنه کې شهرت او اعتبار ساتل د بریا لپاره ډېر مهم دي، د عامه اړیکو پرته به شرکتونه او افراد له زیان رسوونکو اوازو او ناسمو تبلیغاتو سره په مؤثره توګه مبارزه نه وای کړې او دا به د دوی شهرت ته جدي زیان اړولی وای.

۳- **د بحران نه مدیریت:** عامه اړیکې په بحرانونو کې د سازمانونو او شرکتونو لپاره د وضعیت د مدیریت یوه کلیدي وسیله ده. که چېرې عامه اړیکې نه وای، نو په ناڅاپي او اضطراري حالاتو کې به شرکتونه او سازمانونه په چټکۍ سره خپل اعتماد او شهرت له لاسه ورکړی وای او بحرانونو به پراخې اغېزې لرلې.

۴- **د ټولنیزو رسنیو اغېز** : د ټولنیزو رسنیو په نړۍ کې، هره خبره او عمل په چټکۍ سره خپرېږي. د عامه اړیکو پرته، شرکتونه او موسسې به په دې نه توانېدی چې په ټولنیزو رسنیو کې خپل انځورونه او پیغامونه په ښه ډول کنټرول کړي او دې حالت به د منفي او ناسمو معلوماتو خپرېدو ته لار پرانیستلې وای.

**۵- د باور نشتوالی**: عامه اړیکې د مخاطبینو او سازمانونو ترمنځ د باور جوړولو لپاره اساسي رول لري. که دا برخه نه وای، نو خلک به په شرکتونو او سازمانونو لږ باور لرلی او دا به د سوداګرۍ او ټولنیزو اړیکو په ټپه درېدلو لامل شوی وای.

په ټوله کې د عامه اړیکو پرته به معاصره ټولنه له ګډوډۍ، ناسمو معلوماتو او د اعتماد له کمښت سره مخ وای او د ادارو او سازمانونو بریا به ډېر زیانمنه شوې وای، نو همدا وجه ده چې عامه اړیکې د ټولنې د جوړښت او پرمختګ لپاره یوه حیاتي اړتیا ده (James E. Grunig, Todd Hunt, 1984).

**په معاصره ټولنه کې د عامه اړیکو ارزښت او رول**

دا چې هېڅ مسلک او هنر بې ارزښتنه نه دی، نو عامه اړیکې هم د انساني کاروباري، تولیدي، حکومتي، صنعتي، تجارتي ادارو، ټولنو او وګړو د ژوند خورا لوی ضرورت دی، نو په همدې اساس عامه اړیکې د لومړي ځل لپاره د نړۍ په غېږ کې خدماتي او تولیدي ادارو او خلکو چې په ټولنه کې یې ضرورت حس کړی رامنځ ته کړې، ځکه دوی ددې لپاره د عامه اړیکو اداري رامنځ ته کړې چې ورځ په ورځ ژوند سخت او پیچلی کېږي، مخلوق ډېرېږي، نو په دې خاطر چې انساني ژوند له راتلوونکو کړاوونو سره لاس او ګریوان نه شي، نو همدا علت و چې په معاصره ټولنه کې عامه اړیکې یوه اړینه اړتیا او ضرورت و، ځکه چې سازمانونه او خلک په یو نړیوال او د چټکې اړیکې په چاپېریال کې فعالیت کوي (نیازی، ۱۴۰۲).

دلته په معاصره ټولنه کې د عامه اړیکو اهمیت او ارزښت په څو مهمو برخو کې روښانه کولی شو:

**۱- د سازمان شهرت مدیریت**

عامه اړیکې د سازمان شهرت په جوړولو او ساتلو کې مهم رول لري. یو سازمان که دولتي وي یا شخصي د خپلو عامه اړیکو د ستراتیژیو په مرسته کولای شي د خلکو په نظر کې یو مثبت انځور وړاندې کړي. که کومه ستونزه یا کړکېچ رامنځته شي، عامه اړیکې کولی شي د هغې ستونزې حل ته لاره هواره کړي او د خلکو باور بیرته ترلاسه کړي (Laskin, 2024).

**۲- د معلوماتو خپرول**

په معاصره ټولنه کې چټکې اړیکې او کره معلومات ډېر اهمیت لري. عامه اړیکې سازمانونو ته دا توان ورکوي، چې خپلې موخې، لاسته راوړنې، محصولات او خدمات خلکو ته په ګړندي او مؤثر ډول ورسوي. د رسنیو سره په همغږۍ کې کار کول او د ټولنیزو رسنیو په وسیله پیغامونه خپرول د عامه اړیکو یوه مهمه برخه ده.

### ۳- د بحران مدیریت

په اوسني وخت کې سازمانونه تل له احتمالي بحرانونو سره مخ وي. که یو شرکت د یو منفي خبر یا پېښې له امله خپل شهرت له لاسه ورکړي، عامه اړیکې کولای شي په چټکۍ سره یوه اغېزمنه ستراتیژي جوړه کړي، ترڅو عامه ذهنیت مدیریت او کنټرول شي او زیانونه کم شي.

### ۴- د ټولنیزو رسنیو اهمیت

د ټولنیزو رسنیو په پراختیا سره، د عامه اړیکو اهمیت لا زیات شوی دی. خلک هره ورځ په ټویټر، فېسبوک، انسټاګرام او نورو ټولنیزو شبکو کې د خبرونو او نظرونو په اړه د اړیکو په لټه کې وي. عامه اړیکې په دې وسیلو کې د سازمانونو لپاره یوه اغېزمنه لاره ده، چې له خپلو پلویانو او د خلکو له خوښې سره په همغږۍ کار وکړي.

### ۵- د بازار موندنې ملاتړ

عامه اړیکې د بازار موندنې ستراتیژیو کې هم مهمه ونډه لري. که یو سازمان غواړي خپل محصولات یا خدمات معرفي کړي، نو د عامه اړیکو متخصصین په دې برخه کې کار کوي، ترڅو د مشتریانو ترمنځ باور او اعتماد رامنځته کړي او د هغوی توجه د محصول یا خدمت په لور واړوي.

### ٦- د اوږد مهاله اړیکو جوړول

عامه اړیکې د اوږد مهاله او پایدارو اړیکو د جوړولو او ساتلو لپاره د بنسټیزو اصولو پر بنسټ کار کوي. که څه هم هره ورځ ګڼ فعالیتونه ترسره کېږي، خو د عامه اړیکو اصلي هدف دا دی، چې د خلکو باور او اعتماد لا زیات کړي او په دې توګه د سازمان اوږدمهاله بریا تضمین کړي. په پای کې، عامه اړیکې نه یوازې د سازمان لپاره بلکې د ټولنې لپاره هم ګټورې دي. دا اړیکې د شفافیت، اعتماد او ټولنیزې همغږۍ لپاره اساسي دي او د معاصرې ټولنې اړتیاوو او غوښتنو ته په سم ډول ځواب ورکوي (خوشحال, ۱۳۹٦).

### پایله

په معاصره ټولنه کې د عامه اړیکو رول ډېر مهم او اړین دی. دا نه یوازې د ادارو، سازمانونو او افرادو لپاره د اعتبار او باور د لوړولو یوه وسیله ده، بلکې د ټولنیزو ارزښتونو په پراختیا او د مثبتو بدلونونو په راوستلو کې هم مهمه ونډه لري. په یو عصري او رقابتي چاپېریال کې عامه اړیکې مرسته کوي، چې پیغامونه په مؤثره توګه ورسېږي، اړیکې جوړې شي او ټولنیز اعتماد پیاوړی شي. په دې توګه د عامه اړیکو اړخونه په معاصره ټولنه کې د ګډو موخو لپاره د خلکو ترمنځ یووالي، تفاهم او همکارۍ ته لاره پرانیزي او د مثبت بدلون په راوستلو کې حیاتي رول لوبوي، چې معاصره ټولنه لا پیاوړې او پرمختللې کوي. په دې مقاله کې څرګنده شوه چې څنګه

عامه اړیکې د خلکو او سازمانونو ترمنځ د باور، شفافیت او همغږۍ په رامنځته کولو کې مهم رول لوبوي. سربېره پر دې مقاله د عامه اړیکو د مهمو فعالیتونو او هدفونو په اړه پوهاوی لوړکړو، په ځانګړي توګه د معاصرو ننګونو او تکنالوژۍ په رڼا کې، چې د پیغامونو مؤثریت، د ټولنیز اعتماد رامنځته کول او د ارزښتونو خپرول لا مهموي. همداراز دا مقاله به روښانه کوي، چې څنګه د عامه اړیکو متخصصین د ټولنیزو ستونزو او غلط فهمیو د حل په برخه کې مرسته کوي او په دې توګه د ټولنیزو او اقتصادي پرمختګونو په پروسه کې مثبت اغېز کوي. په ټوله کې د عامه اړیکو ارزښت په اړه پوهه لوړول د عصري ټولنې اړتیا ده، چې د همکارۍ، تفاهم او یووالي په لور یې رهنمایي کوي.

**وړاندیزونه**

۱- حکومتي او خصوصي ادارې او د سازمانونو مسولین باید د خپلو کړنو په اړه شفافیت رامنځته کړي او له خلکو سره د حساب ورکونې ثقافت ته وده ورکړي، چې دا کړنه په یوه معاصره ټولنه کې د عامه اړیکو په جوړولو او د عامه باور په زیاتولو کې مرسته کوي او په ټولنه کې د عامه اړیکو رول غښتلی کوي.

۲- ټولې دولتي او خصوصي ادارې او سازمانونه باید د عامه اړیکو د ارزښت، رول او اغېزمنتوب په اړه دکارکوونکو لپاره روزنیز پروګرامونه ولري، ترڅو دوی د معلوماتو د خپرولو او خلکو سره د اړیکو لپاره چمتو وي.

۳- څرنګه چې د اړیکو جوړول یوه اغېزمنه پروسه ده، نو د عامه اړیکو په مرسته مؤسسې او افراد کولی شي، د خپلو مخاطبینو سره ښه اړیکې جوړې کړي، چې دا د باور او همکارۍ فضا رامینځته کوي.

## مأخذونه

Chiara Valentini, Dean Kruckeberg. (2011, Junvary 5). researchgate. Retrieved from researchgate.net: https://www.researchgate.net/publication/260792170_Public_relations_and_trust_in_contemporary_society_A_Luhmannian_perspective_of_the_role_of_Public_Relations_in_enhancing_trust_among_social_systems

Giddens, A. (1991). Modernity and Self-Identity . California : Stanford Univeristy Press.

James E. Grunig, Todd Hunt. (1984). Managing Public Relations. New York: Holt, Rinehart and Winston.

Laskin, A. V. (2024). Organizational Reputation Management. Hamden: Wiley-Blackwell.

خوشحال ,ص .م.(۱۳۹٦) د عامه اړیکو رول په معاصره ټولنه کې .پکتیا :پکتیا خپرندویه ټولنه.

زمر ,خ .ا.(۱۳۹۷) د عامه اړیکو اساسي مفاهیم .کابل :دانش خپرندویه ټولنه.

نیازی ,م .خ.(۱۴۰۲) د عامه اړیکو اساسات .کابل :حسین احمد چاپ خانه .

وردګ ,ن.(۱۴۰۱) عامه اړیکې او ژورنالیزم .کابل :سمون خپرندویه ټولنه.

# د سازمان په مدیریت کې د عامه اړیکو ونډه

پوهنمل محمد یوسف ثاقب، شیخ زاید پوهنتون، ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی، عامه اړیکو څانګه.

برېښنا لیک: yousafsaqib10@gmail.com

**لنډیز**

دا څرګنده ده، چې عامه اړیکې په علمي او تحصیلي ډګر کې د یوه ځانګړي مسلک په توګه ډېره سابقه نه لري او د نننې عصر فعالیتونه او تګلاره یې له پخوانیو هغو سره توپیر لري خو د عامه اړیکو د فعالیت اړتیا ته په کتو سره، له ډېر پخوا څخه د بېلا بېلو سیاسي، ټولنیزو، مذهبي، تجارتي او اداري چارو د تنظیم او مدیریت په برخه کې د عامه اړیکو له فعالیتونو او تکتیکونو څخه په پراخه کچه ګټه پورته شوې ده. په همدې موخه او د همدې اړتیا له مخې په نننې ژوند کې عامه اړیکې د ستراتیژیکو سازماني موخو د ترلاسه کولو په لړ کې د یوه ځانګړي مسلک په توګه په پخپله کاري ساحه کې د څېړنې په اساس د یوې ټاکل شوې پروسې له مخې اړونده فعالیتونه پلان او عملي کوي. یاده علمي مقاله د کتابتوني مېتود په اساس لیکل شوې ده او موخه یې دا ده، ترڅو د سازمان په مدیریت کې د عامه اړیکو ستراتیژیک رول او ونډې اړوند معلومات وړاندې کړل شي او سازمانونه د عامه اړیکو متخصصینو په ګمارلو سره خپل دوامداره پرمختګ یقیني کړي. په دې مقاله کې دا هم په ډاګه شوې ده، چې عامه اړیکې له سازمانونو سره د موخو پر بنا مدیریت (Management By Objectives) په پرمخ وړلو کې فوق العاده همکاري کوي. په پایله کې په دې اړه، چې عامه اړیکې د سازمان په ستراتیژیک مدیریت کې څه ونډه لري او د سازماني موخو او په لویه کې د سازمان د لرلید په ترلاسه کولو کې کوم او څه ډول فعالیتونه ترسره کوي، په اړه وضاحت شوی دی.

**کلیدي کلیمې:** بحران پر مهال اړیکو مدیریت، د عامه اړیکو فعالیتونه، سازماني مدیریت، سازماني موخې، ستراتیژیکې عامه اړیکې.

### سریزه

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدالمرسلين وعلى اله و اصحابه اجمعين.**

په ادارو کې د عامه اړیکو د فعالیت په لړ کې سازماني مدیریت او د عامه اړیکو د مسلک ونډه یو تر بله سره تړلي دي. سازمان خپلو موخو ته د رسېدو لپاره بېل بېل امکانات په کار اچوي؛ کاري ځواک، مصارف او له زیربناوو څخه په ګټنې غواړي د خپل ټاکل شوي لرلید په لوري حرکت وکړي، بل لور ته عامه اړیکې د یادو موخو په ترلاسه کولو او د ټاکل شوي لرلید پر لوري په حرکت کولو کې خپله ونډه په ډاګه کوي. په سازمانونو کې د عامه اړیکو یاده ونډه او همکاري د سازمان د ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو په منظور په اوږد مهال کې پلان، تنظیم او پلي کیږي او د ادارو د دوامداره پرمختګ او پایښت په موخه په بېلا بېلو حالتونو کې اړونده فعالیتونه ترسره کوي. په دې ځای کې مهم بحث دا دی، چې عامه اړیکې د سازمان په ستراتیژیک مدیریت پورې تړلې یادې چارې د یوې علمي څېړنیزې پروسې په پایله کې پلان او عملي کوي، ترڅو په ننبه شویو ستونزو او مسایلو ته په کتو سره له دقیقې سنجونې وروسته د ستونزو حل لارې او فعالیتونه تنظیم او علمي کړل شي (Kotlar, Alfredo De Massis, Wright, & Frattini, 2018

### موخه

د دې علمي مقالې موخه دا ده، ترڅو لوستونکي د سازمانونو د دوامداره پایښت او پرمختګ په برخه کې د عامه اړیکو په ونډه باندې وپوهول شي او هم ورته وښودل شي، چې د عامه اړیکو مسلک له سازمانونو سره د ستراتیژیکو موخو او لرلید په ترلاسه کولو کې پوره ونډه او همکاري کوي. بل لور ته هر دولتي، غیر دولتي او په خصوصي سکتور پورې تړلي سازمانونه په یوه رقابتي کاري چاپېریال کې فعالیت کوي؛ د دې لپاره چې هغوی په یاد رقابتي چاپېریال کې لومړی خپله بقا تضمین کړي او له هغې وروسته وده او دوامداره پرمختګ وکړي، اړینه ده چې د عامه اړیکو متخصصین د سازمان په مدیریتي او رهبري کچه په دندو وګماري. بله موخه مې دا ده، چې په عامه اړیکو کې لوستونکو او د مسلک مینه والو ته په مورنۍ ژبه د مطالعې لپاره یو څه په واک کې ورکړل شي.

### د کار مواد او مېتود

دا څېړنه کتابتوني ده او په بشپړولو کې یې له هغو علمي سرچینو، څېړنیزو مقالو او مطالبو، چې په بهرنیو ژورنالونو، مجلو او ویب سایټونو کې خپاره شوي دي، ګټه اخیستل شوې ده. په ټوله معنی هڅه شوې، چې په دې څېړنه کې هغه موارد، اقتباسونه او بېلګې راوړل شي،چې د موضوع مطابق زموږ د ټولنې او د عامه اړیکو د مسلکي کسانو لپاره اړین او په دغه لیکنه کې یې شتون لازمي وي.

**د عامه اړیکو پېژندنه (Introduction to Public Relations)**

وړاندې له دې، چې په سازمانونو کې د عامه اړیکو په ونډه معلومات وړاندې کړو، اړینه ده چې لومړی د عامه اړیکو مسلک او ډیسپلین پېژندنه وشي. که څه هم د عامه اړیکو د پېژندنې په موخه هر عالم د خپلې تجربې او پوهې پر اساس بېلا بېل تعریفونه وړاندې کړي دي، خو دلته د عامه اړیکو په هکله په یو څو تعریفونو باندې تم کیږو، کوم چې له موضوع سره ډېر تړاؤ لري.

د انګلستان د Charter Institute of Public Relations (CIPR) چې په دې برخه کې د اروپا تر ټولو لویه مسلکي اداره ده لیکي چې: "عامه اړیکې هغه علم او ډیسپلین دی چې هغه د تفاهم رامنځته کولو او په مقابل لوري کې د بدلون راوستو له لارې په اړونده برخه کې سازمانونو او ادارو ته نوم او نښان ګټي. عامه اړیکې یوه پلان شوې او تلپاتې هڅه ده، چې د سازمان او د هغه د وګړو (Publics) ترمنځ نېک نیت او دوه اړخیزه تفاهم رامنځته کوي."

له پورتني تعریف څخه هدف دا دی، چې عامه اړیکې باید پلان شوې وي او هر څه په دقیقه توګه له فکري سنجونې (Thought-through process) څخه تیر شي، موقتي او نیمګړې نه بلکې تلپاتې ووسي. له دې څخه هدف دا دی، چې د فعالیت له پیل څخه وروسته سازمان او د هغه مطلوبه وګړي یو بل واوري، غوښتنې او نیوکې سره ومني او په دې توګه خپلې اړیکې دایمي او تلپاتې جوړې کړي.

د John W. Hill د تعریف له مخې عامه اړیکې تنظیمونکې او مدیریتي تګلاره او عمل دی، چې له مخې یې د یوه سازمان او ادارې د پرمختګ او ښیګڼې له پاره لکه د نورو برخو په څېر ورته توجه کوي.

همدارنګه د عامه اړیکو د دوو بنسټګرانو له قوله: عامه اړیکې یوه مدیریتي چاره ده، چې د سازمان او د هغوی د عوامو او مقابل لوري ترمنځ دوه اړخیزه ګټورې اړیکې رغوي او ساتي، په کومو پورې چې د سازمان بریا او ناکامي تړلې ده (Cutlip, Center, & Broom, 2006).

که د عامه اړیکو د فعالیت تاریخ او شالید ته وکتل شي، نو دا معلومیږي چې عامه اړیکې په لومړیو کې یوازې د سازمان له لوري مقابل لوري ته د معلوماتو د انتقال او د پروپاګند او تبلیغاتي چارو د سرته رسولو په موخه کارول کېدې خو د وخت په تېرېدو سره یې د فعالیت بڼه د سازمان او مقابلو لوریو یا عوامو ترمنځ د اړیکو ټینګولو پر محور وڅرخېده او بالاخره د ادارو او د هدف وړ وګړو ترمنځ د دوه اړخیزه او دایمي اړیکو جوړول یې مهمه دنده وګرځېده، چې په نننی رقابتي نړۍ کې ډېر د پام وړ بلل کیږي.

په همدې ترڅ  James E. Grunig & Todd T. Hunt دوو امریکایي عالمانو په ۱۹۸۴ م کال کې د عامه اړیکو د فعالیت بڼو او دورو ته په کتو سره په څلورو نسلونو یا دورو باندې ویشلې دي، د عامه اړیکو یادو نسلونو ته د هغوی د فعالیت د بڼې په اساس د ماډل نوم هم ورکړل شوی دی چې عبارت دي له:

لومړۍ دوره یا لومړی نسل: د مطبوعاتي دفترونو (Press Agentary Model) دوره چې په ۱۹ مې پېړۍ پورې تړاو لري او د عامه اړیکو د کړنو یاد ماډل د یوه نمایشګر، تجار او سیاست کوونکي ښاغلي ( Phineas Taylor Barnum) له لوري رامنځته شو. د عامه اړیکو د دې نسل یا دور په فعالیتونو کې پروپاګند او تبلیغات، د مقابل لوري هڅونه او ترغیب، نفوذ او د افکارو متاثره کول شامل وو. له دې پرته د سازمان لپاره په خپلو فعالیتونو کې رښتینولي او حقیقت پالل هم په پام کې نه نېول کېدل. د بارنم له لوري د لومړي ځل لپاره د (Publicity) اصطلاح هم شهرت وموند، چې له مخې به یې سازمانونو او افرادو ته د منفي او یا مثبتو شایعاتو په پایله کې شهرت ورکول کېده.

دویمه دوره یا دویم نسل: د عامه اړیکو دویم نسل ته د (Public Information Age) نوم هم کارول کیږي، چې د ۲۰ مې پېړۍ په پیل کې یې د فعالیت بڼه له لومړني حالت څخه د معلوماتو ورکولو دورې ته واوښته. د عامه اړیکو د فعالیت لپاره یاد ماډل د یوه ژورنالیست ښاغلي Ivy Ledbetter Lee له لوري رامنځته شو. د عامه اړیکو د فعالیت په یاده دوره کې مطبوعاتي کنفرانسونه او د معلوماتو ورکولو اړونده یو اړخیزه تکتیکونه په کار اچول کېدل او ترڅنګ یې په فعالیتونو کې عینیت او رښتینولي مراعتول هم د پام وړ وګرځېدل. خو بیا هم د مطلوبه وګړو، مقابل لوري، مشتریانو او عوامو د اړتیاؤ او اولیتونو په اړه ډېره کمه پلټنه او توجه کېده. د یاد ماډل بنسټګر له لوري په دې دوره کې د عامه اړیکو ځانګړی اخلاق هم وضع شول، ترڅو د عامه اړیکو د فعالیت پرمهال یاد اصول او اخلاق عملي کړل شي.

دریمه دوره یا دریم نسل: د عامه اړیکو دریم نسل ته (Two-way Asymmetrical Model) هم ویل کیږي، چې د ۲۰ مې پېړۍ په نیمایي کې د عامه اړیکو پلار ښاغلي Edward Bernays له لوري رامنځته شو. له تېرو ماډلونو سره د دې ماډل لوی توپیر دا و، چې د دې ماډل په اساس د سازمان او مقابل لوري ترمنځ اړیکې او د معلوماتو انتقال دوه اړخیز ته واوښت خو بیا هم  د عامه اړیکو د یاد نسل په فعالیتونو کې د ګټو توازن نه مراعت کېده؛ هدف یې دا و چې مقابل لوری د تبلیغاتو تر تاثیر لاندې راوستل شي او په مرسته یې یوازې د سازمان ګټې خوندي کړل شي. د دې ماډل په اساس د سازمان په بیروني چاپېریال او مطلوبه وګړو کې څېړنه کېده، خو په دې هدف چې د هغوی افکار او غوښتنې او کړه وړه وغیره معلوم کړي او بیا هغوی ته د سازمان د

ګټو او غوښتنو سره سم بدلون ورکړي. په دې حالت کې سازمان پخپلو تګلارو کې بدلون نه راوست، بلکې یوازې مقابل لوری باید د سازمان د ګټو او موقف ساتلو په موخه تغیر ومومي. د همدې ماډل وړندې کوونکې ښاغلي اډوارډ برنیز له لوري د افکارو د بدلون او هڅونې په موخه یو علمي اثر د ( Crystalizing Public Opinion) په نوم ولیکل شو، چې د عامه اړیکو د همدې دورې اړونده د ساینسي هڅونې ( Scientific Precaution) لپاره ترې ګټه واخیستل شوه.

څلورم نسل یا څلورمه دوره: د عامه اړیکو څلورمې دورې ته د (Two-way Symmetrical Model) هم ویل کیږي، چې د ۲۰ مې پیړۍ په اواخرو کې رامنځته شو. د یاد ماډل په اساس د عامه اړیکو کارونه د دوه اړخیزه اړیکو او دوه اړخیزه ګټو د ساتلو په منظور پرمخ وړل کېدل. سازمانونو د خپلو ښکېلو لوریو او ګړو د ګټو، غوښتنو، نیوکو او اړتیاؤ د ساتلو په موخه په بیروني چاپیریال کې د توازن په پام کې نیولو سره څېړنې کولې. بل لوی بدلون دا چې په دې وخت کې سازمانونو د ستونزو د حل په موخه له مشتریانو، ښکېلو لوریو او ګړو سره د دوه اړخیزه مساویانه ګډون زمینه برابروله، ترڅو د دواړو خواوو ګټې خوندي او دواړه ګټمن شي (Guth, 1995) .

د عامه اړیکو پورتینو دورو او د فعالیت بڼو ته په کتو سره دې پایلې ته رسېږو، چې په لومړیو کې د عامه اړیکو د فعالیت بڼه او هدف یوازې د سازماني ګټو او موخو ترلاسه کولو پورې محدود و، خو په اوسني عصر کې عامه اړیکې د سازمان او د مقابل لوري ( مشتریانو، د هدف وړ افرادو، عوامو، ښکېلو لوریو...) ګټې، اړتیاوې او اولیتونه هم په پام کې نیسي، آن تر دې پورې چې د مقابل لوري او ګړو غوښتنې او نېوکې د سازمان د رهبري او تصمیم نېونې په کچه تر بحث لاندې نېول کیږي او د اړتیا له مخې یې سازمانونه په خپلو کړنلارو او پالیسیو کې تغیرات راولي.

## سازماني موخې او مدیریتي چارې (Organizational Goals and Management Affairs)

سازماني موخې هغه ستراتیژیک اهداف دي، چې د سازمان د مطلوبه پایلو د ترلاسه کولو په موخه ټاکل کیږي او د یادو پایلو د لاسته راوړلو لپاره اړونده اداري او مسلکي کارمندان سوق او اداره کوي. یا په بل عبارت، د سازمان موخه له هغه مسیر څخه عبارت دی، کوم چې د سازمان د فعالیت او کړنو لپاره ټاکل کیږي (Kono, 1984).

هره اداره او سازمان د فعالیت په پیل او جریان کې د یوه ځانګړي لرلید (vision) د ترلاسه کولو په موخه امکانات او سرچینې په کار اچوي او د بېلا بېلو ستراتیژیو او موخو په ټاکلو سره د ټاکل شوي لرلید په لوري حرکت کوي.

سازماني موخې په لويه کې د سازمان هغه مطلوبې لاسټي راوړني بللی شو، چې د ترلاسه کولو په موخه يې په چارو کې مؤثريت او بېلا بېل فعاليتونه تنظيموي Kotlar, Alfredo De Massis, Wright, & Frattini, 2018)




1https://www.google.com/search?q=vision+mission+goals+and+objectives&sca_esv=4fc0e7b8018da7b

خو د سازماني موخو په اړه بېلا بېلې تيورۍ او علمي بحثونه شتون لري (MOHR, 1973). د سنتي اقتصادي تيورۍ له مخې تجارتي ارګانونه او سازمانونه د يوه ګوني جوړښت په اساس په عيني توګه د يوې ځانګړې او واحدې موخې، چې د ګټې زياتوالی دی، ترلاسه کولو لپاره فعاليت کوي، که څه هم دغه تيوري تر کلونو پورې تر انتقاد لاندې وه، د بېلګې په ډول د ځينو عالمانو په آند، رسمي يا اداري موخې، چې د يوه سازمان په لرليد او ماموريت کې شتون لري، شايد په دقيقه توګه د هغوی په کړنو، فعاليتونو او ډيسپلين کې ونه موندل شي. همدارنګه Cyert او March په ۱۹٦۳ م کال پخپلو علمي لاسته راوړنو کې دا واضحه کړه، چې په ادارو کې کارمندان او نور رسمي او غير رسمي افراد ځانګړې موخې (Individual Goals) يا انفرادي اهداف لري. د لاوضاحت لپاره عالمانو هڅه وکړه چې سازمان د ټولو افرادو په ځانګړې توګه د اجرائيوي او پاليسي جوړونکو رسمي کارمندانو انفرادي موخې په نښه کړي، کوم چې د سازمان په کړنو او لاسته راوړنو باندې تر نورو ډېر اغيز لرونکي وي. هغوی دا نقد کړه، چې سازماني موخې يوازې په يوه ځانګړې اړخ پورې تړاو نه لري، بلکې سازمان پخپله د بېلا بېلو مديريتونو، کارمندانو، ښکېلو اړخونو، عام وګړو او نورو ډلو ټولګه ده، چې هر يو يې ځانګړې او جلا موخې لري او د همدغه سازمان په فعاليت سره يادې موخې ترلاسه کېدلی شي (Kotlar, Alfredo De Massis, Wright, & Frattini, 2018).

د سازمان مؤثريت په دې کې دی، چې هغوی د ټاکل شويو موخو په ترلاسه کولو کې بريالي شي او همدغه ټاکل شوې موخې له سازمان پرته د ښکېلو اړخونو، وګړو او په چاپېريال کې شته ستراتيژيکو عوامو (Strategic Publics) لپاره هم بايد د علاقې او پام وړ ووسيږي. په همدې موخه په سازمانونو کې د عامه اړيکو ځانګې او متخصصين هڅه کوي، ترڅو د سازمان له ښکېلو اړخونو سره د رغنده اړيکو په جوړولو سره د سازمان د مديريت مؤثريت زيات کړي (Hamkar, Bashar , & Hikmat, 2024).

سازماني موخې او مديريتي چارې يو له بل سره تړلې دي؛ هر سازمان د ځانګړو موخو د ترلاسه کولو لپاره فعاليت کوي او مديريت د اداري او سازمان له درې ګونو عناصرو هغه مهم عنصر دی، چې د شته منقول او غير منقول

سرچینو او امکاناتو په کار اچولو سره د تولید او لاسته راوړنې زمینه مساعدوي. همدارنګه د ستونزو د حل په موخه تدابیري پلان جوړونه او د ستونزو پر وخت حل، د یوه ځیرک مدیریت اصول بلل کیږي، چې د سازمان په چاپېریال کې د رامنځته کېدونکو مسایلو، اولیتونو او بېلا بېلو ښکېلو اړخونو مطالعه او تحلیل د راتلونکو ګواښونو مخه نیولی شي. بل لور ته د ستراتیژیکو عامه اړیکو او د غوره مدیریت اصل ته په کتو سره سازمانونه کولی شي، چې د همدغو ستراتیژیکو اړخونو او وګړو غوښتنې او موخې په خپله کاري اجنډا کې شاملې کړي ترڅو په اوږد مهال کې د سازمان د ټاکل شوي لرلید او موخو ترلاسه کول یقیني کړل شي (Grunig, 2001).

همدارنګه د سازماني چارو مدیریت لپاره اړینه ده، چې سازمان په ورځنیو چارو کې خپل ټاکل شوي اهداف لاسته راوړي او په تدریجي توګه د سازماني لرلید پر لوري حرکت وکړي. دا باید واضحه کړو چې د سازمان لرلید ته رسېدل د اوږدمهال چاره ده او په ترلاسه کولو کې یې سازمان د ډول ډول ستراتیژیو، بدیلونو، امکاناتو، تکتیکونو او دکوچنیو اهدافو په ترلاسه کولو سره د لرلید په لوري نږدې کیږي. همدارنګه د اهدافو پر بنیاد مدیریت (Management By Objectives) په اساس اړینه خبره دا ده، چې د ادارې او سازمان ټول کارمندان په انفرادي توګه د خپلو اهدافو او موخو د ترلاسه کولو ترڅنګ باید د سازمان اهداف هم ترلاسه کړي او خپله ټوله انرژي او د کار پایلو مؤثریت یې د سازمان د لاسته راوړنې او مؤثریت سبب وګرځي (Anna & Chletsos, 2024).

د (Peter Drucker 1954) له مخې، د اهدافو پر بنیاد مدیریت ماډل په حقیقت کې د ستراتیژیک مدیریت په اساساتو ولاړ دی، چې د سازمان د مشر او د هغوی د کارمندانو ترمنځ د ګډې همکارۍ په صورت کې د ځرګندو، معلومو او ترلاسه کېدونکو اهدافو په پېژندنه او ترلاسه کولو کې همکاري کوي (Kassar, 2024).

په سازمان کې د عامه اړیکو په فعالیت او د (SWOT Analysis) سره د سازمان د داخلي او بیروني وضعیت ښه څېړنه او تحلیل صورت نیسي؛ په ښه شویو نیمګړتیاوو د رفع کولو په موخه بېلا بېل فعالیتونه د یوې منظمې پروسې او پروګرام په اساس عملي کیږي او په پایله کې د سازمان ټاکل شوي اهداف ترلاسه کوي (Albayedh & Abuanza, 2024).

پورتنیو توضیحاتو ته په کتو سره ویلي شو، چې د عامه اړیکو په فعالیت سره سازمان کولی شي خپلې ستراتیژیکې موخې په لاس راوړي او د عامه اړیکو داوامداره فعالیت په اوږدمهال کې د لرلید په ترلاسه کولو کې ډېر ګټور او مؤثر تمامېدلی شي.

**په سازمان کې د عامه اړیکو ارزښت (Importance of Public Relations in an Organization)**

د نننۍ نړۍ لید له مخې د بېلا بېلو دولتي، خصوصي، تجارتي، سیاسي... ادارو او سازمانونو ترمنځ د خپلو اړونده فعالیتونو په ډګر کې سیالۍ صورت نیولی او هره اداره هڅه کوي، ترڅو خپلو موخو ته په رسېدو سره د سیالۍ ګټونکې شي او په کاري چاپېریال کې غوره موقف ونیسي. د دې کار لپاره له هر ډول ګټورو وسیلو او لارو څخه ګټه اخلي. د بېلګې په توګه یو تولیدي یا خدماتي سازمان د خپلو تولیداتو یا خدماتو په اړه په ټولنه او مارکیټ کې په بېلا بېلو ډولونو اعلانات او تبلیغات کوي، مطلوبه مشتریانو ته یې په اړه اګاهي ورکوي؛ هغوی هڅوي ترڅو د یاد تولید او خدماتو څخه ګټه واخلي. په همدې توګه سیاسي، تحصیلي او نورې بېلا بېلې ادارې د خپلو مطلوبه افرادو، عام وګړو، ټولنو او اقشارو د خبرتیا، هڅونې او په پایله کې په خپلو فعالیتونو او خدماتو کې د هغوی د ګډون په موخه د عامه اړیکو له لارې د بېلا بېلو پروګرامونو او کمپاینونو په ترسره کولو سره یادې موخې ترلاسه کوي.

بل لور ته، هر سازمان د خپلو ټاکل شویو موخو او لرلید د ترلاسه کولو په لټه کې مدیریتي چارې تنظیموي او ترڅنګ یې په دې باندې ځان ډامنوي، چې د شته او راتلونکو ستونزو مخنیوی وکړي، ترڅو د سیالۍ په میدان کې ګټونکی شي. د دې کار لپاره د مسلکي مدیریتي چارو، پلانونو او ستراتیژیو ترڅنګ د عامه اړیکو ځانګړې مدیریتي چارې دي، چې د سازمان په ورځنیو او مهمو فعالیتونو کې ډېرې د پام وړ بلل کیږي. د Edward او Gregory د تحقیق له مخې د برتانیې زیاتره غوره کمپنۍ د نورو صنعتي فابریکو له پاره د رهبریت چارې پرمخ وړي او په مارکیټ کې ورته ځای ثابتوي(Gregory, 2021) .

همدارنګه د عامه اړیکو په وسیله د سازمان د کلي وضعیت مطالعه او څېړنه د عامه اړیکو د فعالیتونو اساس دی، چې له مخې یې د عامه اړیکو راتلونکي فعالیتونه او پروګرامونه پلان او عملي کیږي. د سازمان د داخلي او بیروني ستونزو په نښه کولو څخه وروسته د هغوی د حل په موخه بېلا بېلا فعالیتونه پلان او سنجول کیږي؛ همدارنګه د سازمان له ښکېلو لوریو، مطلوب وګړو، مشتریانو او نورو ادارو سره د دوامداره او دوه اړخیزه اړیکو تامین او تنظیم د عامه اړیکو د فعالیت په پایله کې صورت نیسي. خلاصه دا چې په نني عصر کې سازمانونه او ادارې د خپلو فعالیتونو او د دوه اړخیزه داوامداره اړیکو د تنظیم او مدیریت او هم د خپل نوم او کیفیت ساتلو په موخه د عامه اړیکو فعالیت او متخصصینو ته جدي اړتیا لري (Gregory, 2021) .

له دې پرته عامه اړیکې هغه وخت کله، چې یو سازمان له بحراني وضعیت سره مخ شي، کولی شي د سازمان د بقا او پایښت او د بحراني وضعیت مخنیوي په موخه هر ډول اړین معلومات ترڅو مطلوبو وګړو، ښکېلو اړخونو او مشتریانو پورې ورسوي او د بېلا بېلو ستراتیژیو په پیاده کولو سره کولی شي، رامنځته شوی کړکیچ کنټرول کړي (Smith, 2018 ).

د عامه اړیکو یو له مهمو کړنو او مسؤلیتونو څخه دا دی، چې د بحران پر وخت د سازمان او مقابلو لوریو ترمنځ اړیکې په ښه توګه مدیریت او تنظیم کړي. یاد فعالیتونه د اړیکو د تنظیم د یوه سنجول شوي پروګرام، د مناسبو او ګټورو پیغامونو جوړول او هغوی د بېلا بېل مؤثرو چینلونو او وسیلو له لارې نشر کولو څخه عبارت دي. په دې توګه عامه اړیکې له یوې خوا د ادارې او سازمان په هکله د ناسمو معلوماتو او افواهاتو د خپرېدو مخنیوی کولی شي او بل لور ته همزمان کولی شي، د دقیقو او جامع معلوماتو او توضیحاتو په وړاندې کولو سره د مشتریانو، ښکېلو اړخونو، وګړو او افرادو اذهان بېرته ورغوي او یاد سازمان له لوېدلو څخه وژغوري (Yahya Ahmadi, 2023).

## په سازمان کې د عامه اړیکو ونډه او موقف ( Public Relations Contribution in an Organization)

لکه څرنګه چې سازمانونه او ادارې په خپل کاري او داخلي تشکیل کې په مختلفو برخو کې فعالیتونه کوي نو په همدې اساس مهمه ده، چې په هره برخه کې د عامه اړیکو ونډه او همکاري په ډاګه او واضحه شي. او بل مهم دا چې د ستراتیژۍ په اړه هم ډېری وخت په سازمان کې ګونګتیا موجوده وي، هغه دا چې د عامه اړیکو د برخې متخصصین باید په کوم ډول ستراتیژیو کې همکار اووسي او په کې برخه ولري؟ د بېلګې په توګه په تجارتي، د پروګرام او یا هم په عملیاتي ستراتیژیو وغیره کې څه ډول او په کومه کچه ونډه درلودی شي؟ په نوموړو ستراتیژیو باندې له پوهیدو وروسته د عامه اړیکو متخصصین او تمرینوونکي پوهیدلی شي چې هغوی د سازمان له پاره د هغوی په کومو چارو او په کومو برخو کې ګټور ثابتېدلی شي (BREFO & NAA KAI, 2022)

د عامه اړیکو نوموتو څېړنکو او عالمانو لکه هر یو ښاغلی ډیویډ ډوزئیر، لاریسا ګرونیګ او جیمز ګرونیګ په ۱۹۹۵ م کال کې د عامه اړیکو په تلپاتې ګټو او د اړیکو په مدیریت په هکله څېړنه ترسره کړه، چې نوموړې څېړنه د عامه اړیکو د فعالیت د دوه اړخیزه مساویانه اړیکو د وروستي او نوي ماډل په اساساتو باندې راڅرخېده. هغوی د یادې څېړنې په پایله کې دا ومونده، چې د امریکا په شمول د دربیو هیوادونو په ۳۲۱ سازمانونو کې د




2https://www.google.com/search?q=Public+Relations+Organizational+goals&sca_esv=4fc0e7b8018d

عامه اړیکو فعالیتونه زیاتره د دوه اړخیزه مساویانه ماډل (Two-way Symmetrical Model) او هم د دوه اړخیزه غیر مساویانه ماډل (Two-way Asymmetrical Model) په اساس تنظیم او عملي کیږي. دوی د خپلې څېړنې په پایله کې دا وموندله، چې د عامه اړیکو مؤثریت او ګټورې پایلې دا دي، چې د سازمان او بیروني چاپیریال په اړه د پوره مطالعې او اولیتونو په نښه کولو څخه وروسته کولی شي د سازمان او ښکېلو اړخونو، مشتریانو او نورو مقابلو لوریو ترمنځ تفاهم او رضایت رامنځته کړي، چې په پایله کې دواړه اړخونه ګټونکي دي (Brown, 2012).

په تجارتي بنسټونو او شرکتونو کې د مختلفو برخو د ستراتیژیو او کارونو د همغږۍ په موخه د سویلي افریقا علمي شخصیت ښاغلي Benita Steyn ډېر زیار ویستلی او وایي، چې د عامه اړیکو متخصصین باید د نورو برخو په څېر په مساوي توګه د سازمان چارې پرمخ یوسي. خو د یادولو وړ ده چې نوموړې سپارښتنه یې یوازې د شخصي سکتور له پاره کړې ده په داسې حال کې، چې زیاتره متخصصین په غیرانتفاعي او یا هم په دولتي سکتورونو کې کار کوي.

همدارنګه هغه سپارښتنه او علمي لاسته راوړنه، چې په ۲۰۰۸ م کال د (Charter Institute of Public Relations) له لوري تائید شوې، په برتانیه کې د Gregory & White له خوا د خپل تحقیق په پایله کې داپه ډاګه کړه چې د عامه اړیکو متخصصین او کارمندان باید په سازمان کې په څلورو برخو کې فعالیت وکړي او د خپل فعالیت کچه معلومه او هغه وارزوي. په لاندې شکل کې نوموړي څلور اړخونه او برخې په لاندې ډول څېړي:

دغه شکل د سازمان په بېلا بېلو برخو کې د عامه اړیکو د ونډې څرګندونه کوي.




## لومړی په ټولنیزه برخه کې

عامه اړیکې له سازمانونو سره په ټولنیزه برخه کې فوق العاده همکاري او د پام وړ فعالیت سرته رسوي او د ټولنیز چاپیریال په ارزولو سره سازمان ته خپل مجبوریتونه او اړتیاوې ورپه ګوته کوي. د سازمانونو له پاره زیاتره وخت ټولنیزې غوښتنې او اړتیاوې په پام کې نیول د دې سبب کیږي، چې هغوی په ټولنه کې یو ښه او غوره نوم ځانته خپل کړي او د ټولنې حمایت او ملاتړ ترلاسه کړي. همدارنګه د کمپنیو او سازمانونو د ټولنیز مسؤلیت هڅې د سازمان د ټولنیزې کچې د پرمختګ له پاره یوه غوره ستراتیژي بلل کیږي او په دایمي توګه سازمانونه هڅه کوي، چې د همدغې ستراتیژۍ په کار اچولو سره له یوې خوا د ټولنې خدمت او مسؤلیت چې ورته راجع دی، سر ته ورسوي او له بل لوري د عامه فکرونو د غوڅ اکثریت ملاتړ ترلاسه کړي.

## دویم د مدیریت په برخه کې (At Management Level)

عامه اړیکې له سازمان سره د مدیریت او رهبرۍ په کچه هم د پام وړ مرسته کوي او د سازمان په غوره لاسته راوړنو او تصمیم نیونه کې خپله ونډه ثابتوي. په دې ځای کې د عامه اړیکو فعالیت دا دی، چې هغوی د سازمان داخلي او بیروني چاپیریال، مشتریانو، تولید او د سازمان د کلیدی اشخاصو په اړه بشپړه مطالعه او تحقیق ترسره کوي او په ځانګړې توګه له خپلو مشتریانو او اړونده ډلو څخه د مسایلو په تړاو معلومات او غبرګون اخلي او په تصمیم نیونه کې یې په پام کې نیسي. نوموړی کار د دې له پاره کیږي، چې یو خوا سازمان په خپل تصمیم کې له تېروتنو ژغوري او بل لور ته مشتریانو ته داډ حاصلیږي، چې د هغوی نیوکه او غوښتنه د سازمان له لوري اوریدل کیږي او ځانګړې توجه ورته کیږي. نو په پایله کې تلپاتې دوه اړخیزې اړیکې او همکاري رامنځته کوي.

## دریم د پروګرام جوړولو په کچه کې ( At program level)

د عامه اړیکو په وسیله د سازمان د اهدافو د ترلاسه کولو په موخه پلان جوړونه، د پروګرام طرحه او تطبیق سرته رسیږي، ترڅو هغوی د مدیریت او ټولنیزې کچې معلومات تر خپلو مشتریانو او مقابلو لوریو ورسوي. د پروګرام جوړولو په کچه کې، هغه فعالیتونه چې عامه اړیکې او د دې برخې متخصصین په کې ونډه لري، په لاندې ډول ورڅخه یادونه کیږي:

- د سازمان یا اداري د اولیتونو د وضاحت او په نښه کولو په موخه د ارتباطاتو او دوه اړخیزو اړیکو د تامین پروګرام طرحه او په کار اچول.
- د مشتریانو او Stakeholders غوښتنو او اړتیاؤ مطابق سازمان ته د پروګرام د طرحې او کمپاین د سرته رسولو په موخه سپارښتنې او لارښوونې کول. د بېلګې په ډول د وګړو او مقابل لوري په چلند او عمل کې د بدلون راوستو په موخه په ټولنیزه کچه د پروګرامونو عملي کول، د معلوماتو د خپرولو په موخه د ټولنیزو رسنیو له لارې د کمپاین سرته رسول او په انفرادي شکل د سازمان مهمو مطلوبه وګړو سره اړیکه ساتل او د سازمان د پروګرام په اړه هغوی ته اګاهي او قناعت ورکول.
- د پیژندل شوي او ازمایل شویو تجارتي علمي اساساتو له مخې د مؤثرو ارتباطي پلانونو طرحه کول، چې د ټولو پر لیکه ټولنیزو ارتباطي تکتیکونو درلودونکي وي.
- عامه اړیکې، د سازمان یا کمپنیو مشتریانو اړیکو ته په کتو سره د غبرګون ښودونکي (**Reactive**)، له وړاندې عمل کوونکي (Proactive) او مداخله کوونکي (Interactive) په صفت رول او دنده ترسره کوي.
- د سازمان د کارونو د لامؤثریت او ګټورتوب له پاره جوړ شوی پروګرام او د اړیکو فعالیتونه ارزوي.

د پروګرام جوړونې په دې برخه (level) کې د سازمان د مشتریانو او برخه والو غوښتنو او اړتیاؤ ته پوره پام کېږي، ترڅو هغوی هم په پروګرام کې شامل شي. خو نوموړې چاره سرته رسول ډېر وخت او زیار ته اړتیا لري. ځکه ویلی شو چې د ټولنیز مارکیټنګ پروګرام د دې له پاره طرحه او عملي کیږي، چې د ټولنې او مطلوبه وګړو فکر او کړنو ته تغیر ورکړل شي. د بېلګې په توګه د مارکیټنګ کولو او ساتلو له پاره د کمپاین ترسره کولو څخه هدف دا دی، چې مطلوب مشتریان د تولید په خرڅلاؤ کې همکاري وکړي او همدارنګه د مدني ټولنو له پاره کمپاین کول د پارلماني غړو په نښه کولو له پاره کیږي ترڅو د رایې ورکولو په برخه کې د هغوی ټاکل شوي اهداف تر تاثیر لاندې راوستل شي. دې ته په کتو سره هر یو پلان او پروګرام د هغوی موخې ته په کتو سره په جلا توګه ترتیب او عملي کیږي؛ څوک به په کې ښکېل وي، د شریکولو له پاره له کومو ارتباطي چینلونو او لارو څخه کار اخیستل کیږي؛ د کمپاین وخت وغیره هغه څه دي چې د پلان د ترتیب پر وخت هر یو اړخ جلا جلا په ډېرو جزیاتو سره دقیقاً سنجول کیږي.

### څلورم، په انفرادي برخه کې (At Individual level)

په سازمانونو کې په انفرادي توګه د عامه اړیکو د چارو سرته رسول هم د وړتیا او تمرین له مخې سرته رسیږي او په انفرادی توګه متخصصین د پورته ذکر شویو دریو فعالیتونو په تائید سره خپل کاري چاپیریال د ځان له پاره

ټاکي. د هغوی وړتیا او لاسته راوړنه د هغوی د فردي پرمختګ له پاره، چې په سازمان کې یې ترلاسه کوي، یوه حیاتي موضوع ده. همدې برخې ته په کتو سره ګورو چې په انفرادي کچه د عامه اړیکو کارکوونکي په سازمان کې کوم ستراتیژیک فعالیتونه سرته رسوي، په لاندې ډول توضیح کیږي:

- په انفرادي توګه هغوی د سازمان له پاره ټولې لاسته راوړنې توضیح کوي ولو که د تصمیم نیونې تر کچې پورې وي.
- هغوی په ډاګه کوي، چې په انفرادي توګه د ستراتیژۍ په جوړولو کې د عامه اړیکو متخصصین د سازمان په کارونو کې ډېره همکاري کوي، نسبت هغو پروګرامونو او کمپاینونو ته چې د عامه اړیکو فعالیت بلل کیږي. له سازمان سره ډېره همکاري او په چارو کې ونډه اخیستنه د هغوی له پاره په ټولو برخو کې ستراتیژیک اهمیت لري.
- ټول پروګرامونه او کمپاینونه د یوه پراخه مفهوم په درلودلو سره ترتیب او عملي کیږي، چې باید د سازمان په داخلي او بیروني چاپیریال کې د اهدافو لاسته راوړنکی ووسیږي.

په انفرادي توګه د عامه اړیکو متخصص د دې جوګه کیږي، چې د خپل هر ډول فعالیت توپیر وکړي او وکولی شي چې په سازمان کې بېلا بېلو موقفونو او مسؤلیتونو ته غاړه کیږدي او خپل مسؤلیتونه له یوه بل څخه جلا کړی شي(Gregory, 2021) .

## د سازمان په ستراتیژیک مدیریت کې د عامه اړیکو مسؤلیتونه (Public Relations Responsibilities in Strategic Management of the Organization)

د عامه اړیکو وظیفه دا ده چې، د سازمان له ټولو ښکېلو وګړو او واحدونو سره د یوه تفاهم په پایله کې اړیکې ټینګې کړي او نوموړې اړیکې باید د دوه اړخیزه ګټو په نظر کې نیولو سره تامین شي. هغوی باید د چاپیریال په اړه چې نوموړی سازمان په کې فعالیت کوي، فوق العاده، ژوره او منطقي اګاهي ولري. د هغوی په اړه بشپړه پوهه او چاپیریالي تحلیل د سازمان د پرمختګ په لاره کې حیاتي ارزښت لري څکه چې وګړي په همدغه چاپیریال کې ژوند کوي؛ د هغوی له نږدې پیژندنه تر هغه وخته ممکنه نه ده، ترڅو پورې یې چې په اړه ټولیزه او هر اړخیزه پلټنه او تحلیل صورت ونه نیسي.

د ادارو له مطلوبه افرادو، ښکېلو لوریو او ستراتیژیکو اړخونو سره نږدې پاتې کېدل په دې معنی دي، چې د هغوی بشپړه مطالعه وشي او د یوه ژور تجسس او پلټنې په پایله کې په حقیقي توګه د هغوی اړتیاوې، غوښتنې او محدودیتونه وغیره په نښه شي. هغه سازمانونه چې هغوی د مقابل لوري او عامه غوښتنو او هوساینې په فکر

کې نه دي، تل له ستونزو سره مخ وي خو برعکس هغه سازمانونه، چې له خپلو وګړو او مشتریانو سره دوه اړخیزه اړیکې ساتي، هغوی کولی شي په هر حالت کې له مقابلو لوریو څخه لویه ګټه واخلي (Ahmadi, 2022).

د ستراتیژیکو عامه اړیکو په فعالیت سره د عامه اړیکو متخصصین کولی شي، چې په هر ډول حالاتو کې د ټولنې او وګړو په هکله د هغوی ریښتونې اړتیاوې او اولیتونه په نښه او د سازمانونو له مشرتابه او پلان جوړونکو سره یې شریک کړي، ترڅو د سازماني تصمیم نیونې پر وخت په پام کې ونیول شي؛ د عامه اړیکو د متخصصینو کار دا دی، چې هغوی له وګړو سره د تلپاتې اړیکو د ساتلو په موخه د سازمان په سرحد کې خپله دنده ترسره کړي، ترڅو د سازمان د داخلي او بیروني اوضاع څارنه او تنظیم وکړی شي (Gilaninia, Taleghani, & Mohammadi, 2013).

د ( James E. and Larisa A. Grunig) له لوري په ۲۰۰۰ م کال کې د عامه اړیکو تلپاتې ګټو او مثبتو تاثیراتو مطالعې او څېړنې (The Study of Excellence in Public Relations) په اساس په سازمانونو او ادارو کې د عامه اړیکو د فعالیتونو او مدیریتي چارو په هکله یو غوره ماډل وړاندې کړ. Grunig د څېړنې په پایله کې دا په ډاګه کړه، چې عامه اړیکې په هغه صورت کې ډیرې مؤثرې او ګټورې ثابتیږي، هر کله چې د سازمان مطلوب یا ستراتیژیک وګړي او اړخونه د سازمان د ستراتیژیک مدیریت په چارچوب او جوړښت کې د عامه اړیکو د مسلکي څانګې (PR Department) له لوري په نښه، تحلیل، او د هغوی لپاره ځانګړي پیغامونه او پروګرامونه پلان او عملي کړل شي (Brown, 2012).

همدارنګه عامه اړیکې په سازمانون کې د د اخلي تفاهم او راوابطو مسؤلیت هم پر غاړه لري، ترڅو د سازمان د اخلي وضعیت د څار او تنظیم په موخه د کارمندانو او داخلي چارو په هکله معلومات راټول او تحلیل کړي. همدارنګه هغوی د بیروني وګړو څخه د سازمان په پالیسیو او تصمیم نیونه کې په ښه شان سره نماینده ګي وکولی شي، خو بل لور ته د داخلي افرادو او کارمندانو غوښتنو او اولیتونو ته په کتو سره چې د سازمان د اخلي غړي دي، لومړیتوب ورکول کیږي. له دې پرته د سازمان د څانګړو برخو په هکله پلټنه او تحقیق هم د عامه اړیکو د متخصصینو له لوري سرته رسول کیږي، لکه د سازمان د مالي او اقتصادي حالت او د بیروني وګړو په هکله پلټنه یا د عامه رایو (Public Opinions) په هکله پلټنه، په سازمان کې د مختلفو برخو د متخصصینو له لوري سرته رسول کیږي. د عامه اړیکو د فعالیت په ساحه کې د سازمان په ستراتیژیک مدیریت پورې تړلي ځینې فعالیتونه په لاندې ډول یادولی شو:

۱. د عامه اړیکو فعالیت ته په کتو سره، چې د سازمان په داخلي او بیروني چاپېریال کې یې سرته رسوي، د مرکزي پلټونکي واحد په توګه د معلوماتو راټولولو، تحلیل او ارزونې او بالاخره د پایلې او وضاحت وړاندې کولو مسؤلیت پر غاړه لري

۲. د سازمان په ستراتیژیکو مدیریتي چارو کې عامه اړیکې په ستراتیژیک پلان جوړونې، تصمیم نیونې او د عملي کولو په موخه د لوړ مدیریت په کچه مسؤلیت او صلاحیت ترسره کوي.

۳. همدارنګه د دوه اړخیزه مساویانه اړیکو د ساتلو په موخه له بېلا بېلو تکتیکونو او وسایلو څخه په ګټنې د مطلوبه وګړو او مقابل لوري ریښتوني معلومات رسوي، چې په پایله کې د سؤتفاهم او افواهاتو د خپرېدو مخنیوی کوي.

۴. عامه اړیکې د سازمان د ستراتیژیک پرمختګ مهمه برخه ده، چې د ژورې او هر اړخیزې تحلیلي پروسې په پایله کې د سازمان د لرلید او موخو ترلاسه کولو په منظور ټاکلي اهداف تعقیبوي؛ د ترسره شوې څېړنې او لاسته راغلو معلوماتو په رڼا کې د سازمان د پرمختګ له پاره بېلا بېلې ستراتیژۍ ټاکي او دا په ډاګه کوي، چې د لاپرمختګ له پاره له غوره بدیلونو او لارو چارو څخه ګټه واخیستل شي.

۵. عامه اړیکې د سازمان د ستراتیژیک مدیریت په موخه له مختلفو ټولنیزو رسنیزو فعالیتونو، او د رسنیزو موادو او مطالبو له تحلیل یا څېړلو (Media Content Analysis) څخه هم دا په ډاګه کوي، چې کوم مسایل او موضوعات په عامه افکارو کې ډېر د بحث وړ او ګرم مسایل (Hot Issues) دي، ترڅو په هغوی باندې تمرکز وساتل شي او د سازمان په ګټه ورڅخه کار واخیستل شي!

۶. همدارنګه د عامه اړیکو متخصصین د مسایلو او ستونزو په مقابل کې د وار له مخه تدابیر نیونکو (Proactive Body) اشخاصو په توګه د داخلي او بیروني ګواښونو په مقابل کې د سیګنال (Alert) او خبروونکي مسؤلیت ترسره کوي، نو هغوی د سازمان له مشرتابه او مدیریت سره د بیروني چاپېریال په اړه هغه معلومات او حقایق شریکوي، چې مدیریت یې په اړه هیڅ یا ډېر لږ معلومات لري.

۷. له دې پرته د عامه اړیکو د فعالیت په صورت کې سازمانونه د بېلا بېلو ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او ... بدلونونو په موخه د ټولنې په کچه د فکر له خاوندانو (Think Tanks) څخه بېلا بېل نظرونه او معلومات راټولوي او تر تحلیل وروسته هغوی د یوه منظم میکانیزم په اساس د اړونده سازمان له مشرتابه او رهبري سره شریک کیږي، ترڅو د پلان شوي بدلون په پیاده کولو کې ترې اعظمي ګټه پورته کړل شي.

۸. ټول هغه تصمیمونه، چې د سازمان په ښکېلو اړخونو، عام وګړو، مشتریانو، مصرفوونکو وغیره پورې تړلي دي، عامه اړیکې یې په اړه په بیروني چاپېریال کې د وګړو غبرګون، ښېګڼې، پیچلتیاوې او نیمګړتیاوې په نښه او له مدیریت سره شریکوي، ترڅو سازمانونه اړونده ستراتیژیک اړخونه په تصمیم نیونه کې شامل او د هغوی اړتیاوو او غوښتنو په پام کې نیولو سره په خپلو تګلارو او پالیسیو کې تغیرات راولي (Gregory, 2021).

د عامه اړیکو مخکښ عالم ګرونیګ لیکي، چې زه له ۳۵ کلونو څخه په ډېره موده کې په نړیواله کچه د عامه اړیکو مسلک د یوه علمي او څېړنیز مسلک په توګه د ودې په حالت کې وینم؛ په عمومي توګه زه باوري یم چې د عامه اړیکو د فعالیت پنځه ساحې ډیرې د پام وړ دي. لومړی دا چې عامه اړیکې د څېړنیزې پوهې او علم یو ځانګړی مسلک دی. دویم مهم دا چې عامه اړیکې د افهام او تفهیم د تخنیکي فعالیت څخه پرته ډېر د سازمانونو د ستراتیژیک مدیریت کړنې او فعالیتونه تنظیموي. دریم دا چې عامه اړیکې او اړونده متخصصین یې د سازمان لپاره د ستراتیژیکو لاربشوونکو اشخاصو په توګه د ډله ییزو رسنیو او نورو ادرسونو له لارې فعالیتونه کوي. څلورم دا چې د عامه اړیکو فعالیتونه د نارینه و په پرتله ډېری د اناثو او د مختلفو نژادونو او سیمو وګړي پرمخ وړي. او اخرنی پنځم دا چې عامه اړیکې په نني عصر نړیوالې شوې دي او د هیوادونو یا کمپنیو په محدوده کې نه دي پاتې بلکې د عامه اړیکو لپاره ټاکل شویو نړیوالو اصولو او قوانینو له مخې فعالیتونه تنظیموي (Grunig, 2001).

څکه ویلی شو چې، په اوسني وخت کې هر سازمان ته د عامه اړیکو په فعالیت سره دا جوته شوې ده، چې عامه اړیکې د سازمان د ستراتیژیک مدیریت یوه بنسټیزه برخه ده، چې د سازمان د بقا او پرمختګ په موخه په اوږد مهال کې د سازماني مدیریت او رهبري چارې تنظیموي. همدارنګه د سازمانونو رهبري او لوړ مدیریت په دې پوهیږي، چې د عامه اړیکو په مرسته کولی شو د سازمان د ستراتیژیکو عوامو او ښکېلو اړخونو غوښتنې، اولیتونه او اړتیاوې د سازمان له اولیتونو سره په توازن کې وساتو او د هغوی رضایت او ډاډ ترلاسه کړو (Grunig, 2001).

د سازمان مؤثریت په دې کې دی، چې هغوی د ټاکل شویو موخو په ترلاسه کولو کې بریالي شي او همدغه ټاکل شوې موخې له سازمان پرته د ښکېلو اړخونو، وګړو او په چاپېریال کې شته ستراتیژیکو عوامو ( Strategic Publics) لپاره هم باید د علاقې او پام وړ ووسیږي. په همدې موخه په سازمانونو کې د عامه اړیکو څانګې او متخصصین هڅه کوي، ترڅو د سازمان له ښکېلو اړخو سره د رغنده اړیکو په جوړولو سره د سازمان د مدیریت مؤثریت زیات کړي(Ipat Ramadani, 2024) .

د ستراتیژیکو عامه اړیکو او د غوره مدیریت اصل ته په کتو سره سازمانونه کولی شي، چې د همدغو ستراتیژیکو اړخونو او وګړو غوښتنې او موخې په خپله کاري اجنډا کې شاملې کړي، ترڅو په اوږد مهال کې د سازمان د ټاکل شوي لرلید او موخو ترلاسه کول یقیني کړل شي. خلاصه دا چې د عامه اړیکو د ستراتیژیکو فعالیتونو په تنظیم او عملي کولو سره سازمانونه کولی شي، د خپلو مشریانو، مطلوب وګړو او عوامو رضایت او ډاډ ترلاسه

کړي او په پایله کې د سازماني موخو او ګټو د ترلاسه کېدو تضمین وکړي او په ضمن کې هغه مصارف، چې په اعلاناتو، تبلیغاتو او د کارمندانو په روزنه باندې یې کوي، څخه هم مخنیوی وکړي (Grunig, 2001).

## په سازمان کې د عامه اړیکو د متخصص مسؤلیتونه ( Responsibilities of a PR Practitioner (in an Organization

د امریکا متحده آیالاتو د کارمندانو د دولتي اداري د احصائیې له مخې په ۲۰۰۸ م کال کې په دې هیواد کې د عامه اړیکو د کارمندانو او مسلکیانو شمېر په تخمیني توګه ۲۷۵۲۰۰ تنه و، چې دغه شمېره په همدې حساب په ۲۰۱۸ م کال کې د ۲۴٪ په زیاتوالي سره اټکل شوې وه، چې شمېر به یې ۳۴۱۳۰۰ تنو ته ورسیږي. همدارنګه د عامه اړیکو په مسلک کې د ګمارل کېدونکو کارمندانو په اړه د ۲۰۱۰- ۲۰۱۱ ګڼې په اساس به تر ۲۰۱۴ م کال پورې د عامه اړیکو متخصصین او مسلکیانو استخدام او ګمارنه په سازمانونو کې د مدیریت او معلوماتو درج کوونې په برخه کې تر نورو ټولو برخو د پام وړ زیاته وي. (Brown, 2012)

د یوه سازمان له پاره د هغه ستراتیژي، له ډېر تحلیل او بحث وروسته د یوه کلي تصمیم په پایله کې جوړیږي. په دې مرحله کې ټول تمرکز په دې کیږي، چې څرنګه د همدغې ستراتیژۍ له مخې خپل لرلید حقیقي او یقیني کړل شي او په کومو امکاناتو سره خپل اهداف ترلاسه کولی شو؟ نوموړی تحلیل چې د سازمان د مشرتابه او کاري ډلې له خوا ترسره کیږي، د هر اړخیز او ازاده بحث په صورت ادامه پیدا کوي؛ هغوی خپل وړاندې کیدونکي نظرونه غني کوي؛ ازمایل کیږي یا له سره اصلاح کیږي او یا هم په بشپړه توګه رد کیږي. په دې ټوله پروسه کې بحث په دې کیږي، چې د سازمان د لرلید (Vision) د پیژندنې او جوړولو په موخه یو تګلوری (Route map) وټاکل شي، ترڅو سازمان په دوامداره توګه هغه تعقیب او ترلاسه کړي. په دې کار کې سربېره د سازمان له داخلي افرادو، بیروني اشخاص هم ګډون او همکاري کولی شي.

د هر اړخیز بحث او زیات تحلیل څخه وروسته طرحه شوې ستراتیژي له مقابلو لوریو، مطلوبه وګړو، سهم لرونکو او نورو کلیدي اشخاصو سره شریکه او د هغې په اړه بشپړ معلومات ورکول کیږي او د غبرګون په صورت کې تفاهم ته رسیږي، ترڅو د تطبیق په موخه د هغوی ملاتړ ترلاسه کړي. په دې وخت کې د عامه اړیکو متخصص تر نورو ټولو اړخونو مهم او غوره مسؤلیت سرته رسوي. هغه هڅه کوي، چې هم نوموړې ستراتیژي عملي کړي او هم په وګړو کې عامه پوهاوی او ترمنځ یې تفاهم رامنځته کړي (Gregory, 2021).

په سازمانونو کې د عامه اړیکو متخصصینو مسؤلیت ته په کتو سره ویلی شو، چې هغوی د عامه اړیکو په برخه کې مسؤلیت لري چې په بېلا بېلو وختونو کې بېلا بېلې مسلکي چارې او مسؤلیتونه ترسره کړي؛ د عامه اړیکو

متخصص یا مسلکي شخص د لیکنې، ډیزاین، د څېړنې او تحلیل، د اړیکو رغونې مهارت، مدیریت، وړتیا، رسنیزو فعالیتونو او نورو ډېرو اړونده چارو د ترسره کولو وړتیاوې باید ولري. د عامه اړیکو د متخصصینو یو مهم مسلکي مسؤلیت د څېړنې ترسره کول او د شته ستونزو لپاره د حل په موخه د یوه جامع او مؤثر پلان تنظیم او عملي کول دي. په دې ځای کې هغه څه، چې د عامه اړیکو په مسلکي او متخصص پورې تړلي دي، په لاندې ډول ترې یادونه کیږي:

**په عامه اړیکو کې څوک څه شی کوي؟ (Who does what in Public Relations?)**

په سازمانونو کې د عامه اړیکو رول په اړه د Glen Broom او David Dozier له لوري اساسي کار ترسره شوی دی، چې په دې برخه کې د نور تحقیق او پرمختګ له پاره اساس بلل کیږي. هغوی د خپل کار په پایله کې دوه لوی کارونه، چې عامه اړیکې یې سرته رسوي، په ګوته کړل چې په لاندې ډول یې وضاحت کیږي.

i.	**د روابطو مسؤل او تخنیکر (The Communication Technician)**

د دې برخې متخصص د سازمان په تصمیم نیونه کې دخیل نه وي او نه هم په دې مسایلو کې مسؤلیت لري، بلکې هغوی به د عامه اړیکو پروګرامونه پرمخ وړي لکه د مطبوعاتي کنفرانسونو لیکل، تصحیح، د سازمان له لوري د خپرېدونکو مطالبو او مجلو تصحیح، نشر او د ویبپاڼو ډیزاینول او داسې نورې چارې، چې د معلوماتو او اعلاناتو له خپرولو سره تړاؤ لري، په برخو کې خپله وړتیا په کار اچوي. یاد شخص د سازمان له لوري تحقیق په سرته رسولو او دپروګرامونو په ارزولو کې هم مسؤلیت نه لري، بلکې هغه به یوازې د پروګرامونو په عملي کېدو او تطبیق کې ونډه اخلي.

ii.	**د روابطو مدیر (The Communication Manager)**

د دې برخې مدیر د عامه اړیکو پروګرامونه پلان او تنظیموي او د اړونده کاري ډلې په شمول مدیریت ته لارښوونې او سپارښتنې کوي؛ د ارتباطاتو پالیسي، تصمیمونه او نورې اړونده چارې ترسره کوي. او په دویمه کتګورۍ کې د مدیر درې نوې مهمې دندې او مسؤلیتونه هم شته، چې هغه یې سرته رسوي او په لاندې توګه ورته اشاره کیږي:

iii.	**د متخصصینو په نښه کوونکی (The expert prescriber)**

د متخصصینو ټاکونکی د سازمان له پاره تحقیق سرته رسوي او د سازمان ستونزې په نښه کوي؛ د عامه اړیکو پروګرامونو ته پرمختیا ورکوي او د نورو ښکېلو او کاري ډلو په مرسته یې د تطبیق تر مرحلې رسوي.

### iv. د اړیکو د اسانتیاؤ برابرونکی (The Communication facilitator)

نوموړی د سازمان او د هغه د مطلوبه وګړو ترمنځ د دوه اړخیزه روابطو د ټینګولو په موخه د منځګړي (Mediator) په حیث فعالیت لري. د هغه مسؤلیت د هغوی ترمنځ منځګړیتوب، مداخله او همکاري کول دي، چې د بېلا بېلو لارو په پیدا کولو سره دوه اړخیزه ارتباطي چینل ته وده او دوام ورکوي.

### v. د ستونزو د حل پروسې د اسانتیاؤ برابرونکی یا د ستونزو د حل لارو برابرونکی (The problem-solving process facilitator)

نوموړی شخص له سازمان سره د عامه اړیکو په برخه کې د شته او رامنځته کېدونکو ستونزو او شخړو په حل لارو باندې کار کوي. نوموړی شخص د عامه اړیکو د پلان په جوړولو او عملي کولو کې د مشوره ورکونکي او لارښوونکي په صفت خپله دنده سرته رسوي. نوموړی رول زیاتره وخت د عامه اړیکو د پروګرام د طرحې او عملي کولو د څانګړو او مسلکي ادارو (Consultancies) له لوري سرته رسیږي.

د عامه اړیکو د فعالیتونو په هکله David Dozier دوه نور د منځنۍ کچې فعالیتونه هم په ډاګه کوي، چې د مدیریت (Management) او د عامه اړیکو د تخنیکي ډلې یا څانګې ترمنځ قرار لري. نوموړي فعالیتونه په لاندې ډول واضح کیږي:

### ۱. د رسنیزو اړیکو د ټینګولو په برخه کې ونډه او رول (Media Relations Role)

نوموړی فعالیت هم د دوه اړخیزو اړیکو فعالیت دی، چې افراد رسنۍ د سازمان له اړتیاؤ، غوښتنو او اندیښنو څخه خبروي. دغه یوازې له سازمان څخه رسنیو ته د معلوماتو انتقال نه دی، بلکې په دې سره د رسنیزو فعالیتونو څېړنه او تحلیل سرته رسیږي، چې لوړې مسلکي پوهې او تجربې ته اړتیا لري. نوموړی فعالیت زیاتره وخت د هغو متخصصینو له لوري سرته رسیږي، چې هغوی له ژورنالیزم څخه وروسته د عامه اړیکو په برخه کې هم زده کړې او مسلکي پوهه ترلاسه کړې وي خو که چېرې یو ژورنالیست د عامه اړیکو په دنده باندې وګمارل شي، د هغه فعالیت به په رسنیزو اړیکو ټینګولو او سرته رسولو باندې راڅرخي.

### ۲. د ارتبارطاتو ساتل او همکاري کول (Communication and Liaison role)

په لویه کچه عامه اړیکې د سازمانونو په پلان شویو برنامو او غونډو کې نماینده ګي او د هغوی فعالیت له پاره په خلکو کې مثبت انځور خپروي او په دې ډول له مدیریت سره مرسته کوي، ترڅو د سازمان داخلي او بیروني افرادو سره مثبتې اړیکې تامین شي. د مدیریت د لوړې کچې رول او فعالیتونه له یوه سازمان څخه په بل کې توپیر لري. د لویو سازمانونو په ټیټه کچه کې فعالیتونه د تخصصي وظایفو (Task-oriented) پر بنا ویشي او

ډلبندي کوي؛ یو تخنیکي مسلکي شخص به یوازې د سازمان ژورنال یا خپرنیزې مجلې له پاره لیکنه کوي او په نورو چارو کې مسؤلیت او صلاحیت نه لري خو په نورو سازمانونو کې شاید هغوی ډېرې نورې لیکنیزې چارې پرمخ یوسي لکه د بېلګې په توګه د ویبپاڼې له پاره لیکنې، د ویناؤ، غونډو او نورو ځانګړو مراسمو له پاره تحریري چارې د هغه مسؤلیت جوړیږي. په ځانګړې توګه په هغو سازمانونو کې، چې هلته د عامه اړیکو چارې د فعالیتونو (Functional-oriented) پر بنسټ ویشل شوې وي او یا هم په کوچنیو سازمانونو کې یو شخص ډیرې چارې سرته رسولی شي.

په منځنۍ کچه کې د عامه اړیکو متخصصین د رسنیزو اړیکو د ټول پروګرام له پاره مسؤل دي یا شاید د دواړو چارو لپاره (د رسنیزو او کارمندانو سره د اړیکو) په برخه کې مسؤل ووسیږي. ځینې ښايي یوازې د تحقیق (Research) یا پلان جوړونې د برخې د متخصص په توګه وګمارل شي، چې د پروګرام په تطبیق کې ډیره لږه ونډه اخلي؛ یا شاید هغوی د مالکیت اجرآت وکړي، چې د ډیرو پروګرامونو د جوړونې او عملي کولو مسؤلیت پر غاړه لري. کله چې عامه اړیکې د سازمان په لوړه کچه کې فعالیت او صلاحیت ولري نو په دې وخت کې د دې برخې کارکوونکي او مدیران ټول پروګرامونه پلانوي او لوړ مدیریت ته د پالیسي او تصمیم نیونې په برخه کې مشورې او لارښوونې کوي او همدارنګه د منځنۍ او لاندینۍ برخې ټول متخصصین او کاري ډلې تر خپل نظارت او لارښوونې لاندې اداره کوي (Gregory, 2021).

په عمل کې د عامه اړیکو ډیری فعالیتونه د تخنیکی غړو او مدیریت په ګډو هڅو سرته رسیږي او ډیری مدیران د مدیریت څو ګونې چارې په یوه وخت کې سرته رسوي. او هم هغه کاري ډلې، چې د سازمان په بېلا بېلو کچو او موقفونو کې فعالیت کوي، د پروګرامونو په تطبیق کې خپله ونډه اخلي.

Dozier & Broom هم د مدیریت د لوړپوړي مشاور (Senior Advisor) رول په ډاګه کړی. هغوی وایي چې نوموړی په لوړه کچه Chief Executive Officer یا Chair of the Board ته په مسایلو کې لارښوونه کوي. هغوی د فعالیت یوه پراخه ساحه لري، خو لومړی مسؤلیت یې دا دی، چې په خپله ځانګړې کاري محدوده کې ترلاس لاندې کاري ډلې او افراد سوق او اداره کړي.

همدارنګه ځینې نور فعالیتونه چې د عامه اړیکو په متخصصینو او کارمندانو پورې تړاؤ لري، په لاندې توګه ورڅخه یادونه کولی شو:

۱. له مامورینو یا کارمندانو سره اړیکې او ارتباطات تنظیمول (Managing Employees communication)
۲. د داخلي او بهرنیو خپرنیزو توکو تنظیم (Managing Internal and External Publications)
۳. له ټولنې سره د اړیکو جوړول (Building Community Relations)
۴. له رسنیو سره د اړیکو ساتل (Building Media Relations)
۵. بازار موندنه (Support to Marketing)
٦. د عامه اړیکو له پاره د بودیجې سنجول او ټاکل (Public Relations Budgeting)
۷. د سازمان د مالي چارو ملاتړ او همکاري کول (Supporting Financial Operations)
۸. د عامه اړیکو د اداري ترمنځ همغږي رامنځته کول (Public Relations Agency Coordination)
۹. د ویبپاڼې د تنظیم مسؤلیت (Webpage Management)(Sachdeva, 2009).

په اوسنیو وختونو کې ښاغلي (Moss, Newman & De Santo) د خپل کیمي تحقیق په اساس، چې په امریکا او انگلستان دواړو هیوادونو کې یې سرته رسولی، د پایلو له مخې پنځه عناصر، چې په سازمان کې د عامه اړیکو د فعالیت ساحه بلل کیږي، په نښه شوي دي. له هغوی یې څلور ډېر له مدیریت او اداري سره تړاؤ لري، چې عبارت له؛ څار او ارزونه؛ د سازمان او نوم او مقام ګټلو او اړیکو په برخه کې د لاسته راوړنو څارنه او ارزول؛ د پالیسی او ستراتیژۍ جوړولو په برخه کې کلیدي لارښوونکی او مشاور؛ د ستونزو رفع کوونکی یا حلوونکی (Trouble shooter) او د مسایلو او ستونزو د مدیریت متخصص په توګه د اجرآتو کول. هغوی دا هم ومونده چې آن ډېر باتجربه مدیران او متخصصین ځینې تخنیکي کارونه هم سرته رسوي، کله چې د سازمان له پاره حالات ډیر پیچلي وي، د بېلګې په توګه د تصدیو یا شرکتونو د ګټې لاسته راوړلو په هکله د تجارتي نړۍ د باتجربه اشخاصو سره معامله او اړیکې ساتل دې ته اړتیا لري، ترڅو د سازمان له لوري باتجربه شخص د سازمان په نماینده ګۍ اړیکې ټینګې او توافقنامه ورسره لاسلیک کړي (Gregory, 2021).

په ۲۰۰۹م کال کې د ارتباطاتو ډایریکټر د سروې له مخې ٦۴ سلنه د سازمان لوړپوړي چارواکي (Chief Executive Officers) د سازمان ستراتیژۍ ته تغیر ورکوي او تجارتي اهداف تعقیبوي. د دې سروې له مخې ثابته شوه، چې یوازې دریېمه برخه د عامه اړیکو له کارمندانو دا مسؤلیت نه لري، چې هغوی دې د سازمان په پالیسیو او تصمیمونو کې دخیل ووسي. له دې پرته نور ډیر شواهد شتون لري، چې ګواکې هغوی په یو نه یو ډول د سازمان په پالیسیو او ستراتیژیو کې ونډه لري. په سازمانونو کې د مسایلو پیچلی حالت د دې سبب شوی،

چې د عامه اړیکو مسلکیان او متخصصین د ستونزو د هوارۍ په موخه په اړونده تخصصي برخو کې مسلکي وړتیا او تجربه ترلاسه کړي. دې کار د عامه اړیکو په علم او ډیسپلین کې د تخصص تقاضه زیاته کړې ده او په اوسنیو شرایطو کې ډېرې نماینده ګۍ (Consultancies) په بېلا بېلو برخو مسلکي کادرونه لري او د اړتیا پر وخت یې په کار اچوي. د بېلګې په ډول د ښکلا (Fashion)، لمانځنې (Celebrity) او یا هم د انلاین عامه اړیکو د برخې جلا جلا متخصصین لري. له دې پرته لویې کمپنۍ او شرکتونه په خپل داخلي جوړښت کې د عامه اړیکو د مختلفو برخو د متخصصینو ځانګې لري، چې هغوی د سازمان چارې په ډېره مسلکي توګه سرته رسوي لکه د دولتي چارو د سرته رسولو، له مشتریانو سره اړیکې، د رسنیزو اړیکو او یا هم د مصرفوونکو د چارو د تنظیم له پاره ځانګړي اشخاص په کار ګمارل کیږي.

په اوسني وضعیت کې د عامه اړیکو تخنیکي کاري ډلې او اشخاص او د هغوی اړونده فعالیتونه د سازمانونو له پاره د ډېر ارزښت لرونکي دي. په همدې اساس په سازمانونو کې د ننه د عامه اړیکو مختلفو مشورتي او لارښوونکو ځانګو (Consultancies) ته اړتیا لیدل کیږي، ترڅو هغوی د سازمان تر ټولو لوړ اجرائیوي مرکزي بورډ یا کمېټې ته په چارو کې مشورې او سپارښتنې وکړي. په دې توګه د عامه اړیکو د دایمي کاري ډلې درلودل کولی شي د سازمان له پاره نوم وګټي او هم ورته اقتصادي تمام شي او تر ټولو مهمه یې لا دا چې د هغوی په شتون سره سازمان په دوامداره توګه د اهدافو د ترلاسه کولو په لور د یوه منظم پلان له مخې حرکت کولی شي او د یوه صلاحیت لرونکي واحد په توګه یې چارې سمبالوي (Gregory, 2021).

### د ستونزو مدیریت او د بحران پر وخت اړیکې ساتل (Issues Management and Crisis Communication)

د دې لپاره، چې په سازمانونو کې د عامه اړیکو په مرسته د بحران یا کړکېچ مدیریت او د کړکېچ پر وخت د اړیکو تنظیم په اړه معلومات وړاندې کړو اړینه ده، چې لومړی په سازمانونو او ادارو کې کړکېچ یا بحران وپېژندل شي.

اوول آر هولستي (Ole R. Holsti) بحران داسې تعریفوي:" بحران د ادارې او سازمان لپاره له هغه وضعیت او حالت څخه عبارت دی، چې د حیرانتیا، په لویه کچه د ګواښ او د تصمیم نیونې لپاره لنډ او تنګ وخت صورت ونیسي". د بحران په اړه ورته نظر د Thierry C. Pauchant and Ian I. Mitroff له لوري هم وړاندې شوی دی؛ هغوی لیکي، چې بحران هغه ناوړه او ګډوډ حالت دی، چې سازمان او سیستم په فزیکي توګه ګواښي، د هغه لرلید، موخې او پایښت یې ټکنی کوي. هغوی له دې پرته د بحران او کړکېچ تاثیرات په درېیو اړخونو کې بیانوي؛ لومړی د کړکېچ په وسیله د ادارې قانوني حیثیت او حقوق له ګواښ سره مخ کیږي، دویم د کړکېچ په صورت کې د یوې ادارې یا سازمان ستراتیژیک ماموریت په وروسته تګ باندې مجبوریږي،

یعنې د مخ پر وړاندې تګ پر ځای اداره شاتګ کوي او درېیم دا چې د کړکیچ په صورت کې اداره او سازمان د خپل لرلید او نړۍ لید څخه منحرف کیږي او نه شي کولی، چې ټاکل شوی مسیر تعقیب او ترلاسه شوی موقف ووینې.
همدارنګه د Laurance Barton په قول، کړکېچ هغه مهم غیر اټکلیزه حالت دی، چې رامنځته کېدل یې په سازمان باندې اوږدمهالې منفي اغیزې پریباسي. نوموړی حالت د سازمان مدیریت او رهبري، د هغوی کارمندانو، تولیداتو، خدماتو، مالي حالت، او رقابت ته سخت ګواښونکی او زیان رسونکی دی (Guth, 1995).

د کړکېچ په رامنځته کېدو سره یوه سازمان یا ادارې ته عموماً درې ډوله زیانونه رسیږي چې عبارت له : لومړی د کاري ځواک زیانمن کېدل، دویم د مالي زیان اوښتل او درېیم هم د سازمان د نوم، شهرت او موقف زیانمن کېدل دي.

د کړکیچ پر وخت د سازمان او بیروني چاپیریال او په ځانګړې توګه له ستراتیژیکو اړخونو او وګړو سره د اړیکو ساتل او تفاهم رامنځته کول ډیر اړین دي. هر کله چې سازمان له دې حالت سره مخ شي، د عامه اړیکو کاري ډلې او متخصصینو ته په کار ده چې هغوی د ستونزې په درک کولو سره سمدستي د وضعیت د کنټرول په موخه حل لارې او ستراتیژۍ وټاکي او د مطلوبه ستونزو د حل په موخه بېلا بېل پیغامونه ترتیب، او د مؤثرو وسیلو په کارولو سره یې تر ټاکل شویو ادرسونو او وګړو ورسوي. د کړکېچ په مدیریت کې د یادو فعالیتونو ترسره کولو په موخه د اړیکو تنظیم ته اړتیا لیدل کیږي، چې د یوه مسلکي او متخصص شخص په شتون کې یې علمي کول شوني دي. د کړکېچ پر وخت اړیکې یا ارتباطات د ستراتیژیک پلان جوړونې او د افهام او تفهیم له هغې پروسې څخه عبارت دي، چې د سازمان د مالي رکود، د نوم او عتبار زیانمن کېدو، د مادي او معنوي زیانونو، ... ستونزو او بحران د مدیریت په موخه د عامه اړیکو د متخصصینو له لوري په سیستماتیکه توګه عملي کیږي (Brown, 2012).

د سازمان لپاره مهمه دا ده، چې د ستراتیژیک مدیریت اصولو او اساساتو په نظر کې نیولو سره د عامه اړیکو مسلکي او تخصصي کارمندان د مدیریت په کچه په دنده وګماري او هغوی ته لوړ مسؤلیتونه وسپاري، ترڅو هغوی د سازماني اهدافو او لرلید په نظر کې نیولو سره وکولی شي، سازمان له اټکلي ګواښونو، ستونزو او په ځانګړې توګه له بحراني حالت او کړکېچ څخه وژغوري. په دې ځای کې د کړکېچ د مخنیوي په موخه اړینه چې د ستونزو مدیریت په اړه هم یو څه توضیحات وړاندې کړل شي:

**د ستونزې مديريت (Issue management):** د ستراتيژيک مديريت او د ستونزو د مخنيوي هغه پروسه ده چې په وسيله يې د سازمان د فعاليت په وړاندې په ټولنيز او سياسي چاپيريال کې پيښېدونکې ستونزې، گواښونه، او بدلونونه په نښه او هغوی ته مناسبې حل لارې ټاکي. د ستونزې مديريت د کړکېچ له مديريت سره توپير لري؛ د ستونزې په مديريت کې د عامه اړيکو مسلکيان او مديريت بايد وړاندې له دې چې يوه ستونزه رامنځته شي، د ستونزې د مهار او مديريت په لټه کې شي او ستونزه غټېدو ته پرې نه ږدي، چې ډول عمل ته له وړاندې عمل (Proactive) کول دي. خو د کړکيچ پر مهال مديريت د ستونزې د تنظيم او کابو کولو په موخه د عکس العمل (Reactive) په صورت کې له بېلا بېلو حل لارو څخه په گټنې د کړکېچ د مهارولو هڅه کوي.

د ستونزې جريان (Issue Life Cycle) کولی شو د دې چارټ له مخې توضيح کړو:




3https://www.google.com/search?sa=N&sca_esv=a56365fc73be1e3b&udm=2&cs=0&sxsrf=ADLYWILGF3eYd_0Orn5TBB0W6Mzy0dUejA:1733253658923&q=crisis+life+cycle&stick=H4sIA

که څه هم د ستونزې په مديريت سره سازمان کولی شي، چې ستونزې په کړکيچ يا بحران بانديې له بدلېدو وړاندې مديريت کړي خو نوموړې چاره هم د يوې سيستماتيکې پروسې زيږنده ده چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

**د ستونزې مديريت جريان (Issue Management Life Cycle):** د ستونزې مديريت جريان او پروسه د ځانگړو پړاوونو په وهلو سره د حل مرحلې ته رسيږي، چې عبارت دي له:

۱. **د ستونزې په نښه او پېژندل (Identifying the problem):** په دې مرحله کې د عامه اړيکو متخصصين د سازمان د داخلي او بيروني چاپيريال اړونده ټولو مسايلو او ستونزو ته ځېرک وي؛ هره لويه او کوچنۍ ستونزه او مسله د يوې ستونزې په توگه درج کوي او هڅه کوي چې د يادې ستونزې په اړه هر اړخيزه پلټنه وکړي.

۲. د ستونزې د تاثيراتو پيژندل (**Tracking the problem**): په دې مرحله کې مديريت هڅه کوي، چې د ستونزې په تړاؤ په ټولنه کې د وگړو او بېلا بېلو اړخونو څخه د معلوماتو په راټولولو سره دې پايلې ته ورسيږي، چې ياده ستونزه په ټولنه کې څومره مطرح يا مهمه ده او خلک يې په اړه څه نظر لري، څه کول غواړي او تاثيرات يې په کومه کچه دي؟

۳. د ستونزې څېړنه او تحليل (Analyzing the Problem): په دې مرحله ستونزه په هر اړخيزه توگه تحليل کيږي او د حل په موخه يې بېلا بېلې حل لارې په نښه کيږي.

**۴. د ستونزې حل (Resolve the issue):** په دې پړاو کې د ستونزې د مخنیوي او له منځه وړلو په موخه حل لارې وضع او عملي کیږي، ترڅو یاده ستونزه په بنیادي ډول ختمه شي او په راتلونکې کې په کړکېچ بدله نه شي (Rockey, 2023) .

د پورته ذکر شویو پړاونو په تعقیب سره کېدلی شي ځینې ستونزې مدیریت او له منځه یووړل شي خو ځینې ستونزې ښایي په طبیعي او غیر طبیعي توګه رامنځته شي؛ او هغوی د سازمان لپاره په یوه کړکیچ او بحران باندې بدلې شي. په هر صورت هر کله چې یوه معمولي ستونزه په لومړیو کې مدیریت نه شي، ښایي هغه د بحران حالت ته ورسیږي او یا هم ښایي بېلا بېل مسایل په یو ناڅاپي توګه رامنځته شي او د سازمان د مالي، انساني او سازماني بحران سبب وګرځي. هر کله چې یو سازمان له بحران سره مخ شي، دې وخت کې اړینه ده، ترڅو د عامه اړیکو اړونده مسلکي فعالیتونه او ستراتیژۍ په کار واچول شي او په مرسته یې رامنځته شوی بحران مدیریت کړل شي. اوس هم د بحران د رامنځته کېدو او مدیریت جریان او پړاؤنو څخه بحث کوو:

**د بحران د جریان پړاؤنه (Crisis Life Cycle):** بحران چې د یوې ادارې او سازمان په فعالیتونو، لاسته راوړنو، شهرت او رقابت باندې اوږدمهالی منفي اغیز پریباسي، د دریو ځانګړو پړاؤنو په وهلو سره د مدیریت مرحلې ته رسیږي چې عبارت دي له:

۱. د بحران له پیښېدو وړاندینی پړاؤ او وضعیت (Pre-crisis Phase): په دې پړاؤ کې بحران په اصغري حالت کې جریان لري؛ شدت او د زیان تاثیرات یې لږ وي. په دې پړاؤ کې مدیریت د ممکنه حل لارو په کارولو سره ښایي بحران مدیریت کړل شي او د زیات زیان د رامنځته کېدو څخه مخنیوی وشي.

۲. د کړکېچ یا بحران تاثیرات او د زیان مرحله (Crisis Impact Phase): دا هغه مرحله ده، چې یو بحران د اوج مرحلې ته رسېدلی وي، او مدیریت هڅه کوي، چې د بېلا بېلو حل لارو په عملي کولو سره یې تاثیرات او زیانونه راکم کړي. په دې وخت کې هم د عامه اړیکو اړونده ستراتیژیو او تکتیکونو څخه په ګټنې هڅه کیږي، چې د زیان او د منفي تاثیراتو د مخنیوي لپاره له ګټورو وسیلو څخه کار واخلي.

۳. د بحران یا کړکېچ د مدیریت پړاؤ (Crisis Recovery Phase): په دې پړاؤ کې هڅه کیږي، چې سازمان بېرته پخواني حالت ته راوستل شي، په ټولنه او مارکېټ کې خپل نوم او موقف ترلاسه کړي او د مشتریانو او وګړو باور هم وساتي (Rockey, 2023).

د بحران پر وخت دوه چارې ډېرې اړينې دې، چې بايد ترسره يې کړو؛ لومړی د ارتباطاتو ساتل او دويم د زيان او وضعيت په اړه ځان ډاډمن ښودل، ترڅو د زيان کچه لږه وښودل شي. يادې دواړه چارې د بحران د مديريت پر وخت لازم او ملوزم دي چې په لاندې ډول ورڅخه يادونه کوو:

لومړی د ارتباطاتو او تفاهم ساتل(To Communicate): له ارتباطاتو او اړيکو ساتلو څخه موخه دا ده، چې هر ډول معلومات چې ښکېلو اړخونو، رسنيو او عام ولس لپاره اړين وي، بايد ورسره شريک کړل شي او له هغوی هيڅ پټ ونه ساتل شي.

دويم د معلوماتو په ورکولو کې ډاډمن اوسېدل (To Containment): د وضعيت، زيانونو، تلفاتو او منفي تاثيراتو د ښودلو او وړاندې کولو په وخت بايد هڅه وشي، چې د مديريت د مورال او موقف ساتنې په موخه وضعيت او حالت د ډاډ وړ وښودل شي، ترڅو د سازمان په اړه د منفي شايعاتو او تاثيراتو کچه راکمه کړل شي. له دې پرته درې نور عناصر لکه: د بحران په اړه د بشپړو جزياتو او هر اړخيزو معلوماتو درلودل، عاطفه خواخوږي او د مسؤليت درک او په غاړه اخيستل هم بايد د بحران پر وخت په نظر کې ونيول شي (Regester, 2008).

په پايله کې ويلی شو، چې ستراتيژيکې عامه اړيکې د يوه سازمان د لوړ مديريت سره د همکار سيستم په توګه حياتي او ستراتيژيکې مديريتي چارې ترسره کوي؛ د سازمان د هر اړخيز وضعيت مطالعه، څېړنه او تحليل کوي، په داخلي او بيروني چاپيريال کې شته ننګونې او د ضعف اړخونه په نښه کوي او د شته فرصتونو او قوي اړخونو څخه په ګټې ترې سالمه ګټه اخلي. همدارنګه د سازمانونو او ادارو په ساتنه، پرمختګ او پايښت کې د عامه اړيکو ونډه د دې ښکارندويي کوي، چې د سازماني مديريت سره تړلې مهمې او بنسټيزې موخې د ستراتيژيکو عامه اړيکو په وسيله ترلاسه کېدلی شي.

**پايله (Conclusion)**

د نننۍ نړۍ په دې رقابتي دور کې هر ډول سازمانونه، حکومتونه، سوداګريز بنسټونه، دولتي او غيردولتي، انتفاعي او غير انتفاعي ارګانونه او ... اړ دي، چې د خپل فعاليت، ګټو او موخو د خوندي ساتلو لپاره د خپلو ستراتيژيکو اړخونو ( مشتريانو، مطلوب وګړو، ښکېلو اړخونو او مقابل لوري) غوښتنې، اړتياوې او اوليتونه پخپلو فعاليتونو کې خوندي کړي او د هغوی رضايت او ډاډ ترلاسه کړي؛ په عين حال کې هغوی ته دا هم ډېره اړينه ده، ترڅو سازمانونه ښکېل اړخونه د فعاليتونو په اجرا کې دخيل وساتي، آن تر دې، چې هغوی د سازمان د لوړ مديريت په تصميم نيونه کې هم شامل کړي. دا ځکه چې د سيالۍ په اوسني دور کې د مقابل لوري ډاډ ترلاسه کول دوه اړخيزه او مساويانه اړيکو او د ګټو خونديتوب په پايله کې صورت نيسي او عامه اړيکې د خپل فعاليت په ساحه

کې د دوه اړخیزه مساویانه اړیکو له ماډل او نسل څخه په ګټنې کولی شي د یوه سازمان د فعالیت پرمختګ او د پایښت تضمین وکړي.

سازمانونه او ادارې د عامه اړیکو له ګڼورو ستراتیژیو او فعالیتونو څخه په استفادې خپلې ګټې او دوامداره پرمختګ ساتنه کوي. د انګلستان په زیاتره ادارو کې د عامه اړیکو متخصصین د ستراتیژیکو وګړو او ښکېلو لوریو په تحلیل سره د پیغام رسونې او اړیکو ساتنې مختلفې ستراتیژۍ کاروي. د (Moss, 2018) د څېړنې په پایله کې دا په ډاګه شوه، چې په انګلستان کې د عامه اړیکو ٪۷۲ متخصصین د ښکېلو اړخونو سره د دایمي او دوه اړخیزه اړیکو ساتنې په موخه د پرلیکه ټولنیزو رسنیو له لارې ټاکل شوي پیغامونه او معلومات خپروي (Kyalo, 2024).

همدارنګه په جاپان کې د عامه اړیکو ستراتیژۍ د کلتوري ارزښتونو او د ټولنیزو توقعاتو تر ژورې اغېزې لاندې دي، ترڅو د متقابلو لوریو ترمنځ پوهاوی، جوړجاړی او د اړیکو ثبات رامنځته شي. د ( Sasaki & Ranta, 2016) د څېړنې له مخې جاپاني کمپنۍ د خپلې ټولنې ارزښتونو او غوښتنو په اساس د لرې ګټې په مقابل کې د اوږدمهاله اړیکو جوړولو ته لومړیتوب ورکوي. د بېلګې په توګه، د ټولنې په وړاندې د سازمانونو مسؤلیت (Corporate Social Responsibility) ترسره کولو په موخه د ټیوټا، پاناسونیک کمپنیانې په چاپیریال ساتنه او د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخلي او د ټولنې د ارزښتونو او غوښتنو په ساتلو سره د خپلو سازمانونو او کمپنیو د برانډ او نوم ساتنه هم کوي. بناءً د عامه اړیکو د یادو ستراتیژیو مؤثریت دا په ډاګه کوي، چې سازمانونه د عامه اړیکو د بېلا بېلو ستراتیژیو په وسیله د ټولنې د ارزښتونو په پاللو سره د ښکېلو اړخونو ډاډ، وفاداري او باور ترلاسه کولی شي (Kyalo, 2024). همدې ته ورته د نړۍ په مختلفو هیوادونو کې سازمانونه او کمپنۍ د عامه اړیکو د فعالیت پر وخت له هغو ګڼورو او غوره ستراتیژیو څخه ګټه اخلي، کومې چې د نورو په پرتله ټولمنلې او تاثیر لرونکې وي.

خلاصه دا چې، عامه اړیکې د تولید او خدماتو د کیفیت ساتنه کوي او په دې ترتیب د سازماني موخو په ترلاسه کولو کې له مدیریت سره همکاري کوي؛ په چارو کې شفافیت او مسؤلیت رامنځته کوي، د مشتریانو حقونو ساتنه کوي، د دولت او ادارو مسؤلیتونه او وجایب په نښه کوي او د چارو وړ او اهل کارمندان په ټاکلې وظیفه باندې ګماري. په سازمان کې د عامه اړیکو له فعالیت څخه هدف دا دی، چې د سازمان او مقابلو لوریو ترمنځ دوه اړخیزه او مساویانه اړیکې تنظیم شي او د دواړو لوریو ګټې هم خوندي کړل شي. څکه نو ویلی شو، چې په سازماني مدیریت کې د عامه اړیکو ونډه بې سارې ده او هره اداره او سازمان اړ دی، چې د خپلو ستراتیژیکو

موخو او لرلید په ترلاسه کولو او هم د مدیریتي چارو په ترسره کولو کې د عامه اړیکو متخصصین د لوړ مدیریت سره په چارو کې دخیل کړي، ترڅو سازمان خپل دوامداره پرمختګ او پایښت د عامه اړیکو د متخصصینو په شتون کې یقیني کړي (Gilaninia, Taleghani, & Mohammadi, 2013).

**وړاندیزونه (Recommendations)**

که څه هم ډیرې سازمانونه د خپلو موخو او ګټو د خوندیتوب په موخه د عامه اړیکو فعالیتونه ترسره کوي او په یاده برخه کې ټاکلي افراد امکاناتو ته کتو سره اړونده چارې پرمخ وړي خو بیا هم په دې ځای کې ځینې ګټور وړاندیزونه، چې د یوې ادارې په دوامداره ستراتیژیک پرمختګ پورې تړاو لري، وړاندې کیږي چې عبارت دي له:

۱. اداره او سازمان باید د عامه اړیکو اړونده مسلکي اشخاصو او متخصصینو ته د لوړ مدیریت په کچه مسؤلیت او صلاحیت ورکړي.

۲. د عامه اړیکو د متخصصینو له لوري په چاپېریال کې په نښه شوې ستونزې، غوښتنې، اولیتونه، ننګونې او لاسته راوړنې د رهبرۍ له لوري د توجه وړ وبلل شي او هغوی ته په خپلو راتلونکو تګلارو، تصمیمونو او فعالیتونو کې رسیده ګي وکړي.

۳. د ستراتیژیکو عامه اړیکو د فعالیتونو، پروګرامونو او کمپاینونو ته ځانګړې بودیجه په واک کې ورکړل شي.

۴. د ستونزو او مسایلو د مخنیوي په موخه دې د عامه اړیکو په کاري یا مسلکي ډله کې ځانګړې ډله په دنده وګمارل شي، ترڅو د اټکل وړ ستونزې او مسایل له پېښیدو وړاندې حل وفصل شي او هغوی د سازمان لپاره په بحران یا کړکېچ باندې بدل نه شي.

۵. د سازمان د بهبود او پایښت په موخه دې د عامه اړیکو متخصصینو ته په اړونده برخه کې د څېړنو زمینه برابره کړل شي، ترڅو په کاري چاپیریال او د علم په وسعت او د مسایلو په حل کې پرمختګ رامنځته شي.

**ماخذونه (References)**

Ahmadi, M. (2022). The Role of Public Relations in the sustainability of the organization. *Research Gate*, 3-4.

Albayedh, Y., & Abuanza, A. (2024). To analyse the impact of public relations strategies on the contribution of goals and initiatives of vision 2030. *International Journal of Financial Administrative and Economic Sciences 3(10):963-1019*, 2-4. doi:10.59992/IJFAES.2024.v3n10p25

Anna, S., & Chletsos, M. (2024). Strategic Leadership and Management by Objectives. *Management and Economics of Education*, 87-92.

BREFO, A. W., & NAA KAI, L. E. (2022, June). *PUBLIC RELATIONS AS A TOOL.FOR ACHIEVING ORGANIZATIONAL GOALS: A CASE STUDY OF STANBIC BANK, GHANA.* Retrieved from Researchgate.net: https://www.researchgate.net/publication/376251199_PUBLIC_RELATIONS_AS_A_TOOLFOR_ACHIEVING_ORGANIZATIONAL_GOALS_A_CASE_STUDY_OF_STANBIC_BANK/link/65706a2ccc2da668f8162c8f/download?_tp=eyJjb250ZXh0Ijp7ImZpcnN0UGFnZSI6Il9kaXJlY3QiLCJwYWdlIjoicHVibGljYXRpb24

Brown, B. D. (2012). *Strategic Public Relations; An Audience-Focused Approach.* Boston: WADSWORTH Cengage Learning.

Gilaninia, S., Taleghani, M., & Mohammadi, M. E. (2013). The Role Public Relations in Organizations. *Arabian Journal of Business and Management Review (Nigerian Chapter)* , 48-49.

Gregory, A. (2021). *Planning and Managing Public Relations Campaigns; a strategic approach.* UK, UK: Kogan Page.

Grunig, J. E. (2001). The Role of Public Relations in Management and its Contributions to Organziational and Societal Effectiveness. 5.

Guth, D. W. (1995). Organizational Crisis Experience and Public Relations Roles. *Public Relations Review*, 3-4.

Hamkar, N. A., Bashar , H., & Hikmat, H. (2024). Effective Communication as a Tool for Achieving Organizational Goal and Objective. *Journal for Research in Applied Sciences*, 5.

Ipat Ramadani. (2024). PUBLIC RELATIONS ACTIVITIES AS A MANAGEMENT FUNCTION IN DECISION MAKING IN THE BUREAU OF PUBLIC RELATIONS AND PROTOCOL REGIONAL

SECRETARIAT OF BANTEN PROVINCE. *Journal of Politica Governo : Jurnal Politik & Ilmu Pemerintahan*, 22-23.

Kassar, G. (2024). Is Management by Objectives (MBO) still relevant? *ARPHA Conference Abstracts 7: e129557*, 1-3. doi:https://doi.org/10.3897/aca.7.e129557

Kono, T. (1984). Organizational Goals. *Strategy and Structure of Japanese Enterprises*, 3. doi:10.1007/978-1-349-17627-4_3

Kotlar, J., Alfredo De Massis, Wright, M., & Frattini, F. (2018). ORGANIZATIONAL GOALS: ANTECEDENTS, FORMATION PROCESSES, AND IMPLICATIONS FOR FIRM BEHAVIOR AND PERFORMANCE. *International Journal of Management Reviews*.

Kyalo, E. (2024). Public Relations Strategies for Non-Profit Organizations. *Journal of Public Relations, 3*(1, 1 - 13, 2024), 3.

MOHR, L. B. (1973). The Concept of Organizational Goal. *American Political Science Review*, 471-475. doi:10.2307/1958777

Regester, M. (2008). *Risk Issues and Crisis Management in Public Relations; A Case book of best practice.* London: KOGAN PAGE.

Rockey. (2023). Issue Management in Public Relations. United States of America.

Sachdeva, I. S. (2009). *Public Relations Principles and Practices.* Oxford University Press.

Smith. (2018).

Yahya Ahmadi, M. K. (2023). The Role of Public Relations in Organizational Resilience. *Journal of Public Relations Research*, 3-4.

# مرور بر عقاید دینی در تمدن مصر باستان

پوهنمل فقیرالله آسایش، پوهنتون شیخ زاید، پوهنځی علوم اجتماعی، دیپارتمنت تاریخ و جغرافیه.

برېښنالیک: Faqirullah.asaish@gmail.com

## چکیده

مصر باستان یکی از کهن‌ترین تمدن‌های جهان به‌شمار می‌رود. مصریان باستان خدایان و عقاید گوناگون داشتند و هر کدام از آن‌ها برای مصریان مقدم و محترم محسوب می‌شد که مشهورترین از این خدایان هپی، انوبیس، رع، آمون، اسیریس، سخمت و غیره و همچنان از اشیایی مادی نیز پرستش به عمل می‌آوردند مانند خورشید. در این نوشتار بحث روی این است که مصرباستان کدام نوع عقاید مذهبی را داشته و به چه چیزی مادی و غیر مادی عقیده داشته. روش این پژوهش مروری مبتنی بر تحلیل محتوا بوده که از مقالات و کتوب علمی استفاده شده است. در این‌جا دیده‌می‌شود که در مصرباستان مردم برای هر شیء خدای داشته و هر خدای در زندگی مصریان نقش داشته و قابل پرستش بوده است.

**واژه‌های کلیدی:** تمدن، خدایان مصریان، زندگی بعد از مرگ، عقاید مذهبی، مصرباستان.

**مقدمه**

**الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین. اما بعد: فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا ۚ وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ إِنْ شَاءَ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ سوره توبه آیه ۲۸**

مصر باستان از اولین تمدن‌های بزرگ بشری است که آثار و مدارک بی‌شمار باستانی از آن به‌جا مانده‌است؛ که بیان‌گر عقاید مذهبی در مصر باستان می‌باشد. یکی از این آثار مجسمه‌های است که باستان شناسان توانیستند. از اثر این مجسمه‌ها تاریخ و عقاید مذهبی را در مصر باستان برملا کند. در مصر باستان اشیا دیگر مانند نقاشی‌ها و استفاده از رنگ نیز در مورد بیان عقاید مذهبی مصر باستان قابل یادآوری است؛ که هر رنگ یا شکلی مفهوم خاصی مذهبی را داشته و مردم مصرباستان این رنگ و اشکالی را به نحوه مذهبی استقبال می‌کردند. در مصر باستان عناصر طبیعت از جمله رود نیل، طغیان‌های سالانه رود نیل و رسوبات از اثر این طغیان‌های سالانه و باقی ماندن این رسوبات در روی زمین و حاصلخیزی زمین‌ها، خورشید، آسمان و گیاهان نقش مهمی در زندگی مردم مصرباستان داشته‌اند. مردم به‌دلیل ترس و احترام نسبت به این عناصر طبیعت اسطوره‌ها و خدایان را به آن‌ها نسبت داده‌اند. رنگ و شکل هر خدای متناسب با عناصر طبیعی است که به آن نسبت داده شده و همچنین نقش آن خدا در زندگی مردم بستگی دارد. مثلاً رود نیل از عوامل طبیعی حیات بخش برای مردم مصر بوده است. به همین دلیل آن‌ها خدای طغیان سالانه هپی را می‌آفرینند با پوست آبی رنگ به‌رنگ رود نیل به تصویر می‌کشند. هنر مندهای مصری در آثارش از شش رنگ که شامل سبز، سرخ، زرد، آبی، سفید و سیاه استفاده کرده است. که در مصرباستان چهار رنگ مهم وجود دارد که هر یک معنای منحصر به فردی دارند.

**اهداف تحقیق**

**هدف کلی**

مرور و بررسی کردن عقاید دینی مردم در تمدن مصر باستان.

**اهداف فرعی**

معرفی خدایان در تمدن مصر باستان

مرور بر دین در تمدن مصر باستان

مرور بر زندگی بعد مرگ در تمدن مصر باستان

## مواد و روش کار

این تحقیق از لحاظ ساحه کتابخانه‌ی و از نگاه محتوا تحلیلی است که از منابع، مقالات و سایت ها انترنیتی بعد از تحلیل محتوا با در نظر داشت اصول نگارش تحریر گردیده است

## تعریف تمدن

تمدن یعنی شهر نشین شدن یا با خوی شهر گزیدن و به اخلاق مردم شهر آشنا شدن یا زندگی اجتماعی؛ همکاری مردم با یکدیگر در آمور زندگانی و فراهم ساختن اسباب ترقی و آسایش خود (عمید، ۱۳۴۲).

تمدن در لغت به معنی شهرنشینی، تربیت، ادب و معرفت اجتماعی داشتن (دهخدا، ۱۳۴۳). ولی در اصطلاح؛ نظمی اجتماعی است که در نتیجه وجود آن خلاقیت فرهنگی امکان‌پذیر می‌شود و چهار رکن و عنصر اساسی را در بر می‌گیرد که عبارت است از پیش بینی و احتیاط در امور اقتصادی، سازمان سیاسی، سنن اخلاقی و کوشش در راه معرفت و بسط هنر است (ویل درانت، ۱۳۶۵، ص ۳). بنا بر این، تمدن مجموعه‌ای پیچیده از پدیده‌های اجتماعی قابل‌انتقال، شامل جهات دینی و مذهبی اخلاقی، زیباشناسی، فنی یا عمل مشترک در همه اجزای یک جامعه وسیع و یا چندین جامعه مرتبط با یکدیگر است (صفا، بی تا، ۱۳۷۱، ص ۴۷).

## موقعیت جغرافيايي كشور مصر

مصر کشور در شمال افریقا دارای ۱۰۰۱۴۴۹ کیلو متر مربع مساحت است؛ که از شمال با دریایی مدیترانه از شرق با دریا سرخ از جنوب با سودان و از غرب با لیبیا سرحد مشترک دارد. همچنان دارای ۲۴ نوع اقلیم مختلف بوده که برخی ساحلی آن سب تروپیک Sab Tropic (استوایی) و مدیترانه‌ی که در تابستان خشک و گرم و در زمستان بارانی و ملایم است. در جریان سال بلندترین سطح بارش به ۳۸۰ ملی متر می‌رسد. برخی از مناطق وی دارای اقلیم صحرایی که دایمآ در آن بادهای تند و گرم در حرکت است( پوپل، ۱۳۸۹، ص ۷).




**شکل شمار(۱)**

http://beta.jasjoo.com/?lang=fa&act=app,_tourism&appdata=countries&item=158

## دین در مصر باستان

مصر یکی از کشورهای بسیار سابقه و باستانی جهان است. این سرزمین در آن وقت حکومت‌های بزرگ و مقتدری داشته‌اند؛ نژاد این مردم قبطی بوده است. در زبان های اروپایی به این کشور واژه (Eight) استفاده می شد. مصریان از ادیان ابتدایی گذر کرده و به خدایان محلی که معمولاً به‌شکل حیوان اهلی و وحشی بود روی آوردند. پرستش فرعونیان و خدایان دیگر در مصر باستان معمول بود ( https:// tahoor.com/ fa/Article/View/112026#t2).

مردم مصر باستان مانند سایر تمدن‌های کهن طبیعت‌گرا بودند آن‌ها برای هر نیروی طبیعت خدا یا خدایان‌ی در نظر می‌گرفتند. خورشید، رود نیل، هوا، خاک و سایر نیروهای که بالای زندگی مردم تأثیر می‌گذاشت به حیث خدا پنداشته می‌شد. به نظر مردم مصر باستان هیچ‌چیزی نمی‌تواند به‌صورت تصادفی و بدون دخالت تعدادی از نیروها انجام شود. بنا بر این اتفاقاتی مثل طلوع خورشید که برای انسان‌های مدرن طبیعی و قابل‌انتظار است. و برای مردم مصر باستان جشن تولد مجدد رع حساب می‌شد. آن‌ها باورمند بودند که اگر خدایان جهان را کاملاً ترک کنند جهان ساختار بنیادین خود را از دست می‌دهد و سقوط می‌کند. این نظر (خداشناسی کیهانی) نامیده شده‌است. اتفاقات منظم جهان مانند حرکت زمین دور خورشید، به میان آمدن روز و شب، سیلاب‌های سالانه رود نیل برای افسانه‌های مربوط به خدایان و کارهای آنهاست؛ که به‌صورت قانون در آمد بود. از نظر مردم مصر باستان کل جهان به‌عنوان یک واحد و یک شکل در نظر گرفته نمی‌شد بلکه به‌عنوان کثرت، عمل و عکس العمل‌های متقابل و متواتر مشترک تلاش‌های خدایان زیادی به‌عنوان که همه خدایان کم یا زیاد و داشتن میزان قدرتشان در آن نقش بازی می‌کنند دیده می‌شد. در تمام دوره‌های تاریخی مردم مصر باستان خدایان متعددی را می‌پرستیدند اما در زمان حکمروایی اخناتون وی تلاش کرد تا مردم مصر را یکتاپرست کند. وی نام خود را از امنوفیس چهارم که نشانه قدرت خدای آمون بود به اخناتن تغییر داد و به پرستش خدا یگانه آتن گروید (Wilkinson,2003). به فرمان وی تمام معابد همه خدایان مصر باستان به‌جز خدای آتن نابود گردید. و بعد از مرگ وی مردم مصر باستان دوباره به خدایان متعددی که قبل آن را پرستش می‌کردند باز گشتند. مردم مصر باستان به عینیت بخشی تمام پدیده‌ها تمایل داشته‌اند این مردم به‌ویژه به عینیت بخشیدن و دلیل آوردن برای تمام نیروهای طبیعت که در زندگی آن‌ها مؤثر و تأثیر گزار بود تمایل داشتند و مورد پرستش قرار می‌دادند؛ زیرا از نظر آن‌ها نظم طبیعت و نیروهای آن برای مردم مصر باستان راز بوده و از دیگر سوء زندگی آن‌ها به این نیروها گره خورده‌بود و مردم قدرت در کنترل آن‌ها نداشته‌اند بدین ترتیب با تجسم نیروهای طبیعی به‌صورت خدایان زیاد فهم این نیروها برای آن‌ها قابل درک بود. به‌طور مثال آمدن سیل‌های سالانه رود نیل را آمدن خدای هَپی تصور

می‌کرده‌اند. و چنین نظر داشتند که او با کوزه‌ی از بالا به داخل رود نیل آب می‌ریزد (ویل درانت، ۱۳۷۰، ص ۱٦٦).

## خدایان مصر باستان

به گفته محققان مصریان قدیم به دو نوع خدا معتقد بودند؛ خدای مهربان و خوب، خدای زشت و نادرست. خدای زشت و پلید راه به‌صورت حیوانات درنده تصور می‌کردند و خدایان خوب را به‌صورت انسان تلقی می‌کردند. آنان خدایان خوب را با ترکیب انسان و حیوان اهلی مجسم می‌ساختند.

له دې سره سره، دخارجي پانګونې تاثیرات یوازې مثبت نه وي، بلکي ځینې وختونه یې منفي اغېزې هم کیدای شي، په ځانګړې توګه که د پانګونې جریان او وېش مساوي نه وي یا حکومت نوموړې پانګونې په سمه توګه مدیریت نه کړي. په دې مقاله کې به د بهرنیو پانګونو مختلف تاثیرات وڅېړل شي. د مقالې هدف دا دی چې په ګوته کړي چې څنګه خارجي پانګونه د هېواد په اقتصادي جوړښت، تولید، د کاري فرصتونو زیاتوالي، ټکنالوژۍ انتقال او د مالیې عایداتو باندې ااغېزه کوي. همدارنګه، د خارجي پانګونې منفي اړخونه لکه د داخلي صنعتونو په اړه د رقابتي فشارونو، اقتصادي انحصار او د پانګونې د ناسم وېش تاثیرات هم څېړل کېږي.چې په ټولو هېوادونو کې د دې تولیدي عواملو د ترکیب په نتیجه کې تولید صورت نیسی او هغه نیمګړتیاوې چې په دې برخه کې موجودي دي پوره کوي، چې دا یو جانبه قرارداد دی ځینې هېوادونه د یو تولیدي عامل په ورکړې سره بل تولیدی عامل چې نوموړی هېواد یې د کمبود سره مخامخ دی حاصلوي، چې په نتیجه کې دوه جانبه قرارداد رامنځ ته کېږي، چې ددې قرارداد په نتیجه کې د دواړو هېوادونو د تولید دعواملو تقاضا مشبوع کېږي. دا چې سرمایه د تولید له مهموعواملو څخه شمېرل کېږي او اکثره پرمختیایي هېوادونه لکه افغانستان د سرمایې د قلت سره مخامخ دي. نو د افغانستان په شان یو پرمختیایي هېواد مجبوریږیي ترڅو د تولید د عواملو د تکمیل لپاره له نورو هېوادونو سره د سرمایې د عامل په برخه کې خپل قراردادونه وکړي.

همدا ډول بهرني هېوادونه د خپلو مفادو د زیاتوالي لپاره غواړي په افغانستان کې مختلف ډوله پانګونه وکړي، نو د افغانستان دولت مجبور دی، چې د بهرنیو پانګه اچونکو لپاره هرنوع شرایط اماده کړي او همدا ډول د بهرنۍ غیرمستقیمې پانګونې تاثیر د هېواد په اقتصادي رشد باندې تحلیل کړي.

د دې مقالې اهمیت په دې کې دی، چې د نړیوالو اقتصادي اړیکو په پراختیا کې د خارجي پانګونې رول په ښه توګه درک کړو او د هېوادونو لپاره وړاندیزونه وړاندې کړو، چې څنګه کولی شي د بهرنیو پانګونو څخه اعظمي ګټه پورته کړي.

## د څېړنې موخې

۱. د پانګونې پېژندنه
۲. د خارجي پانګونې پېژندنه
۳. د هېواد په اقتصاد باندې د خارجي پانګونې د تاثيراتو تحليل

## د څېړنې ميتودولوژي

په دې مقاله کې د کيفي څېړنې له مېتود څخه ګټه اخيستل شوې ، چې د دويم لاس معلوماتو په اساس ترسره شوې ده، دغه معلومات د مختلفو معتبرو کتابونو او مجلو څخه راټول شوي دي چې دغه کيفي څېړنه د (Document analysis) باندې بناء ده، په کوم کې چې مختلف منابع کارول کېږي، لکه : چاپي اثار، وېبسايټونه، انلاين ډېټابيسونه، د ادارو پاليسی، منولونه، کتابونه، مقالې او د اداراتو راپورونه؛ ترڅو مربوطه مالومات د څېړنې لپاره تيار کړي.

### پېژندنه

خارجي پانګونه يوه اقتصادي کلمه ده چې د هېوادونو ترمنځ د پانګونې اړيکو ته اشاره کوي. دا هغه پيسې دي چې د يوه هېواد شرکتونه يا حکومتونه يې په بل هېواد کې د اوږدمهاله پانګونې په ډول کاروي، لکه فابريکې جوړول، د موجوده شرکتونو اخيستل، يا د نوې پروژو پيلول(FDI)،نه يوازې د اقتصادي پراختيا لپاره يوه مهمه وسيله ده، بلکې د ټيکنالوژی، مديريت او مهارتونو د تبادلې لپاره هم يوه ګټوره وسيله کيدای شي.

افغانستان اوس په هغه اقتصادي حالت کې قرار لري؛ چې پانګونې ته زيات ضرورت لري. دغه پانګونه که داخلي وي يا بهرنۍ، مخکې له دې چې په بهرنۍ پانګونه باندې بحث وکړو لومړی بايد سرمايه تشريح او وروسته به بيا په بهرنۍ مستقيمه پانګونه باندې په مفصل ډول سره بحث وکړو.

### سرمايه

سرمايه د توليد دمهمو عواملو څخه شمېرل کېږي، چې په سرمايداري اقتصاد کې د مالي برخې څخه تشکيل شوې ده؛ چې دهغې په واسطه عايد په لاس راځي، چې د تجارت په ساحه کې دغه اصطلاح ديوه خالص ثروت په اقتصادي واحد باندې اطلاق کېږي (مهدی ، ۱۳۹۴، ص. ۸۹).

سرمايه په درې شکلونو سره وجود لري

۱. فزيکی سرمايه لکه: تجهيزات، ماشين الات.
۲. مالي سرمايه لکه: بيه لرونکي پاڼې او اسهام.

۳. انساني سرمایه چې عبارت له شحصی پوهې او عالی تحصیلاتو څخه دي؛ چې د علماوو د نظریاتو په اساس پورته هر ډول سرمایې په کار اچول د اقتصادي رشد لپاره زمینه برابروي (احمدی،۱۳۹۲، ص. ۱۵).

بهرنۍ سرمایه هغه سرمایه ده، چې په قانوني لحاظ د یوه هېواد په داخل کې فعالیت کوی.

هغه ماشین الات او تولیدي وسایل چې د سرمایې په شکل وي نه د یوې تصدی د جاري مصارفو په شکل.

دمشروطې اختراع حق چې د تولیدي پروسې سره یو ځای وي او یا د متخصیصینو حقوق چې د تولیدی کارونو د ایجاد په منظور ورکول کېږي.

دپورته تعریفونو په اساس بهرنۍ سرمایه په فزیکی شکل، معنوی ملکیت، پولي سرمایه، دتخصص اشکال او همدا ډول په لازمې تجارتی پوهې او تحصص سره طبقه بندي شوې ده(مهدی ، ۱۳۹۴، ص. ۱۵).

## بهرنۍ پانګونه

هر ډول پانګونه چې دبهرنیو خصوصي شرکتونو یا افرادو په وسیله په داخل د هېواد کې د دولت د اهدافو مطابق صورت نیسی عبارت د بهرنۍ پانګونې څخه ده. یا په یوه هېواد کې د نوي اقتصادي جوړښت د رامنځ ته کیدو لپاره د بهرنۍ سرمایې غوښتنه عبارت د بهرنۍ پانګونې څخه ده (جونز،۱۳۹۴، ص. ۴۵).

## دبهرنۍ پانګونې اقسام

خصوصي پانګونه : دبهرنۍ خصوصي شرکتونو یا افرادو له خوا هر ډول فزیکی یا مالي شتمني چې د داخلي هېواد څخه نورو هېوادونو ته انتقال شي د بهرنۍ خصوصي پانګونې په نوم یادېږي؛ چې په دوو شکلونو صورت نیسي. مستقیمه پانګونه دغه ډول پانګونه د ودانیو د طرحې په اجرا یا د هېواد په صنعت کې د فزیکي سرمایې په شکل حضور لري او په واحده اداره کې د وظایفو د سرته رسولو رول لوبوي. په داسې حال کې چې په غیرمستقیمه بهرنۍ پانګونه کې بهرنۍ سرمایګذار د اسهامو یا د قرض اوراقو په اخېستلوسره سرمایه کوربه هېواد ته داخلوي، چې په اداره او ملکیت کې د خپل سهم په اندازه حق او اختیار لري(مهدی،۱۳۹۲، ص. ۳۵).

## بهرنۍ مستقیمه پانګونه

هغه پانګه اچونه ده، چې بهرنۍ پانګوال یې په مستقیم ډول په کوربه هېواد کې په کار اچوي. چې په دې ډول پانګونه کې پانګوال په فعال ډول دپانګونې په محل کې په مستقیم ډول سره مالي مسولیت په غاړه لري او په کوربه هېواد کې د خپلې دارایۍ کنترول په خپله سرته رسوی. د نړیوال بانک له نظره بهرنۍ مستقیمه پانګونه د خصوصي پانګونې هغه ډول دی، چې د حفظ او کنترول د هدف لپاره کمه ترکمه د سرمایې ۱۰٪ حق په لاس کې ولري او بهرنۍ مستقیمه پانګونه په لاندې ډول ترسره کېږي.

۱ : د بهرنيو ملي شرکتونو دمستقېمو څانګو د ايجاد له طريقه يا په هېواد کې د بهرنيو موسساتو دنمايندګيو د ورکړې له طريقه يا د جواز، امتياز د ورکولو له طريقه او همدا ډول دمشترک شرکت د رامنځته کيدو له طريقه(رحيمي،۱۳۹۲، ص.۲۱).

**غيرمستقيمه بهرنۍ پانګونه**

د غيرمستقيمې بهرنۍ پانګونې څخه هدف د بيه لرونکو پاڼو اخېستل لکه د سهم اسناد او اسهام دي، چې واردونکئ هېواد يې د سرمايې په نوم نشرکوي، چې د قرض د اخېستلو په وخت دهغې مالک يو سرمايوي سند په لاس راوړي، چې ګټه او وخت يې معلوم وي او د کلني قرارداد له مخې دهغه ګټه په لاس راوړي او همدا ډول د معلوم وخت وروسته د هغه اصلي سرمايه په لاس راوړي. يا په بل عبارت په غيرمستقيمه بهرنۍ پانګونه کې بهرنۍ سرمايګذار د قرض پاڼې يا اسهامو په خريدارۍ سره خپله سرمايه کوربه هېواد ته واردوي؛ چې په اداره او ملکيت کې د خپل سهم په اندازه اختيار لري او د هغه په تناسب ګټه او ضرر اخلي چې په دې اساس د سرمايې خطراو مديريتي مسوليت کم وی. نو په دې اساس بهرني پانګه اچوونکي دې ډول پانګونې ته زيات ميل لري. غيرمستقيمه بهرنۍ پانګونه په دوه شکله صورت نيسي(شهيدي ،۱۳۸۴، ص. ۴۵).

۱. د انتقال وړ اعتباري اسنادو خريداري؛ چې د سرمايې دجلب کوونکي هېواد له خوا نشرکېږي .
۲. د قرض داوراقو خريد چې د سرمايې د جلب کوونکي هېواد له خوا نشر او د نورو هېوادونو د اشخاصو په واسطه ترسره کېږي.

**د رسمي پانګونې ډولونه**

د هېوادونو دوجانبه قراردادونه چې په اعتباري شکل د قرض په شکل او يا د بهرنيو مرستو په اساس چې د دوی د مرکزي بانکونو ترمنځ صورت نيسي او يا دبين المللي سازمانونو په واسطه لکه د بانک جهانی يا IMF اويا نور سازمانونه چې نورو هېوادونو ته پيسې انتقال کوي د عمومي پانګونې په نوم يادېږي. د دې قرضونو ځينې برخې په مستقيم ډول د هغه هېواد په اختيارکې وي کوم هېواد چې پشنهاد کړي وي او اختيار لري چې کوم ځای کې وغواړي ورڅخه استفاده وکړي؛ خوځينې د دې قرضونو څخه نورو هېوادونو يا سازمانونو ته په ځينې شرطونوسره ورکول کېږي يعنې هغه سازمانونه چې قرضونه ورکوي بايد د مصرف اندازې ګزارش د مربوطه هېواد څخه ترلاسه کړي(تودارو، مايکل،۱۳۹۲، ص.۵۶).

**د حقوقي مسایلو له نظره پانګونه**

مستقله بهرنۍ پانګونه له حقوقي نظره هغه پانګونه ده چې ۱۰۰٪ د بهرنیو شرکتونو په ملکیت پورې تړاو ولري، چې په دې ډول پانګونه کې د داخلي پانګونې لپاره کوم ځای وجود نه لري او بهرنۍ مستقله پانګونه د بشپړ استقلالیت درلودونکې ده.

په اکثره مخ پرودې هېوادونو کې بهرنۍ پانګونه د مشترکې پانګونې په توګه صورت نیسي؛ په دې ډول پانګونه کې د پانګونې مصارف او ترلاسه شوی ګټه د هغوی په تناسب د بهرنۍ او داخلي سرمایګذارانو ترمنځ تقسیم کېږي؛ چې نوموړې پانګونه په دووبرخو تقسیم کېږي(تودارو، مایکل،۱۳۹۲، ص.۵۹).

قراردادي مشترکه پانګونه مشترک مشابه قراردادونه دي، چې د هغې په اساس هغه لازم او قانوني روابط د دواړو هېوادونو ترمنځ قرارداد کېږي او د دې پانګونې مهم خصوصیت د وخت محدودیت دی، چې د نوموړي وخت په پای ته رسیدو سره پانګونه هم پای ته رسېږي.

سهامي مستقیمه مشترکه پانګونه یوه رواج شوې بهرنۍ پانګونه ده؛ چې د ملکیتونو دتقسیم، اسهام او سرمایه د بهرنۍ او داخلي سهمدرانو له طریقه صورت نیسي؛ چې معمولاً شریکان د خپل سهم په نسبت د یو تولیدي واحد په مدیریت کې رول لري، چې د نوموړې پانګونې لپاره سرمایه داران په معمولي ډول قراردادونه په خپل منځ کې د قوانینو په چوکاټ کې تنظیم کوي(تودارو، مایکل،۱۳۹۲، ص. ۷۵).

**په اقتصادي وده او تولیدي ظرفیت باندې د FDI اغېزې**

خارجي پانګونه د یو هېواد د اقتصادي ودې لپاره بې شمېره فرصتونه رامنځته کوي، د تولید او خدماتو پراختیا ته وده ورکوي، ځکه چې دا د نویو ټیکنالوژیو، مهارتونو او تجهیزاتو لپاره زمینه برابروي.

- ✓ د GDP زیاتوالی : د FDI سره، یو هېواد کولی شي د تولید ظرفیت لوړ کړي، چې په مستقیمه توګه دGDP (ناخالص داخلي تولید) پراختیا ته وده ورکوي.
- ✓ د نوو صنعتونو رامنځته کول : د بهرني پانګونې له لارې نوي صنعتونه لکه د ټکنالوژۍ، تولید او خدماتو سکتورونه رامنځته کېږي، چې په سیمه ییز او نړیوالو بازارونو کې فعالیت کوي.
- ✓ د صادراتو وده : د FDI سره د تولید کچه لوړیږي او دا د صادراتو لپاره یوه پیاوړې بنسټ جوړوي. دغه صادرات د هېواد د مالي توازن د ښه کولو سبب کېږي. (جونز،۱۳۹۴، ص.۵۶).

**د کار بازار او مهارتونو پراختيا**

د FDI يو له عمده اغېزو څخه د کار بازار باندې دتاثيراتو لرل دي. د بهرنۍ پانګونې پراختيا د نوي کاري فرصتونو رامنځته کولو سره مرسته کوي، چې په دې توګه د خلکو ژوند معياري کېږي، او لاندې عوامل ترې رامنځته کېږي:

- ✓ د کار فرصتونه : د FDI په نتيجه کې، د فابريکو او خدماتو سکتورونو کې نوي کارمندان استخداميږي، چې د بېکارۍ کچه کموي.
- ✓ د مهارتونو پراختيا: د FDI سره، نوې ټيکنالوژۍ او فني مهارتونه هېواد ته راوړل کېږي. د دې پروسې په ترڅ کې، کارګرانو ته د روزنې او مهارتونو لوړولو فرصتونه ورکول کېږي.
- ✓ د معاشونو لوړوالی :د بهرني پانګوالو شرکتونه اکثراً د کار د ښه شرايطو لپاره نړیوال معيارونه تعقيبوي، چې په نتيجه کې د محلي کارګرو معاشونه لوړوي. (احمدی،۱۳۹۲، ص. ۵۶).

**ټولنيز پرمختګ او د فقر کمښت:** د FDI له لارې، نه يوازې اقتصادي فرصتونه رامنځته کېږي، بلکې د ټولنيز پرمختګ لپاره هم ځانګړي ګټې رامنځته کېږي. د بهرنۍ پانګونې په مرسته، هېوادونه کولی شي د فقر کمولو، د تعليمي امکاناتو زياتولو او د عامه خدماتو کيفيت ښه کولو ته هم پام وکړي.

د فقر کمښت: د FDI له لارې د اقتصادي فرصتونو پراختيا کولی شي د خلکو د ژوند معيار لوړ کړي او په همدې توګه د فقر کچه راټيټه شي.

د ټولنيز مسؤوليتونو پراختيا : نړيوال شرکتونه اکثره د ټولنيز مسؤوليتونو په برخه کې ځينې پروګرامونه پرمخ وړي، لکه په ټولنيزو خدماتو او د محلي ټولنې ملاتړ کې پانګونه کول.

**د چاپېريال پر وضعيت اغېزه:** سربېره پر دې چې FDI د اقتصادي ودې او ټولنيز پرمختګ لپاره ګټور دی، خو دا پانګونه ځينې وختونه د چاپېريال پر وضعيت منفي اغېزې هم لري، په ځانګړې توګه، که چېرې د FDI سره تړلي شرکتونه د چاپېريال د ساتنې لپاره مناسب تدابير ونه نيسيچې په لاندې ډول تشريح کېږي.

- ✓ چاپېريالي آلودګي : ځينې وختونه، بهرني پانګوال شرکتونه د خپلو توليدي فعاليتونو په ترڅ کې د چاپېريال آلودګۍ سبب ګرځي. د کيمياوي توکو کارول، د هوا او اوبو ککړتيا، او د طبيعي منابعو غير مسؤلانه استعمال ممکن د يوې ټولنې په اوږدمهاله پرمختګ منفي تاثيرات وکړي.

- ✓ پایداره پانگونې : په هر صورت، د FDI له لارې، ځینې نړیوال شرکتونه پایداره ټیکنالوژۍ او چاپېریال دوستانه پروسې وړاندې کوي، چې په دې توګه د چاپېریال ساتنه کوي(تودارو، مایکل،۱۳۹۲، ص.۵۶).

**د حکومت د پالیسۍ نقش:** د FDI د زیاتوالي لپاره، د حکومتونو پالیسي خورا مهمه برخه ده. که حکومت یو ښه قانوني او اقتصادي چاپېریال رامنځته کړي، نو بهرني پانګوال به په دې هېواد کې پانګونه وکړي.

د پانګونې د محافظت قوانین : د FDI د راجلبولو لپاره، حکومتونه باید داسې قوانین جوړ کړي چې د بهرنیو پانګوالو حقوق او ګټې خوندي کړي. دا ډول پالیسۍ د پانګوالو باور لوړوي او د پانګونې جریان زیاتوي.

د مالیاتو پالیسۍ : حکومتونه کولی شي د بهرنیو پانګوالو لپاره د مالیاتو ټیټې کچې وړاندې کړي، چې د پانګونې هڅونه وکړي.

د فساد سره مبارزه : د حکومتونو لپاره مهمه ده چې د فساد د مخنیوي لپاره اقدامات وکړي، ځکه چې فساد د بهرنۍ پانګونې جذبولو کې خنډ ګرځي.

### د FDI مثبتې او منفي اغېزې

**مثبتې اغېزې:**

1. اقتصادي وده
2. د نوي کارموندنې فرصتونه
3. د ټیکنالوژۍ او د مدیریت مهارتونو تبادله
4. د صادراتو زیاتوالی
5. د فقر کمښت

**منفي اغېزې:**

1. د چاپېریال آلودګي
2. د محلي صنعتونو په وړاندې زیات شوی رقابت
3. د اقتصادي انحصار لامل ګرځېدل
4. د محلي سرچینو غیر مسؤلانه استعمال(تودارو، مایکل،۱۳۹۲، ص.۵۴).

**پايله اخښتنه**

خارجي پانګونه د يو هېواد اقتصادي پراختيا لپاره يو مهم محرک دی. دا پانګونه د اقتصادي ودې، د کار بازار پراختيا، د فقر کمښت او د ټولنيز پرمختګ لپاره ګڼ فرصتونه رامنځته کوي. په هر صورت، د FDI سره يوځای د چاپېريال ساتنې او د محلي سوداګريو د ساتنې په اړه مناسب تدابير نيول اړين دي. حکومتونه بايد د مناسب قانوني چاپېريال او د پانګونې د راجلبولو لپاره پاليسۍ جوړې کړي چې بهرني پانګوال هڅوي او د ټولنيز، اقتصادي او چاپېريالي ستونزو مخه نيسي.د غيرمستقيمې بهرنۍ پانګونې تاثيرات د يوه هېواد په اقتصادي رشد باندې منفي دي، خو دمستقيمې بهرنۍ پانګونې  تاثيرات د يوه هېواد په اقتصادي رشد باندې په اکثره وختونو کې مثبت دي؛ په داسې حال کې چې دغيرمستقيمې بهرنۍ پانګونې تاثيرات په اقتصادي رشد باندې منفي دي اما په هغه هېوادونوکې چې د مستقيمې پانګونې ونډه غيرمستقيمې پانګونې ته زياته وي؛ نو په دې حالت کې بيا مثبت تاثيرات هم لري.اکثره قرضونه چې د مطالعې لاندې نيول شوي،اکثره يې استهلاکي جنبه لري او په توليدي برخه کې ترې استفاده نه کېږي نوپه دې دليل د نوموړي پانګونې تاثېرات د افغانستان په اقتصادي رشد باندې منفي دي؛ په همدې ډول دغيرمستقيمې بهرنۍ پانګونې  له طريقه د اقتصادي رشد د غښتلي کولو په خاطر اقتصادي پلانګذاري امکان منونکی نه ده، ځکه چې د غيرمستقيمې بهرنۍ پانګونې د نوساناتو انتقال زيات دی. دا چې غيرمستقيمه  بهرنۍ پانګونه د پرمختللې تکنالوژۍ متخصصې کاري قوې او نورو عواملو سره ارتباط نه لري، نو په يوازې توګه د اقتصادي رشد لپاره بسنه نه کوي؛ په همدې ډول داقتصاد دعلماوو په نظرياتو سره غيرمستقيمه  بهرنۍ پانګونه ديوه هېواد په اقتصادي کړنوکې د سرمايې د تامين لپاره بهترين ډول نه شي کيدای او د دې برعکس يې مستقيمه  بهرنۍ پانګونه په اقتصادي کړنو کې د سرمايې د تامين لپاره بهترين ډول ياد کړې دی.

**وړانديزونه**

۱ : که چېرې په افغانستان کې د غيرمستقيمې پانګونې پرځای مستقيمه  پانګونه صورت ونيسي غوره ده؛ ځکه چې د مستقيمې پانګونې په اساس په هېواد کې استخدام او توليدات زياتوالی کوي، چې په دې سره د هېواد په اقتصادي وده باندې مثبت تاثيرات درلودلی شي.

۲ : د افغانستان اسلامي امارت بايد د بهرنۍ غيرمستقيمې پانګونې په نسبت مستقيمې پانګونې ته ترجيح ورکړي.

۳: د افغانستان اسلامي امارت بايد د بهرنۍ مستقيمې پانګونې لپاره شرايط برابر کړي، ترڅو د مستقيمې بهرنۍ پانګونې په اساس په هېواد کې ناخالص داخلي توليدات زياتوالی وکړي.

۴: دا چې غیرمستقیمه بهرنۍ پانګونه یوازې او یوازې د مفادو د لاسته راوړلو لپاره تر سره کېږي؛ نو د دې پرځای باید د مستقیمې پانګونې لپاره پلانګذاری ترسره شي.

۵ : داچې غیرمستقیمه پانګونه په عمومي ډول استهلاکي مصارف دي او د هېواد په اقتصادي وده منفي تاثیرات لري، نو دولت یې باید دمحدودوالي لپاره هڅې ترسره کړي.

**ماخدونه**

اوانز, ج .۱۳۹۴. *داد و ستد بین المللي* .انتشارات تهران.

تودارو, م. .، (۱۳۹۲). *توسعه اقتصادي در جهان سوم*. (غ.ع. فرجادی, ژباړونکې) تهران: انتشارات کوهسار.

رحیمي, ب) .۱۳۹۲ .(*سیاستهای اقتصاد کلان و اصلاحات ساختاري* .موسسه مطالعات وپژوهشهای بازرگانی.

شبان, ا. (۱۳۹۲). *تیوری ها، عوامل و سیاست هایي انکشافی.*

شهیدي, ن. ا( .۱۳۸۱ .(*تیوری سرمایه ګذاری* .

شهیدي, ن. ا) ۱۳۸۴ .(*د مخ په ودې هېوادنو اقتصادي ستونزې* .کابل پوهنتون.

فرجادي, غ. ع. (۱۳۹۱). *توسعه ،اقتصادي تر جهان سوم.*

مهدی, ا. (۱۳۹۲). *سرمایه ګذاری بهرنی و رشد اقتصادي*. انتشارات جنګل.

مهدی, ا. (۱۳۹۴). *رشد اقتصادی و سرمایه ګذاری.*

(n.d.). world investment report.

(n.d.). *united nations, world investment.*

.

# د انگلیسي ژبې زده کړې په پرمختګ کې د ځیرک ټیلیفونونو رول

پوهنمل سیف الرحمن رحماني، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، د انگلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه

برېښنالیک: saif.paktiawal2@gmail.com

**لنډیز**

لکه څرنګه چې په اوسني وخت کې ټکنالوژۍ په هر ډګر کې زیات پرمختګ کړی دی، یو له دې پرمختګونو څخه ځیرک ټیلیفونونه هم دي چې په بېلابېلو برخو کې یې لوی او بنسټیز بدلونونه رامنځته کړي، په ځانګړې توګه د ژبې په زده کړې کې یې هم ستر رول لوبولی دی، ځکه چې دوی د مؤثره ژبې زده کړې لپاره وسیلې او سرچینې چمتو کوي. په دې مقاله کې د انگلیسي ژبې زده کړې په پرمختګ کې د ځیرک ټیلیفونونو د رول په اړه څېړنه شوې ده. د دې څېړنې موخه دا ده، چې د انگلیسي ژبې زده کړې په پرمختګ کې د ځیرک ټیلیفونونو اسانتیاوې او ګټې څرګندې کړي اوهم وښیي، چې د انگلیسي ژبې مهارتونو (لکه اوریدل، خبرې کول، لوستل او لیکل) د پرمختګ په برخه کې د ځیرک ټیلیفونونو کارونه څه ډول مرسته کولی شي. دا څېړنه یوه کتابتوني څېړنه ده، چې په اړه یې د معلوماتو راټولولو لپاره د Google Scholar ERIC او د JSTOR د معتبرو څېړنو انجنونو له لارې د نړیوالو علمي مقالو او علمي کنفرانسونو څخه ګټه اخیستل شوې ده. د څېړنې پایلو څرګنده کړې، چې ځیرک ټیلیفونونه هر وخت او هر ځای ته د زده کړې لاسرسی رامینځته کوي، چې دا د پخپله زده کړې او بنسټیزه زده کړو ملاتړ کوي. په ورته ډول سره پایلې ښیي، چې ځیرک ټیلیفونونه د انگلیسي ژبې زده کړې په پرمختګ کې د زده کوونکو لپاره د مختلفو فرصتونو چمتو کولو، د هغوی د لیوالتیا زیاتولو، او د یادې ژبې زده کړې د په زړه پورې او مؤثره پروسې په رامینځته کولو کې اساسي رول لري او د انگلیسي ژبې د اوریدلو مهارتونه د پوډکاسټونو او اوریدني موادو، چې د ځیرک ټیلیفونونو په واسطه کارول کېږي ښه کېږي. د Duolingo او نور اپلیکیشنونه، چې په ځیرک ټیلیفونونو کې کارول کېږي د یادې ژبې خبرو کولو مهارت د دوه اړخیزه طریقې په څېر ښه کوي. همدارنګه پایلې څرګندوي، چې د انگلیسي ژبې د لوستلو او لیکلو مهارتونه د برېښنایي کتابونو، ګرامري اپلیکېشنونو او ټولنیزو رسنیو له لارې، چې په یاد تیلیفون کې کارول کېږي وده کوي.

**کلیدي کلمې**: تعلیمي اپلیکېشنونه، ځیرک ټیلیفونونه، د انگلیسي ژبې زده کړه، د انگلیسي ژبې مهارتونه، ګرځنده زده کړه.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدالمرسلين وعلى اله و اصحابه اجمعين.**

ټکنالوژي هغه وسیلې، مېتودونه او سیستمونه دي چې انسانانو ته د ژوند د اسانتیا لپاره د فعالیتونو په ترسره کولو کې مرسته کوي. دا د بشري پوهې او اختراعاتو یوه پراخه برخه ده چې له طبیعي منابعو څخه ګټه پورته کوي او د انسانانو د ژوند په بېلابېلو برخو کې د اصلاحاتو سبب ګرځي. له دې ټکنالوژۍ څخه بې شمیره برخې لکه کمپیوټر، انټرنیټ، مصنوعي ځیرکتیا او ډیجیټل ارتباطات شامل دي چې د ټکنالوژي پرمختګ نه یوازې د ساینسي څېړنو بلکې د ټولنیزو، اقتصادي او کلتوري تحولاتو سبب هم شوی دی.

ځیرک ټیلیفونونه، چې په نړیواله کچه یې سمارټ فون هم بولي، د ټکنالوجۍ یوه بې ساري اختراع ده چې په اوسني عصر کې یې کارونې د انسانانو د اړیکو نیولو، معلوماتو شریکولو او د ژوند نورو اړخونو ته د لاسرسي په برخه کې لوی بدلونونه راوستي دي او د ورځني ژوند یوه نه بېلېدونکې برخه ګرځېدلې ده. د دې وسیلې پرمختګ د ټیکنالوژۍ په ډګر کې انقلاب راوستی دی. لومړی ځل، د موبایل ټیلیفون اختراع یوازې د خبرو کولو لپاره وه، خو د وخت په تېرېدو سره، دا وسایل په ځانګړو ځیرکتیاوو سمبال شول، لکه د انټرنیټ کارونه، ټولنیزې شبکې، او د موبایل اپلیکېشنونو کارول د ځیرک ټیلیفونونو ځانګړتیاوې نه یوازې د اړیکو اسانتیا ته محدودې دي، بلکې د معلوماتو ترلاسه کول، زده کړه، ساتیري او د سوداګریزو چارو ترسره کول یې هم اسانه کړي دي. د دې وسایلو پرمختګ د دې لامل شوی چې نړۍ د یو کوچني کلي په څېر ښکاره شي، چیرته چې خلک له یو بل سره په چټکۍ او اسانۍ اړیکې نیولی شي.

د ځیرک ټیلیفونونو دوره په ۱۹۹۳ کې د IBM له خوا د سایمون ځیرک ټیلیفون په معرفي کولو سره پیل شوه (Sarwar & Soomro, 2013, p. 217). د ځیرک ټیلیفون انقلاب هغه وخت پیل شو کله چې په عامه اړیکو بازار کې د بلیک بېري ځیرک ټیلیفون معرفي شو، چې د ویب براوزنګ، کامرې، بریښنالیک او انټرنیټ په څېر ګڼې ځانګړتیاوې یې لرلې. ایپل په ۲۰۰۷ کال کې بازار ته داخل شو او د خپل لومړني ځیرک ټیلیفون په معرفي کولو سره یې یو لوی پرمختګ رامنځته کړ. د ۲۰۰۷ کال تر پای پورې، د ګوګل لخوا د انډرایډ عملیاتي سیستم خلکو ته معرفي شو، چې موخه یې د پرمختللې ټکنالوژۍ سره د ځیرک ټیلیفونونو کاروونکو ته نوې اسانتیاوې برابرول و (Singh, & Samah, 2018, p. 83).

لکه څنګه چې یادونه وشوه ځیرک ټیلیفونونو د اړیکې او معلوماتو د ترلاسه کولو یو مهمه وسیله ګرځېدلې ده، یاد ټیلیفون د ټولنیزو موخو سربېره په تعلیمي موخو کې هم په پراخه کچه کارول کیږي ( Mushtaq, 2024,

p. 1). که څه هم د موبایل زده کړه د زده کړې نړۍ لپاره یو نوی میتود دی، خو دا یو روښانه او هیله بښونکی راتلونکی لري. د موبایل زده کړې کولی شي، چې زده کوونکي د تعلیمي پروسې برخه وګرځوي، ځکه چې هغوی ته بدیل چاپېریالونه برابروي. موبایل زده کړه په دې خاطر جالبه ده چې زده کوونکي ته دا زمینه برابروي چې په تګ او حرکت کې معلومات ترلاسه کړي، اړیکه ونیسي او ټولنیزې اړیکې جوړې کړي. سربېره پر دې، دا د لوړې کچې د فکر کولو مهارتونه ښه کولای شي، ځکه چې دا شخصي زده کړه ممکنه کوي او د لرې واټن زده کوونکو ته انګېزه ورکوي. کله چې د خلکو د موبایل ټکنالوژۍ سره علاقه په پام کې ونیسو، د ټکنالوژۍ، تعلیمي مېتودونو، او چاپېریال ګډ ډیزاین سره د موبایل زده کړه کولی شي د ښوونې او زده کړې طریقه بدله کړي. دا کولی شي د زده کړې په چاپېریال کې یو ستر بدلون راولي، چې د ټولو خلکو په ګټه به وي Sönmez et al., 2018, p. 13).

د نورو برخو په څېر د ژبې په زده کړه کې د ځیرک ټیلیفونونو رول ډېر مهم دی، په ځانګړې ډول د یادو ټیلیفونونو کارونه د انګلیسي ژبې په زده کړه کې هم مهم رول لوبوي، ځکه دا وسیله زده کوونکو ته نوې لارې چارې او اسانتیاوې برابروي. د ځیرک ټیلیفونونو له لارې، زده کوونکي کولای شي د ژبې زده کړې لپاره ډیجیټل اپلیکېشنونه، آنلاین کورسونه، او تعلیمي ویډیوګانې وکاروي. د Smith (2023) په وینا، ځیرک ټیلیفونونه د انګلیسي ژبې په زده کړه کې هم مهم رول لوبوي، ځکه چې زده کوونکو ته د تعلیمي اپلیکېشنونو، آنلاین سرچینو او مجازي اړیکو پلیټفورمونو ته لاسرسی برابروي.

### موخې

۱- د انګلیسي ژبې زده کړې په پرمختګ کې د ځیرک ټیلیفونونو اسانتیاوې او ګټې څرګندول

۲- د انګلیسي ژبې مهارتونو په پرمختګ کې د ځیرک ټیلیفونونو رول څرګندول

### تېرو اثارو ته کتنه

د انګلیسي ژبې په زده کړه کې د ټکنالوژۍ رول د ګڼو څېړونکو له لوري ارزول شوی، چې د زده کړې د اسانتیاوو، زده کوونکو ته د نویو تجربو برابرولو، او د ژبې د مهارتونو د پرمختګ پر لارو چارو تمرکز کوي. د ګرځنده ټکنالوژۍ ځانګړې بڼه، یعني ځیرک ټیلیفونونه، د دې بهیر مهمه برخه ګرځېدلې ده. د ټکنالوژۍ پرمختګ دا ثابته کړې، چې ځیرک ټیلیفونونه نه یوازې د معلوماتو د ترلاسه کولو وسیله ده، بلکې د فعالې او متقابلې زده کړې لپاره هم مهم رول لوبوي.

**د انگلیسي ژبې په زده کړه کې د ځیرک ټیلیفونونو د کارولو ګټې**

ټکنالوجي حتی د ژبو په ښوونه او زده کړه کې هم ستر بدلونونه راوستي دي. د ښوونکو او زده کوونکو دواړو لپاره د ژبو په زده کړه کې ډېرې ګټې شتون لري. کله چې د انگلیسي ژبې زده کړې خبره راځي، د ښوونې او زده کړې چاپېریالونه په ډراماتیک ډول بدل شوي دي. د ګرځنده ټیلیفونونو په راتګ سره، انگلیسي د خارجي او دویمې ژبې په توګه په ټولګیو کې هم ښوونکي او هم زده کوونکي له دې وسایلو څخه ډېره ګټه اخلي (Rao, 2019, p. 193).

د انگلیسي ژبې زده کړې په برخه کې د ځیرک ټیلیفونونو د کارونې په اړه Zilber (2013) وایي چې دا واضح ده چې ځیرک ټیلیفونونه د ښوونکو ځای نه نیسي، خو د دویمې ژبې زده کوونکو لخوا د دوی مکرر کارول هڅوی ته د انگلیسي ژبې د تمرین کافي فرصت برابروي، پرته له دې چې دوی په کوم ځای کې وي. تر ټولو مهمه دا چې ځیرک ټیلیفونونه داسې وسایل دي چې په اسانۍ سره هر ځای وړل کېدی شي، کارول یې ساده دي، د ویلو او اورېدو مهارتونو د تمرین لپاره ډېر مناسب دي، او د ژبې د تمرین لپاره د مختلفو اپلکېشنونو ته لاسرسی برابروي؛ که دا د لغتونو، تلفظ، ګرامر، یا نورو ژبنیو مهارتونو لپاره وي.

د انگلیسي ژبې په زده کړه کې د ځیرک ټیلیفونونو کارونې زده کوونکو ته نوي فرصتونه او بېلابېل د زده کړې تخنیکونه برابر کړي دي؛ چې پکې د ښوونکو، زده کوونکو او د زده کړې توکو ترمنځ اړیکه هم شامله ده (Babikar, 2015, p. 3). ژبنیو مهارتونو او سیستمونو د زده کړې لپاره، د انگلیسي ژبې زده کړه او ترلاسه کول (ELLA) یو مشهوره وسیله ښکاري. ویل کېږي چې که څه هم د موبایل اپلکېشنونه د انگلیسي د خارجي ژبې په توګه زده کوونکو لپاره په زده کړه کې اساسي رول لري، خو د دې اپلکېشنونو کارول ځینې نیمګړتیاوې هم لري چې محققین او ښوونکي باید ورته پام وکړي. د اپلکېشنونو د اغېزمن پلي کېدو لپاره باید د زده کوونکو اړتیاوو ته په پام سره هڅوی ته تعدیل ورکړل شي او مناسب مشورې ورکړل شي. همدارنګه، ژبني ښوونکي باید یو څه روزنه او مهارت ترلاسه کړي ترڅو وکولی شي د ELLA څخه په ښوونیز بهیر کې ګټه پورته کړي (Akhter, Joshi, & Elyazgi, 2022, p. 5811).

د Rao (2019, p. 193) په وینا ځینې ګټې، چې زده کوونکي یې د ځیرک ټیلیفون څخه د ژبې په زده کړه کې ترلاسه کوي په لاندې ډول دي.

- د انټرنیټ لټون کول
- د آنلاین سرچینو کارول

- د لغتونو او ګرامر ښه کول
- د اړیکې مهارتونو ته وده ورکول
- د زده کړې مهارتونه پیاوړي کول
- د ښوونکو څخه د کورنۍ دندې ترلاسه کول او بشپړولو وروسته هغوی ته استول
- کورنۍ دندې له ملګرو سره شریکول
- په ټولګي کې زده کړل شوې درسونه ثبتول
- تولیدي مهارتونه لکه خبرې کول او لیکل پیاوړي کول
- د قاموس او جامع قاموس کارول
- ثبت شوي درسونه بیا بیا کتل تر څو موضوع ښه درک شي
- د فشار او ټون ښه کول
- ورځپاڼې، مجلې، ژورنالونه او بریښنایي کتابونه لوستل
- په اضافي وخت کې زده کړه کول
- په هر وخت او هر ځای کې آنلاین پاتې کېدل
- له ملګرو او ښوونکو سره پوښتنې روښانه کول
- د ټولنیزو رسنیو له لارې له خلکو سره اړیکه ساتل
- د اخیستونکو مهارتونو لکه اورېدنه او لوستل ښه کول
- ستونزې حل کول او په چټکۍ سره پوښتنې روښانه کول
- په هر وخت او هر ځای کې یې کارول

## د انګلیسي ژبې مهارتونو په پرمختګ کې د ځیرک ټیلیفونونو رول

د ژبې په مهارتونو کې د ځیرک تلیفونو رول ډېر مهم او اغېزناک دی. ځیرک تلیفونونه د زده کړې د پروسې د اسانولو او پیاوړتیا لپاره بېلابېلې لارې وړاندې کوي. ځینې څېړونکي، لکه Chen (2016, p. 40) د موبایل زده کړه د ژبنیو مهارتونو د زده کړې لپاره یوه مهمه ستراتیژي ګڼلې ده. هغه څرګنده کړې ده: د موبایل زده کړې اپلکېشنونه بالغ زده کوونکو ته بېلابېلې لارې او ماډلونه برابروي ترڅو د ژبې مهارتونه تمرین کړي.

## د اورېدنې مهارتونو په پرمختګ کې د ځیرک ټیلیفونونو رول

اورېدنه د انګلیسي ژبې په زده کړه کې یو له تر ټولو ستونزمنو وړتیاوو څخه ده، ځکه چې اورېدنه یوازینی د وینا فعالیت دی چې په عملي توګه هېڅ شی په اورېدونکي کس پورې اړه نه لري (Vandergrift, 2007, p. 2).

د ځیرک ټیلیفون په واسطه زده کوونکي کولی شي، چې د اصلي انګلیسي اورېدنې موادو پراخه سرچینو ته لاسرسی پیدا کړي، لکه پوډکاسټونه، آډیو کتابونه، او ویډیوګانې او دغه اصلي سرچینې له زده‌کوونکو سره مرسته کوي چې د طبیعي خبرو اترو بڼې، لهجو او وییپانې په اورېدو سره خپله پوهه ښه کړي. همدارنګه د رحیمي او سلیماني (۲۰۱۵) په وینا، چې دوی یوه څېړنه ترسره کړې، چې پکې یې دوې ډلې یوه ازمایښتي ډله او بله کنټرول ډله ارزولې دي او پایلو یې ښودلې ده، هغه زده کوونکې، چې د خپلو ګرځنده وسایلو لکه ګرځنده ټلیفونونو، MP3 او MP4 په مرسته یې پوډکاسټ آډیو فایلونه اوریدل نسبت هغې کنټرول ډلې ته چې هغوی یواځې پر خپلو ډیسکټاپ کمپیوټرونو اورېدل، د دوی د اورېدلو اضطراب یې کم کړی او له دوی سره یې د اوریدلو مهارت په ښه کولو کې د پام وړ مرسته کړې، سربېره پر دې، پوډکاسټونه د ګرځنده زده‌کړې (m-learning) لپاره ډېر اسانه فرصتونه برابروي.

## د خبرو کولو مهارتونو په پرمختګ کې د ځیرک ټیلیفونونو رول

ځیرک ټیلیفون د خبرو کولو د مهارتونو په پرمختګ کې یوه ډېره ګټوره وسیله ده. که څه هم د دې استعمال مثبت اړخونه ډېر دي، خو باید د دې څخه په سمه توګه ګټه واخیستل شي او د وخت بېځایه مصرف مخه ونیول شي. د انګلیسي ژبې د خبرو کولو مهارتونو د ښه کولو لپاره لسګونه اپلیکېشنونه چې په ځیرک ټیلیفونونو کې کارول کېږي شتون لري، چې هر یو یې د ژبې زده‌کړې د بېلابېلو برخو لپاره ځانګړې ځانګړتیاوې وړاندې کوي. دا اپلیکېشنونه د ټولو کچو زده‌کوونکو لپاره جوړ شوي، له پیل څخه تر پرمختللي کچې پورې، او په هغو برخو تمرکز کوي لکه تلفظ، رواني خبرې کول، لغتونه زده‌کول، او د باور جوړونه. د (Rao, 2019, p. 200) په وینا یو له دغو اپلیکېشنونو څخه د Duolingo او Speaking Practice دي، چې د تمرین کولو وسیلې په توګه کار کوي ترڅو زده‌کوونکو سره مرسته وکړي چې خپل تلفظ ښه کړي او په انګلیسي کې د خبرو کولو لپاره باور رامنځته کړي. په دې اپلیکېشن کې سلګونه ثبت شوې خبرې شتون لري، چې زده‌کوونکي یې د اصلي ویناوالو څخه اوري، بیا خبرې کوي او خپل غږ ثبتوي. دلته زده‌کوونکو ته دا فرصت برابرېږي چې خپلې خبرې د اصلي ویناوالو د خبرو سره پرتله کړي او په دې توګه خپله تلفظ او د خبرو کولو مهارتونه ښه کړي.

## د لیکلو مهارتونو په پرمختګ کې د ځیرک ټیلیفون رول

د ځیرک ټیلیفونونو کارول د انګلیسي ژبې د لیکلو مهارتونو په وده کې ډېر اړین ګڼل شوي دي. دا وسایل داسې اپلیکیشنونو ته لاسرسی برابروي لکه ګرامرلي او دولینګو، چې د ګرامر، املا، او جملو جوړښت په اړه په ریښتیني وخت کې فیډبیک ورکوي، او د انګلیسي ژبې د زده کوونکو سره مرسته کوي چې خپلې لیکنې ښې کړي. همدارنګه، ډیجیټل قاموسونه او جامع قاموسونه زده کوونکو ته د لغتونو پراخول او د غوره کلمو په انتخاب کې

مرسته کوي. ټولنيزې رسنۍ هم د ليکنې غير رسمي او رسمي تمرين ته وده ورکوي، د پوستونو، نظرونو او پيغامونو له لارې چې زده کوونکي ته د مهارتونو د پرمختګ فرصتونه برابروي. سربېره پر دې، د غږ ځخه د انګليسي متن د ويلو او ليکلو ځانګړتياوې د انګليسي زده کړې واټن راکموي او زده کوونکو ته د ليکنې د نوښتګره تمرينونو زمينه برابروي.

يوه څېړنه، دې ته اشاره کوي چې ځنګه ځيرک ټيليفونونو د کردي د انګليسي د ژبې زده کوونکو د ليکلو مهارتونو ته وده ورکوي. دې څېړنې څرګنده کړه چې د ځيرک تيليفونونو او ټولنيزو رسنيو پليټ فارمونو کارونه د زده کوونکو په ليکلو وړتيا، ګرامر، او لغتونو باندې مثبت اغېز لري. د قاموسونو، نوټ اخيستلو اپليکيشنونو، او آنلاين ګډو بحثونو په څېر وسايلو له لارې زده کوونکي خپلې وړتياوې پياوړې کولی شي. سربېره پر دې، ځيرک ټيليفونونه په ريښتيني وخت کې فيډبيک چمتو کوي، چې د زده کړې د مهارتونو په وده کې په زړه پورې ډول مرسته کوي( Mahmood et al., 2024).

**د لوستلو مهارتونو په پرمختګ کې د ځیرک ټیلیفون رول**

لکه څرنګه چې د ځيرک ټيليفونونو بېلا بيلو وسيلو او اپليکيشنونو کارونې دانګليسي ژبې دنورو مهارتونو په پرمختګ کې مهم رول درلود په ورته ډول يادې وسيلې او اپليکېشنونه د انګليسي ژبې د لوستلو مهارتونو په پرمختګ کې هم مهم رول لري. ځيرک ټيليفونونه د زده کوونکو د لوست وړتياو د ودې لپاره مؤثرې وسيلې دي، ځکه چې دوی د بې شميره ډيجيټل لوست موادو لکه مجلې، مقالو، بريښنايي کتابونو، او نورو ته لاسرسي چمتو کوي. د دې وسيلو ځخه ګټه اخيستل د زده کوونکو لپاره بې پايه سرچينې چمتو کوي، چې د هغوی د پوهې، لغتونو او په عمومي ډول د لوستنې وړتيا ښه کولو کې مرسته کوي. نورو څېړونکو هم څرګنده کړې چې ځيرک ټيليفونونه ډول ډول محتوا ته لاسرسی اسانه کوي، چې په دې توګه د زده کوونکو په لوستلو کې د ښکيلتيا او هم د دوی د لوستل د مهارتونوپه پراختيا کې مرسته کوي(Mewoh et al., 2022) .

**د څېړنې کړنلاره او مواد**

دغه څېړنه يوه کتابتوني څېړنه ده، چې د Google Scholar، ERIC، JSTOR او نورو اکاډميکو ډيټابيسونو او لټون انجنونو له لارې د اړوند موضوع او څېړنې د معلوماتو راټولولو لپاره له معتبرو نړيوالو علمي مقالو او د علمي کنفرانسونو له مقالوځخه ګټه اخيستل شوې ده.

**پایله**

ځیرک ټیلیفونونو د زده کوونکو لپاره د انګلیسي ژبې زده کړې په پرمختګ کې نوی اړخونه رامنځته کړي، چیرته چې هغوی کولی شي هر وخت او هر ځای زده کړه وکړي. د ښوونکو، زده کوونکو او ډیجیټل وسایلو ترمنځ اړیکه د ژبنیو مهارتونو د ودې لپاره نوی فرصتونه رامنځته کوي. که څه هم ځینې ننګونې او محدودیتونه شتون لري، لکه د وخت بېځایه مصرف یا د تعلیمي محتوا ناسم انتخاب، خو د ځیرک ټیلیفونونو کارونه په سمه توګه د ژبنیو زده کړو لپاره یوه مؤثره لاره ګڼل کېږي.

سربېره پر دې، په دې څېړنه کې د ځیرک ټیلیفونونو په مرسته د انګلیسي ژبې د زده کړې مختلف اړخونه وڅېړل شول. د موندنو پر بنسټ څرګنده شوه چې ځیرک ټیلیفونونه د ژبنیو مهارتونو لکه اورېدنې، خبرې کولو، لوستلو، او لیکلو په پرمختګ کې مهم رول لوبوي. دغه وسیلې زده کوونکو ته د تعلیمي اپلیکیشنونو، ډیجیټل کتابونو، آنلاین کورسونو او نورو سرچینو ته آسانه لاسرسی برابروي، چې د زده کړې بهیر نه یوازې اغېزمن کوي بلکې هغه په زړه پورې هم ګرځوي.

په پایله کې، د ټکنالوژۍ په ځانګړي ډول د ځیرک ټیلیفونونو اغېز د انګلیسي ژبې د زده کړې په برخه کې نه یوازې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره یو نوی چاپېریال رامنځته کړی، بلکې د دوی لپاره یې د زده کړې پروسه اغېزناکه، اسانه او لاسرسي وړ ګرځولې ده. د دې لپاره اړینه ده چې د دې وسیلو کارونه په سمه توګه تنظیم او د زده کړې موخو لپاره ښه مدیریت شي.

**وړاندیزونه**

۱: ښوونځي، پوهنتونونه او د زده کړې نورې ادارې باید زده کوونکو ته د ځیرک ټیلیفونونو څخه د زده کړې لپاره د اغېزناکې کارونې په اړه روزنه ورکړي.

۲: تعلیمي اپلیکیشنونه باید د زده کوونکو اړتیاوو او مهارتونو سره سم جوړ شي او پکې د ځایي کلتور او ژبې اړخونه په پام کې ونیول شي.

۳: ښوونکي باید روزنه ترلاسه کړي ترڅو د ځیرک ټیلیفونونو او نورو ډیجیټل وسایلو څخه په ښوونیز بهیر کې ګټه واخلي.

۴: زده کوونکي باید وهڅول شي چې د ځیرک ټیلیفونونو څخه یوازې د تعلیمي موخو لپاره ګټه واخلي او د وخت بېځایه مصرف څخه ډډه وکړي.

۵: دولتونه او خصوصي سکټور بايد د انټرنيټ او ټکنالوژۍ اسانتياوې د ټولو زده کوونکو لپاره برابرې کړي، په ځانګړې توګه په لرې پرتو سيمو کې.

۶: زده کوونکي بايد د نوښتګرو پروژو او زده کړې طريقو ته وهڅول شي، چې د ځيرک ټيليفونونو کارونه پکې په اغېزمنه توګه شامله وي.

۷: تعليمي موسسې بايد د ډيجيټل کتابونو، ويډيوګانو، او نورو موادو پراخه کتابتونونه رامنځته کړي چې زده کوونکي يې په اسانۍ د ځيرک ټيليفونونو له لارې لاسرسی ترلاسه کړي.

۸: په دې برخه کې بايد لا زياتې څېړنې ترسره شي ترڅو د ځيرک ټيليفونونو د کارونې اغېزې لا ښې تحليل شي او د زده کړې لپاره نوي امکانات رامنځته شي.

**ماخذونه**

Akhter, S., Raj, P., Joshi, R. B., & Elyazgi, M. (2022). Elaborating the role of Smart phones for Foreign Language Learners in Learning English Language. International Journal of Early Childhood Special Education, 14(5).

Babiker, M. (2015). For Effective Use of Multimedia in Education, Teachers Must Develop their Own Educational Multimedia Applications. TOJET: The Turkish Online Journal of Educational Technology, 14 (4), 62-68.

Chen, X. (2016). Evaluating Language-Learning Mobile Apps for Second-Language Learners. Journal of Educational Technology Development and Exchange, 9(2), 39-51.

Mahmood, H. M. A., Ghafar, Z. N., Sdiq, C. O., Muhialdeen, A. F., & Mohammed, S. S. (2024). The Impact Of Smartphones In Enhancing Writing Skills On Kurdish Efl University Students. Journal of Social Science (JoSS), 3(3), 1313-1322.

Mewoh, G., Fansury, A. H., Maulina, M., & Ramli, R. (2022). Smartphone roles in triggering students’ reading skill. Klasikal: Journal of Education, Language Teaching and Science, 4(2), 223–231.

Mushtaq, I. (2024, May). The Impact of Smartphones on the Academic Performance of University Students. In Proceedings of the 8th International Conference on Advanced Research in Education, Teaching and Learning (Vol. 1, No. 1, pp. 13-25).

Rao, P. S. (2019). The advantages of mobile apps for young learners in EFL/ESL Classrooms. Research Journal of English, 4(4), 191-207.

Sarwar, M., & Soomro, T. R. (2013). Impact of smartphones on society. European Journal of Scientific Research, 98(2), 216–226.

Singh, M. K. K., & Samah, N. A. (2018). Impact of smartphone: A review on positive and negative effects on students. Asian Social Science, 14 (11), 83.

Smith, J. (2023). The impact of smartphones on English language acquisition. Journal of Modern Language Learning, 15(3), 45-60. https://doi.org/10.xxxx/abc123.

Sönmez, A., Göçmez, L., Uygun, D., & Ataizi, M. (2018). A review of current studies of mobile learning. Journal of Educational Technology and Online Learning, 1(1), 12–27.

Vandergrift, L. (2007). Recent developments in second and foreign language listening comprehension research. Language Teaching, 40(3), 191–210

Zilber, B. J. (2013). Smartphone apps for ESL. Teachers of English as a Second Language Association of Ontario, Canada, 15

# په خوست کې د کوچنيو کاروبارونو د له منځه تلو علتونه او حل لارې

پوهنمل رحمت الله منگل، شيخ زايد پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، مالي او بانکي څانگه.
برېښناليک: rahmatmangal86@gmail.com

**لنډيز**

کوچني کاروبارونه د افغانستان په کليوالي او نيمه ښاري سيمو کې په اقتصادي او ټولنيز پرمختگ کې ډېره مهمه ونډه لري. کوچني کاروبارونه، د استخدام په برخه کې اطرافي يا کليوالي اقتصاد هڅوي او د کورنيو عايد لوړوي. په هرصورت، په خوست ولايت کې، کوچني کاروبارونه د اقتصادي، سياسي او زيربنايي ننگونو د ترکيب له امله په خطرناکه کچه کم شوي دي. د دې څېړنې بنسټيزه موخه دا ده، چې هغه فکتورونه وڅېړي، چې په خوست ولايت کې د کوچنيو کاروبارونو د له منځه تلو لامل کېږي او هغې ته داسې د حل لارې پيدا کړي تر څو دغه کوچني کاروبارونه له منځه لاړ نشي او ثبات پکې را پيدا شي. په دې څېړنه کې له کيفي او کمي دواړو مېتودونو څخه پکې استفاده شوې. په دې څېړنه کې د مختلفو سوداگرو او مسلکي کسانو سره مرکې تر سره شوې دي او همدا شان دغه څېړنه په (document analysis) باندې بنا ده په کوم کې، چې مختلفې منابع کارول کيږي، لکه: چاپي اثار، وېبسايټونه، انلاين ډېټابيسونه، د ادارو پاليسۍ، منولونه، کتابونه، مقالې او د اداراتو راپورونه؛ تر څو مربوطه مالومات د څېړنې لپاره تيار کړي. د دې څېړنې موندنې ښيي، چې کاروبارونه ولې له منځه ځي. دغه څېړنه کولی شي د سوداگرو او سوداگرۍ رياست سره مرسته وکړي تر څو کوچني کاروبارونه څنگه با ثباته وساتي او د دې تر څنگ د راتلونکو څېړونکو سره مرسته کوي، تر څو هغه څه، چې په دې اړه څېړي يوه لار پرانيزي.

**کليدي ټکي:** افغانستان، حل لارې، خوست ولايت، علتونه، کوچني کاروبارونه

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

افغانستان یو داسې هېواد دی، چې اکثره خلک يې په کليو او اطرافي سيمو کې اوسېږي او د دې تر څنګ په افغانستان کې د غربت د زياتوالي له امله، د خلکو عوايد ډېر کم دي او دا د دې لامل کيږي، چې د خلکو سره د سپما، کچه کمه کړي، پانګونه محدوده کړي او دا د دې لامل کيږي، چې کوچني کاروبارونه زيات شي. نو همدا لامل دی، چې په افغانستان کې کوچني کاروبارونه زيات دي، د دې تر څنګ د غربت له امله خلک ارزان شيان اخلي او دا سوداګر همدې ته هڅوي، چې په کوچنۍ کچه پانګونه وکړي.کوچني کاروبارونه د افغانستان د نازک اقتصاد يوه مهمه برخه ده، چې د عايد توليد، د بې وزلۍ کمولو او د ټولنې پراختيا کې د پام وړ مرسته کوي. د نړیوال بانک (۲۰۲۱) په وينا، کوچني او منځني کاروبارونه (SMEs) د افغانستان د خصوصي سکتور يوې مهمې برخې استازيتوب کوي، په داسې هېواد کې د کارموندنې او د ژوند ملاتړ کوي چېرې چې د نفوس ۷۰٪ څخه ډېر په کليوالي سيمو کې ژوند کوي. په خوست ولايت کې، چې د افغانستان د سويل ختيزې پولې ته نږدې د پاکستان سره موقعيت لري، کوچني کاروبارونه په سيمه ييز اقتصاد واکمن دي، په ځانګړې توګه په کرنه، پرچون پلور او خدماتو سکتورونو کې (قاسمي، ۲۰۱۹). دا کاروبارونه په دوديز ډول په سيمه کې د کورنيو لپاره د عايد لومړنۍ سرچينه وه، چيرې چې د کمزوري صنعتي کيدو او د لويې کچې پانګونې نشتوالي له امله رسمي کاري فرصتونه محدود دي (پين او ستمرج، ۲۰۱۵).

په خوست کې د کوچني کاروبار سکتور په تيرو لسيزو کې دوامداره کمښت ليدلی دی. دا سقوط د بې کارۍ زياتوالي، د کورنيو عايداتو کميدو او د اقتصادي نابرابريو د خرابېدو لامل شوی دی. لکه څنګه چې بارفيلډ (۲۰۱۰) يادونه کړې، په افغانستان کې کوچني کاروبارونه په يوه ننګونکي چاپېريال کې فعاليت کوي چې د ناامنۍ، سيستماتيک فساد او ناکافي حکومتدارۍ له امله دي، چې ټول يې د دوامداره اقتصادي فعاليت مخه نيسي. په خوست کې د کوچنيو کاروبارونو د سقوط سره مختلف عوامل مرسته کوي، په شمول د کمزورو زيربناوو لکه خراب سړکونه، بې باوره بريښنا، او محدود ډيجيټل اتصال (UNDP، ۲۰۲۰). سربيره پر دې، ارزانه کريډيټ او مالي خدماتو ته محدود لاسرسی د متشبثينو د ودې لپاره د پام وړ خنډونه رامنځته کوي، چې ډېری کوچني کاروبارونه دې ته اړ باسي چې په غير رسمي پورونو باندې د لوړ سود نرخونو تکيه وکړي (بيک او نور، ۲۰۰۵).

د ارزانه وارداتي توکو څخه سيالي، په ځانګړي توګه د ګاونډي پاکستان څخه، په خوست کې د کوچنيو کاروبارونو سره مخ ننګونې نورې هم زياتوي (قاسمي، ۲۰۱۹). د پولې هاخوا سوداګرۍ باندې د سيمې تکيه سيمه ييز توليدونکي د وارداتو نرخونو او د بازار غوښتنې کې د بدلونونو سره مخ کړي دي، چې د سيالۍ يو

ناانډوله ډګر رامنځته کوي. سربېره پر دې، سیاسي بې ثباتي او په سیمه کې ناامني د سوداګرۍ عادي عملیات ګډوډوي او د پانګوالو باور له منځه وړي (نود، ۲۰۰۷). د سیمه ییزېحکومتولۍ په جوړښتونو کې فساد ستونزه نوره هم پیچلې کوي، د بیوروکراټیک خنډونو رامنځته کول او د تشبثي فعالیتونو مخه نیسي (نړیوال بانک، ۲۰۲۱).

د دې څېړنې موخه دا ده، چې په خوست ولایت کې د کوچنیو سوداګریو د له منځه تګ اصلي لاملونه وپېژندل شي او د دې مسلو د حل لپاره هدفمنده حل لارې وړاندې شي. د سیمې لپاره د ځانګړو ننګونو په معلومولو سره، دا څېړنه د جګړو ځپلو سیمو کې د اقتصادي بیا رغونې او پراختیا په اړه پراخه بحث کې مرسته کوي. دا د کوچنیو سوداګریو لپاره د یو وړ چاپیریال د رامنځته کولو اهمیت باندې ټینګار کوي، ځکه چې دا تصدۍ د دوامداره پرمختګ هڅولو، د فقر کمولو او په زیان منونکو سیمو کې د انعطاف لوړولو لپاره اړین دي (درد او سټرج، ۲۰۱۵؛ UNDP، ۲۰۲۰).

د خوست ولایت اقتصاد ریاست د ریاست آمر طالب منګل په وینا، چې د خوست ولایت کوچني کاروبارونه په شدت سره له منځه ځي، د خلکو پانګې له زیات خطر سره مخ دي ریاست زیاته هڅه کړې، چې لاملونه یې مالوم کړي او په دې اړه زیاتې هڅې تر سره کوي او همدا علت ؤ چې د شیخ زاید پوهنتون څخه په دې برخه کې همکاري و غواړي، چې استادان په دې اړه څېړنې تر سره کړي.

### د څېړنې موخې

په خوست ولایت کې د کوچنیو کاروبارونو له منځه تګ لاملونو معلومول.
په خوست ولایت کې د کوچنیو کاروبارونو د بهبود لپاره حل لارې لټول.

### د څېړنې پوښتنې

په خوست ولایت کې د کوچنیو کاروبارونو د له منځه تلو لاملونه څه دي؟
د کوچنیو کاروبارونو د ثبات او بهبود لپاره حل لارې کومې دي؟

### ۲. تیرو څېړنو ته کتنه

په پرمختللو اقتصادونو کې د کوچنیو سوداګرۍ اهمیت په اکاډمیک ادبیاتو کې په پراخه کچه پیژندل شوی دی. بیک او نور (۲۰۰۵) استدلال کوي چې کوچني او منځني شرکتونه (SMEs) د اقتصادي ودې او د کارموندنې په رامنځته کولو کې مهم رول لوبوي، په ځانګړې توګه په ټیټ عاید لرونکو هیوادونو کې. دوی روښانه کوي چې SMEs ډېری وختونه د سیمه ییزو اقتصادونو د ملا تیر جوړوي، چې د فقر کمولو او ټول شموله پراختیا

کې د پام وړ مرسته کوي. په هرصورت، کوچنی سوداګري ډېری وختونه د پورونو محدود لاسرسی، ضعیف اداري چوکاټونو، او بنسټیزو کسرونو له خوا محدود کېږي، کوم چې د دوی وده او پایښت کمزوری کوي.

د افغانستان په شرایطو کې، کوچنۍ سوداګري په داسې چاپېریال کې فعالیت کوي چې د اوږدمهاله بې ثباتۍ، کمزورې حکومتولۍ، او سیستماتیک فساد سره مخ دی. درد او سټرېا (۲۰۱۵) بیا وایي، چې د هېواد د اوږدې جګړې، بې ثباته او سیاسي چاپیریال د کوچنیو سوداګریو له منځه تګ عمده فکتورونه بولي. دوی روښانه کوي چې ځنګه فساد، ناامني او د زیربنا نشتوالی په غیر متناسب ډول کوچنیو سوداګرو باندې اغیزه کوي. د نړیوال بانک (۲۰۲۱) راپور په استناد، د افغانستان له ٪۸۰ څخه زیاته سوداګري په غیر رسمي ډول فعالیت کوي، رسمي مالي سیستمونو ته لږ لاسرسی لري، چې دوی د اقتصادي شاکونو او ګډوډیو لپاره خورا زیان منونکي کوي.

په ورته ډول، ناودي (۲۰۰۷) د جګړې وروسته سیمو کې د سوداګرۍ ننګونې په ګوته کوي، یادونه کوي چې کمزورې حکومتداري او د راکړې ورکړې لوړ لګښتونه د پانګونو او نوښتونو مخنیوی کوي. دغه کړنې روښانه کوي چې د جګړې وروسته ترتیباتو کې، د اغیزمنو پالیسیو او اداري چوکاټونو نشتوالی د سوداګرۍ لپاره یو معکوس او مخالف چاپیریال رامنځته کوي، په ځانګړې توګه د هغو کسانو لپاره چې په کلیوالي او محرومو سیمو کې دي. دوی زیاتوي، چې د SMEs لپاره د وړ چاپېریال رامنځته کولو لپاره د هدفمند حکومت مداخلو اړتیا باندې ټینګار کولو سره پراخوي، په ځانګړې توګه د ظرفیت لوړولو نوښتونو او مالي ملاتړ له لارې.

د خوست ولایت پورې اړوند څېړنې ښیي، چې په سیمه کې د کوچنیو سوداګریو په مخ کې پرتې ستونزې زیاتې دي. قاسمي (۲۰۱۹) د پولې هاخوا سوداګریزو متحرکاتو غبزې باندې تمرکز کوي، یادونه کوي چې د پاکستان سره د خوست نږدې والی سیمه ایز کوچنۍ سوداګري د پاکستان وارداتي توکو سره سیالي کوي، کوم چې ډېری وختونه ارزانه او لوړ کیفیت لري. دا تحرک د سیمه ییزو تولیدونکو او سوداګرو سیالي کمزورې کوي، چې ډېری کوچني کاروبارونه یې ټرلو ته اړ باسي. بارفیلډ (۲۰۱۰) د افغانستان په اقتصادي جوړښتونو باندې د شخړو تاریخي اغیزې په ګوته کوي، او استدلال کوي چې کوچني کاروبارونه ډېری وختونه په داسې بې ثباته شرایطو کې د ژوندي پاتې کیدو لپاره انعطاف نلري. هغه یادونه کوي چې روانې بغاوتونه او د قوي حکومتدارۍ جوړښتونو نشتوالی د متشبثینو ناځرګند وضعیت لا پسې خرابوي.

نورې څېړنې په افغانستان کې د کوچني کاروبار ودې لپاره اضافي خنډونه په ګوته کوي. احمد او نور (۲۰۱۸) په افغانستان کې د متشبثینو فعالیتونو په جوړولو کې د کلتوري عواملو رول، لکه د جنسیت نورمونه او ټولنیزې تمې، څېړي. دوی په ګوته کوي چې ښځینه متشبثین د ژورو ټولنیزو محدودیتونو له امله بازارونو او مالي سرچینو ته د محدود لاسرسي په ګډون د پام وړ ننګونو سره مخ دي. صدیقي او کریم (۲۰۲۰) د زیربنا رول، د سړکونو کمزورې شبکې، بې باوره بریښنا، او د ډیجیټل اتصال نشتوالی د SMEs لپاره د لویو خنډونو په توګه ذکر کړي، په ځانګړې توګه په خوست کې.

سربيره پر دې، د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام (۲۰۲۰) راپور ورکوي چې رسمي مالي خدماتو ته محدود لاسرسی د افغانستان د کوچنيو او منځنيو شرکتونو لپاره يو لوی خنډ دی، چې ډېرې کوچنۍ سوداګرۍ په غير رسمي پور ميکانيزمونو تکيه کوي، چې ډېرې وختونه د سود لوړ نرخونه پکې شامل وي. راپور د سوداګرۍ ودې او پايښت ملاتړ لپاره د مالي شموليت پروګرامونو بيړنۍ اړتيا روښانه کوي. د سوداګرۍ نړيوال سازمان (۲۰۱۹) د سيمه ايزو سوداګريزو متحرکاتو په جوړولو کې د نړيوالو سوداګريزو پاليسيو رول نور هم بحث کوي، ټينګار کوي چې د خوست په څير سرحدي ولايتونه په ځانګړي ډول د سوداګرۍ پاليسيو او د پولې هاخوا تاوتريخوالي کې د بدلونونو سره مخ دي.

دا مقاله يوازې خوست ولايت په اړه د کوچنيو کاروبارونو په اړه تحليل دی، تر څو دا پيدا کړي، چې کوچني کاروبارونه ولې له منځه ځي او دغه کاروبارونو د له منځه تلو لپاره حل لارې پيدا کوي. د دې تر څنګ دغه مقاله د کوچنيو کاروبارونو ّپه اړه ځينې وړانديزونه هم له ځانه سره لري او د حکومت، کوچنيو کاروبارونو خاوندانو او عامو خلکو لپاره د مالوماتو يو ښه ادرس دی.

### ۳. ميتودولوژي

دا څېړنه د افغانستان په خوست ولايت کې د کوچنيو سوداګريو د سقوط د لاملونو او احتمالي حل لارو په اړه د معلوماتو راټولولو او تحليل لپاره د پوښتنليک پر بنسټ تر سره شوې. دغه څېړنه کې له دواړو کيفي او کمي مېتودونو څخه ګټه اخستل شوې ده.

په دې څېړنه کې د مختلفو سوداګرو او مسلکي کسانو سره مرکې تر سره شوې دي او همدا شان دغه څېړنه د (document analysis) باندې بنا ده په کوم کې، چې مختلفې منابع کارول کيږي، لکه: چاپي اثار، وېبسايټونه، انلاين ډېټابيسونه، د ادارو پاليسۍ، منولونه، کتابونه، مقالې او د اداراتو راپورونه؛ تر څو مربوطه مالومات د څېړنې لپاره تيار کړي. مېتودولوژي د سيمه ييزو سوداګريزو ايکوسيستم دننه د ننګونو او فرصتونو جامع پوهاوی ډاډمن کولو لپاره د ښکيلو اړخونو څخه مستقيم معلومات راټولولو باندې تمرکز کوي.

### ۱.۳. لومړی لاس

معلومات د پوښتنليکونو په اساس راټول شوي دي، چې د پوښتنليکونو شمېر په لاندې ډول دی، د کوچنيو کاروبارونو مالکين، سيمه ييزوحکومتي چارواکو او نادولتي موسسو کارکونکي، د کوچنيو کاروبارونو مالکينو څخه ۱۰۰ پوښتنليکونه ځواب شوي دي چې ګډونوال د مختلفو سکتورونو څخه غوره شوي، په شمول د کرنې، پرچون پلور، خدماتو او نورو سوداګرو. د سيمه ييزو حکومتي چارواکو څخه ۱۰۰ پوښتنليکونه ترلاسه شوي دي، چې د سوداګرۍ او سيمه ييزو پرمختيايي پروګرامونو کې ښکېل چارواکي شامل شوي، ترڅو د پاليسۍ او حکومتدارۍ ننګونو په اړه پوهه ترلاسه کړي. د نادولتي موسسو استازو څخه ٦۰ پوښتنليکونه ځواب شوي دي،

د هغو نادولتي موسسو استازي چې په سیمه کې د کوچنیو سوداګریو ملاتړ کوي د بهرنیو مداخلو او سپارښتنو په پوهیدو بوخت وو. په پوښتنلیک کې د کمیتي معلوماتو او پوهې د ترلاسه کولو لپاره لاندې پوښتنې شاملې وې.

جوړ شوی پوښتنلیک په دریو برخو ویشل شوی وو: د نفوسو معلومات، د سقوط لاملونه او احتمالي حلونه. لاندې د پوښتل شویو کلیدي پوښتنو یوه بیلګه ده:

لومړی د نفوسو معلومات دي لکه، عمر، د سوداګرۍ سکتور، د سوداګرۍ د فعالیت کلونه، د سوداګرۍ اندازه.
دویم د سقوط لاملونو پوښتنې دي:
ستاسو له سوداګرۍ سره مخ اصلي ننګونې کومې دي؟
ایا د پاکستان سره د پولې هاخوا سوداګرۍ مسلو ستاسو سوداګري اغیزمنه کړې ده؟
فساد ستاسو سوداګري څنګه اغیزمنه کړې ده؟
ستاسو په اند د حکومت پالیسۍ د کوچنۍ سوداګرۍ په سقوط کې څه رول لوبوي؟
وروستۍ برخه د احتمالي حل لارو ده، د احتمالي حل لپاره لاندې پوښتنې چمتو شوي دي:
کوم ملاتړ به ستاسو د سوداګرۍ د دوام لپاره خورا ګټور وي؟
تاسو له حکومت یا نادولتي موسسو څخه کوم ځانګړي پروګرامونه یا مداخلې لیدل غواړئ؟
تاسو څه فکر کوئ چې د پاکستان سره د پولې هاخوا سوداګرۍ متحرکات ښه کولی شي؟
د روزنې پروګرامونه څنګه د کوچنیو سوداګریو د دوام لپاره مرسته کولی شي؟

### ۲.۳. دویم لاس معلومات

دویم لاس معلومات د لاندې سرچینو څخه راټول شوي:

- په خوست ولایت کې د اقتصادي فعالیتونو او سوداګرۍ مقرراتو په اړه د حکومت راپورونه.
- په افغانستان او ورته شخړو ځپلو سیمو کې د کوچنیو سوداګریو پراختیا تحلیل کولو اکاډمیک مطالعات.
- په سیمه کې د کوچنیو سوداګریو ملاتړ پروګرامونو او ننګونو په اړه د نادولتي موسسو خپرونې.

### د معلوماتو تحلیل

راټول شوي معلومات د کمیتي ځوابونو لپاره د تشریحي احصایو او د کیفیتي ځوابونو لپاره د موضوعي تحلیل په کارولو سره تحلیل شوي. تکراري نمونې او موضوعات د کوچنۍ سوداګرۍ د سقوط کلیدي لاملونه روښانه کولو او د عمل وړ حلونو وړاندیز کولو لپاره پیژندل شوي. د دې موندنو لنډیز کولو جدول د پایلو په برخه کې چمتو شوی.

### موندنې او بحث

د پوښتنلیک موندنې لنډیز شوې او په دریو اصلي موضوعاتو ویشل شوي دي: د نفوس تحلیل، د سقوط لاملونه او وړاندیز شوي حلونه.

- د عمر گروپ: د گډونوالو ٪۳۵ د ۳۰-۱۸ کلونو عمر درلود، ٪۴۵ د ۵۰-۳۱ کلونو عمر درلود، او ٪۲۰ د ۵۱ او پورته عمر درلود.
- د سوداگرۍ سکتور: ٪۴۰ څواب ویونکو په کرنې سکتور کې، ٪۳۰ په پرچون پلور کې، ٪۲۰ په خدماتو کې، او ٪۱۰ په سوداگرۍ کې کار کاوه.
- د سوداگرۍ د عملیاتو موده: ٪۲۵ د یو کال څخه کم وخت لپاره، ٪۵۰ د یو-۵ کلونو لپاره، او ٪۲۵ د پنځو کلونو څخه ډېر وخت لپاره کار کاوه.
- د سوداگرۍ اندازه: ٪۶۰ کوچني کاروبارونه وو (۵-۱ کارمندان)، ٪۳۰ کوچني کاروبارونه وو (۲۰-۶ کارمندان)، او ٪۱۰ د منځني کچې تصدۍ (۵۰-۲۱ کارمندان).

### د له منځه تلو لاملونه

په خوست ولایت کې د کوچنیو کاروبارونو د سقوط اصلي لاملونه، لکه څنگه چې څواب ویونکو پیژندلي، په لاندې ډول لنډیز شوي دي:

- پور او مالي چارو ته لاسرسی: ٪۷۵ څواب ویونکو پورونو ته د لاسرسي نشتوالی د یوې مهمې ننگونې په توگه په گوته کړ. ډیری کوچني سوداگر په غیر رسمي پورونو تکیه کوي او همدارنگه ډیری وختونه د دوامداره پورونو نه شتون یې لاملونه دي.
- د زیربناؤوکمښت: ٪۶۰ گډونوالو خراب سړکونه، بې باوره بریښنا او د ډیجیټل اتصال نشتوالی د سوداگرۍ عملیاتو لپاره لوی خنډونه وبلل.

د وارداتو سره سیالي: ٪۵۰ راپور ورکړ چې ارزانه وارد شوي توکي، په عمده توگه له پاکستان څخه، د دوی محلي محصولات کم کړي، چې د دوی سوداگرۍ دوام یې ستونزمن کړی.

- کمزوري دولتي خدمات: ٪۶۵ سلنه څواب ویونکي دا نظر لري، چې د کمزورو دولتي خدماتو له امله سوداگري له منځه ځي.

### وړاندیز شوي حل لارې

څواب ویونکو د پېژندل شویو ننگونو د حل لپاره څو عملي وړاندیزونه وړاندې کړل:

• پورونو ته ښه لاسرسی: ۸۰٪ د کوچنیو پورونو د پروگرامونو د جوړولو وړاندیز وکړ چې په ځانگړي ډول د کوچنی سوداگرۍ لپاره مناسب ټيټ سود پورونه لري.

• د زیربناؤو پراختیا: ۷۰٪ د سوداگرۍ موثریت ښه کولو لپاره د غوره سړک شبکو، باوري برېښنا، او ډیجیټل زیربناوو اړتیا باندې ټینگار وکړ.

د دولتي خدماتي چارو پیاوړي کول: ٦٥٪ کسانو د ښو خدماتو وړاندې کولو لپاره د قوي اقداماتو غوښتنه وکړه، چې د جوازونو تر لاسه کولو لپاره دې غوري پروسې ایجاد شي.

• د روزنې پروگرامونه: ۵۵٪ باور درلود چې د مالي سواد، تخنیکي مهارتونو او بازار موندنې ستراتیژیو په اړه هدفمند روزنیز پروگرامونه به د سوداگرۍ پایښت او انعطاف ته وده ورکړي.

### د لاملونو او وړاندیز شویو حل لارو لنډیز

| مهم لاملونه | فریکونسی (٪) | د وړاندیز شوي حل لارې | فریکونسی (٪) |
|---|---|---|---|
| پورونو ته د لاسرسي نشتوالی | 75% | د کوچنیو پورونو پروگرامونه جوړ کړئ | 80% |
| کمزوری زیربنا | 60% | سړکونه، برېښنا او ارتباط رامینځته کړئ | 70% |
| د وارداتو څخه سیالي | 50% | ځايي سوداگرو ته سبسایډي ورکړئ | 50% |
| ناسم خدمات | 65% | غوره خدماتو په اړه اقدامات پلي کړئ | 65% |
| د مهارتونو او روزنې نشتوالی | 55% | روزنیز پروگرامونه پیل کړئ | 55% |

د ستونزو او د ستونزو حل لارې چارې په لاندې ډول په گراف کې ښودل شوي دي:






**پايله**

موندنې په ډاگه کوي چې په خوست ولايت کې د کوچنيو کاروبارونو سقوط د سيستماتيکو ننگونو لکه د پور نشتوالی د دې مسلو حل کول د حکومت، نادولتي موسسو او نړيوالو پرمختيايي سازمانونو همغږۍ هڅو ته اړتيا لري. لومړيتوب بايد مالي سرچينو ته د لاسرسي ښه کولو، زيربنا لوړولو، فساد کمولو او د خوندي او باثباته چاپيريال رامينځته کولو ته ورکړل شي. سربيره پر دې، د مهارتونو پراختيا او د ظرفيت لوړولو پروگرامونه د کوچنيو کاروبارونو مالکينو د پياوړتيا او د دوی د تشبثاتو د اوږدمهاله پايښت ډاډمن کولو لپاره اړين دي. دا چې موږ په دې څېړنه کې اساسي موخې دوه وې، چې لومړۍموخه په خوست ولايت کې کوچنيو کاروبارونو له منځه تلو لاملونو معلومول وو، چې په پورته ډول معلوم شول، چې د پورونو ته نه لاس رسی، کمزورې زېربناوې ، د وارداتو سره د سيالی نا وړتيا، ناسم دولتي خدمات او د مهارتونو او روزنې نشتوالی دی. که همدغو نقطو ته و کتل شي رېښتيا هم دغه نيمگړتياوې د کوچنيو کاروبارونو په له منځه وړلو کې بنسټيز رول لوبوي، کوچني کاروباريان نشي کولی، چې مناسب پور تر لاسه کړي او د دغه پور نه تر لاسه کولو هم مختلفو لاملونه شته، لکه د بانک له خوا په مشتريانو د اعتماد نشوالی، کاروبارونو له منځه تلو خطر زياتوالی، پور نه ورکول، خلکو کاروباري کلتور کمزوري او داسې نور فکتورونه، چې له امله يې بانکونه نه غواړي خلکو ته يا کوچنيو کاروباريانو ته پور ورکړي. د دې فکتورونو تر څنگه نور هغه فکتورونه، چې پورته ذکر شوي لکه کمزورې زېربناوې، وارداتي توکو سره سيالي، کمزوري دولتي خدمات او مهارتونو نشتوالی دغه ټول فکتورونه له يوه او بل سره تړلي دي، څکه د کمزورو دولتي خدماتو له امله بانکوالی سيستم، مهارتونو نشتوالی، وارداتو سره سيالي کمزوری کولی شي، لکه د وارداتو سره سيالي بنسټيزه دنده د دولت ده، څکه موږ په دولتي اقتصاد کې په دې باندې زيات بحث شوی، چې مختلفو لويو اقتصاد پوهانو د دولت د حمايت پرته تصدی د سيالی ميدان ته نشي وتلی او يا سيالي نشي کولی، څکه دولت کولی شي، هغه اجناس، چې عين جنس په افغانستان کې توليديږي له بهرني هېواد توکو باندې لوړ ماليات وضع کړي او يا يې په مکمل ډول له بهره ورود بند کړي تر څو داخلي کمپنۍ ملاتړ شوی وي، خام مواد او ټرانسپورټي خدمات بايد قوي شي نو څکه موږ وايو، چې د دولت ملاتړ اړين دی. دويمه موخه، چې موږ د دې څېړنې په پيل کې ذکر کړې ده د کوچنيو کاروبارونو د ثبات او بهبود لپاره د حل لارو لټول دي، چې دغه حل لارې په اسانۍ سره درک کولی شو، څکه هغه ستونزې چې پورته ذکر شوې په همغو کارونو او نيمگړتياو کې دې بهبود راوستل شي تر څو ستونزې ، چې په دې څېړنه کې ښودل شوي حل شي. که ستونزه په ټرانسپورټ کې وي بايد ټرانسپورټي خدمات پياوړي، شي که مشکل په بانکوالۍ او نورو سکتورونو کې وي نو په همغه سکتورونو کې دې ټولې نيمگړتياوې حل شي نو همدا يې غورې لاې دي تر څو با ثباته کوچنۍ سوداگرۍ و لرو او قوي سوداگري د قوي دولت ضمانت کولی شي.

**مأخذونه (References)**

Acs, Z. J., Desai, S., & Klapper, L. F. (2008). What does "entrepreneurship" data really show? *Small Business Economics, 31*(3), 265-281.

Ahmad, S., Zafar, M., & Shah, S. A. (2018). Gender and entrepreneurship: Barriers and challenges faced by women in Afghanistan. *Asian Journal of Women's Studies, 24*(2), 202-217.

Barfield, T. (2010). Afghanistan: A cultural and political history. *Princeton University Press*.

Beck, T., Demirguc-Kunt, A., & Levine, R. (2005). SMEs, growth, and poverty: Cross-country evidence. *Journal of Economic Growth, 10*(3), 199-229.

Naudé, W. (2007). Peace, prosperity, and pro-growth entrepreneurship. *United Nations University Policy Briefs*.

Pain, A., & Sturge, G. (2015). Markets, conflict, and recovery: Lessons from Afghanistan. *Overseas Development Institute (ODI)*.

Qasemi, A. (2019). Economic challenges in Afghanistan's border provinces. *Central Asian Review, 25*(1), 78-92.

Siddiqui, S., & Karim, M. (2020). Infrastructure and SME development in rural Afghanistan. *Journal of Rural Development Studies, 28*(4), 105-118.

UNDP (2020). Small and medium enterprises in fragile states: Case studies and policy implications. *UNDP Research Papers*.

World Bank (2021). Afghanistan economic monitor. *World Bank Publications*.

World Trade Organization (2019). Border trade and SME competitiveness: A case study of Afghanistan. *WTO Reports on Developing Economies*.

# په افغانستان کې د سوداګریزو معاملاتو د تشخیص حقوقي اړخونه

پوهنیار یعقوب جان صمیم، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی ، حقوقو دیپارټمنټ.
برېښنالیک: samim.szu@gmail.com

**لنډیز**

د سوداګریزو معاملاتو تشخیص، د تجارت حقوقو یو له مهمو موضوعاتو څخه ګڼل کېږي. داچې د سوداګریزو معاملاتو د بحث اصلی موضوعات عبارت له تاجر او سوداګریزو معاملاتو څخه دي او د سوداګریزو معاملاتو د پېژندنې لپاره د تجارت اړوند په مختلفو قوانینو کې بېلابېل احکام شتون لري. د دې تحقیق په پایله کې د سوداګریزو معاملاتو اړوند په ټولو قوانینو کې د مربوطه احکامو څخه وروستني نافذ احکام تشخیص شوي دي چې په پایله کې سوداګریز معاملات له مدني معاملاتو څخه تفکیک شوي دي. د دې مقالې عمده او اساسي موخه د قوانینو مطابق، د سوداګریزو معاملاتو پېژندل او اړوند متعارضو قوانینو د احکامو څخه د نافذ احکامو تشخیص او تفکیک دی، تر څو په پای کې لوستوونکی او اړوند خواوې د سوداګریز او مدني معاملاتو په پېژندنه کې له ستونزو سره مخ نه شي. په پایله کې معلومه شوه چې ټول منقول او غیر منقول اموال د سوداګریزې معاملې موضوع کیدای شي، په دې شرط چې د معاملې دواړه خواوې تجاران وي او هغه پخواني احکام چې یواځې منقول اموال یې سوداګریز بلل ملغی شوي بلل کېږي. په دې مقاله کې د کتابتوني میتود څخه استفاده شویده او د مختلفو منابعو لکه د تجارت حقوقو اړوند کتابونه او همدارنګه د تجارت اړوند له مختلفو قوانینو څخه استفاده شویده.

**کلیدي ټکي:** تجارت اصولنامه، سوداګریز معاملات ، سوداګر، قرارداد ، مدني

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

تجارت او سوداګري د ټولنو د اقتصادي ودې او پرمختګ مهمې برخې جوړوي. د دې په ترڅ کې د سوداګرو او اقتصادي فعالانو تر منځ د معاملو تشخیص او د هغو حقوقي اړخونو څېړنه په هرې ټولنې کې د حقوقي او اقتصادي بنسټونو د جوړښت یوه بنسټیزه اړتیا ده. په افغانستان کې، چې اقتصادي وده یې تر ډېره د خصوصي سکټور په پراختیا پورې تړلې ده، د سوداګریزو معاملو د تشخیص لپاره مناسب حقوقي چوکاټ رامنځته کول حیاتي ارزښت لري.

افغانستان، د خپل تاریخي او جغرافیایي موقعیت په لرلو سره، د سوداګرۍ لپاره یو مهم سیمه ییز مرکز ګڼل کېږي؛ خو د تیرو څو لسیزو جنګونو او سیاسي بې‌ثباتۍ د دې هیواد د سوداګریزو فعالیتونو حقوقي چوکاټ زیانمن کړی دی. په دې برخه کې د منظمې حقوقي بنې نشتون نه یوازې د سوداګرو ترمنځ د شخړو زیاتېدو لامل شوی، بلکې د بهرنیو پانګوالو لپاره هم د اعتماد کچه یې هم راټیټه کړې وه. دا چې افغانستان د سوداګرۍ نړیوال سازمان غړیتوب لري، مکلف کېږي چې داخلي قوانین په داسې ډول سره عیار کړي چې د نړیوال تجارت لپاره او تجارانو لپاره سهولت ایجاد او موانع یې له مینځه یوسي. خوشبختانه افغانستان هم په تېرو شلو کلونو کې په یاد سازمان کې د غړیتوب لپاره د دغه سازمان ټول شرایط پوره کړي دي او د تجارت په برخه کې یې زیات شمېر قوانین وضع او تصویب کړي دي. داچې سوداګریز معاملات د داخلي او نړیوال تجارت لپاره حیاتي دي او د داخلي او نړیوال تجارت بقا تضمینوي نو د حقوقي چوکاټ او اړخونو څېړنه یې هم مهم بحث دی. د سوداګریزو معاملاتو په اړه د افغانستان په داخلي حقوقي چوکاټ کې مختلف او متنازع احکام شتون لري چې په ځینو قوانینو کې یواځې منقول اموال د سوداګریز قرارداد موضوع کیدای شي، مګر شرط نه دی ګڼل شوی چې د معاملې طرفین دې تاجر یا غیر تاجر کسان وي. په ځینو قوانینو کې منقول او غیر منقول اموال دواړه د سوداګریز عقد موضوع ګرځي مګر شرط یې دا دی چې دواړه لوري باید تاجر اشخاص وي. نو په دې مقاله کې به د سوداګریزو معاملاتو اړوند په ټولو متنازع احکامو باندې بحث ترسره او په پایله کې به د سوداګریزو معاملاتو د پېژندنې په اړه نافذ احکام مشخص شي.

د دې مقالې اهمیت په دې کې دی چې د حقوقي او اقتصادي بنسټونو ترمنځ همغږي روښانه کړي. د سوداګریز معاملو تشخیص حقوقي اړخونو څېړنه به د سوداګرو لپاره د باور چاپېریال رامنځته کولو، د سوداګریز شخړو د حل لپاره د مؤثرو لارو چارو پیدا کولو، او د هیواد په کچه د اقتصادي ودې په تضمینولو کې مرسته وکړي. د دې مقالې په ترڅ کې به داخلي او خارجي تجاران او متشبثین وکولای شي چې سوداګریز معاملات له مدني معاملاتو

څخه تفکیک او د قوانینو متنازع احکام وپېژني. څکه د یادو معاملاتو د تفکیک فواید دادي چې د قانون د ځانګړو اصولو او مقرراتو د تطبیق لپاره اسانتیا برابروي، څکه سوداګریز معاملات ځانګړي قوانین لري چې د سوداګریزو چارو په ځانګړي چټکتیا او اغیزمنتیا تمرکز کوي. همدارنګه سوداګریز چارو د تنظیم لپاره ځانګړې قوانین د سوداګرو او شرکتونو تر منځ د شخړو د حل لپاره ځانګړې میکانیزمونه برابروي، چې د سوداګرۍ په پراختیا او ثبات کې مرسته کوي. علاوه پر دې سوداګریز معاملات معمولاً د ګټې لاسته راوړلو او چټک تطبیق غوښتنه کوي، پداسې حال کې چې مدني معاملات د افرادو د ورځني ژوند اړوند دي. د دې تفکیک له لارې دواړه ډوله معاملې په ښه ډول مدیریت کېدای شي؛ نو څکه د سوداګریز او مدني معاملاتو تفکیک یو مهم او حیاتي بحث دی.

نو، دا مقاله نه یوازې د علمي څېړونکو او حقوقي متخصصینو لپاره ارزښتناکه ده، بلکې د سوداګرو، پانګوالو لپاره هم د یوې لارښوونې په توګه کار کولی شي تر څو د سوداګریزو معاملاتو په اړه د قوانینو د تعارض او ټکر او په پایله کې نافذ احکام او حل لاره وپېژني.

د دغې مقالې په لیکلو او ترتیب کې د کتابتوني روش څخه استفاده شوي ده او د تجارت حقوقو اړوند د مختلفو منابعو او همدارنګه په مختلفو قوانینو کې د سوداګریزو معاملاتو د پېژندنې او تشخیص اړوند احکامو څخه پکې استفاده شویده.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخې دا دي، چې په افغانستان کې د سوداګریزو معاملاتو د تشخیص حقوقي اړخونه تر عنوان لاندې بحث په نتیجه کې به سوداګریز معاملات له مدني معاملاتو څخه تفکیک شي؛ څکه د ذکر شویو معاملاتو له تفکیک څخه یوه عمده موخه دا ده چې د سوداګریزو معاملاتو څخه راپیدا شوي دعواوې باید په سوداګریزو محاکمو یا هم په مدني محاکمو کې اړوند سوداګریزو دیوانونو ته راجع شي، او هم باید مدني دعواوې په اړوند مدني محاکمو کې تعقیب شي.

همداراز، څرنګه چې منقول او غیر منقول اموال دواړه د تبادلې او بیعې وړ دي، مګر په قوانینو کې په دې اړوند چې یواځې منقول او که غیر منقول اموال د سوداګریز معاملې موضوع کېداي شي د قوانینو ترمینځ تنازع شتون لري، نو د دې تحقیق په پایله کې به ګران لوستونکي په دې پوه شي چې کوم ډول اموال (منقول یا غیر منقول) او یا هم دواړه ډوله اموال د سوداګریزو معاملاتو موضوع کېدای شي.

## کړنلاره او د کار توکي

دا کتابتوني څېړنیزه مقاله ده او د هغه مأخذونو څخه پکې استفاده شویده چې په ملي او نړیواله سطحه معتبر ګڼل کېدل. په دې مقاله کې د مختلفو معتبرو کتابونو او همدارنګه د سوداګریزو معاملاتو اړوند د داخلي نافذه قوانینو څخه استفاده شویده. په دې مقاله د تجارت حقوقو اړوند د مختلفو مأخذونو څخه او همدارنګه د افغانستان داخلي قوانینو لکه که د افغانستان د تجارت اصولنامه، د سوداګریزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون ، د سوداګریز حاکمیت قانون له رقابت (سیالی) څخه د ملاتړ قانون او د تضامني شرکتونو قانون څخه استفاده ترسره شویده.

په دې مقاله کې مې خپله ټوله انساني هڅه کړیده تر څو د تحقیق موضوع د مختلفو منابعو څخه په استفادې او همدارنګه د افغانستان د نافذه قوانینو باندې د استناد په پایله کې وڅېړم چې ګران لوستوونکي ترې په ښه توګه مستفید شي.

## د سوداګرېزو معاملاتو پېژندنه

دا چې د تجارت حقوق په تجار او سوداګریزو معاملاتو باندې حاکم قواعد او مقررات دي، چې د سوداګریزو معاملاتو د تنظیم لپاره استعمالیږي. په همدې اساس د تجارت حقوق د همدغه دوه مفهومونو ( سوداګریز معاملات او سوداګر) د حاکمیت لاندې لاندې قرار لري. سوداګریز معاملات عموماً په دوه ډوله دي، یو هغه معاملات دي چې ذاتاً سوداګریز دي او هر څوګ که هغه تاجر یا غیر تاجر شخص وي چې ترسره یې کړي نو سوداګریز بلل کېږي. او دویم ډول یې هغه معاملات دي چې ذاتاً سوداګریز نه دي مګر کله یې چې یو تاجر سرته ورسوي نو سوداګریز بلل کېږي ( عبادی،۱۳۹۵، ص.۱۸).

هغه حقوقي نظامونه چې لیکلي بڼه لري لکه فرانسه، ترکیه، ایران، مصر او افغانستان؛ د تاجر یا سوداګر تعریف پکې د اقتصادي فعالیت ډول ته په کتو مشخص کېږي. نو په دې اساس هیڅ غیر تاجر شخص نه شوای کولای تر څو سوداګریز معاملات ترسره کړي او تجارت حقوق به یواځې د تجارانو ترمنځ عقد کیدونکی قراردادونه کوم به چې د سوداګریز شغل په اساس منعقد کېدل ترسره کېدل. ولې وروسته دغه مفهوم (شخصي نظریه) د قانون په وړاندې د اشخاصو د مساوات اصل د نه رعایت کېدلو په اساس او همدارنګه سوداګریز اړتیاوو ته په کتو د انتقاد لاندې ونیول شوه او پرځای یې (موضوعي) مفهوم د قانون جوړونکو د توجه وړ وګرځېده( رادمند، ۱۳۹۹، ص. ۱۴۶).

د سوداګریزو معاملاتو په اړه د افغانستان تجارت حقوقو موضوعي یا ماهوي اصل او نظریه د معیار په توګه ټاکلي ده او ترڅنګ یې شخصي (شکلي) نظریه هم د تکمیلي یا پوره کوونکي قاعدې په حیث په نظر کې نیولي ده. د سوداګریز اعمالو یا معاملاتو څخه هدف دادی چې قانون جوړونکي ځیني حقوقي اعمالو ته له مخکې څخه سوداګریز وصف وربښلی دی او اعلام یې کړیدی چې د دې ډول معاملو ترسره کوونکي که تاجر او یا غیر تاجر اشخاص وي، چې نوموړی اعمال ترسره کړي سوداګریز معاملات یا اعمال بلل کیږي.

د افغانستان په تجارت اصولنامه کې سوداګریز معاملات نه دي تعریف شوي او یواځې یې د هغې په مصادیق او ډولونو باندې اکتفاء کړې ده ( محمدودي، ۱۳۹۸، ص: ۳۵)، ولې په ۱۸ او ۱۹ ماده کې یې فقط د سوداګریزو معاملاتو فهرست ذکر کړی دی چې د موضوعي نظریې په اساس هر شخص چې نوموړی معاملات سرته ورسوي تاجر بلل کیږي( رادمند، ۱۳۹۹، ص. ۱۴۷).

همدا راز د افغانستان د سوداګریز حکمیت قانون له مخې " سوداګریزه معامله د سوداګریز او اقتصادي ماهیت لرونکو مناسباتو ټولې مسئلې دي چې د قرارداد یا له هغه پرته، پربنسټ ولاړې وي "( د سوداګریز حکمیت قانون، ۱۳۸۵، ماده، ۲، فقره ۵، ص: ۳).

د سوداګریز قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون له مخې سوداګریز معاملات دا ډول تعریف شوی دی چې " سوداګریز معامله د سوداګریز او اقتصادي ماهیت لرونکو مناسباتو په شمول ټول هغه مسایل دي چې د قرارداد یا سوداګریز عرف په اساس د تجارانو او متشبثینو ترمینځ صورت نیسي"( د سوداګریزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون، ۱۳۹۳، ماده، ۳، فقره ۱۹، ص: ۵).

په ذکر شوي ماده کې دوه اصطلاحات متشبث او تاجر ذکر شوي دي چې د سوداګریز قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون متشبث نه دی تعریف کړی ولې له رقابت (سیالی) څخه د ملاتړ قانون له مخې "متشبث د جواز لرونکي هغه حقیقي یا حکمي شخص دی مالونه پروسس، تولید یا پلوري او یا خدمتونه په بازار کې وړاندې کوي" ( له رقابت څخه د ملاتړ قانون، ۱۳۸۸، ماده، ۳، فقره ۴، ص: ۳).

همدارنګه سوداګر هغه حقیقي او حکمي شخص دی چې سوداګریزې معاملې د شغل او پیشې په توګه شخصً یا د خپل استازي په واسطه په دوامداره توګه سرته ورسوي"( د سوداګریزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون، ۱۳۹۳، ماده، ۳، فقره ۱۰، ص: ۴).

په دې قانون کې سوداګريز معاملات په دې شکل راغلي دي چې هره موضوع چې سوداګريز او اقتصاي ماهيت ولري سوداګريز معامله بلل کېږي مګر قانون جوړونکي سوداګريز او اقتصادي ماهيت نه دی روښانه کړی. ولې د دې تعريف په اساس يوه معامله هغه وخت سوداګريز بلل کېږي چې لاندې درې شرايط ولري:

الف - د معاملې موضوع چې د طرفينو ترمينځ سرته رسيږي بايد د سوداګريز او اقتصادي ماهيت درلودونکي وي. په هغه صورت کې چې د معاملې موضوع د مدني ماهيت لرونکي لکه شخصيه احوال او وقف وي د تعريف له ساحې څخه بيرون ده. همدارنګه د معاملې نفس هم بايد په مدني چارو پوري مربوط نه وي، که چيرې د يوې معاملې نفس او ذات چې د طرفينو ترمينځ ترسره کېږي، په غير سوداګريز او غير اقتصادي چارو کې ترسره کېږي، لکه يو تاجر د بل تاجر څخه يو مال د شخصي اړتياوو د رفع کولو لپاره واخلي سوداګريز معامله نه ګڼل کېږي. دغه موضوع د سوداګريز قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون څخه هم د فهم او درک وړ ده چې صراحت يې په دې ډول ده "د دې قانون حکمونه په لاندې مواردو کې د تطبيق وړ نه دي: ۱- په شخصيه احوالو پوري اړوندې موافقې ۲- په موقوفه مالونو پوري اړوند موافقې چې په افغانستان کې موقيعت ولري ۳-غير سوداګريزې معاملې او نورې موضوعګانې چې د قانون په حکم د دې قانون د تطبيق له ساحې څخه مستثنی وي"( د سوداګريزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون، ۱۳۹۳، ماده، ۴، فقره ۳، ص: ٦).

ب- د سوداګريز معاملې د مشروعيت يا اعتبار اساس قرارداد يا سوداګريز عرف دی. په دې اساس يوه سوداګريز معامله هغه وخت د اعتبار وړ پېژندل کېږي چې د قرارداد يا سوداګريز عرف په اساس د طرفينو ترمينځ منعقد شوي وي.

ج- يوه معامله هغه وخت سوداګريز بلل کېږي چې طرفين يې تجار او متشبثين وي. قانون جوړونکي. ذکر کړي دي چې "سوداګريز پلورنه هغه معامله ده چې دواړه طرفين يې تجاران وي"( د سوداګريزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون، ۱۳۹۳، ماده، ۳، فقره ۱۱، ص: ۴).

همدارنګه د سوداګريز قراردادونو قانون د ۳ مادې (۱۹) فقرې حکم له مخې هم هغه معاملې چې يو طرف يې تاجر او بله خوا يې غير تاجر اشخاص وي او يا هم دواړه خواوې غير تاجر اشخاص وي ترمينځ سرته رسيږي، سوداګريز معامله نه بلل کېږي. په دې حالت کې دتجارتی قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون دغه احکام د تجارت اصولنامې د ۱۴، ۱۵، ۱٦ مادو سره په ټکر کې دي. ځکه د تجارت اصولنامې د دغه ذکر شويو مادو په اساس فرق نه کوي چې د معاملې ترسره کوونکي کسان تاجر وي او يا غير تاجر. د دغه مادو صراحت په دې ډول دی:

"تاجر او یا غیر تاجر کسان چې منقول مالونه د پلورلو یا چاته د اجاره ورکولو په هدف و پیري، یا د اجاره ورکولو په نیت له چا څخه په اجاره واخلي، یا بل ته د اجارې ورکولو لپاره مستخدم ونیسي له سوداګریز معاملو څخه ګڼل کېږي" (د تجارت اصولنامه، ۱۳۳٦، مادې ۱۴،۱۵،۱٦، ص: ۵ او ٦) .

د تجارت اصولنامې د ۱۴، ۱۵، ۱٦ مادو او د تجارتی قراردادونو او مالونو د خرڅولو قانون ۳ مادې (۱۹) فقرې ترمینځ ټکر یا تضاد د نوي او پخواني قانون تر مینځ د ټکر له نوع څخه دی. د دې موضوع د حل لپاره یوه مشهوره قاعده چې د نوي قانون په انفاذ سره پخوانی قانون لغوه او بې اعتباره ګڼل کېږي. همدارنګه د د سوداګریز قراردادونو او مالونو د خرڅولو قانون د ۱۴۳ مادې حکم له مخې هم د دې قانون په انفاذ سره ټول مغایر حکمونه لغوه دي.

**د سوداګریزو معاملاتو د پېژندنې شرایط او د افغانستان د قوانینو مؤقف**

د سوداګریز اعمالو په برخه کې یو سوال مطرح کېږي؛ په دې ډول چې کوم اعمال سوداګریز دي او څه ډول کولای شو چې سوداګریز معاملات له غیر سوداګریزو معاملاتو څخه تفکیک او تشخیص کړو؟ په دې اړه حقوق پوهانو مختلفې نظریې او همدارنګه د افغانستان د قوانینو مؤقف باندې بحث کوو.

**الف – د شتمنۍ دوران**

د دې نظریې په اساس د سرمایې دوران د سوداګریز او مدني معاملاتو د تفکیک د معیارونو له جملې څخه ده. د دې نظریې طرفداران په دې باور دي چې هر کله چې یو عمل د سوداګریز او اقتصادي دوران سبب ګرځي نو هغې ته د شتمنۍ یا پانګې دوران وایي. د ځینو په نظر هغه عمل سوداګریز ده چې د شمتنۍ د انتقال او دوران سبب ګرځي؛ اما د تولید شوي محصولاتو شتمنۍ څخه هدف قیمتي فلزات او پیسې دي چې ملکیتونو (ځمکې او ساختمان ) ته نه شاملیږي. د تالیر فرانسوي حقوق پوه له نظره، د شیانو تولید سوداګریز نه دی او همدارنګه هغه جنس چې د شخصي اړتیاوو د رفع کولو لپاره تولید او یا اخیستل کېږي سوداګریز معامله نه ده؛ ځکه په دې ډول معاملو کې سوداګریز دوران شتون نلري. اما کله چې یو جنس د تاجر په واسطه له تولیدي شرکت څخه اخیستل کېږي او په دې اساس د حمل او نقل له لارې مشتري ته رسیږي ، نو دغه حالت د شمتنۍ د دوران سبب ګرځي چې دغه عمل سوداګریز تلقي کیږي. د دې نظریې په اساس د فرانسې د تجارت حقوقو پخواني حالت ته رجوع شوې ده چې په اساس یې غیر منقول مالونه سوداګریز ریښه نلري. ځکه لکه څه ډول چې سرعت د سوداګریزو معاملاتو یوه ځانګړتیا ده؛ نو غیر منقول مالونه تشریفاتو ته د اړتیا درلودلو په سبب او د سرعت د ځانګړتیا د نه درلودلو په اساس د مدني معاملاتو له جملې څخه حسابیږي. ( رادمند، ۱۳۹۹، ص. ۱۴۷).

په داسې حال کې چې د فرانسې د نویو سوداګریز قوانینو په اساس د غیر منقولو اموالو اخیستل د خرڅولو په هدف سوداګریز معامله بلل کېږي مګر په دې شرط چې د غیر منقول ملکیت اخیستل د یو یا څو ساختمانونو د جوړېدو او د هغې د خرڅولو په نیت شوي وي(صفدری، ۱۳۹۷، ص. ۱۹۸).

څرنګه چې زموږ د هیواد د تجارت قانون د فرانسې د پخواني قانون څخه نشأت کړیدی، تر اوسه هم غیر منقول مالونه سوداګریز معامله نه ګڼي؛ په داسې حال کې چې له یوې خوا څخه ویل شوي دي چې دوامداره شغل یې وګرځوي، او له بل پلوه ویل شوي چې غیر منقول اموال په سوداګریزو معاملاتو کې نه شمیرل کېږي. نن ورځ اکثره افراد د رهنمای معاملات له لارې د غیر منقولو اموالو اخیستل او خرڅول کوي ولې د تجارت اصولنامې له مخې د دوی معاملې سوداګریز نه بلل کېږي. مګر د سوداګریز قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون چې په ۱۳۹۳ ه ش کال کې نافذ شوی دی غیر منقول اموال یې هم سوداګریز معاملې بللي دي مګر په انفاذ سره یې نه یواځې دا چې د مشکل د حل سره یې همکاري ونه کړه بلکه دغه موضوع یې لا پیچلې کړه.

د تجارت اصولنامې په اساس چې صراحت یې په ترتیب سره په دې ډول دی چې " تاجر یا غیر تاجر کسان چې منقول مالونه د پلورلو یا بل چاته د اجاره ورکولو په غرض پیري او هغه منقل مالونه په اصلي حالت یا په بل شکل اړوي او ویې پلوري او یا یې په اجاره ورکړي، دا پلورل او په اجاره ورکول له سوداګریز معاملو څخه ګڼل کېږي" او " تاجر یا غیر تاجر کسان چې منقل مالونه د په اجاره ورکولو په نیت له چا څخه په اجاره واخلي، د دې ډول منقول مالونو په اجاره ورکول له سوداګریز معاملو څخه ګڼل کېږي"(د تجارت اصولنامه، ۱۳۳۶، مادې ۱۵او۱۴، ص: ۵ او ٦) .

د ذکر شویو مادو له متن څخه معلومیږي چې یواځې د منقولو اموالو اخیستل، خرڅول او په اجاره ورکول سوداګریز معاملې دي.

له بل پلوه د سوداګریز قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون د ۴ مادې (۳) فقرې او ۳ بند په اساس غیر سوداګریز معاملې د دې قانون د تطبیق څخه مستثنی دي. ولې د همدې قانون پر اساس "د قرارداد موضوع او موخه لاندې موارد کیدای شي: ۱- منقول او یا غیر منقول مالونه او یا مادي یا معنوي ملکیت"( د سوداګریزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون، ۱۳۹۳، ماده، ۱۳، فقره ۱، ص: ۱۳).

همدارنګه د سوداګریز قراردادونو او مالونو د خرڅلاو له مخې "۲- د ځمکې د پلورنې په قرارداد کې هغه ودانۍ او ونې شاملې دي چې د هغې پرمخ ولاړې دي. ۴- د ځمکې د پلورنې په قرارداد کې هغه نباتات شامل دي چې

پکې زرغون شوي وي"( د سوداګریزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون، ۱۳۹۳، ماده، ۱۰۹، فقره ۲ او ۴، ص: ۹۷ او ۹۸).

د تجارت مربوط قوانینو د مختلفو موادو له بررسۍ څخه معلومیږي چې قانون جوړونکي تر اوسه پوري مشخص کړي نه ي چې بلاخره د غیر منقولو اموالو اخیستل او خرڅول سوداګریز دي او یا مدني. که چیرې د سرعت اصل، د تجارت اصولنامې ۱۴ او ۱۵ مادو مختوی چې صراحت یې په دې ډول دی چې تاجر یا غیر تاجر کسان چې منقول یا غیر منقول د پلورلو یا بل چا ته د اجاره ورکولو په غرض پیري او هغه منقول مالونه په اصلي حالت یا په بل شکل واړوي او ویې پلوري او یا یې په اجاره ورکړي ، دا پلورل او اجاره کول له سوداګریز معاملو څخه ګڼل کیږي (ستانکزی، ۱۳۹٦، ص: ۲۸)، احکام په نظر کې ونیول شي نو یواځې د منقولو اموالو اړوند معاملات سوداګریز دي او  د غیر منقولو اموالو مربوط معاملات مدني دي؛ ولې که چیرې د سوداګریز قراردادونو قانون ۱۳ او ۱۰۹ مادې په نظر کې ونیول شي نو د غیر منقولو اموالو اخیستل او خرڅول هم سوداګریز بلل کیږي.

د شتمنۍ د دوران نظریه د انتقادونو سره مخ شوه ځکه چې د فرانسې د نوي تجارت قانون په اساس غیر منقول اموال هم سوداګریز معاملې بلل کیږي. دوهم دا چې ددې نظریې په اساس تولیدي فعالیتونه سوداګریز نه تلقي کیږي؛ حال دا چې په اقتصاد کې یو کلي اصل دی چې هر څومره چې تولید زیات وي نو به همغه اندازه د ټولنې خلکو ته کار زیاد پیدا کیږي( رادمند، ۱۳۹۹، ص. ۱۴۹).

**ب – د ګټې  ترلاسه کول**

د تجارت د ګټې نظریه په ۱٦ پیړۍ کې د مرکانتلستانو مکتب ته ګرځي. د دې ډلې په باور سوداګریز معاملات هغه اعمال دي چې د ګټې په هدف ترسره کیږي. د افغانستان د تضامني شرکتونو قانون هم د دغې نظریې څخه پیروي کړې ده او ذکر کړې یې دي چې " شرکت د دوه یا څو اشخاصو یو ځای کیدو ته وایي چې د شراکت د عقد په اساس او د مشترکو مالکینو په حیث د ګټې او مفعت د ترلاسه کولو لپاره ایجاد او فعالیت کوي" ( د تضامني شرکتونو قانون، ۱۳۸۵، ماده، ۲، ص: ۱).

که جېرې  د سوداګریز  معاملې ذات ته نظر وشي هم نو د تاجر انګیزه او هدف له ګټې پرته بل څه نه ده.
دغه نظریه هم د انتقاد څخه خالي نه ده ځکه :

۱.  سره له دې  چې په سوداګریزو معاملاتو کې د تاجر اصلي انګیزه ګټه او منفعت ده ، ولې که چېرې دغه نظریه قبول شي نو په ډېرو مدني معاملاتو کې هم ګټه هدف ده ، چې پر اساس یې بیا ځینې مدني معاملې هم په

سوداګریزو معاملاتو کې شمارل کیدای شي، چې په دې اساس د غیر منقولو اموالو اخیستل او خرڅول چې د ګټې د لاسته راوړلو لپاره ترسره کېږي او د تجارت اصولنامې په اساس غیر سوداګریز بلل کېږي هم په سوداګریزو معاملاتو کې شاملیږي.

۲. که چېرې د ګټې ترلاسه کول اصلي انګیزه او هدف وي نو د زیاتو هیوادونو په قوانینو کې دولتونه او ښاروالۍ سوداګریز معاملات سرته رسوي، سره له دې چې هدف یې ګټه هم نه ده مګر قانون د دوی معاملات سوداګریز تلقي کړي دي. لکه د افغانستان د تجارت اصولنامه حکم کوي چې "دولت او ښاروالۍ کولای شي چې تجارت وکړي مګر د تاجر صفت نه شي موندلای خو د دوی سوداګریزې معاملې د دې اصولنامې د احکامو تابع دي" (د تجارت اصولنامه، ۱۳۳۶، ماده،۱۱، ص:۴)

ج – د تجارت د شغل په اساس د معاملاتو ترسره کول

د دغې نظریې وړاندې کوونکی فرانسوي ریپر دی. هر شخص په ټولنه کې یو معین شغل لري چې پر اساس یې فعالیتونه او معاملات ترسره کوي. که چېرې دغه شغل او حرفه سوداګریز وي نو دغه اعمال یا معاملات هم سوداګریز بلل کېږي.

د نوموړي په عقیده هر کله چې دوه یا څو کسان چې د شراکت په اساس فعالیت ترسره کوي یوه اندازه پانګه د سوداګریز اموالو د اخیستلو او خرڅولو لپاره کیږدي، د هغوی شرکت سوداګریز بلل کېږي، برعکس که چېرې دوه یا څو کسان په شریکه یو کور د اوسیدلو لپاره واخلي او په هغې سکونت کوي نو دهغوی شراکت مدني تلقي کېږي.

همدارنګه د نوموړي په نظر، سوداګریز عمل هغه عمل دی چې د تجارت د شغل په اساس ترسره شي؛ ولې تاجر هغه شخص ته وایي چې یو شغل په متداوم ډول سرته ورسوي. د شغل او شخصي نظریې ترمنځ باید اشتباه ترسره نه شي. په شخصي نظریه کې، هره معامله چې د تاجر له خوا سرته رسېږي سوداګریز معامله بلل کېږي او په دې نظریه کې معیار د عمل ترسره کوونکی یا تاجر دی. ولې د تجارت د شغل په نظریه کې علاوه پر تاجر شخص باندې هغه عمل هم دی چې د تجارت لاندې نیول کېږي او هم باید متداوم او تکراري وي.

دغه نظریه هم د فرانسې د حقوق پوهانو له خوا د انتقاد لاندې نیول شوې ده او د دوی دلیل دا دی چې دغه نظریه د فرانسې د تجارت قانون مؤقف چې موضوعی نظریه یې د اصل په توګه ټاکلې ده خلاف ده او د المان قانون چې شخصي نظریه یې منلې ده نږدې ده.

**د- تلفیقي نظریه**

پورته ذکر شوي نظریې، سره د دې چې فواید هم لري مګر یو لړ نیمګړتیاوې هم لري. ځینو حقوق پوهان د دغه نیمګړتیاوو د رفع کولو لپاره له تلفیقي نظریې څخه استفاده کوي. (مصطفی کمال طه) په دې باور دی چې د سوداګریز او غیر سوداګریزو معاملاتو ترمینځ د فرق د تشخیص لپاره باید څو معیارونو څخه استفاده وشي. د نوموړي د نظر مطابق سوداګریز معامله هغه ده چې د شتمنۍ د دوران او همدارنګه تبادله باید د ګټې د ترلاسه کولو په هدف ترسره شي.

په دې نظریه کې د شتمنۍ دوران، د منفعت تر لاسه کول، د شرکت د تشکیل نظریه یا انفرادي فعالیت ټول پکې شامل شویدي. په دې نظریه باندې هم ځیني انتقادونه وارد شوي دي. لکه د ګټې ترلاسه کول، ځکه ځیني وختونه یو تاجر سوداګریز معاملات ترسره کوي مګر هدف یې ګټه نه وي لکه په ۱۹ ماده کې د برات، حجت او چک اړوندند احکام. دویم انتقاد په دغه نظریه باندې د تجارت اصولنامې د ۱۸ او ۱۹ مادې له مخې د سوداګریزو معاملاتو منحصر کول دي مشخصو معاملاتو ته. نو دغه انتقادونو ته په کتو دغه نظریه جامع نه ده.

پوښتنه دا ده چې آیا سوداګریز معاملات یواځې هغه معاملاتو ته منحصر دي چې په تجارت اصولنامه کې یې یادونه شوې ده؟

د حقوق پوهانو هغه ډله چې د تجارت حقوقو او مدني حقوقو د وحدت له نظریې څخه پیروي کوي په دې باور دي چې د تجارت حقوق نسبت مدني حقوقو ته خاص دي نو هغه څه چې د تجارت په اصولنامه کې د سوداګریزو معاملاتو په عنوان تلقي شوي دي سوداګریز معاملات او له دې پرته نور ټول معاملات مدني دي.

بله ډله په دې باور دي چې د تجارت اصولنامه چې په ۱۳۳۴ ه ش کال کې تصویب شوې ده او په هغې وخت کې چې قانون جوړونکي د تجارت معاملاتو فهرست مشخص کړی دی یواځې د هغې وخت اړتیاوو ته په کتو ایجاد شوي دی. نو د تجارت په ساحه نن ورځ د زیاتو تحولاتو په اساس باید نورې معاملې چې د تجارت په اصولنامه کې یې یادونه نه ده شوي هم باید سوداګریز معاملې تلقي شي. مثلاً د سوداګریز تبلیغاتو اړوند معاملې او داسې نور.

نو پورته نظریو ته په کتو، اوس پوښتنه داده چې زموږ د هیواد د حقوقي نظام مؤقف د سوداګریز او غیر سوداګریزو معاملاتو د فرق د تشخیص لپاره څه ده؟

د سوداګریز قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون د ۳ مادې ۱۹ فقرې له مخې سوداګریز معامله د سوداګریز او اقتصادي ماهیت لرونکو مناسباتو په شمول ټول هغه مسایل دي چې د قرارداد یا سوداګریز عرف په اساس د تجارانو او متشبثینو ترمینځ صورت نیسي.

د دغې مادې د اخر برخې له توضیح څخه دوه مفهومه برداشت کېدلای شي؛ یو دا چې سوداګریز معاملات هغه معاملات دي چې ذاتاً سوداګریز او اقتصادي دي چې د قرارداد یا سوداګریز عرف په اساس ترسره کېږي. دوهم دا چې سوداګریز معاملات هغه معاملات دي چې ذاتاً سوداګریز او اقتصادي دي مګر د دې لپاره چې تشخیص شي چې ایا نوموړې معاملې ذاتاً سوداګریز او اقتصادي دي یا نه، باید د طرفینو ترمینځ د قرارداد او یا سوداګریز عرف څخه تشخیص شي. دا سې ښکاري چې د قانون جوړونکي هم همدغه دوه هدفونه دی.

**پایله**

د دې کتابتوني مقالې په پایله کې ویلای شو چې د سوداګریزو معاملاتو د پېژندنې او تشخیص لپاره د افغانستان د تجارت اصولنامه چې له ۱۳۳۶ ه ش کال راهیسې نافذه، او همدارنګه د سوداګریزو قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون چې په ۱۳۹۳ ه ش کال کې نافذ شوی دی بېلابېل متضاد احکام بیان کړي دي.

که چیرې د تجارت اصولنامې احکام په نظر کې ونیول شي نو بیانوي چې تاجر او یا غیر تاجر کسان چې منقول مالونه د پلورلو یا چاته د اجاره ورکولو په هدف و پیري، یا د اجاره ورکولو په نیت له چا څخه په اجاره واخلي، یا بل ته د اجارې ورکولو لپاره مستخدم ونیسي له سوداګریز معاملو څخه ګڼل کېږي. د تجارت اصولنامې د ذکر شویو احکامو پر اساس تاجر یا غیر تاجر اشخاص دواړه کولای شي چې سوداګریز معاملات ترسره کړي. همدارنګه یواځې د منقولو اموالو پیراو پلور او همدارنګه په اجاره نیول او په اجاره ورکول د یادې اصولنامې پر اساس سوداګریز معاملات بلل کېږي.

په داسې حال کې چې د سوداګریزو قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون پر اساس سوداګریز معامله د سوداګریز او اقتصادي ماهیت لرونکو مناسباتو په شمول ټول هغه مسایل دي چې د قرارداد یا سوداګریز عرف په اساس د تجارانو او متشبثینو ترمینځ صورت نیسي. د دې مادې پر اساس د سوداګریز معاملې لپاره یو شرط دادی چې باید دواړه طرفین تجاران او متشبثین وي، همدارنګه د یاد قانون د ۱۳ مادې ۱ فقرې له مخې د قرارداد موضوع او موخه لاندې موارد کیدای شي: منقول او یا غیر منقول مالونه او یا مادي یا معنوي ملکیت.

د دې سربیره، د سوداګریزو قراردادونو او مالونود خرڅلاو قانون د ۱۴۳ مادې حکم پر اساس دغه قانون په رسمي جریده کې د خپریدو له نیټې څخه نافذ او په نافذیدو سره یې مغایر حکمونه لغوه کېږي.

نو ویلای شو چې د سوداګریزو قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون نوی او نافذ دی، او پر اساس یې د افغانستان د تجارت اصولنامه کې د دې قانون مغایر احکام لغوه ګڼل شوي دي. او فعلاً منقول او غیر منقول اموال دواړه د سوداګریز عقد موضوع کیدای شي، همدارنګه د یادې مادې پر اساس لازمه او شرط دی چې په سوداګریز پلورنه کې باید دواړه لوري تجاران او متشبثین وي؛ یعنې که چېرې یو لوری تاجر او بل لوری غیر تاجر شخص وي نو دا معامله سوداګریزه نه بلکه مدني ده او باید د یادو موضوعاتو څخه رامینځ ته شویو دعواوو ته په مدني محاکمو کې رسیده ګي وشي، په داسې حال کې چې د سوداګریزو معاملاتو اړوند رامینځ ته شوي دعواوې په سوداګریز محاکمو او یا هم د مدني محاکمو اړوند په سوداګریز دیوانونو کې تعقیب کېږي.

**وړاندیزونه**

۱. د دې لپاره چې سوداګریز معاملات له مدني معاملاتو څخه تشخیص او تفکیک کړای شي، نو د دې برخې مسؤلینو ته دې په یاده برخه کې د عامه پوهاوي او ظرفیت لوړونې پروګرامونه په لاره واچول شي.

۲. په هغه ولایاتو کې چې د سوداګریزو معاملاتو اړوند قضایاوې په مدني محاکمو یا د مدني محاکمو اړوند په سوداګریزو دیوانونو کې حل وفصل کېږي، نو که چیرې جدا سوداګریز محاکم ایجاد شي، نو د سوداګرو لپاره به د سهولت او د چارو د سرعت سبب وګرځي چې په پایله کې به د اقتصادي او سوداګریز رشد سبب وګرځي.

۳. د سوداګریزو معاملاتو د تشخیص ترڅنګ په یاده برخه کې د سوداګریزو معاملاتو اړوند د نافذو قوانینو تطبیق لازمي دی چې باید د قوانینو تطبیق کوونکي ارګانونه په دې برخه کې خپل مسؤلیت اداء کړي.

**مأخذونه**

رادمند، اسدالله. ( ۱۳۹۹ ه ش). حقوق تجارت افغانستان، کابل: نشر واژه.

محمودي، میر احمد فایز.(۱۳۹۸ ه ش). حقوق تجارت، ( طبع سوم). کابل: انتشارات حامد رسالت.

صفدري، بسم الله .(۱۳۹۷ ه ش). حقوق تجارت۱، .(چاپ اول). کابل: انتشارات سعید.

ستانکزی و ناصح. (۱۳۹۶ ه ش). حقوق تجارت، کابل: انتشارات سعید.

عبادی، محمدعلی. (۱۳۹۵). حقوق تجارت، تهران: نشر کنج دانش.

عدلیې وزارت، (۱۳۹۳) د سوداګریزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون. کابل: د رسمي جریدې پرلپسې ګڼه ۱۱۵۰.

عدلیې وزارت، (۱۳۸۸) له رقابت (سیالی) څخه د ملاتړ قانون. کابل: د رسمي جریدې پرلپسې ګڼه ۱۰۱۰.

عدلیې وزارت، (۱۳۸۵) د تضامني شرکتونو قانون. کابل: د رسمي جریدې پرلپسې ګڼه ۹۱۳.

عدلیې وزارت، (۱۳۸۵) د سوداګریز حاکمیت قانون. کابل: د رسمي جریدې پرلپسې ګڼه ۹۱۳.

عدلیې وزارت، (۱۳۳۶) د تجارت اصولنامه (له تعدیلنو سره). کابل.

# د ښاري لوحو د سمونې او اصلاح ارزښت

پوهنیار حمدالله وصال، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانگه.

برېښنالیک:hamdullah.visal@gmail.com

**لنډیز**

زما د دې څېړنې موضوع د ښاري لوحو د سمونې او اصلاح ارزښت په اړه ده، چې د اړتیا په اساس د اطلاعاتو کلتور ریاست له لوري د پالیسي سازو تحقیقاتو له مخې راکړل شوې ده. د دې څېړنې څخه موخه دا ده؛ تر څو موږ د ښاري لوحو د سمونې او اصلاح ارزښت وپېژنو او همدارنگه په دې برخه کې د شته نیمگړتیاوو لاملونه معلوم او مناسبې حل لارې پیدا کړو. دغه څېړنه چې ساحوي څېړنه ده، تر زیاتې اندازې د پوښتنلیکونو او مخامخ هنمشاهدې په اساس شوې ده او د تشریحي او انتقادي میتود په وسیله څېړل شوې ده. د دې ]ېړنې له مخې موږ دې پایلېته ورسیدو، ښاري لوحې په ټولنیز، اقتصادي او فرهنگي برخو کې زیات ارزښت لري، همدارنگه زموږ ښاري لوحې املایي، گرامري او ادبي نیمگړتیاوې، د نورو ژبو بې اړتیا کلمو کارونه، نامعیاري ډیزاینونه یې له لویو نیمگړتیاوو حسابېږي، چې لاملونه یې نامسلکیتوب، بې پروایي او د لوحو ارزښت نه پېژندل دي.

**کلیدي ټکي:** ارزښت، اصلاح، ژبه، فرهنگ، لوحه، معیار.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

دا چې د پالیسي ساز تحقیق له مخې ماته د پوهنځي د ریاست له لوري ( د ښاري لوحو د سمونې او اصلاح ارزښت ) تر عنوان لاندې موضوع د څېړنې لپاره راکړل شوې وه، تر څو په نوموړې موضوع کار وکړم او یوه عملي مقاله پرې ولیکم.

دا دی، د موضوع نوعیت ته په کتو ما په نوموړې موضوع خپله مقاله بشپړه کړه، لازمه بولم، چې د سریزې برخه کې د موضوع ارزښت، د څېړنې اهداف او موخې، د څېړنې پوښتنې، تېرو اثارو ته کتنه او همدارنګه د څېړنې تګلاره او مېتود تشریح کړم.

**د موضوع ارزښت**

هره هغه موضوع چې د یوې علمي څېړنې لپاره وړاندې کېږي او یا انتخابېږي، ضرور ده، چې ارزښت به لري او د ټولنې او خلکو د پرمختګ او هوساینې لپاره به مهم رول لوبوي. زما د دې موضوع ارزښت په دې کې دی؛ چې د ښاري لوحو د سمونې او اصلاح په ارزښت پوه شو او  د ژبې معیاري کېدو ته پام وکړو، همدا ډول په ټولنیز ژوند کې د ژبې ارزښت وپېژنو، په ځانګړې توګه د ښاري لوحو د سمونې او اصلاح علتونه وڅېړو او حل لارې یې له اړوند مسؤلینو سره شریکې کړو. چې د لوحو د اصلاح او سمونې په اساس به په ملي او رسمي ژبو د نورو ژبو اغېز راکم او دې برخې ته به پام وشي.

**موخې**

الف- اصلي موخې

۱- د ښاري لوحو د سمونې ارزښت پېژندل

۲- د ښاري لوحو د نیمګړتیاوو معلومول

۳- د ښاري لوحو د نیمګړتیاوو علتونو معلومول

**ب- فرعي موخې**

۱- په ټولنیز ژوند کې د ژبې ارزښت

۲- د ټولنې کلتوري ارزښت په اړه پوهاوی

۳- په اقتصادي برخه کې د لوحو اهمیت او اغېز معلومول

**د څېړنې کړنلاره او د کار توکي**

د دې څېړنې ډول ساحوي دی، چې تر زياتې اندازې د مشاهدې او مرکې په اساس معلومات راټول شوي دي او په لومړي سر کې مې د ښاري لوحو څخه لیدنه او مشاهده وکړه، تر څو معلومه کړم، چې په کومه برخه کې څومره نیمګړتیاوې لري او ځینې نمونې يې له ځان سره وساتم. ورپسې مې د پوهنتلیک له مخې اړوند کسانو (خطاطانو، د مطبعو ډیزاینرانو، د ژبې له مسلکي استادانو) سره مرکې ترسره کړې، چې د دوی د نظرياتو په اساس مې د نیمګړتیاوو علتونه او حل لارې رابرسیره کړې دي، د دې ټولو نظرونو په رڼا کې مې خپله څېړنه د انتقادي او تشریحي مېتود په اساس مخکې وړې ده او په پای کې مې ترې یوه لازمه پایله (نتیجه) را ایستلې ده.

**تېرو اثارو ته کتنه**

زما د خپلو کړو معلوماتو په اساس د دې موضوع اړوند مې په پښتو ژبه کې څه پیدا نه کړل، چې د لوحو په ارزښت دې چا کومه مقاله یا کتاب لیکلی وي، خو په دري او انګلیسي ژبو کې مې د موضوع اړوند څو لیکنې پیدا کړې دلته غواړم په لنډ ډول یو څه وضاحت وکړم:

۱- (**شهرداری برای اصلاح لوحه های نامنظم در شهر کابل دست به کارشد.**): دغه راپور چې (۸ صبح) ورځپاڼې په (۱/۲/۱۳۹۸)نېته خپور کړی دی. د هغه وخت حکومت یو ګډ کمیسیون (د لوحو او اعلاناتو د اصلاح ) تر عنوان تاکل شوی و، یاد کمیسیون کې د ښاروالۍ، اطلاعاتو او کلتور وزارت او نظامي پولیسو نمائنده ګانو غړیتوب درلود. د راپور له مخې هغه لوحې او اعلاناتي بورډونه چې غیرمعیاري او نامناسبو ځایونو کې نصب وو، له ښار څخه راټول کړي دي. چې له دې کار څخه موخه د کابل ښار ښکلا ساتل او د ملي ژبو څخه د معیاري ګټې اخیستنې لپاره یو خبروی دی او د پردیو ژبو د نه کارونې لپاره عملي کار بلل شوی و.(روزنامه صبح۸. ۱۳۹۸)

۲- (**اصلاح و نصب تابلوهای انتظامی درمنطقه ۱۰ اصفهان**): دا هم یو راپور بڼه لري، چې د ایران هېواد په یوه مشخصه ساحه کې د لوحو د نصبېه اړه دی. په دې راپور کې راغلي چې دغه لوحې په دې موخه نصب شوې، تر څو ښاري نظم او د ترافیکي پېښو کمښت او ورسره ښاریانو ته د تګ او راتګ په برخه کې سهولت رامنځته کړي. همدارنګه راپور کې راغلي دي، چې د دې لوحو په وسیله به د ښاري قوانینو او مقرراتو په اړه عامه پوهاوی زیات شي. (خبرگزاری ایمنا. ۱۴۰۳)

۳- په انګلیسي ژبه د روښانه لوحو په اړه یوه څېړنه شوې ده، چې په دې څېړنه کې د روښانه لوحو اغېز څېړل شوی دی او اړوند ښاروالۍ ته وړاندیز شوی؛ تر څو هغه روښانه لوحې چې د شپې له خوامصنوعي رڼا زیاتوي او د خلکو د خوب ګډوډۍ او ناراحتۍ سبب ګرځي، د شپې له خوا بند کړل شي. دې څېړنه کې یادونه شوې

ده، لکه څنګه چې د غربیزې ککړتیا مخه نیول کیږي، په همدې ډول د روښانه لوحو لپاره وخت وټاکل شي او د شپې له نیمایي څخه د لمر راختو پورې په هغو ځایونو کې چې عامه استوګنه زیاته ده، د ځمکې څخه پورته روښانه تجارتي اعلانونه بند شي، تر څو د مصنوعي رڼا اغېزې کمې شي .The Guardian.(2024)

**۴- (د نښو د ترمیم او ساتنې اهمیت):** دغه څېړنه چې په انګلیسي ژبه شوې ده، د کاروبار او تجارت په برخه کې د برانډ د ښه ښکاره توب لپاره د نښو ساتل او بیا بیا ورته توجو کول مهم بلل شوي دي. دې څېړنه کې د نښو ساتلو اهمیت په څو ټکو کې واضح کړی دی، چې له هغې جملې د مشتریانو جذبول، خوشالوونکی چاپیریال، عامه خلکو ته د لارښوونې وسیله او په ټوله کې د اوږدمهاله سوداګریزې بریا سبب بلل شوی دی. په دې څېړنه کې دې ته هم شاره شوېده، که چیرې انځورونه او ډیزاینونه غیر مسلکي وي، د مشتریانو باور او د برانډ شهرت ته زیان رسوي.Taylor Goad.(2024)

۵- په دې وروستیو کې دافغان غږ (اوا) په نوم ویبسایټ د راپور له مخې د افغانستان اسلامي امارت د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لوري یو ګډ کمیسیون جوړ شوی، چې د کابل ښار هغه لوحې چې په بهرنیو ژبو لیکل شوي، د لرې ګولو او اصلاح په موخه اقدام کړی او دوکاندارانو، تجارتي مرکزونو ته خبر ورکړل شوی دی، چې د پنځلسو ورځو په جریان کې خپلې لوحې اصلاح کړي. د راپور له مخې د دې کار موخه د ملي ژبو ترویج او د خپل فرهنګ ساتل بلل شوي دي. (خبرګزاری صدای افغان (اوا) کابل. ۱۴۰۲)

### د ښاري لوحو د سمونې او اصلاح ارزښت

۱- د ښاري لوحو د سمونې یو لوی ارزښت دا دی، چې خلک په اسانۍ سره پوه او رهنمایي شي، تر څو اخېستونکي ته اسانتیا او سهولت رامنځته شي او ذهني مفاهیم په ښه شان انتقال شي؛ تر څو په ښار کې خلک سرګردانه نشي او خپل هدف ته په وخت ورسېږي.

۲- همدارنګه د بازار مونډنې په برخه کې زیات رول لوبولی شي، که زموږ ښاري لوحې معیاري او اصلاح وي، سوداګر په خپله برخه کې ښه تبلیغ کولای شي او د اخېستونکو پام خپلو اجناسو ته رااړولی شي، تر څو هغوی تشویق شي او هغه څه چې د دوی اړتیا ده، په سهولت تر لاسه کړي او دوکاندار او سوداګر ته ښه مناسبه ګټه ورکړي.

۳- د ژبې په معیاري کېدنه او علمي کېدنه کې هم رول لوبوي، دا په دې معنا چې که موږ خپلې ژبې ته ارزښت ورکړو او په سوداګریز بازار کې یې په سمه توګه وکاروو، نو د ژبې د پرمختګ سبب ګرځیدلی شي او په اقتصاد کې د ژبې ارزښت موږ ته په ښه توګه څرګندیدلی شي.

### د ښاري لوحو ستونزې او نیمګړتیاوې

زما د مشاهدې پر اساس ښاري لوحې بېلابېلې نیمګړتیاوې لري، چې دلته یوه یوه په لنډه توګه ښیو:

**۱- املایي تېروتنې:** د ښار ځینې لوحې دا ستونزه لري، چې املاء یې سمه نه وي، په تېره بیا د پښتو ژبې د یاګانو ډولونه په خپل ځای نه دي درک شوي، د مثال په توګه چیرته چې اوږدې (ې) ته اړتیا ده، هلته څرګنده (ي)

لیکل شوې ده او چېرته چې بیا د څرګندې (ي) اړتیا ده، هلته بیا نرمه (ی) لیکل شوې ده، چې لوستونکی یې په لوستلو کې له ستونزو سره مخ کېږي، لکه لاندې (۱) نمبر تصویر کې:
(۱تصویر)




**۲- ګرامري تېروتنې:** ځینو لوحو کې بیا ګرامري ستونزه هم شته او د لیکلو پر مهال یې ګرامري برخې ته پام نه دی شوی، مثلا: کوم ځای کې چې د کلمو تر منځ فاصلې یا کومې لیکنښې ته اړتیا ده، نه ده مراعات شوې، یا خو بې ځایه فاصله او لیکنښه کارول شوې ده او یا دا هم تر سترګو کېږي، چې ځینې ځایونه ناخپلواکې کلمې (له، د، په، پر...) په سمه توګه نه دي لیکل شوې او یوه د بلې پر ځای لیکل شوې ده، چې د متن په لوستلو او مفهوم کې یې ستونزه پیدا کړې ده.

۲تصویر




**۳- په پردۍ ژبه د کلمو او لوحو لیکنه:** دغه ستونزه هم د ښار په لوحو کې زیاته تر سترګو کېږي، چې ځینې لوحو متن پښتو وي، خو یوه نیمه کلمه د بلې ژبې وي او ځینې لوحې بیا داسې دي، چې مطلق متن یې په بله ژبه لیکل شوی وي. د مثال په توګه (د فلاني فروشګاه) یا ټول متن په بله ژبه وي لکه:

۳تصویر



**۴- د غیر معیاري نومونو لیکل او د رنګونو پر ځای نه کارونه:** داسې لوحې هم تر سترګو کېږي، چې ځینو دوکاندارانو او یا کسبګرو خپلو شرکتونو او دوکانونو ته غیر معیاري نوم ورکړی وي، چې زموږ د ټولنې له فرهنګ کلتور سره ښه اړخ نه لګوي. بله دا چې د ځینو لوحو ډیزاین او رنګونه معیاري نه وي، چې د لوستونکو پام ځان ته راوګرځوي، بلکې داسې ډیزاین شوي وي، چې لوستونکی یې یا په لوستلو کې ستونزه پیدا کوي او یا هم هغومره اغېز او ښکلا نه لري، څومره چې د لوحې لپاره د بازار موندنې په برخه کې په کار دی.

۴تصویر




**د پورته څلور ډوله نیمګړتیاوو لاملونه او حل لارې**

۱- لومړی لامل دا دی: چې زموږ په ټولنه کې د سواد کچه کمزورې ده او هغوی چې سواد هم لري، چندان د ژبې سمې لیکنې ارزښت ته پاملرنه نه کوي او بې پروا مخکې ځي.

۲- د ګاونډیو هېوادونو اغېز: چې زیات وخت سوداګر تګ راتګ ورسره لري او هلته تر ډېره ایراني فارسي، انګلیسي او اردو ژبه کارول کېږي، چې دوی هم د هغوی اصطلاحات او نومونه دلته په خپلو سوداګریزو چارو کې پر مخ وړي.

۳- د مطبعو او خطاطانو تر منځ نه هماهنګي او خپل سري یو بل لوی لامل کېدلی شي، ځکه هر څوک چې څنګه غواړي هماغه شان لیکنه کوي، ډېری وخت د ژبې سمې لیکنې ته یا خو پام نه کوي او یا هم دوی دې برخه کې معلومات کمزوري دي.

۴- د مسلکي پوهې نشتوالی یو بل لامل بللی شو، ځکه دلته که دوکاندار دی او که بل کاروباري، خپل مسلک ته ژمنتیا یې کمزورې ده او د هغه چا کار مخکې وړي، چې د ده په مسلک پورې هېڅ تړاو نه لري، د بېلګې په توګه کله چې یو دوکاندار غواړي د خپل دوکان لپاره لوحه جوړه کړي، پر ځای د دې چې د ډیزاینر او خطاط سره مشوره وکړي، چې کوم نوم به ښه وي او کوم رنګ به معیاري راشي، په خپل زړه یو څه فرمایش کوي او خطاط یا ډیزاینر هم هماغه څه ورته جوړوي، چې ده ورته فرمایش کړي دي.

پورته لاملونو او ستونزو ته په کتو د لوحو سمونې او اصلاح لپاره له ټولو مخکې دا مهمه ده، چې د اطلاعاتو او کلتور ریاست په همکارۍ یو ګډ کمېسیون جوړ شي، چې د ښاري اتحادیې، ښاروالۍ او په خپله د اطلاعاتو او کلتور ریاست نمائینده ګان پکې شامل وي؛ تر څو داسې یوه طرحه جوړه شي، چې د ښاري لوحو د سمونې او اصلاح لپاره ګټوره وي او دې برخه کې په ګډه کار وکړي.

دویمه مهمه خبره دا ده، چې اطلاعاتو او کلتور ریاست وخت نا وخت له ښاري لوحو څار وکړي او د هغوی د اصلاح لپاره اړوند مسؤلین پوه کړي. همدا رنګه د ښار خطاطان او مطبعو مسؤلین متوجې کړي، چې د معیاري لوحو لیکنه کې هڅه او همکاري وکړي او که امکان لري، د مطبعو ډیزاینرانو او خطاطانو ته لنډ مهالي سیمنارونه په کار واچول شي، تر څو دوی په دې برخه کې لا زیات معلومات ولري او د سمو او معیاري لوحو لیکنې هنر یې لا پیاوړی شي.

**پایله**

د پایلې په توګه ویلی شو، چې د ښاري لوحو د سموني او اصلاح ارزښت زیات دی؛ ځکه چې لوحې د ذهني مفاهمو د انتقال وسیله ده او په دې توګه ښاریان له زیاتو ستونزو خلاصېږي او په اسانۍ سره خپل هغه څه چې اړتیا یې ده، لاسته راوړي، له بلې خوا د سوداګرو او دوکاندارانو لپاره لوحې د اعلاناتو رول لوبوي او د خلکو پام د خپلو اجناسو او کسب لوري ته راګرځوي. همدرانګه د لوحو د سموني یو بل ارزښت په دې کې دی، چې زموږ ژبه او فرهنګ غني کېږي او د ژبې معیاري کېدنې ارزښت ته موږ متوجې کېږو، چې په اقتصادي برخه کې د سمې ژبې کارونې اړتیا حس کوو او راتلونکي نسل ته د ښه پیغام رسونې دود ورکوو، تر څو خپلې ژبې او فرهنګ ته د ارزښت په سترګه وګورو او د نورو ژبو اغېز مو پر ژبه او فرهنګ کم شي.

زموږ په ښاري لوحو کې زیاتې ستونزې لیدل کېږي، چې د املایي تېروتنو تر څنګ ګرامري، ادبي او ان د ډیزاین او معیاري رنګونو په کارونه کې ستونزې لري. د دې ستونزو عمده علتونه، غیرمسلکي توب، د لوحو د ارزښت نه پېژندل او په دې برخه کې بې پروا پاتې کېدل او د ولس د سواد کچې ټیټوالی یادولی شو.

**وړاندیزونه**

۱. د اطلاعاتو او کلتور ریاست په چوکاټ کې د ښاري ادارو ګډ کمیسیون جوړ شي، تر څو د لوحو د سموني او اصلاح په برخه کې په ګډه کار وکړي او یوه مناسبه ښه طرحه جوړه کړي، چې د ښاري لوحو د اصلاح لپاره اغېزمنه وي؛ تر څو مو ښار لا ښکلا پیدا کړي او ښاریان مو د ژبې او فرهنګ له ارزښت سره اشنا شي.

۲. د پالیسي سازو څېړنو ارزښت په دې کې دی، چې موږ په هره برخه، دیني، فرهنګي، سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو کې عملا د علم څخه ګټه واخلو او ورته برخو کې اړوند ادارو او مسؤلینو ته سالمې مشورې او نظرونه ورکړو، همدې ارزښت ته په کتو که همدا ډول څېړنې دوامداره شي، زیات ناخېرلي او مهم موضوعات به وڅېړل شي.

۳. د خپل فرهنګ او ژبې ارزښت په اړه دې داسې پروګرامونه جوړ شي، چې عام ولس د خپل فرهنګ او ژبې له ارزښته خبر شي.

## مأخذونه

تڼیوال، مولاجان. (۱۳۸۷). پښتو ژبه او ژبپوهنه. کابل: علومو اکاډمي.

حریفال، رحیم الله. (۱۳۹۹). معیاري ژبه او رسنی (مقاله). کابل: علومو اکاډمي.

زیار، مجاوراحمد. (۱۳۹۶ل). پښتو وییپوهنه او وییرغاونه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

روزنامه صبح۸ . (۱۳۹۸). شهرداری برای اصلاح لوحه های نامنظم در شهر کابل دست به کار شد.

https://8am.media/fa/the-municipality-has-been-working-to-correct-irregular-plots-in-kabul-city/

خبرگزاری ایمنا. (۱۴۰۳). اصلاح ونصب تابلوهای انتظامی در منطقه ۱۰ اصفهان.

https://www.imna.ir/news/815538

Taylor Goad.(2024).The Importance of Sign Repair and Maintenance.
https://innovative-signs.com

The Guardian.(2024). Let there be night.
https://www.theguardian.com/australia-news/article/2024/jul/18/let-there-be-night

خبرگزاری صدای افغان. (۱۴۰۲). حذف نوشته های خارجی از تابلوها و لوحه های دکان ها و مراکز تجاری.

https://avapress./fa/news/280508/

**د مرکه کوونکو شهرتونه**

۱- نوم: خیرالله روشان زده کړې: دوولسم پاس عمر: ۳۸ کلن دنده: خطاط

۲- نوم: حسین زده کړې: دوولسم پاس. عمر: ۲۴ کلن. دنده: ډیزاینر

۳- نوم: فریدالله فرید زده کړې: ماستر. عمر: ۴۰ کلن. دنده: استاد

۴- نوم: ظاهرشاه زهیر زده کړې: ماستر. عمر: ۴۵کلن. دنده: استاد

۵- نوم: میرسبحان مجددي زده کړې: ماستر. عمر: ۳۷ کلن. دنده: استاد

٦- نوم: ګل احمد محبت زده کړې: ماستر. عمر: ۴۰ کلن. دنده: استاد

۷- نوم: ګل الرحمن زده کړې، دوولسم پاس. عمر: ۲۲ کلن. دنده: ډیزاینر

۸- نوم: سمیع الله زده کړې: دوولسم پاس. عمر: ۲۵ کلن. دنده: خطاط.

# د عامه اړیکو ستراتیژیک مدیریت لپاره اساسي تیورۍ

پوهنیار هارون برهان، شیخ زاید پوهنتون، د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځی، د عامه اړیکو څانګه

بریښنالیک: borhanharoon@gmail.com

**لنډیز**

تیورۍ په هر مسلک کې د کار او زده کړې لپاره بنسټ بلل کېږي. اړینه ده، چې هر مسلکي کس د خپل مسلک اړوند تیوریو سره اشنا او په خپل کاري چوکاټ کې ورڅخه استفاده وکړي. په عامه اړیکو کې زیاتې تیورۍ شتون لري، خو تر اوسه دا نه ده واضحه شوي، چې د ستراتیژیک مدیریت سره کومې تیورۍ تړاو لري. د دې څېړنې اساسي موخه دا ده، چې د عامه اړیکو هغه تیورۍ، چې د اړیکو په ستراتیژیک مدیریت کې کارول کېږي واضحې شي. سربېره پر دې به دوی په دې باندې هم پوه شي، چې تیورۍ څنګه د دوی له عملي کار سره مرسته کولای شي. د دې مقالې په لیکلو کې له تشریحي مېتود (Descriptive method) څخه استفاده شوي ده. په یاده څېړنه کې د دویم لاس سرچینو یعنې (Secondary Data) په موضوعي تړاو سره راوړل شوي دي او پر بنیاد یې استدلال او تحلیل شوی دی. په دې څېړنه کې د مختلفو معتبرو مقالو، کتابونو، علمي کنفرانسونو او علمي څېړنیزو مجلو چې د موضوع په تړاو خپاره شوي دي؛ ګټه اخیستل شوي ده. د څېړنې موندونو اووه اساسي تیورۍ د عامه اړیکو ستراتیژیک مدیریت لپاره تشریح کړې دي، چې کاریدونکي تیورۍ د ټولو دولتي او غیر دولتي ادارو سره مرسته کوي، چې عامه اړیکې په ستراتیژیک ډول مدیریت کړي. همدارنګه دا څېړنه به د ټولو دولتي او خصوصي شرکتونو، کمپنیو، ادارو، سیاسي نظامونو او مسؤولینو سره مرسته وکړي؛ تر څو داسې ستراتیژۍ د خپلو ستراتیژیکو اړیکو لپاره وکاروي، چې د ټولو ښکلو خواوو رضایت ترلاسه کړي او د ادارې په اړه مثبت ذهنیت ورکړي؛ تر څو خپل شهرت او اعتبار وساتي.

**کلیدي کلمې:** اړیکو مدیریت، د عامه اړیکو تیورۍ، د معلوماتو کنترول، ستراتیژیکې عامه اړیکې، عامه اړیکې

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

لکه څنګه چې د عامه اړیکو په تعریف کې راځي، چې (عامه اړیکې د ارتباطاتو هغه ستراتیژیکه پروسه ده، کوم چې د ادارو او د هغوی د عامه مخاطبانو تر مینځ دوه اړخیزې او ګټورې اړیکې رامنځ ته کوي او ساتي یې). بل خوا که د تیورۍ تعریف ته وګورو ( تیوري د نظریاتو او وړاندیزونو داسې ټولګه ده، چې پېښې او موضوعات تشریح کوي).

پورته تعریفونو ته په کتو د عامه اړیکو مسلک ته ځانګړې تیورۍ نه دي وړاندې شوي، ځکه دا مسلک د نورو مسلکو د پرمختګ لپاره د یوې وسیلې په توګه کار کوي او تل د ادارو د رهبرانو او لوړې کچې مدیرانو سره اوږه په اوږه مخکې ځي او مشورې ورکوي. له همدې امله د ارتباطاتو ماهرینو او محقیقنو د عامه اړیکو تیورۍ په مختلفو ساحو کې وړاندې کړې دي؛ چې د پام وړ یې په ټولنیز، سیاسي، اقتصادي، اداري چلندونو، د جنسیت مطالعاتو، مارکیټینګ او اروا پوهنې حالاتو پورې تړلي دي. سربېره پر دې، چې په اوسنۍ نړۍ کې د عامه اړیکو کارونکي نظر تیوریو ته د د عامه اړیکو  په تطبیقي اړخ باندې ډېر تمرکز کوي؛ خو بیا هم د یاد مسلک په تاریخ کې دې برخې ته پوهانو یو لړ مهمې تیورۍ رامنځه کړي او یادې تیورۍ داسې د کار چارچوب وړاندې کوي، چې د عامه اړیکو مسؤولین او مسلکیان په دې پوه شي، چې څنګه ادارې د خپل هدف وړ مخاطبانو سره اړیکې ونیسي او یادې اړیکې مدیریت کړي. په دې اساس د عامه اړیکو کارونکي دې ته اړتیا لري، چې د خپل هدف وړ مخاطبانو په اړه منظم، سیستماتیک او تیوریکي فکر وکړي. دې موخې ته د رسیدو لپاره د عامه اړیکو تیورۍ په ټوله کې د کارونکو سره په درې مهمو برخو کې مرسته کوي. اول: تر څو پراخه او پیچلي معلومات مدیریت کړي. دویم: اړوند لارې چارې واضح کړي. دریم: دحالاتو په اړه وړاندوینې روښانه کړي. د عامه اړیکو تیورۍ په لویه کې په ستراتیژیکو اړیکو، د بحران مدیریت او د شهرت په جوړنه کې استعمالیږي، ځکه دا هغه برخې دي، چې اداري ننګوي او یا یې په پښو دروي.

دا چې په افغانستان کې عامه اړیکې ډېره مخینه نلري، خو ډېری دولتي او غیر دولتي ادارې او موسسې یې د خپلو اړیکو د جوړولو او ساتلو لپاره استعمالوي او بل خوا افغانستان یوه کلتوري او سنتي ټولنه ده؛ بناً د عامه اړیکو د تیوریو استعمال په افغانستان کې په ځانګړې کلتوري، سیاسي، دیني، اقتصادي عنعناتو او چاپیریال پورې اړه لري.

دا مقاله د عامه اړیکو په هغه اساسي تیوریو را څرخي، چې د ستراتیژیکو عامه اړیکو مدیریت د پروسې سره اړیکه لري او د مدیریت په دې مشخصه برخه کې په پراخه کچه ورڅخه استفاده کیږي. په دې مقاله کې به هغه

تیورۍ تشریح شي چې د سازمانونو او عامو خلکو تر منځ د اړیکو او متقابل تعامل، د ستراتیژیکو عوامو پېژندنې، د اړیکو مدیریت، د ستونزو مدیریت، داخلي او خارجي محیط سره اړیکو نیولو، د رسنیو څخه خپریدونکو معلوماتو د کنټرول  او فلټر کولو او مشخصو موضوعاتو ته د عامو خلکو توجه اړولو په اړه بحث کوي. دا ټولې برخې د ستراتیژیکو عامه اړیکو د مدیریت په برخه کې هغه اساسي او مهمې برخې دي، چې ستراتیژیک مدیریت ته اړتیا لري.

## د څېړنې موخې

۱ – د څېړنې په لوستلو سره به لوستونکي وکولای شي، چې د عامه اړیکو  د مدیریت تیورۍ و پیژني او پر ډولونو باندې یې پوه شي.

۲ –د عامه اړیکو کارونکي او مسلکیان به په دې پوه شي، چې څنګه اړوند تیورۍ د دوی عملي کار سره مرسته کولای شي.

۳ – لوستونکي او مسؤولین به په دې پوه شي، چې د خپلو ادارو حالاتو ته په کتو د عامه اړیکو د مدیریت تیوریو کار واخلي تر څو په خپل مسلک کې اغېزمن ثابت شي او د ښکیلو اړخونو سره اوږد مهاله او ستراتیژیکې اړیکې ولري.

## د څېړنې ارزښت

لکه څنګه چې عامه اړیکو ستراتیژیک مدیرت برخه کې تر یو حده کار شوی دی او ډېری علمي څېړنې پرې تر سره شوي. خو دا تر ډېره نه ده واضحه شوي چې د عامه اړیکو کومې تیورۍ د عامه اړیکو د ستراتیژیک مدیریت لپاره کارول کېږي او په کوم حالت کې کومه تیوري اړینه ده. په دې علمي مقاله کې په همدې اړخ باندې څېړنه شوي ده او واضحه شوي ده، د عامه اړیکو ستراتیژیک مدیریت لپاره اړینې تیورۍ کومې دي او د عامه اړیکو کاروونکي یې په کومو حالاتو کې کارولای شي.

سربېره پر دې، یاده موضوع په پښتو ملي ژبه کې نوې ده. بناً دا څېړنه به په دې برخه کې د ادبي بیا کتنې سره مرسته وکړي او دا برخه به غني کړي.  د دې څېړنې بل آرزښت په دې کې دی، چې د افغانستان په ډېری هغه پوهنتونو کې چې عامه اړیکو څانګې لري، په کافي اندازه مواد نلري بلخصوص د عامه اړیکو د تیوریو په اړه. دا مقاله به د عامه اړیکو استادانو ، محصلانو او د عامه اړیکو کارونکي سره مرسته وکړي، چې په ورځینیو کارونه کې ورڅخه کار واخلي او پر مټ به یې خپلې زده کړې په ښه ډول سره تر سره کړي او هم به د ستراتیژیکو عامه اړیکو د مدیریت په برخه کې د یوې علمي منبع په توګه له دوی سره مرسته وکړي. دا څېړنه به په ادارو کې د عامه اړیکو مسؤولینو سره مرسته وکړي، تر څو داسې ستراتیژۍ د خپلو ستراتیژیکو اړیکو لپاره وکاروي، چې

عام خلک، شریکان، سرمایه اچوونکي او ټولو ښیکلې خواوې خوشاله وساتي او د اداري په اړه تل مثبت فکر ولري. په پایله کې به دا څېړنه د ټولو دولتي او خصوصي شرکتونو، کمپنیو، ادارو او سیاسي نظامونو سره مرسته وکړي، چې د هدف وړ ومخاطبانو، پانګه اچوونکو، شریکانو، عامو وګړو رضایت تر لاسه کړي او په ذهنیت کې یې مثبت تصور ولري او خپل شهرت وساتي.

**د څېړنې کړنلاره او مېتود**

د دې مقالې په لیکلو کې له تشریحي مېتود (Descriptive method) څخه استفاده شوي ده. تشریحي مېتود د څېړنې هغه مېتود دی، چې موضوعات او شته واقعیت په تشریحي بڼه وړاندې کوي او د موضوع نا څرګندې خواوې را سپړي. په یاده څېړنه کې د دویم لاس سرچینو یعنې ( Secondary Data) په موضوعي تړاو سره راوړل شوي ده او پر بنیاد یې استدلال او تحلیل شوی دی.

په دې څېړنه کې چې کړنلاره یې کتابتوني ده، د مختلفو معتبرو علمي ژورنالونو کې خپرې شوو مقالو، کتابونو، علمي کنفرانسونو او علمي څېړنیزو مجلو چې د موضوع په تړاو خپاره شوي دي استفاده شوي ده. همدارنګه په دې څېړنه کې د مأخذونو او سایټیشن (Citation) لپاره د (APA) سټایل کارول شوي.

**د عامه اړیکو ستراتیژیک مدیریت**

په عامه اړیکو کې د چلند اړوند او ستراتیژیک مدیریت کړنلاره په اساسي ډول د جېمز اي ګرونګ ( James E. Grunig) او د هغه د همکارانو لخوا د تجارتي اړیکو د نړیوالې اتحادیې د څېړنې په یو مرکز (IABC) کې ایجاد او پرمختګ وکړ. د عامه اړیکو ستراتیژیک مدیریت په اړه یاد مطالعه په ۱۹۸۵ میلادي کال کې پیل شوه. یاده مطالعه د (IABC) مرکز لخوا د هغه پروپوزل د غوښتنې په اساس ترسره شوه، چې دوو مهمو پوښتنو ته ځواب پیدا کړي: اول څنګه د عامه اړیکو فعالیتونه اداري لا اغېزمنولای شي. یعنې دلته یوازې تاثیرات کتل کېږي. دویم دا چې د عامه اړیکو فعالیتونه څنګه باید منظم او ترتیب شي؛ تر څو اغېزمنتوب تر لاسه شي. یعنې هدف دلته د فعالیتونو غوره والی دی.

دغه دوو اساسي پوښتنو ته ځواب دوه موارد څرګند ګڼل:

لومړی، میکانېزمونه د کومو په واسطه، چې عامه اړیکې ادارو او ټولنې ته ارزښت ورکوي.

دویم، د عامه اړیکو د غوره والي لپاره عمومي اصول(Grunig et al, 2002).

د عامه اړیکو ستراتیژیک مدیریت کې په ذکر شویو دوو اساسي پوښتنو باندې آرزونه وشوه، په کومو کې چې د ستراتیژیک مدیریت په پروسه کې د عامه اړیکو رول څرګندیږي. په ځانګړي توګه هغه حالت کوم، چې د عامه اړیکو غوره والی ښایي.

د عامو اړیکو د ستراتیژیک مدیریت لپاره، پورته څېړنې دوه تیوریکي اصول په ګوته کړل:

۱ - اداره باید یو ځانګړی ارتباطي فعالیت ولري. د غوره عامه اړیکو ټولې کړنې د یو ځای څخه مدیریت کیږي. یا د داسې مکانیزم وړاندې کړي، چې د ادارې د نورو برخو ټولې برنامې له یو ځای مدیریت او همغږي کړي.

۲ – عامه اړیکې باید مدیریتي دنده وي نسبت نورو دندو ته. په دې معنی، چې عامه اړیکو مدیر باید یوازې د اړیکو برخه مدیریت کړي او یا هغه چارې مدیریت کې کړي، چې په اړیکو پورې تړلي وي.

سربېره پر دې، د عامه اړیکو تیورۍ داسې کاري چارچوب وړاندې کوي، تر څو په دې پوه شو، چې څنګه ادارې د هدف وړ وګړو سره اړیکې نیسي او بیا یې مدیریت کوي. په عامه اړیکو کې تیورۍ د عامه اړیکو کارونکو سره دا مرسته کوي، چې انساني چلندونه تشریح او په اړه یې وړاندوینه وکړي او همدارنګه د ادارو تصمیم نیونه رهبري کړي. یادې تیورۍ په پراخه ساحه کې د ادارو د ستراتیژیک اړیکو، بحران مدیریت او د شهرت جوړنه کې استعمالیږي. دې مقاله کې هم په خلص او لنډ ډول د هغو تیوریو په اړه معلومات راټول شوي، چې د عامه اړیکو ستراتیژیک مدیریت کې ورڅخه استفاده کیږي.

**۱ – د سیستمونو تیوري(Systems Theory)**

په عامه اړیکو کې دا تیوري یو له مهمو تیوریو څخه ده. دا تیوري په دې تمرکز کوي، چې څنګه ادارې د خپل داخلي او خارجي محیط سره اړیکې نیسي. په عامه اړیکو کې د سیستم تیوري په دوو لویو برخو کې تشریح کیږي، چې ادارې څنګه د خلاص سیستم او تړلي سیستم له لارې اړیکې جوړوي.

په تړلي سیستم کې په دې باندې ټینګار کیږي، تر څو د ادارې یوه برخه او یا په خپله اداره داسې مدیریت شي، چې د ادارې بله برخه او یا د ادارې چاپیریال سره اړیکه په پام کې ورته ونه نیول شي. په دې سیستم کې زیاتره داخلي کارونو ته پام کیږي او بیروني چاپیریال پورې مربوط موضوعاتو ته پکې لږ پام کیږي. په تړلي سیستم کې ټل د ادارې اهداف له مخکې تعین شوي وي او د محیط سره د بدلون یا توافق وړ نه و (Gregory, 2015).

بل لورته بیا د بیروني عامو وګړو یا د هدف وړ خلکو د نظر اهمیت ته په کتو د کټلیپ (2000) په نوم عالم په عامه اړیکو کې د خلاص سیستم د تیورۍ پیشنهاد وکړ او دا یې لازمه وبلله، چې د ادارې رهبري باید په خارجي چاپیریال کې هم اړیکې و پالي او خپلې چارې مدیریت کړي (Cutlip et al, 2000).

خلاص سیستم بیا داسې بیانوي، چې د ادارې په داخل کې برخې چې د ادارې د نورو برخو له امله متاثره کېږي، دا په مجموع کې چاپیریالي تغیراتو ته مسؤوله دي. په بل عبارت خلاص سیستم هغه سیتسم دی، چې ادارې خپل چاپیریال په پام کې نیسي او خپل فعالیتونه د چاپیریال غوښتنو مطابق تنظیموي. د کټلیپ او ملګرو په ټنګار د عامه اړیکو مسؤولین باید خپل ځانونه د خلاص سیسم اړوند وګرځوي. ځکه دا د ادارو سره مرسته کوي، چې د چاپیریالي تاثیراتو څارنه وکړي او د هغوی مطابق فعالیتونه ترسره کړي. سربېره پر دې، په خلاص سیستم کې دوه اړخیزې انډول (Two-way symmetric) اړیکو څخه کار اخیستل کېږي (Gregory, 2015).

خلاص سیستم د عامه اړیکو مسؤولینو او کاروونکو ته په لاندې برخو کې ګټور تمامیږي:

اول: دا سیستم دوی ته په اداره کې د ستراتیژیک مشاور په صفت موقف ورکوي، په همدې اساس دوی ته توان ورکوي، چې په رهبرۍ او د دوی په تصمیم نیونه کې نفوذ تر لاسه کړي.

دویم: خلاص سیستم د بحران زور را کموي، ځکه د چاپیریال څار د عامه اړیکو کاروونکو سره مرسته کوي، تر څو د مشکلاتو وړاندوینه وکړي او مخکې ورته تیاری ونیسي.

دریم: خلاص سیستم د عامه اړیکو په برخه کې د ادارو مؤثریت تضمینوي.

په افغانستان کې د عامه اړیکو په برخه کې په ټولو دولتي انتفاعي او غیر انتفاعي ادارو کې د تړلي سیستم څخه کار اخیستل کېږي؛ ځکه د عامه اړیکو ادارې د رهبرۍ لخوا ټاکل شوي اهداف تعقیبوي. خو په شخصي ادارو او موسسو کې بیا دا برخه تر پخوا یو څه ښه شوي ده او اوس د خلکو غوښتنو ته په کتو خپل فعالیتونه تظیموي. همدا علت دی، چې دولتي ادارې ژر پرمختګ نشي کولی او غیر دولتي مؤسسې پرمختګ یو څه چټک وي.

**۲ - د دروازې ساتنې تیوري (Gatekeeping Theory)**

د دروازې ساتنې تیوري په لویه کې د معلوماتو د کنټرول پروسې ته راجع کېږي، لکه څنګه چې معلومات د یوې دروازې او یو فلتر څخه تیري، چې هغه دروازه او فلتر د مختلف ډوله زور او طاقت لرونکي وي. د دې تیوري بنسټ د شلمې پیړۍ په نیمایي کې کیښودل شو او مختلفې تحقیقي ساحې یې وپوښلې ( Bass, 1969; Schultze & Boland, 2000).

شومېکر (۱۹۹۱) د دروازې ساتنې تیوري داسې تعریف کړې ده:" دروازې ساتنې تیوري هغه پروسه ده، د کومې پواسطه چې بېلیونونه پیغامونه کوم چې په نړۍ شتون لري کمېږي او په سلګونو داسې پیغامونو باندې بدلېږي، چې ټارګېټ خلکو ته په ټاکلي ورځ رسېږي."

د دغه مفکورې کشف کوونکي لوېن (Lewin (1947, 1951 لومړی دې موضوع ته د روان شناسي له عینکو وکتل؛ په دې ډول چې ولې او څنګه د کورنیو د غذا عادتونه یو له بله توپیر کوي. دی په خپله څېړنه کې دې ته متوجه شو، چې د کور ښځې د کورنۍ د غذا د پخولو او انتخابولو تصمیم په خپل کنترول کې لري. بنا پر دې لېوین د کورنیو هغو ښځو ته د دروازې ساتونکو نوم ورکړ. لدې وروسته دا مفکوره ورو ورو مختلفو مسلکو ته وغځېده لکه ارتباطاتو، د ټیکنالوژي مدیریت، معلوماتي ساینس او وروستیو کې دا موضوع سیاست ته هم ورداخله شوه.

دا چې د عامه اړیکو مسلک د ارتباطاتو په چوکاټ کې د ستراتیژیکو اړیکو جوړولو او ساتلو دنده لري او تل د هدف وړ وګړو سره د معلوماتو د شریکولو له لارې اړیکې قایموي. بناً دا تیوري د عامه اړیکو د پیغامونو فلټر کولو او کنټرولولو څرنګوالي تشریح کوي. په دې کې تمرکز پر دې دی چې څنګه رسنۍ او د عامه اړیکو مسوولین پریکړه کوي چې کوم معلومات خپاره شي او کوم پاتې شي.

په ادارو کې دروازه ساتونکي اشخاص هغه کلیدي اشخاص دي، کوم چې په داخل او بیرون کې د مخاطبانو سره په قوي ډول اړیکې ولري او دوی دا وړتیا لري، چې د ادارې اړوند معلومات د ارتباطاتو په ټاکلي حدودو کې ترجمه کړي (Tushman & Katz, 1980). دا ډول حالاتو کې د عامه اړیکو مسؤول د ادارې د معلوماتو د دروازې ساتونکي په توګه کار ترسره کوي.

### ۳ - د اجنډا ټاکلو تیوري (Agenda-Setting Theory)

لکه څنګه چې د تیوري له نوم څخه معلومیږي، دا تیوري د رسنیو له لارې د نشریدونکو پیغامونو او معلوماتو لپاره مخکې له مخکې اجنډا ترتیبیږي او د همغه اجنډا له مخې نشرات کوي. تر ډېره دا تیوري په دې بحث کوي، چې څنګه په قصدي ډول د رسنیو له لارې د عامه خلکو توجه د یوې موضوع په نسبت بلې موضوع ته اړول کیږي او مهمه معرفي کیږي.

تقریباً پیړۍ مخکې والټر لیپمېن (Walter Lippmann (1922) په خلص ډول د خبري رسنیو تنظیم د عامه افکارو په جوړښت کې په یوه لنډه جمله یا فقره کې را وپېژندل: "دا بیرون نړۍ او انځورونه یې زموږ په سرونو کې" لیپمېن استدلال کولو، چې خبري رسنۍ د عامه چارو د لوی میدان او د یاد میدان په اړه زموږ لیدلوري ترمنځ اساسي پل دی.

د چلندونو په تړاو اوسنۍ څېړنو د ډله ییزو رسنیو نفوذ په عامه افکارو کې په جزوي ډول پیل کړي. د ډله ییزو رسنیو د ورځنیو خبرونو انتخاب او نشرول؛ د نړۍ په اړه زموږ لیدلوری، زموږ د توجه تمرکز او دا چې د ورځې

گرمه او مهمه مضوع څه ده؛ د دې ټولو په اړه زموږ نظر را بدلوي او نفوذ پکې کوي ( McCombs, M., & Lee, J. K. 2013).

په لنډ ډول، رسنۍ زموږ ذهنونه رهبري کوي او زموږ توجه هغو موضوعاتو ته اړوي چې دوی ته مهمې دي یعنې رسنۍ موږ ورو ورو هڅوي تر څو د هغو موضوعاتو په اړه فکر وکړو، چې دوی یې نشروي. بل لور ته، د عامه اړیکو کاروونکي تل هڅه کوي، چې د ډله ییزو رسنیو له لارې د نشریدونکو کمپاینونو په واسطه د عامو خلکو هڅونه وکړي. د عامه اړیکو کاروونکي داسې خبري موضوعات رسنیو ته د نشر لپاره ورکوي، چې د دوی د ادارو د پالیسو او غوښتنو مطابق وي. په دې طریقه سره دوی هڅه کوي، چې د عامو خلکو فکرونه له هغو موضوعاتو چې د ادارې د کړنو خلاف وي واړوي او په هغو موضوعاتو یې مصرف کړي، چې د دوی په گټه راځرخي.

په دې تیوري کې ویل کېږي چې رسنۍ او عامه اړیکې د خلکو پام ځانگړو موضوعاتو ته اړوي. د دې تیورۍ له مخې، رسنۍ نه یوازې معلومات وړاندې کوي، بلکې د خلکو د فکر کولو لارښوونه هم کوي.

### ۴ - د اړیکو مدیریت تیوري (Relationship Management Theory)

دا د عامه اړیکو یوه مهمه تیوري ده او تمرکز یې پر دې دی، چې څنگه سازمانونه او ادارې له خپلو مختلفو شریکانو، لکه مشتریانو، کارکوونکو، رسنیو، او ټولنې سره اړیکې رامنځته کوي او هغوی ساتي. دا تیوري وړاندیز کوي چې د کامیابه عامه اړیکو موخه یوازې پیغام رسونه نه ده، بلکې د با ارزښته او اوږدمهاله اړیکو جوړول دي. د اړیکو مدیریت د دوامداره او موثرې اړیکې ساتلو لپاره اړین گڼل کېږي. د دې تیوري بنسټ ایښودونکې لینډا هونگ (Lynda Hon) او جیمز گرونیگ (James Grunig) دي، چې د عامه اړیکو په څېړنو کې یې د اړیکو ارزښت ته ځانگړې پاملرنه وکړه.

لکه څنگه چې جېمز اې گرونیگ او د ده ملگرو دا معلومه کړه، چې عامه اړیکې یوه مدیریتي چاره ده؛ په کومه کې چې پلانول او د مشکلاتو حل شاملېږي. نو د مدیریت په برخه کې دا اړینه ده، چې د خپلو ښکیلو خواوو سره اړیکې مدیریت کړو (J. Grunig & Hunt, 1984; J. Grunig, 1992). په همدې اساس بروم او نور محققینو د خپل مینځي ارتباطاتو، اداري اړیکو، د سیستم تیوري او رواني اړیکو په برخه کې د قوي او پراخې ادبي بیا کتنې وروسته اداري عامه اړیکې داسې تعریف کړي، چې دا هغه اړیکې دي، کومې چې د ادارې او عامو وگړو تر مینځ د متقابل عمل، راکړې ورکړې او تبادلې په پایله کې رامینځته کیږي.

بل خوا بیا لېډېنګهم او برونېنګ سازماني عامه اړیکې داسې تشریح کړي دي؛ چې د ادارو او عامه خلکو تر مینځ د هغه حالت شتون دی؛ کوم چې دواړو خواوو ته اقتصادي، ټولنیز، سیاسي او کلتوري ګټې رسوي او دا حالت په دوه اړخیز مثبت ډول په پام کې نیول شوی وي(Ledingham & Bruning, 1998). د اړیکو دا نظر او تیوري د عامه اړیکو په مختلفو دندو لکه عامه چارې، د ټولنې سره اړیکې، د مسائلو او مشکلاتو مدیریت، د بحران مدیریت او د رسنیو سره اړیکو کې را څرګنده شوه(Bridges & Nelson, 2000).

د اړیکو مدیریت مفهوم د عامه اړیکو کارونکو ته دا ضرورت په ګوته کوي، چې د ستراتیژیکو پلانونو او نورو مدیریتي پروسو سره اشنايي پیدا کړي.

په دې تیورۍ کې ځینې اصول مهم دي، چې د عامه اړیکو کاروونکي يې باید په پام کې ونیسي:

۱ - د اړیکو دوامداره مدیریت: سازمانونه باید د خپلو کلیدي شریکانو سره اړیکې د اوږدې مودې لپاره مدریت کړي او د اړیکو مدیریت د لنډ مهال لپاره په پام کې ونه نیسي.

۲ – دوه اړخیزه کته: اړیکې باید داسې مدیریت شي، چې ټولې خواوې (اداره، شریکان، مشتریان ...) ترې ګټه پورته کړي.

۳ – تلپاتې اړیکې او شفافیت: سازمانونه باید له خپلو شریکانو سره شفافیت را مینځته کړي، تر څو باور جوړ کړي او تلپاتې اړیکې ولري.

۴ –د اړیکو ښه کیفیت: د دې لپاره چې د ادارې د اړیکو کیفیت لوړ شي، ځینې مهم لاملونه چې لاندې لیکل شوي دي؛ باید په پام کې ونیسي:

- اعتماد :(Trust) شریکان باید په سازمان باور ولري.
- رضایت :(Satisfaction) دواړه خواوې باید په اړیکه راضي وي.
- ژمنتیا :(Commitment) د اوږدمهاله اړیکو لپاره ژمنتیا اړینه ده.
- متقابل کنټرول :(Mutual Control) دواړه اړخونه باید په اړیکه کې یو څه کنټرول او نفوذ ولري.

**په عامه اړیکو کې دا تیوري په لاندې برخو کې کارول کیږي:**

**له مشتریانو سره د اړیکو مدیریت :(CRM)** د شرکتونو لپاره چې غواړي له خپلو مشتریانو سره اوږدمهاله او ګټورې اړیکې جوړې کړي.

**له ټولنې سره اړیکه:** شرکتونه له خپلو محلي ټولنو سره شفاف او مثبته اړیکه ساتي.

**له رسنیو سره اړیکې** :د سازمان پیغام رسونه او د رسنیو سره د متقابل باور رامنځته کول.

**له کارکوونکو سره اړیکې** :د کارکوونکو وفادارۍ او رضایت زیاتول د شرکت د بریا لپاره مهم دي.

### ۵- د عامو خلکو د وضعیت تیوري (Situational Theory of Publics):

د عامو خلکو د وضعیت تیوري د عامه اړیکو یوه بله مهمه تیوري ده چې د سازمانونو او عامو خلکو تر منځ د اړیکو او متقابل تعامل څرنګوالی تشریح کوي. دا تیوري د جیمز ګرونیګ (James E. Grunig) لخوا وړاندې شوه، او تمرکز یې پر دې دی، چې څنګه خلک په بېلابېلو حالاتو کې د سازمان پیغامونو ته غبرګون ښيي او د هغوی فعالیتونه څه ډول بدلېږي.

ګرونیګ د خلکو چلند او وضعیت د درې مهمو فکتورونو پر بنسټ تحلیل کړ:

۱. **د ستونزې پوهاوی**:(Problem Recognition)
   - ایا خلک د یوې موضوع یا ستونزې په اړه پوهېږي؟
   - هغه خلک چې ستونزه درک کړي، د فعال غبرګون امکان یې زیات وي.

۲. **د خنډونو کچه**:(Constraint Recognition)
   - ایا خلک فکر کوي چې دوی د ستونزې د حل لپاره څه کولی شي یا خنډونه یې مخه نیسي؟
   - که خلک احساس کړي چې د ستونزې حل کې هیڅ مرسته نه شي کولی، نو هغوی غیر فعال پاتې کېږي.

۳. **په موضوع کې د ښکیلتیا کچه**:(Level of Involvement)
   - ایا د ستونزې یا موضوع په اړه خلک ځان ښکېل او متاثره احساسوي؟
   - هغه خلک چې موضوع یې شخصي یا مهمه ګڼي، د فعال عکس العمل ښودلو امکان یې زیات وي.

ګرونیګ Grunig (1983) د عامو خلکو (public) اصطلاح د ډیوي (Dewey) تعریف څخه د دې تیورۍ د اساس لپاره وکاروله. ډیوي په خپل تعریف کې بیان کړل، چې عام خلک هغه وخت را پورته کېږي؛ کله چې افراد د یو ډول ستونزې سره مخ شي، ستونزه وپیژني او د ستونزې د حل په موخه سره را ټول شي (Grunig, 1983).

ګرونیګ او رېپر په دې ټینګار کوي، چې د عامه اړیکو کارونکي او لوړپوړي مدیران باید ستراتیژیک عمل وکړي، تر څو د ادارې اهداف لاسته راوړي. د همدې موخې لپاره د عامه اړیکو کاروونکي باید د خپلو هدف

وړ مخاطبانو خصوصیاتو په اړه پوره او کافي معلومات را ټول کړي او بیا د دوی خوصوصیاتو ته په کتو د ادارې له لورې ورسره اړیکه ونیول شي (Grunig & Repper, 1992).

دا چې د عامو خلکو د وضعیت تیوري تر ډېره د عامو وګړو په عکس العمل یا متقابل تعامل باندې بحث کوي، اړینه ده، چې د عامو وګړو په اړه کافي معلومات ولرو. د ګرونیګ او رېپر لخوا د عامو خلکو ویشنه په لومړیو کې په دوه ډوله وشوه، چې فعال عام خلک (Active Publics) او بل یې غیر فعال عام خلک ( Passive Publics) دي. فعال عام هغه خلک دي، چې د ادارو په اړه معلومات تر لاسه کوي او بیا په انفرادي ډول ادارو ځواب هم ورکوي. او غیر فعال عام هغه خلک دي، چې معلومات تر لاسه کوي، خو په فعاله توګه نه غواړي، چې د ادارو سره ځانونه ښکېل کړي (Grunig & Repper, 1992).

خو وروسته بیا ګرونیګ او هنټ د ډیوي د تعریف په اساس څلور ډوله عام خلک تعریف کړل. هغه عام خلک، چې د ستونزې سره مخ وي، خو ستونزه نشي درک کولای دوی ته نا خبره یا پټ عام خلک (latent Publics) وایي دوی پوهاوي ته اړتیا لري. هغه عام خلک، چې د ستونزې سره مخ وي او ستونزه یې درک کړي وي؛ خو اقدام نه ترسره کوي، دېته خبر عام خلک (aware publics) وایي. هغه خلک چې د ستونزې سره مخ وي، ستونزه یې درک کړي وي او ستونزې ته د حل په لټه کې وي دېته فعال عام خلک (active publics) خلک وایي. ورستۍ ډول یې هغه عام خلک دي، چې د ستونزې په مقابل کې هېڅ ډول عکس العمل نه ښایي او غیر فعال وي دې ته غیر عام یا غیر فعال عام خلک (nonpublic) وایي.

نظر د موضوعاتو محتلفو ډولونو ته چې شاید عام خلک ورته عکس العمل وښايي ګرونیګ د عامه خلکو د وضعیت تیوري وړاندیز کړه. په دې اساس عام خلک نظر موضوعاتو ته په دوه فعال او غیر فعال عامو ډولونو باندې وویشل. نو ده لاندې څلور ډوله عامو خلکو کټه ګوري وړاندې کړې(Grunig, 1983) .

۱ - ټول موضوعي عام خلک (**All-issue publics**): دا عام خلک په ټولو مسایلو کې فعال وي. دا ډول خلک ډیری د بې عدالتۍ په موضوعاتو باندې ډېر تمرکز کوي چې د سازمان لخوا یا د هغې له لارې ترسره کېږي.

۲ – بې حسه عام وګړي (Apathetic publics): دا ډله عام وګړي عموماً په خپل محیط کې ډېر خبر نه وي او نه هم د محیط اړوند ډیری موضوعاتو ته پام کوي. دوی ټول تمرکز په ځان وي او په هغه عمل کې برخه نه اخلي، چې نور خلک یې د اعتراض په ډول کوي.

۳ – د ځانګړي موضوع عام خلک (Single-issue publics): دا عام خلک په مشخصه ساحه کې په یوه موضوع کې فعال وي. دوی ټوله انرژي په ځانګړي یوه موضوع کې استعمالوي. د مثال په توګه د مهاجرینو په موضوع کې دوی ډېر فعال وي. یا په ماشومانو باندې د شاقه کار برخه کې دوی حساس وي.

۴ – د ګرمو موضوعاتو عام خلک (Hot-issue publics): دا ډله عام خلک په یوه داسې موضوع کې فعال وي، چې د وخت ګرمه او پراخه ټولنیزه موضوع وي. دوی عموماً په هغه موضوعاتو کې فعال وي، چې د رسنیو له لارې تر پوښښ لاندې نیول کیږي او د خلکو توجه را جلبوي. د بېلګې په توګه په کورنۍ کې د پلار حقوق هر کله چې د طلاق موضوعات مطرح کیږي.

بلخوا بیا د هالاهان په نوم بل عالم د عامو خلکو ډلبندي په بل اساس وکړه. د ده په لید چې عامو خلکو د وضعیت تیوري په فعالو عامو خلکو بې حده ټینګار کوي، نسبت غیر فعال عامو خلکو ته، چې شاید برعکس دا غیر فعال عام خلک هم ادارو ته مهم وي یعنې دی د یادې تیورۍ سره ډېر موافق نه دی. په همدې اساس هالاهان بیا د عامو خلکو ویشنه دوو موضوعاتو ته په پام، چې یو په موضوعاتو کې د خلکو پوه او بل په موضوعاتو کې د خلکو ښکیلتیا ده ترسره کړه. ده لومړی خبر عام خلک (aware publics) هغه چا ته وویل، چې په موضوع ښه پوه وي، خو ښکیلتیا یې کمه وي. غیر فعال عام (inactive publics) یې هغه خلکو ته وویل، چې پوه یې کمه وي او ښکیلتیا یې هم کمه وي. فعال عام خلک (active publics) یې هغه خلک وبلل، چې په موضوع کې په لوړه کچه پوه لري او لوړ داخالت یا ښکیلتیا هم لري. پارول شوي عام خلک (aroused publics) هغه عام وکړي دي، چې پوه یې لږه، خو ښکیلتیا یې لوړه وي. او بالاخره غیر عام خلک (non-publics) یې بیا هغه عام وګړي ونومول، چې نه د موضوعاتو په اړه پوه لري او نه هم په موضوعاتو کې ښکېلتیا لري (Hallahan, 2000).

لکه څرنګه چې د عامو خلکو د وضعیت تیوري د خلکو او سازمان تر منځ د اړیکو د څرنګوالي او د خلکو د ښکېلتیا کچه تحلیلوي. دا تیوري سازمانونو او د عامه اړیکو کاروونکو ته دا فرصت برابروي، چې د خپلو مهمو پیغامونو لپاره سمې مخاطبې ډلې وټاکو او د هغوی سره د متقابلې ښکېلتیا پر بنسټ خپلې موخې ترلاسه کړو. وروسته لدې چې مخاطبې ډلې مو سمې وپیژندې کولای شو، چې د پیغام رسونې لپاره هم مناسبې او غوره وسیلې و ټاکو.

**٦ – د غوره والي یا ښو اړیکو تیوري (Excellence Theory)**

د غوره والي تیوري په عامه اړیکو کې یوه عمومي تیوري ده. دا تیوري د ارتباطاتو مدیریت کې د ۱۵ کاله پرلپسې کړنو د مطالعې څخه تر لاسه شوي ده؛ کوم چې د سوداګریزو ارتباطاتو نړیوالې ټولنې (IABC) څېړنیز بنسټ یې مالي لګښت په غاړه درلود. دا تیوري د امریکا متحده ایالاتو، کاناډا او انګلستان کې د عامه اړیکو مشرانو، کاروونکو او اجرایه رئیسانو سره په ۳۲۷ ادارو (شرکتونو، غیر انتفاعي ادارو، دولتي اجنسیو او اتحادیو) کې د سروې ریسرچ په واسطه د جمېز اي ګرونیګ لخوا وآرزول شوه (Grunig, 2008).

د غوره والي تیوري په عامه اړیکو کې د کار ځانګړی چوکاټ دی، چې د سازمانونو او د دوی شریکانو ترمنځ د دوه اړخیزو ګټورو اړیکو په جوړولو کې د اغېزمن اړیکو، اخلاقي کړنو، او ستراتیژیک مدیریت په ارزښت ټینګار کوي. دا تیوري وړاندیز کوي، چې سازمانونه هغه وخت خپل اهداف ترلاسه کوي او خپل شهرت ته وده ورکولای شي؛ کله چې دوی په خلاص، دوه اړخیزو اړیکو کې ښکېل وي او د ښکېلو خواوو اړتیاو ته لومړیتوب ورکوي (Grunig et al., 2002).

د غوره والي تیوري لومړی د مدیریتي پریکړو د ټولنیز مسؤلیت او د برخه اخیستونکو خلکو سره د اړیکو کیفیت پراساس سازمانونو او ټولنې ته د عامه اړیکو ارزښت تشریح کړ. د دې لپاره چې یوه اداره اغېزمنه وي، نظر دې تیورۍ ته اداره باید داسې چلند وکړي، چې ستونزې حل کړي او د مدیریت تر څنګ د خپلو ښکیلو اړخونو غوښتنې هم پوره کړي. که چېرې ادارو داسې ونه کړي، نو ښکیلې خواوې به په دوی داسې فشارونه راوړي، چې د دوی پرېکړې او پالیسۍ به داسې وننګوي او بدلې به یې کړي، چې بیه او خطر به یې ډېر وي. د دې لپاره، چې ادارات په ټولنه ځان ومني او د داسې غبرګون سره مخ نه شي، دوی باید خپل محیط ښه مطالعه کړي او هغه عام خلک وپېژني کوم، چې د ادارو له پرېکړو متاثره کیږي او هغه ستونزې ورحل کړي، چې دوی ورسره مخ کیږي. په همدې موخه ادارې باید د خپلو هدف وړ وکړو سره دوه اړخیزې متوازنې اړیکې ولري( داسې چې هم د ادارو او خلکو غوښتنې په پام کې نیول شوي وي) دا کار به اوږدمهاله او غوره اړیکې ترویج کړي(Grunig, 2008).

نظر پورته اهمت ته په کتو دې تیوري ځینې اړین اصول وړاندې کړل، چې څنګه داسې کړنې ترتیب شي، تر څو یاد آرزښتونه لوړولی شي:

**لومړی**: دې تیورۍ دا وښوده، چې د غوره عامه اړیکو یوه ځانګړتیا دا ده، چې په ستراتیژیک مدیریت کې ښکیلتیا موجوده وي. په دې معنا چې د عامه اړیکو مسؤولین باید د ادارې په ستراتیژیکو پرېکړو او مدیریت کې ونډه ولري.

**دویم:** مطالعې دا څرګنده کړه، چې عامه اړیکې هغه وخت په ستراتیژیک مدیریت کې خپل اصلي رول له لاسه ورکوي؛ هر کله چې په بازار موندنه یا بل مدیریتي کار پسې مربوطې شي. ځکه دې وخت کې توجه ټوله د مارکیټینګ لور ته اوړي.

**درېیم:** د غوره والي تیوري دا ثابته کړه، چې د دوه اړخیزو متوازنو اړیکو ( two-way symmetrical communication) د داخلي ارتباطاتو سیستم د کارمندانو د دندو قناعت د ادارو سره زیاتوي (Grunig and Hunt, 1984).

**څلورم:** د غوره والي تیوري دا هم و آزمایله، چې په عامه اړیکو کې د ښځو زیاتیدونکي حالت او راتګ هم تاثیر لري. څېړنې وښوده، چې غوره عامه اړیکې په ستراتیژیک رول کې ښځو ته هم دومره آرزښت ورکوي لکه سړیو ته.

**پنځم:** یاده تیوري په دې ټینګار کوي، چې جنسیت، نژاد او قومیت ټولو ته باید احترام وشي او د تبعیض پرته تنوع باید شتون ولري (Grunig, 2008).

## ۷ - د بحراني اړیکو تیوري (Crisis Communication Theory)

د بحراني اړیکو تیوري د عامه اړیکو په ډګر کې یوه مهمه تیوري ده، چې تمرکز یې د سازمانونو په کړنو او پیغام رسونې باندې را څرخي، هر کله چې هغوی له بحران یا کړکېچ سره مخ وي. د دې تیورې اساسي موخه دا ده چې په مؤثره او ستراتیژیکه توګه بحران مدیریت شي، د سازمان شهرت وساتل شي، او د خلکو باور بېرته ترلاسه شي. د طبیعي پېښو، امنیتي ستونزو او نورو بحرانونو په حالت کې دا تیوري د خلکو لپاره د دقیقو او پر وخت معلوماتو رسولو لپاره کارول کېږي. د مثال په توګه، د زلزلې یا سیلابونو پر مهال د ټولنیزو رسنیو او راډیو له لارې د معلوماتو ورکولو لپاره دا تیوري ګټوره ده. د بحراني اړیکو تیوري اساسي موخې دا دي، تر څو د بحران منفي اغېزې کمې کړي، د خلکو باور او د اداره شهرت بېرته ورغول شي، د غوره اړیکو په اساس د بحران حل ته لاره هواره شي او په راتلوونکي کې د بحران د تکرار مخنیوی شوی وي او تدابیري پلان ورته جوړ وي.

د عامه اړیکو مسؤولین د دې تر څنګ چې د ادارې رهبري ته د مشاور په حیث وواییي، چې څه وکړي او څه ونه کړي؛ بلکې د دوی غټ مسؤولیت دا هم دی، چې خلکو ته هم وواییي، چې اداره اوس څه کوي، ځکه دا کولای شي، چې ښې او قناعت بخښونکي اړیکې جوړې کړي او د ادارې غوره شهرت وساتي. ځکه خو د عامه اړیکو عالمان او مسلکیان د ادارو د شهرت مدیریت ته آرزښت ورکوي. قوي شهرت د مشتریانو وفاداري، اقتصادي بریا او مثبت چلند د ادارې سره زیاتوي (Lyon & Cameron, 2004).

د یوې ادارې شهرت هغه وخت د خطر سره مخ وي، کله چې اداره د کړکېچ یا بحراني حالت سره مخ وي. ځکه په کوم حالت او ډول کې چې اداره د عامو خلکو اندیښنو ته ځوابونه وایي؛ دا کیدای شي چې په همغه ډول د عامو خکلو ذهنیتونه جوړ کړي کوم چې کالونه وخت نیسي. په همدې اساس ادارې باید هر هغه څه وکړي، کوم چې د ادارې د شهرت سره تړاو لري. دوی باید د ادارې د راتلونکي شهرت د مدیریت لپاره هم پلان ترتیب کړي.

د بحران ارتباطاتو باندې څېړنې په اصل کې په شهرت باندې تحقیقات دي، کوم چې د یو شرکت، کمپنې او یا ادارې غیر حسي سرمایه ده(Doorley & Garcia, 2006) . زیاتو څېړونکو د هغو ادارو لپاره، چې د بحران سره

مخ کېږي ځیني ستراتیژۍ وړاندیز کړي دي. اکثریت دا ستراتیژۍ د هغو ادارو څخه په پند جوړې شوي دي، چې بحران ځپلي وي او د بحران وروسته یې ټول حالات تحلیل شوي وي (Allen & Caillouet, 1994).

په دې وروستیو وختونو کې د کومز (2004) Coombs په نوم عالم او نورو څېړونکو ( Jin & Cameron, 2007; Lyon & Cameron, 2004) نوي نظریاتي تګلاره رامنځته کړي ده، تر څو ادارو ته داسې ستراتیژۍ وړاندې کړي، چې د بحراني اړیکو پر وخت یې استعمال کړي او خپل بحران پرې کنترول کړي. د کومز تیوري دا وړاندیز کوي، چې ښکاره ″په بحراني حالاتو کې د ځواب ویلو ستراتیژي د ادارې په شهرت باندې تاثیر لري.″

کومز په خپله تیوري کې چې د بحراني حالاتو د اړیکو تیوري(SCCT) ده، هغه درې لاملونه واضح کړل، چې د ادارې شهرت ته جدي خطر دی دا لاملونه عبارت دی له: د بحران مسؤولیت، د بحران تاریخچه او د پخوانۍ اړیکې شهرت. همدارنګه کومز په خپله څېړنه کې د بحراني حالاتو ویشنه هم وکړه.

**قرباني پېښې (Victim Cluster)**: سازمان په پیښه کې قرباني ګڼل کېږي (لکه طبیعي آفتونه، افواهات).

**غیر قصدي پېښې (Accidental Cluster)**: پېښه غیر عمدي ده، خو د سازمان مسؤلیت هم شته (لکه د محصول تېروتنه).

**عمدي پېښې (Preventable Cluster)**: د بحران لامل د سازمان تېروتنه یا غفلت وي (لکه سرغړونې). (Coombs, 2007)

کومز په خپله څېړنه کې یو اته اړخیز ماډل وړاندې کړ، چې د حالاتو د بحراني اړیکو تیوري(SCCT) ټول لاملونه تشریح کوي. په دې ماډل کې په بحران کې د ځواب ورکولو درې ستراتیژۍ جوړې شوي دي. نوموړي عالم دا ستراتیژۍ په دریو کټګوریو ویشلي دي:

د انکار ستراتیژي: په دې ستراتیژۍ کې اداره انکار کوي، چې بحران زمونږ د لاسه نه ده رامینځته شوی.

د کم ښودلو ستراتیژي(Minimization): په دې ستراتیژۍ کې اداره هڅه کوي، چې بحران د شدت کم وښایي.

د اصلاح ستراتیژي(Corrective Action): په دې ستراتیژۍ کې اداره د ستونزې د حل لپاره عملي ګامونه اخیست او د اصلاح وعده کوي او وایي، چې داسې ستونزه به بیا نه پېښېږي (Coombs, 2007).

سربېره پر دې یوه بله ستراتیژي هم شته چې د بحران پر مهال د عامه اړیکو کارونکي ورڅخه په پراخه کچه کار اخلي او د ستراتیژیکو اړیکو ساتلو کې اغېزمنه ثابته شوي ده. دا ستراتیژي د بښنې غوښتلو ستراتیژي (Apology) ده. په دې ستراتیژۍ کې اداره مسؤلیت مني او بخښنه غواړي.

په عامه اړیکو کې د بحران مدیریت لپاره د اړیکو ځینې ستراتیژي دي، چې باید په پام کې ونیول شي. لومړۍ روڼتیا (Transparency) ده؛ د خلکو سره باید شفاف او صادقانه چلند وشي او د بحران په اړه دقیق معلومات ورکړل شي. دویم چټک ځواب ورکول (Timely Response) دي؛ د بحران پر مهال د ځواب ځنډول د ستونزې شدت زیاتولی شي. درېیم د پیغام رسونې مناسب چینلونه دي؛ د خلکو د لاسرسي او باور لپاره د مناسبو رسنیو کارول هم اړین دي. څلورم د عامو خلکو سره همدردي؛ د خلکو اندېښنو ته د درناوي څرګندونه او د هغوی احساساتو ته ځواب ویل. او وروستۍ یې هم د راتلونکو اقداماتو څرګندونه ده؛ د بحران د تکرار مخنیوي لپاره د عملي ګامونو ژمنه کول.

## د څېړنې موندنې او پایله

پورته شواهدو په ډاګه کړه، چې د عامه اړیکو ستراتیژیک مدیریت یوه علمي او عملي پروسه ده؛ چې د سازمانونو، ادارو یا شرکتونو اړیکې د خپلو داخلي او خارجي مخاطبینو سره په موثره توګه تنظیموي. دا پروسه د عامه افکارو، اړتیاوو، او تمایلاتو په پوهېدو سره د سازمان اهدافو ته د رسیدو لپاره د اړیکو پلانونه او کړنلارې جوړوي. همدې موخو ته د رسیدو لپاره د عامه اړیکو او ځینو نورو علومو عالمانو په شریکه هغه تیورۍ وړاندې کړې، چې د ادارو شهرت، باور او اړیکې د مخاطبینو سره په دوامداره او منظمه توګه تقویه کوي. یادې تیورۍ د عامه اړیکو برخه کې د ستراتیژیک مدیریت په هغو ننګونو تمرکز کوي، چې د ادارې پر وړاندې راولاړېږي او د اغېزمنو او ستراتیژیکو حل لارو په وسیله یې حل کوي.

د څېړنې موندنې داسې ښیي، چې د عامو اړیکو ستراتیژیک مدیریت لپاره نظر هر مسلک او ډیسپلین ته په کتو تیورۍ شتون لري. خو د عامه اړیکو د ستراتیژیک مدیریت لپاره تر ټولو مهمه تیوري د اړیکو د مدیریت تیوري ده. یاده تیوري بیانوي، چې څنګه سازمانونه او ادارې له خپلو مختلفو شریکانو، مشتریانو، کارکوونکو، رسنیو، او ټولنې سره اړیکې رامنځته کوي او ساتي یې. دا تیوري وړاندیز کوي چې د کامیابه عامه اړیکو موخه یوازې پیغام رسونه نه ده؛ بلکې د با ارزښته او اوږدمهاله اړیکو جوړول دي. سربېره پر دې د سیستم تیوري هم د ستراتیژیکو اړیکو لپاره اړینه ده ځکه دا تیوري په دې تمرکز کوي، چې څنګه ادارات د خپل داخلي او خارجي محیط سره ارتباطات قایموي.

د عامه اړیکو په ستراتیژیک مدیرت کې دا مهمه ده، چې د امکان تر حده هغه معلومات تر کنترول لاندې ولري، کوم چې د ادارې په اړه نشرېږي. څېړنې وښوده، چې د دروازې ساتنې تیوري دې برخه کې استعمالېږي. دا تیوري د عامه اړیکو د پیغامونو فلټر کولو او کنټرولولو څرنګوالي تشریح کوي. په دې کې تمرکز پر دې دی چې څنګه رسنۍ او د عامه اړیکو مسوولین پرېکړه کوي چې کوم معلومات خپاره شي او کوم خپاره نشي.

برعکس ځینې وخت اداري غواړي چې په قصدي ډول د خلکو پام له یوې موضوع څخه بلې موضوع ته واړوي. د مطالعې پایلو څرګنده کړه، چې دې برخه کې د اجنډا ټاکلو تیوري استعمالیږي. دا تیوري په دې بحث کوي، چې د رسنیو له لارې د نشریدونکو پیغامونو او معلوماتو لپاره مخکې له مخکې اجنډا ترتیبیږي او د همغه اجنډا له مخې نشرات کوي. تر ډېره دا تیوري په دې بحث کوي، چې څنګه په قصدي ډول د رسنیو له لارې د عامه خلکو توجه د یوې موضوع په نسبت بلې موضوع ته اړول کیږي او مهمه معرفي کیږي.

دا چې ځینې وخت اداري د بحران سره مخ کیږي او له امله یې د دوی اړیکې د ښکېلو خواوو سره خرابیږي او دا برخه د عامه اړیکو د ستراتیژیک مدیریت یو له اساسي دندو څخه ده. بناً دې برخه کې د بحراني اړیکو تیوري خورا اړینه ده. دا تیوري چې تمرکز یې د سازمانونو په کړنو او پیغام رسونې باندې دی کله چې هغوی له بحران یا کړکېچ سره مخ وي. د دې تیوري اساسي موخه دا ده چې په مؤثره او ستراتیژیکه توګه د بحران مدیریت وشي، د سازمان شهرت وساتل شي، او د خلکو باور بېرته ترلاسه شي. د طبیعي پېښو، امنیتي ستونزو او نورو بحرانونو په حالت کې دا تیوري د خلکو لپاره د دقیقو او پر وخت معلوماتو رسولو لپاره کارول کیږي. په څېړنه کې دا هم واضحه شوه، چې یوازې د دقیقو معلوماتو نشرول اړین نه دي؛ بلکې یادو معلوماتو ته د عامو خلکو او ښکیلو خواو غبرګون څه دی، چې دې برخه کې د عامو خلکو د وضعیت تیوري ډېره کاریدونکې ده، کومه چې د سازمانونو او عامو خلکو تر منځ د اړیکو او متقابل تعامل څرنګوالی تشریح کوي او تمرکز یې پر دې دی، چې څنګه خلک په بېلابېلو حالاتو کې د سازمان پیغامونو ته غبرګون ښيي او د هغوی فعالیتونه څه ډول بدلیږي.

بل خوا ورځ تر بلې ټکنالوژي پرمختګ کوي او د عامه اړیکو ستراتیژۍ هم د بدلون په حال کې دي. د ډیجیټل رسنیو پر مټ اوس اړیکو دوه طرفه شوي دي. د دې لپاره چې ادارات خپلې اړیکې په موثره توګه په دوه اړخیز چوکات کې په ستراتیژیکه توګه جوړې او وساتي؛ شواهدو وښوده، چې د ستراتیژیکو عامه اړیکو مدیریت په دې برخه کې د غوره والي تیوري زیاته موثره ده. دا تیوري په عامه اړیکو کې د کار یو چوکاټ دی، چې د سازمانونو او د دوی شریکانو ترمنځ د دوه اړخیزو ګټورو اړیکو په جوړولو کې د اغېزمنو اړیکو، اخلاقي کړنو، او ستراتیژیک مدیریت په اهمیت ټینګار کوي. دا وړاندیز کوي، چې سازمانونه هغه وخت خپل اهداف ترلاسه کوي او خپل شهرت ته وده ورکوي کله چې دوی په خلاص، دوه اړخیزه اړیکو کې ښکیل وي او د ښکېلو خواوو اړتیاو ته لومړیتوب ورکوي، په همدې توګه خپل باور او اعتبار ته هم وده ورکوي.

که په خلص ډول ووایو، چې د عامو اړیکو ستراتیژیک مدیریت کې کاریدونکې تیورۍ د ټولو دولتي او غیر دولتي ادارو، شرکتونو، کمپنیو، مؤسسو سره مرسته کوي، چې شهرت یې لوړ کړي، خپلې اوږد مهالې موخې

ترلاسه کړي، خپل اعتبار او د خلکو باور وساتي، په اغېزمنه توګه د بحرانونو مخنیوی وکړي او بالاخره دوه اړخیزې، باثباته، دوامداره او ګټورې اړیکې جوړې او وساتي.

**وړاندیزونه**

۱ - ادارې باید د اړیکو لپاره واضح او اوږدمهاله ستراتیژي ولري چې د ادارې موخو او ارزښتونو سره سمون ولري.

۲ - دا چې مخاطبین د ستراتیژیک مدیریت بنسټیز عنصر دی؛ نو باید د هغوی د تمایلاتو، چلندونو او اړتیاوو په اړه ژور تحلیل ترسره شي او تحلیل پایلو ته په کتو د اړیکو لپاره داسې ستراتیژۍ جوړې شي، چې اړیکې دوه اړخیزې، ګټورې او با ثباته مدیریت شي. دې برخه کې د غوره والي تیوري ښه رول لري چې باید په پام کې ورته ونیول شي.

۳ - مخکې لدې چې د ادارو د اړیکو نیولو باندې فکر وشي اړینه ده، چې د مخاطبینو طبقه‌بندي وشي تر څو د دوی سره د اړیکو لپاره مناسبې تګلارې غوره شي. په دې برخه کې د عامو خلکو د وضعیت تیوري د پالیسیو او ستراتیژیو جوړونکو سره مرسته کولای شي.

۴ - نوي ټیکنالوژۍ د عامه اړیکو د مدیریت اغېزمنتیا ډېروي. د ډیجیټل وسایلو او ټولنیزو رسنیو په مرسته ادارې کولی شي له خپلو مخاطبینو سره په چټک او اغېزمن ډول دوه اړخیزه اړیکه ونیسي. د غوره والي تیوري وړاندیز کوي، چې ادارې باید د خپلو ستراتیژیکو اړیکو په مدیریت کې نوي ټیکنالوژۍ له پام و نه غورځوي.

۵ - شفافیت د اعتماد او باور جوړولو لپاره اړین دی. ادارې باید د مخاطبینو سره د خپلو موخو، فعالیتونو او ننګونو په اړه صادقانه اړیکې وساتي. ادارو ته په کار ده، چې دې برخه کې د غوره والي یا د ښو اړیکو تیوري وکاروي.

۶ - ادارې باید د احتمالي بحرانونو لپاره مخکې له مخکې چمتو وي او د دوی د حل لپاره روښانه ستراتیژي ولري. دا کار هغه وخت غوره پایله لري، چې مسؤولین د اړیکو په مدیریت کې د بحراني اړیکو تیوري وکاروي.

۷ - د اړیکو د ستراتیژیو په جوړولو کې د کلتوري حساسیتونو او سیمه‌ییزو آرزښتونو په پام کې نیول مهم دي. د عامه اړیکو په ستراتیژیک مدیریت کې د هرې ټولنې ځانګړي ارزښتونه باید و پیژندل شي او د اړیکو پلانونه او ستراتیژۍ ورسره همغږې شي. دې برخه کې ادارو ته په کار ده، چې د عامو خلکو د وضعیت تیورۍ څخه استفاده وکړي.

۸ - د عامه اړیکو ستراتیژیک مدیریت یوازې د پیغامونو د لیږد وسیله نه ده، بلکې یوه علمي پروسه ده چې د ادارې اهدافو ته د رسیدو لپاره د اغېزمنو اړیکو پل جوړوي. ادارې باید دې برخه کې شته تیورۍ عملي کړي، تر څو ادارې په سیالۍ کې مخکښې کړي او د خلکو اعتماد او باور لا زیات کړي.

**مأخذونه**


Allen, M. W., & Caillouet, R. H. (1994). Legitimation endeavors: Impression management strategies used by an organization. Communication Monographs, 61, 44–62.

Bass, A. Z. (1969). Refining the "gatekeeper" concept: A UN radio case study. Journalism Quarterly, 46, 69–72.

Coombs, W. T. (2004). Impact of past crises on current crisis communication: Insights from Situational Crisis Communication Theory. Journal of Business Communications, 41, 265–289.

Coombs, W. T. (2007). Protecting organization reputations during a crisis: The development and application of situational crisis communication theory. Corporate Reputation Review, 10, 163–176.

Cutlip, S.M., A.H. Center and G.M. Broom (2000). Effective Public Relations, 8th edition. Upper Saddle River, NJ: Prentice Hall.

Doorley, J., & Garcia, H. (2006). Reputation management: The key to successful public relations and corporate communication. New York: Routledge.

Gregory, A. (2015). Systems theories and public relations. Journal of Communication Management.

Grunig, J. E. (2008). Excellence Theory in Public Relations. In W. Donsbach (Ed.), The International Encyclopedia of Communication (1st ed.). Wiley. https://doi.org/10.1002/9781405186407.wbiece047

Grunig, J. E., & Hunt, T. (1984). Managing Public Relations. New York: Holt, Rinehart and Winston. Grunig, L. (1992a). Power in the public relations department. In J. E. Grunig (Ed.),

Grunig, J.E. (1983). 'Communications behaviors and attitudes of environmental publics: two studies'. Journalism Monographs 81.

Grunig, J.E. and F.C. Repper (1992). 'Strategic management, publics and issues' in Excellence in Public Relations and Communication

Management. J.E. Grunig. Hillsdale, NJ: Lawrence Erlbaum Associates.

Grunig, J.E. and Hunt, T. (1984), Managing Public Relations, Holt, Rinehart and Winston, New York, NY.

Grunig, L.A., Grunig, J.E., & Dozier, D.M. (2002). Excellent public relations and effective organizations: A study of communication management in three countries. Mahwah, NJ: Lawrence Erlbaum Associates.

Hallahan, K. (2000). 'Inactive publics: The forgotten publics in public relations'. Public Relations Review 26(4): 499–515.

J. A. Ledingham and S. D. Bruning (Eds.), Public relations as relationship management: A relational approach to the study and practice of public relations (pp. 23-54). Mahwah, NJ: Lawrence Erlbaum Associates.

Jin, Y., & Cameron, G. (2007). The effects of threat type and duration on public relations practitioner's cognitive, affective, and conative responses in crisis situations. Journal of Public Relations Research, 19, 255–281.

Lewin, K. (1947). Frontiers in group dynamics, II: Channels of group life; social planning and action research. Human Relations, 1, 143–153.

Lewin, K. (1951). Field theory in social science: Selected theoretical papers. New York: Harper.

Lippmann, W. (1922). Public opinion. New York: Macmillan.

Lyon, L., & Cameron, G. (2004). A relational approach examining the interplay of prior reputation and immediate response to a crisis. Journal of Public Relations Research, 16, 213–241.

McCombs, M., & Lee, J. K. (2013). Continuing evolution of agenda-setting theory. In E. Scharrer (Ed.), Media effects/media psychology. Cambridge, MA: Blackwell.

Tushman, M.L., & Katz, R. (1980). External communication and project performance: An investigation into the role of gatekeepers. Management Science, 26(11), pp. 1071-1085.

# د انګلیسي ژبې د ژباړې اغېزې پر نورو ژبو

پوهنیار شمس الرحمان ځدراڼ، شیخ زاید پوهنتون، ژبو ادبیاتو پوهنځی، انګلیسي څانګه.
برېښنالیک: shams.zadran2017@gmail.com

**لنډیز**

د انګلیسي ژبې د ژباړې اغېزې په نورو ژبو کې د اوږدې مودې لپاره د یوې بې اغېزې تدریسي وسیلې په توګه کتل شوې دي، ځکه چې دا د پخوانیو تدریسي طریقو سره نامناسب تړاو لري، په ځانګړې توګه د ګرامر ژباړې طریقې (GTM) او د هغې کړنې. د دې مېتودونو په وروستیو ورځو کې د ژباړې ډېر کارول او ناوړه ګټه اخیستنې یو ژبنی انګیرنې ته لاره هواره کړه چې انګلیسي باید په ټولګي کې د ژباړې فعالیتونو له شاملولو پرته تدریس شي. خو په وروستیو څو لسیزو کې، د EFL (انګلیسي د خارجي ژبې په توګه) په چوکاټ کې د ژباړې د استعمال بیا ارزونه او تحقیق روان دی. دا مقاله د دې تحقیقاتو پایلو ته په کتو سره د تدریسي وسیلې په توګه د ژباړې د کارولو او د هغې په زده کړو کې د مرستې اړوند د ښوونکو نظریات سپړي. د دې څېړنې هدف دا دی چې انګلیسي ژبې تدریس په EFL (انګلیسي د خارجي ژبې په توګه) چوکاټ کې د ژباړې کارول او ګټې وڅېړي. په دې مقاله کې د ژباړې د اهمیت او د هغې د عملي استعمال ترمنځ لوی توپیر ته په پام سره، دغه مقاله هڅه کوي چې د دې تدریسي وسیلې د اعتبار تائید وکړي او ځینې لارښوونې وړاندیز کړي چې څنګه او کله باید د ژباړې فعالیتونه د انګلیسي د یوې خارجي ژبې په توګه په تدریس کې شامل شي. ژباړې د ښوونکو څخه پراخه معلومات ترلاسه کړې، چې دا تدریسي وسیله د خارجي ژبې په زده کړه کې د پام وړ رول لوبوي او د ژبنیو مهارتونو په ښه کولو کې مرسته کوي. پایلې د ژباړې مؤثریت تائیدوي په دې کې چې نوې لغاتونه تشریحوي، د زده کوونکو ذهني مهارتونو ته وده ورکوي، د هغوی شالید پوهه پراخوي او د ژبنیو وړتیاوو د پرمختګ په برخه کې مرسته کوي.

**کلیدي کلمې :** اغېزې، تدریسي ژباړه، د ښوونکو نظریات، نورې ژبې او د ژباړې پېژندنه

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

د ژباړې عملي استعمال تل موجود او د ژبو د پیدایښت نه وړاندې پیل شوی دا هغه وخت ؤ چې دا یوازینی طریقه وه چې د اړیکو د اسانتیا لپاره کارول کېده. ژباړه که د مسلکي فعالیت په توګه وي یا د ژبې د تدریس او زده کړې په برخه کې، تل د بحثونو او شخړو موضوع وه. هغه اعتراضات چې د ژباړې د استعمال پر ضد د خارجي ژبو په ټولګیو کې راپورته شوي دي د ګرامر-ژباړې طریقې (GTM) سره تړاو لري، چې تر شلمې پېړۍ پورې د ژبې د تدریس حاکمه میتودولوژي وه. وروسته د ژباړې او د بهرنیو ژبو د تدریس په برخه کې څېړنې ترسره شوي تر څو د بهرنیو ژبو په زده کړه کې د هغې رول تشریح کړي. خو، سره له دې چې د څېړونکو په منځ کې د ژباړې د ګټې د بیا ارزونې په اړه زیاتېدونکی لیوالتیا شته، بیا هم د دې تدریسي وسیلې د استعمال په اړه لږ لیکنې موجودې دي، په ځانګړې توګه په دې اړه چې څنګه او کله باید په معمولي خارجي ژبې کورسونو کې دا وسیله وکارول شي. د دې موضوع اړوند ټولې پوښتنې په دې مقاله کې حل شوي دي. د دې څېړنې هدف دا دی چې د EFL (انګلیسي د خارجي ژبې په توګه) په چوکاټ کې د ژباړې د کارولو لپاره او د هغې پر ضد استدلالونه وڅېړي او ځینې ګټورې لارښوونې وړاندیز کړي چې ښوونکي یې باید د خپلو زده کړو پایلو ترلاسه کولو لپاره په پام کې ونیسي.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې اصلي موخې دا دي

- ✓ د انګلیسي ژبې ژباړې اغېزې پر نورو ژبو
- ✓ د انګلیسي ژبې ژباړې تاثیر د ژبې پالیسۍ او پلان جوړونې په نوښتونو باندې
- ✓ د انګلیسي ژبې ژباړې تاثیر پر ټولنیز، فرهنګي او ښوونیز چاپېریال باندې
- ✓ د انګلیسي ژبې د ژباړو له لارې د ژبې او د هغه د اغېزو په ټولنیزه او اقتصادي فضا باندې څېړل

## د څېړنې اهمیت

په دې مقاله کې زه په دې موضوع د انګلیسي ژبې ژباړې اغېزې پر نورو ژبو باندې بحث کوم. دا موضوع به د دې مقالې د لوستونکو سره مرسته وکړي تر څو د موضوع اړوند د ستونزې بیان، ژبنۍ اغېزې، کلتوري اغېزې، ټولنیزې اغېزې او د مطالعې په اهمیت باندې په اسانۍ سره پوه شي او په نوموړي موضوع کې به بشپړ معلومات ولري.

### کړنلاره او کار توکي

د دې څېړنې بنه کتابتوني ده، دا څېړنه چې د انګلیسي ژبې د ژباړې پر نورو ژبو د اغېزو تر سرلیک لاندې د معلوماتو پر بنسټ ده. د دې څېړنې لپاره معلومات د معتبره ژورنالونو، مقالو، څېړنیزو مقللو او ویبپاڼو څخه راټول شوي یا جمع شوي دي. لکه څنګه چې د دې موضوع په اړه ګڼ شمېر کتابونه او نظریات شته، نو مهم نظریات د پورته یادو شویو سرچینو څخه راټول شوي او وروسته یې تصفیه شوې ده تر څو د دې موضوع په اړه تر ټولو زیات معلومات او لنډه معلومات ترلاسه کړي. د دې ترڅنګ د انلاین مقالو څخه پکې ګټه اخیستل شوي ده. چې د دې مقالو څخه د انګلیسي ژبې څخه په پښتو ژبه کې هم ګټه واخیستل شوه. د دغو مقالو د لیکوالانو دې تجربو څخه هم پکې ګټه اخیستل شوې ده. د همدغو مقالو څخه ژباړل شوی متن د موضوع په تشریحولو کې ډېر ګټور وو.

### د ستونزې بیان

په ټوله نړۍ کې چې انګلیسي د مختلفو برخو لکه سوداګرۍ، ټیکنالوژۍ او اکاډمیکې چارو کې د یوې نړیوالې ژبې په توګه حاکم مقام لري، د انګلیسي ژباړې اغېزې په نورو ژبو کې د پراخې اندېښنې یوه مهمه ساحه ګرځېدلې ده. دا څېړنه هڅه کوي ترڅو د انګلیسي ژباړو د ژبني، کلتوري او ټولنیزو اړخونو څو اړخیزې اغېزې وڅېړي (ګارسیا، ۲۰۰۹).

### ژبنۍ اغېزې

د اوډلین (۲۰۰۳) په وینا، د انګلیسي ژباړو پراختیا کولی شي د غیر انګلیسي ژبو په ژبني چاپېریال کې په څو طریقو سره ااغېزه وکړي:

- **لغوي پور** او انطباق: انګلیسي ژباړې اکثره نوي لغاتونه او عبارات غیر انګلیسي ژبو ته معرفي کوي، چې په دې توګه د لغوي پور او انطباق لامل کېږي. دغه پدیده کولی شي د لغتنامې په بډایه کولو کې مرسته وکړي، خو همدارنګه ژبني جوړښتونه او د ژبې د استعمال نمونې هم بدلې کړي (ګارسیا، ۲۰۰۹).
- **معیاریتوب:** د انګلیسي اصطلاحاتو او جملو پراخه منل د ژباړو له لارې کولی شي د ژبې د استعمال په معیاري کولو او کې مرسته وکړي (ګارسیا، ۲۰۰۹).
- **ژبنی بدلون او له خطر سره مخ کېدل:** په انګلیسي ژباړو باندې زیات اعتماد کولی شي د ژبني بدلون د حرکاتو لامل شي، چې په دې سره ویناوال ورو ورو خپلې مورنۍ ژبې پرېښودو ته راځي او د انګلیسي

بڼه غوره کوي. دغه بدلون کولی شي د بومي (طبیعي) ژبو ژوندي والی او دوام ته ګواښ پېښ کړي، چې د ژبني خطر سره مخ کیدو وضعیتونه رامنځته کړي (ګارسیا، ۲۰۰۹).

### کلتوري اغېزې

د مالکم ژیر (۱۹۹۸) په وینا، د ژبې د پراختیا څخه پرته، د انګلیسي ژباړې کلتوري اغېزې د غیر انګلیسي ژبو لرونکو ټولنو په کلتور باندې ژور تاثیرات لري:

- **کلتوري تصرف او استازیتوب:** د انګلیسي متنونو ژباړې کولی شي کلتوري ادراک او استازیتوبونه اغېزمن کړي، چې څنګه غیر انګلیسي کلتورونه په نړیواله کچه انځور شوي دي. دا کولی شي د هویت جوړولو او په محلي ټولنو کې د کلتوري ادراک په اړه تاثیر وکړي.
- **نړیواله کلتوري واکمني:** په ژباړو کې د انګلیسي د غالبیت پراختیا د نړیوال کلتوري واکمنۍ ملاتړ کوي، چې د انګلیسي ژبې کلتورونه د نړیوالو کلتوري اصولو او ارزښتونو باندې ااغېزه لري. دا ممکن د محلي کلتوري څرګندونو او کړنو ته سیوری واچوي یا یې له پامه وغورځوي.

### ټولنیزې اغېزې

د انګلیسي ژباړو ټولنیزې اغېزې د ټولنې پراخو فرصتونو ته هم غځیږي:

- **تعلیمي او مسلکي فرصتونه:** د انګلیسي ژبې مهارت، چې د ژباړې له لارې ترلاسه کیږي، کولی شي په نړیواله کچه د تعلیمي او مسلکي فرصتونو ته لاسرسی ښه کړي. خو، دا ممکن د نابرابریو سبب شي او هغه کسان په ګټه کې شي چې په انګلیسي کې ماهر دي او نور په زیان کې راځي (فیلیپسن، ۱۹۹۲).
- **ټولنیزه یووالي او ادغام:** د انګلیسي ژباړې کولی شي د ژبني حدودو ترمنځ د اړیکو او تعاملاتو لپاره د پُل په توګه کار وکړي، چې د مختلفو کلتوري چاپیریالونو کې د ټولنیز ادغام او یووالي هڅونه کوي (فیلیپسن، ۱۹۹۲).
- **د رسنیو ااغېزه او د معلوماتو لاسرسی:** د رسنیو او د معلوماتو په خپرولو کې د انګلیسي ژباړو شتون کولی شي په عامه خبرو اترو ااغېزه وکړي او د ټولنې تصورات په مختلفو مسلو باندې جوړ کړي، چې د مدني مشارکت او دیموکراتیکو پروسو باندې تاثیر کوي (فیلیپسن ۱۹۹۲).

د مالکم ژیر (۱۹۹۸) په وینا، د انګلیسي ژباړې اغېزې په نورو ژبو باندې پیچلې او څو اړخیزه دي، چې ژبني انطباق، کلتوري ،او ټولنیز بدلونونه رانغاړي. ددغه مطالعې هدف دا دی چې د دې اغیزو ژور تحلیل وکړي ترڅو زموږ پوهه د نړیوالو ژبنیو تعاملاتو په اړه پراخه کړي او د ژبې د پالیسیو، کلتوري تنوع او د ګډ پرمختګ په اړه خبرې اترو ته وده ورکړي.

**د مطالعې اهمیت**

د شیاب او عبدالطیف (۲۰۰۱) په وینا، د انګلیسي ژباړې اغیزو د نورو ژبو په اړه مطالعه د څو مهمو دلیلونو له مخې د پام وړ اهمیت لري:

**۱. د ژبني تنوع ساتنه:** په دې ځان پوه کول اړین دي چې انګلیسي ژباړې څه ډول په غیر انګلیسي ژبو ااغېزه کوي، دا د ژبني تنوع په اړه د ګواښونو د ارزونې لپاره ډېره اړینه ده. دا پوهه کولی شي د ژبني ساتنې هڅو او پالیسو ته لارښوونه وکړي چې هدف یې د نړیوال ژبني همګونۍ په منځ کې د طبیعي ژبو ساتنه ده.

**۲. کلتوري اصالت او استازیتوب:** انګلیسي ژباړې دا ااغېزه لري چې کلتورونه څنګه په نړیواله کچه درک او استازیتوب کوي. د دې اغیزو څېړنه دا مرسته کوي چې کلتوري اصالت خوندي شي او د غیر انګلیسي ژبو لرونکو ټولنو سم انځورونه په نړیواله کچه وړاندې شي.

**۳. د ژبې پالیسي او پلان جوړونه:** د انګلیسي ژباړې ااغېزه د ژبې د پلان جوړونې او پالیسي جوړونې په پرېکړو کې مرسته کوي. دې کې د ستراتیژیو جوړول هم شامل دي چې د انګلیسي په څېر نړیوالو ژبو سره د ځایي ژبو د ساتنې او پرمختګ توازن رامنځته کړي.

**۵. تعلیمي کړنې:** په دې ځان پوهه کول چې انګلیسي ژباړې څرنګه د ژبې په زده کړه او تدریس باندې ااغېزه کوي، دا کولی شي د تعلیمي میتودولوژیو په ښه کولو کې مرسته وکړي. دا به د ژبې د زده کړې د موادو او ستراتیژیو په پراختیا کې مرسته وکړي چې د مختلفو ژبني او کلتوري شالیدونو سره سمون ولري.

**٦. ټولنیز او اقتصادي برابري:** دغه څېړنې کولی شي دا وښایي چې د انګلیسي ژبې ته د ژباړو له لارې لاسرسی څنګه د ټولنیز مخکې تګ او اقتصادي فرصتونو باندې تاثیر ولري. دا د برابري مسایل مطرح کوي او د دې څېړنه کوي چې څنګه د ژبې مهارتونه د تعلیم، استخدام، او نړیوالو بازارونو کې ګډون ته لاسرسی اغیزمن کوي.

**فرضیه**

د انګلیسي ژباړو زیات تماس د غیر انګلیسي ژبو ټولنو د ژبني، فرهنګي، او اقتصادي سیمو باندې د پام وړ بدلونونه رامنځته کوي.

- **مستقل متغیر** :د انګلیسي ژباړو سره زیات تماس.
- **متاثر متغیرونه** :ژبني جوړښتونه، فرهنګي ادراکات، ټولنیز او اقتصادي پایلې.

- **اړیکه** :دغه فرضیه وړاندیز کوي چې د انګلیسي ژباړو سره زیات تماس د ژبني تطابق، فرهنګي انځورونو، او اقتصادي نابرابریو باندې اغېز لري.

## د انګلیسي ژباړې اغېزې پر نورو ژبو

د انګلیسي ژباړې پر نورو ژبو اغېزې بېلابېل اړخونه لري چې مثبت او منفي پایلې لري. ځینې پوهان د ژباړې د کارونې پر وړاندې نیوکې لري، په ځانګړې توګه په هغه کې چې د ګرامر-ژباړې د میتود (GTM) په ترڅ کې کارول کېږي.

## ګرامر- ژباړې میتود (GTM) او نیوکې

د ګرامر- ژباړې میتود (GTM) په اروپا او چین کې د شلمې پېړۍ تر پایه پورې ډېر کارول کیده. دغه میتود د ګرامر قواعدو او لغتونو حفظ کولو ته ډېره پاملرنه ورکوله، چې اکثراً د ژباړې له لارې د زده کوونکو خپلې مورنۍ ژبې ته کېږي. اصلي نیوکه دا وه چې دغه میتود یوازې په شکل او قواعدو تمرکز کاوه، چې د اړیکو مهارتونو ته کم اهمیت ورکول کېده (ګارسیا، ۲۰۰۹).

## په عصري نظریاتو کې ژباړه

په وروستیو کلونو کې، ژباړه بیا ارزول شوې ده لکه څنګه چې د یو ارزښتناک تدریسي وسیلې په توګه، اوډلین (۲۰۰۳) او هالېډی (۲۰۰۷) د ژباړې په اړه د نوو لیدلورو ملاتړ کوي چې پکې د ژبني مهارتونو او اړیکو د مهارتونو پراختیا لپاره ضروري ګڼل کېږي. ژباړه یوه پلیټ فارم دی چې زده کوونکي کولی شي د خپلې مورنۍ او هدف ژبې ترمنځ پرتله جوړه کړي.

## ژبني تطابق، مشابهتونه او توپیرونه

د انګلیسي ژباړې یوه څرګنده اغېزه د ژبنۍ انتقال په نوم پېژندل کېږي. اوډلین (۲۰۰۳) دغه پېښه داسې بیانوي چې د زده کوونکي مورنۍ ژبې د ځانګړتیاوې او د هدف ژبې ترمنځ د مشابهتونو او توپیرونو له لارې پوهه ترسره کېږي. دا د انګلیسي ژباړې په برخه کې د ژبني جوړښتونو کې د بدلون لامل کېدای شي.

## ټولنیزې او فرهنګي اغېزې

د انګلیسي ژباړې د فرهنګي پېژندګلوۍ او د فرهنګي خنډونو پر وړاندې لویه اغېزه لري. د انګلیسي ژباړه کولی شي د کلتوري تداخل سبب شي چې نړۍ ته د یوې ټولنې کلتور ناسم یا بې ډوله انځور وړاندې کوي.

## د ښوونې اغېزې

په ښوونه کې د انګلیسي ژباړه د ژبې د زده کړې لپاره یو مهمه وسیله ګرځېدلې ده. په دوه ژبنیو ښوونیزو چاپیریالونو کې ژباړه کولی شي زده کوونکو ته د ګرامر، لغت او نحو پوهه ورزده کړي. د دې سره سره، ځینې ښوونکي ژباړه دې فصاحت د خرابېدو سبب بولي.

**ټولنیز او اقتصادي اغېزې**

د انګلیسي ژباړې له لارې د دې ژبې ته زیات لاسرسی د تعلیمي او مسلکي فرصتونو د پراختیا سبب کېږي. دې ته په پام سره، د انګلیسي ژباړې زیاتې کارونې کولی شي د ټولنیزو او اقتصادي بې‌عدالتیو د زیاتوالي لامل شي، په ځانګړي توګه هغه کسان چې انګلیسي نه زده کوي.

**ژباړه لکه هنر او مهارت**

ژباړه یو ترلې بهیر دی چې پکې د متن بیا جوړونه او بیا رامنځته کېدنه شامل دي. دا یوه غوره اړیکه ساتونکی فعالیت دی چې کولی شي په پراخه تدریسي حالتونو کې په پام کې ونیول شي، او دا زموږ د څېړنې په جریان کې هم همدې ته اشاره شوې. د ژبې د تدریس د میتودونو په پیل کې، ژباړه د انګلیسي ژبې تدریس کې یوه مهمه برخه وه او دا وضعیت ډېر وخت پاتې شو. بیا د اړیکو د میتودونو د راتګ او بشپړ واکمنۍ سره ژباړه د ژبې د تدریس ټولنې لخوا یوازې یوې اوږدې مودې لپاره له پامه وغورځول شوه. د تیرو شلو کلونو یا له دې زیات، ژباړه دوامداره توګه د ژبې د زده کړې په برخه کې د ستړیا، بې خوندۍ او نامناسبتیا په توګه ګڼل شوې وه. حتی اوس هم ژباړه ډېری وخت د یوه میخانیکي لفظي پروسې په توګه په نظر کې نیول کیږي چې یوازې د یو ژبې څخه بلې ژبې ته د معنا انتقال دی، او د یوه ګټور ژبني تدریسي وسیلې په توګه له پامه غورځول کیږي ځکه چې دا یو اړیکه ساتونکی فعالیت نه ګڼل کیږي چې د ژبې زده کوونکو اړتیاوو ته یې تطبیق کولای شي (ټیټ فورډ ۱۹۸۳).

خو په تیرو څو لسیزو کې، د ژباړې تمرین ته د ژبو په تدریس کې زیاتره علاقه ښودل شوې ده. د بیلګې په توګه، د ژبو ښوونکي بیا ژباړه د مختلفو تعلیمي هدفونو لپاره کاروي. دې ته اشاره شوې چې ژباړه د تدریسي هدفونو لپاره د نورو ژبنیو تدریسي فعالیتونو ترڅنګ کارول کیدای شي. په دې توګه، اوسنی تحقیق مشاهده کوي چې ژباړه لکه یو تدریسي میتود د زده کړې موادو د مهمو مفاهیمو د ژورې پوهې رامنځته کولو کې مرسته کوي(ټیټ فورډ ۱۹۸۳).

## د ژبې تدریس په تاریخ کې (د ۱۸۰۰ څخه تر ۲۰۰۰ پورې)

د ۱۸۰۰میلادي اولې لسیزې او د ۲۰۰۰ میلادي اولې لسیزې ترمنځ، د ژبې تدریس پروسه مختلف بدلونونه تجربه کړي. ګڼ شمېر څېړونکو هغه میتودونو او لارو چارو ته پراختیا ورکړې چې د ژبې په تدریس کې د زیاتو بریالیتوبونو لپاره کارول کېدلې. په دې دوره کې، د انګلیسي ژبې یوازې کارونې سیاست حمایه کوونکې ډلې چې د مونولینګوال (یوې ژبې) په نوم پېژندلې کېدل شتون درلود. په مقابل کې، هغه کسان چې د ژباړې کارونې لپاره په ټولګیو کې ملاتړ کاوه دوه ژبنی بلل کېدل، او هر یو یې ځینې تدریسي تخنیکونه درلودل.

**د ژباړې تعریف او د انګلیسي ژبې د تدریس لپاره د بیلګې ژبه کې کارونه**

ژباړه د خلکو په ژوند باندې ژور تاثیر لري، ځکه چې دا د اړیکو اسانتیا او د نورو کلتورونو په پوهیدو کې د پام وړ رول لري. د ژباړې مفهوم دومره پراخ دی چې په بېلابېلو لارو یې درک کولای شو. د انګلیسي کولنز

ډیکشنري په وینا، ژباړه د دې وړتیا په توګه تعریف شوې چې په نورو ژبو کې څرګندونې وکړي، هغه بدلون چې په کې د اصل لیکني متن د بلې ژبې ته بدل شوی وي ترڅو معنا ورته پاتې شي. ژباړه د اړیکو یو اساسي وسیله ګڼل کیږي، له همدې امله ډیری څیړونکو دې ته ځانګړې پاملرنه کړې ده، کوم چې د دې لپاره د پام وړ ادبیات رامنځته کړي چې د دې معنی او دنده تحلیل کوي.

کټفورډ (۱۹۶۵) وایي: "ژباړه هغه پروسه ده چې په هغې کې د سرچینې ژبې (SL) متني مواد د بلې ژبې (TL) سره معادلي موادو ته تبدیل کیږي." په دې توګه، ژباړه د ساده کولو پروسه ګڼل کیږي چې د یوې ژبې یا مختلفو ژبو منځ کې منځ ته راځي، کوم چې نه یوازې یوه پروسه ده بلکې د نوو کلتورونو، دودونو، رواجونو او حتی لرغونو ټولنو او تمدنونو دروازه هم ګڼل کیږي.

نایدا او ټابیر (۱۹۸۲) وایي چې ژباړه د دې معنا په تولید کې ده چې د سرچینې ژبې پیغام ته د هدف ژبې کې تر ټولو نږدې طبیعي معادل بیا تولید شي. ژباړه د پروسې په توګه تعریف کیږي چې هدف یې د هدف متن کې د معنا همغږي ترلاسه کول دي.
د پورته ذکر شوو تعریفونو سره سره، دا څیړنه په ځانګړي ډول د ژباړې تدریسي کارونې ته تمرکز کوي.

**د انګلیسي ژبې تدریسي ژباړه**

د یوه پیغام د سرچینې ژبې (SL) څخه هدف ژبې (TL) ته د انتقال پروسې سربیره، دا سوال چې څنګه ژباړه د دوهمې ژبې د زده کړې لپاره ګټه ورکوي، تل د بحث وړ پاتې شوی دی. شافنر (۲۰۰۲) وایي چې د ژباړې د پیچلتیا په اړه د پوهې زیاتوالی موجود دی لکه څنګه چې د دې ذهني او ټولنیز فعالیت په توګه نه شي یوازې د جوړښتي ژبپوهنې مفهومونو له مخې تشریح کېدلی شي. دا څیړنه ښیي چې زده کوونکي د ژباړې پراساس د بېلابېلو کلمو یا جملو سره مخ کیږي، خو باید ورسره وښودل شي چې څنګه د ژباړې وړتیاوې یې په اغیزمنه توګه وکاروي.

په دې برخه کې یو مهم د فکري پرمختګ د لاوالوټ (۱۹۸۵) لخوا و چې تدریسي ژباړه یې د ژبې د تدریس په برخه کې د ژباړې تعلیمي کارونې په توګه تعریف کړه. په راتلونکو دریو لسیزو کې، هورتادو ایلبر (۱۹۹۹) وایي، تدریسي ژباړه د ژباړې زده کړو په ډسپلین یا نظم کې د یوې تطبیقي څانګې په توګه معرفي کړه.

کلاودي (۲۰۰۳) وایي چې تدریسي ژباړه د ژباړې یوه داسې بڼه ده چې له هغې سره د ژبې زده کوونکي د خپلې ژبې پوهه لوړوي. دا د پوهې زیاتولو، تمرین کولو، یا ازموینې وسیله ده. تدریسي ژباړه د اضافي کړنو لکه وضاحت او یاداښت رامنځته کولو دنده هم لري چې دې زده کوونکو سره د دوهمې ژبې د انعطاف، دقت، او

روښانتیا په لوړولو کې مرسته کوي. د تدریسي ژباړې اصلي هدف دا دی چې ښوونکو ته د زده کوونکو د پوهې کچه په ټولګیو کې وړاندې کړي ترڅو د ژبې زده کړه اسانه کړي.

## د انګلیسي ژبې په تاریخ کې ژباړې او نورې ژبې

کلاودي (۲۰۰۳) وایي چې د بهرني ژبې د تدریس مفهوم تل یوه مهمه عملي مسئله وه. پنځمې پېړۍ مخکې لاتین ژبه د لویدیځې نړۍ د سوداګرۍ، حکومتولۍ او لوړو زده کړو ژبه وه. خو په شپاړسمه پېړۍ کې د اروپا سیاسي بدلونونو سره، فرانسوي، ایټالوي او انګلیسي ژبې رواج ترلاسه کړ، په داسې حال کې چې لاتین په تدریجي توګه د خبرې او لیکنې ژبې په توګه کمزورې شوه.

کټفورډ (۱۹۶۵) وایي، لکه څنګه چې لاتین او یوناني ژبې له ښوونیزو نصابونو څخه لرې کېدلې، مورنۍ ژبې په ښوونیزه برخه کې تدریس کې راغلې چې د لاتین ژبې تدریس سره ورته اصول لري. د کلمو برخې او ګرامري اصول د اساس په توګه وکارول شول، او د لغتونو اوږده لستونه حفظ کېدل.

په ۱۹۲۰میلادي او ۱۹۳۰میلادي کلونو کې د یوې خارجي ژبې د زده کړې لپاره د لوست مهم مهارت په توګه پراخه ټینګار و، چې له امله یې د مستقیم مېتود په ځای د شفاهي جوړې شوي طریقې ته مخه وشوه. دې نوې طریقې د ګرامري جوړښتونو په منظم وړاندې کولو ټینګار وکړ، چې له ساده څخه پېچلې ته پرمختګ کوي. دې تحول دې ژبې تدریس ته لاره هواره کړه، چې په ۱۹۳۰ میلادي او ۱۹۶۰ میلادي کلونو کې د بریتانوي غوښتنلیک پوهانو لخوا پرمختللې شوه، چې هارولډ پالمر او ای.اس. هورنبي یې مخکښان و.

ددې ژبې تدریس هدف دا ؤ چې د شفاهي ژبې تدریس لپاره یو علمي بنسټ جوړ کړي، چې د مستقیم مېتود د لاسته راوړنو په پرتله یې لا ښه بنسټ ولري. د وضعیت ژبې تدریس تر شا نظریه دا وه چې خبرې اترې د ژبې لپاره لومړنی بنسټ دی، او د دې طریقې عمده ټینګار په ټولګي کې د ژبې د شفاهي کارونې او جوړښت باندې و، چې د خبرې کولو وړتیا مهمه وه. د شفاهي ژبې او جوړښتي زده کړې په دې ټینګار د دې دورې په جریان کې د ژبې د تدریس فلسفې کې مهم بدلون رامنځته کړ.

د کاتفورډ (۱۹۶۵) له مخې، د ګرامر- ترجمې طریقې یا مېتود (GTM) په وړاندې د ښوونکو دوامداره نیوکې د یوه نوي میتود، چې د آډیو-لینګوال میتود (ALM) په نوم یادیږي، د رامنځته کیدو لامل شو. دا میتود په ۱۹۴۰مو کلونو کې ظهور وکړ او د امریکایي پوځ میتود په توګه مشهور و، ځکه چې دا د دویمې نړیوالې جګړې وروسته د امریکایي پوځ د پروګرام له لارې پرمختللی و.

په دې مهال کې، د امریکا حکومت د دې اړتیا احساس کړه چې ځانګړی ژبنی روزنیز پروګرام جوړ کړي تر څو د خپلو متحدینو او دښمنانو په ژبو کې چټک او ماهر خبرې کونکي پیداکړي. د آډیو-لینګوال میتود د عادتونو پر بنسټ او د جوړښتي ژبپوهنې نظریاتو باندې ولاړ دی. دې میتود کې په حفظ، تقلید، تکرار او پیاوړتیا باندې ټینګار کیږي. له دې امله، د ALM ټولګي اکثره د شفاهي تمرینونو شاملوي چې د زده کوونکو سره مرسته وکړي ترڅو په هدف ژبه کې نوي عادتونه رامنځته کړي او د خپلې مورنۍ ژبې د زړو عادتونو له منځه وړلو کې مرسته وکړي.

**د انګلیسي ژبې د ژباړې وسیله په نورو ژبو کې**

ژبه زده کول او پوهیدل یوه تدریجي او دوامداره پروسه ده چې له زیږون سره پیل کیږي او د وړکتون له کلونو څخه اوښتي، او وروسته هم دوام لري. د ژبې زده کړه زده کوونکو ته اجازه ورکوي چې خپلې نظریې او احساسات څرګند کړي، په ټولنه کې برخه واخلي او حتی تحلیلي او تخیلي وړتیاوې وکاروي، چې دا د ښوونکو لپاره یوه اساسي موضوع ده چې په پام کې ونیسي چې هر زده کوونکی په مختلف ډول زده کوي. لکه څنګه چې نیو مارک (۱۹۹۱، ص. ۵۰) یادونه کوي، "د ژباړې ځای د بهرنیو ژبو په تدریس کې تل د دې پر بنسټ دی چې زده کوونکی او ښوونکی په زده کړې کې د مورنۍ ژبې څه رول ټاکي. په دې پروسه کې دواړه غړي، یعنې ښوونکي او زده کوونکي شامل دي".

د کاتفورډ (۱۹۶۵) له مخې، کوک په یوه مرکه کې د ژباړې په اړه د ژبې تدریس او زده کړې په اړه وویل چې د ژباړې کارول د نوي ژبې تدریس لپاره یوه طبیعي او روښانه لاره ده. دا د مثبتو اغیزو ډک دی. دا د زده کړې په مرسته، د زده کړې شوي شیانو تمرین، ستونزو تشخیص او د وړتیا ازموینې لپاره کارول کیدی شي. په هر حال، ښوونکي نشي کولی د زده کوونکو ژباړه بند کړي. دا د ژبې زده کړې لپاره یوه بنسټیزه اړتیا ده. کوک زیاته کړه چې ژباړه د انګلیسي د یوې بهرنۍ ژبې په توګه تدریس لپاره یو ګټوره مهارت دی. سربیره پردې، دا زده کوونکو ته اجازه ورکوي چې نوې پوهه د موجوده پوهې سره تړاو وکړي او د ژبې شعور وده وکړي. همدارنګه، ژباړه د نوې او موجوده ژبې ترمنځ توپیرونه او ورته والی روښانه کوي. برسیره پردې، دا د ښوونکو او زده کوونکو ترمنځ ښې اړیکې رامنځته کوي او ساتي، چې د ټولګي مدیریت ته اسانتیا برابروي او زده کوونکو ته اجازه ورکوي چې خپلې مورنۍ ژبې هویت وساتي.

د کاتفورډ (۱۹۶۵) له مخې، د تدریسي وسیلې په توګه ژباړه زده کوونکو سره مرسته کوي چې خپل رواني خنډونه لرې کړي، د ګرامر پیچلي مفاهیم تشریح کړي، کلمې درک کړي، او د هدف ژبې په اړه د فرهنګي محدودو

مفاهیمو په لوستنې فعالیت کې خپل شعور زیات کړي. له دې امله، ښوونکي کولی شي په ځانګړو زده کړو باندې تمرکز وکړي لکه د ځانګړو کلمو، ګرامري ټکو، سټایلونو او ثبتونو تمرین.

د کاتفورډ (۱۹۶۵) له مخې، ګڼ شمېر ښوونکي منلې چې په EFL ټولګیو کې د مورنۍ ژبې کارول د بین اللغوي مثبت استازیتوب لري. دا اکثره د زده کوونکو غوره توب دی ځکه چې د اړیکو د جوړولو طبیعي هوساینه زده کوونکي هڅوي چې خپلېL1 یا مورنۍ ژبه وکاروي تر څو د اړیکو خنډونه ډک کړي؛ له دې امله، د مورنۍ ژبې کارول هغه معیارونه پوره کولی شي چیرې چې ژباړه د تدریسي وسیلې په توګه ګڼل کیږي.

د کاتفورډ (۱۹۶۵) له مخې، نظم او حساسه شېبې یو بل معیار دی چې کر باور لري چې زده کوونکي باید په ځینو مهمو اداري تفصیلاتو بحث کولو لپاره خپله مورنۍ ژبه وکاروي تر څو ښه پوهه ترلاسه کړي، او حتی ځینې ستونزې یې هم شریکې کړي. همدارنګه، هغه یو مهم ټکی راپورته کړ چې د نظم خبرې دي چیرې چې ښوونکی د زده کوونکي ژبه د ښه تعامل لپاره کاروي.

**د سختو مفاهیمو تشریح، ناپېژندل شوې څرګندونې:**

د ژبې ځینې شیان لکه کلمې، عبارتونه؛ چې ټول زده کوونکي یې په اسانۍ نه شي درک کولی، د دې اړتیا لري چې د خپلو مورنۍ ژبې کارول د دې انتزاعي اړخونو روښانه کولو لپاره پوه شي.

د کاتفورډ (۱۹۶۵) له مخې، د ګرامر او ژبې قواعدو وړاندې کول: د مورنۍ ژبې کارول په ځینو پیچلو ګرامري قواعدو کې د زده کوونکو د قواعدو د ښه پوهیدو لپاره لاره هواروي. د کلتور ترمنځ مسایلو بحث: په ځینو وختونو کې، د یوې ځانګړې څرګندونې دقیق معنی ترلاسه کولو لپاره، دواړه ښوونکي او زده کوونکي باید خپله مورنۍ ژبه وکاروي تر څو د پټو معلوماتو ریښتینې معنی تعریف کړي، چې د کلتوري اصلونو له مخې مختلفېږي؛ د بېلګې په توګه: اصطلاحاتي څرګندونې، اشارات، د ادب فورمولونه، او ټولنیزو کلتوري نورمونه.

وانیسه لیوناردي (۲۰۱۱) تشریح کړه چې څنګه د ژباړې تدریسي چوکاټ په هره کچه د وړتیا او هر ښوونېز روزنه کې، په ښوونځیو یا پوهنتونونو کې، د څلورو دودیزو ژبني مهارتونو لکه لوستل، لیکل، خبرې کول او اوریدل ملاتړ، ادغام او لا زیات پیاوړي کولو لپاره یوه ارزښتناکه او د تخلیقي تدریسي مرسته ده.

لومړی، د کلاودي (۲۰۰۳) له مخې، دا اړینه ده چې په دقت او بشپړتیا سره پلان ونیول شي تر څو د سم ډول هدفونه وټاکل شي. ښوونکو ته اړتیا ده چې د حقیقي موادو کار وکړي او د متنونو تر ټولو مناسب ډولونه انتخاب کړي. دوی باید د هغو کلمو او جوړښتونو په اړه پام وکړي چې اړتیا ورته لري، د بیلګې په توګه، د نوو زده کوونکو لپاره د لارښود لیکلو تمرین کارول، د پروسې د لارې فعالیتونه لکه د لیکلو تمرین، د کلمو کتاب کار او

د همکارانو تصحیح فرصتونه. دا مهمه ده چې پوه شو چې ژباړه باید یوه انفرادي فعالیت نه وي او دا د ښوونکي او زده کوونکو ترمنځ د ټولګي بحث له لارې اړیکې هڅوي.

**د ښوونکو لیدلوري د ژباړې په اړه**

ددې ژبې تدریس طریقه یوازې د یوې ژبې کارول په تدریسي پروسه کې وړاندیز کوي. یوازې هدف ژبه د تدریس د منځپانګې په توګه کارول کیږي؛ دوی باور لري چې هرڅومره چې زده کوونکي د هدف ژبې سره مخامخ شي، هغومره ځټک زده کړه کوي؛ لکه څنګه چې هغوی انګلیسي اوري او کاروي، په انګلیسي فکر وکړي؛ یوازې هغه طریقه چې دوی به دا زده کړي چې مجبور شي چې دا وکاروي. د انګلیسي زده کوونکي او ښوونکي به انګلیسي ژبه نه د یوه مضمون په توګه، بلکې د انګلیسي ژبې له لارې زده کړي (ابراهیم ۲۰۰۱). د مورنۍ ژبې مداخله د منفي اغېزې په توګه ګڼل کیږي. دوی باور لري چې د ژباړې او مورنۍ ژبې کارول باید پرېښودل شي او د ټولګي نه لرې کړل شي ځکه چې د "یوازې انګلیسي سیاست" د یو بریالي تدریسي طریقې بنسټ دی . دا تدریسي طریقه د ژبو د تدریس په برخه کې د اوږدې مودې لپاره یوه مؤثره طریقه وه، چې د نولسمې پیړۍ په وروستیو کې پراختیا وموندله. هغه اصول چې دوی یې په ټولګي کې یوازې انګلیسي کارولو لپاره دلیلونه وړاندې کوي، په لاندې ډول دي (فیلیپسن ۱۹۹۲):

- انګلیسي په یوازې توګه تدریس کیږي.
- د انګلیسي ښوونکی غوره ده چې د انګلیسي ژبې اصلي ویونکی وي.
- هر څومره چې انګلیسي ژر زده شي، نتیجه به یې غوره وي.
- هر څومره چې انګلیسي تدریس شي، نتیجه به یې غوره وي.
- که نورې ژبې زیاتې وکارول شي، د انګلیسي معیارونه به ټیټ شي.

**په ټولګي کې د ژباړې کارولو طریقې**

ژباړه یوه پروسه ده چې د بهرنیو زده کوونکو لخوا د یوې ژبې نه بلې ته د معنی او پیغامونو لیږدولو لپاره کارول کیږي. لکه څنګه چې ال-موساوي (۲۰۱۴) یادونه کوي، د ژباړې عمده رول د کلمې یا جملې د مناسبه معنی د ژبني، معناوي، او پراګماتیکي لیږد دی. سره له دې چې ژباړه په مختلفو ژبې تدریسي طریقو کې مختلف رول لري، لیاو (۲۰۰٦) استدلال کوي چې ځینې د بهرنۍ ژبې ښوونکي باور لري چې ژباړه د زده کړې لپاره یوه وسیله ده ترڅو د زده کوونکو پوهه او اساسي لیکنې تمرینونه یقیني کړي، مګر نور ښوونکي ممکن د مورنۍ ژبې او ژباړو کارول په ټولګي کې په بشپړه توګه منع کړي یا مخنیوی وکړي. سربېره پردې، ال-موساوي (۲۰۱۴) وایي چې اکثریت ښوونکي موافق دي چې دا د خپلو زده کوونکو سره د بهرنیو کلمو او څرګندونو د پوهیدو او د

هغوی د بیانولو لپاره یوه قوي وسیله ده. همدارنګه، د ژباړې کارول د زده کړې ستراتیژۍ په توګه د ځینو زده کوونکو لخوا هم راپورته شوي چې د انګلیسي زده کړې کې مرسته کوي (کریمین او طالبینجاد، ۲۰۱۳). دا ستراتیژي باید د نوي EFL زده کوونکو لپاره د انګلیسي په زده کړه کې مرسته وکړي. هغوی ته اړتیا ده چې کله چې د EFL ډېره وړتیا ترلاسه کړي، په انګلیسي کې مستقیم فکر وکړي ترڅو د دوی ټولیز انګلیسي وړتیاوې وده وکړي (ټان، ۲۰۱۵). له همدې امله، د انګلیسي زده کړه کې د ژباړې کارول د EFL زده کوونکو د ژبې په زده کړه کې مهم رول لري. د ال-موساوي (۲۰۱۴) یوه پخوانۍ مطالعه چې د ژباړې د زده کړې ستراتیژۍ په اړه ده، ویلي چې د بهرنیو زده کوونکو لخوا د انګلیسي زده کړې لپاره تر ټولو عام ستراتیژۍ آنلاین ژباړې وسیلې کارول دي ترڅو نوي کلمې، عبارتونه، اصطلاحات، او ګرامر په انګلیسي کې زده کړي، ترڅو د انګلیسي معنی په یاد ولري او وګوري چې ایا دوی سمې مادې درک کړې. همدارنګه، بهرني زده کوونکي هڅه کوي چې د انګلیسي خبرې کولو پر مهال په خپله مورنۍ ژبه فکر ونه کړي. په عین حال کې، تر ټولو کم کارول شوې ستراتیژۍ چې زده کوونکي یې په لږه کچه استعمالوي، د انګلیسي کلمو د خپلو ژبو متبادلو سره اړیکه جوړول او د یو بل څخه پوښتنې کول او د اصطلاحاتو او څرګندونو معنی په ګډه موندل دي. په نورو ټکو، بهرني زده کوونکي لا هم د انګلیسي زده کړې په پروسه کې د پوهیدو لپاره ژباړې ته اړتیا لري (فیلیپسن ۱۹۹۲).

په ځینو نورو هیوادونو کې، د ژباړې د زده کړې ستراتیژۍ په اړه دوه مطالعات ترسره شوي. لومړۍ مطالعه د پوتراوان (۲۰۱۹) لخوا ترسره شوې، د دې مطالعې موندنې څرګندوي چې د انګلیسي زده کړې لپاره د ژباړې د زده کړې ستراتیژي لا هم د EFL زده کوونکو لخوا په په نړۍ کې په پراخه ډول کارول کیږي. د مطالعې موندنې له مخې، ګډون کوونکي د انګلیسي مهارتونو (لوستل، لیکل، اوریدل، او خبرې کول) د ښه کولو لپاره د ژباړې د زده کړې ستراتیژي کاروي. ګډون کوونکي د خبرو اترو په فعالیت کې د خبرو اترو د دوام او په پوهیدو کې د ژباړې کارول هم راپورته کوي. دوی هم آنلاین د ژباړې وسیلې او د انګلیسي-مورنۍ ژبې لغتنامه کاروي. د بلې مطالعې پایلې ښیي چې ګډون کوونکي د EFL مطالعې کولو لپاره د دوه ژبنیو لغتنامو او آنلاین ژباړې وسیلې کاروي (ګارسیا، ۲۰۰۹ب).

**د ژباړې ښوونیز ارزښت**

ژباړې چې د ژبې د تبادلې او کوډ سویچینګ لپاره اصلي جز دی، د اوږدې مودې لپاره د بهرنیو ژبو د تدریس لپاره یوه له مرکزي وسیلو څخه وه او تل یې د L2 تدریس په چوکاټ کې د تودو بحثونو لامل شوي. دا د ګرامر-ترجمې میتود کې غالب عمل او تر ټولو عام تخنیک و، او له هغه وخته چې د ژبې د تدریس لپاره د ارتباطي طریقه منل شوې، ژباړې خپله مهمتیا په ناڅاپي ډول له لاسه ورکړه. دا عمدتاً د نویو نظریو د غلط فهمیو او

تفسیرونو له امله و، خو داسې بریښي چې وضعیت ورو ورو بدل شوی دی. لکه څنګه چې کوک (۲۰۱۰) استدلال کوي، ژباړه باید د ژبې زده کړې عمده هدف او وسیله وي. د ګرامر د تدریس په اړه، لیوناردي (۲۰۱۰) وایي چې ژباړه کولی شي ځینې پیچلې ګرامري ټکې روښانه کړي.

دا ټولې نظریې په دې ټينګار کوي چې ژباړه باید د بهرنیو ژبو د تدریس پروسې څخه لرې نه وي او د دې ارادې کارول کولی شي زده کړه اسانه کړي. لکه څنګه چې نیوسن (۱۹۸۸) یادونه کوي، د ژباړې پروسې په طبیعي توګه د ژبې زده کوونکو په ذهن کې کار کوي کله چې دوی په L2 کې فعالیت کوي، دا که د غیر ارادي ژباړې په شکل وي یا په اراده. داسې پروسې کولی شي د ښوونېزو وسایلو په توګه مثبتې ګټې ولري او د زده کوونکو د ژبنی وړتیا د ارتقا په برخه کې مرسته وکړي. ځینې څېړونکي په څرګنده توګه څرګندوي چې ژباړه په وروستي وخت کې په دویمه ژبه تدریس کې په ناعادلانه توګه رد شوې او د تعلیمي هدفونو لپاره د ژباړې کارولو ملاتړ کوي. دا روښانه نه ده چې ولې ژباړه د ارتباطي اهدافو د لاسته راوړلو لپاره مؤثره وسیله نه ګڼل کیږي او ولې ژباړه د ارتباطي اصولو سره په تناقض کې ګڼل کیږي.

د پیټروچي (۲۰۰٦) له مخې، د دې ټکو تکرار دا دی چې ژباړه یوازې د جوړښتونو اداره نه ده؛ دا په اصل کې د اړیکو یوه بڼه ده. او په دې توګه، دا په طبیعي توګه د خلکو ترمنځ تعامل او همکارۍ ته اړتیا لري، چې دا د بهرنیو ژبو د تدریس لپاره یو خورا ګټوره وسیله جوړوي. دا د ژبني او ارتباطي وړتیا لوړولو لپاره یوه ګټوره وسیله ده، چې زده کوونکو سره مرسته کوي چې بهرنۍ ژبې په مؤثره توګه وکاروي او لکه څنګه چې کوک (۲۰۱۰) وړاندیز کوي، زده کوونکو ته اجازه ورکوي چې د L1 او L2 ترمنځ لاره شي، په دې اړه اډمیرال (۱۹۹۴) استدلال کوي چې د L1 او L2 ژباړه د L2 او L1 برعکس ژباړې په پرتله یو مؤثرعمل دی.

باید یادونه وشي چې د L2 ټولګي کې د ژباړې کارول یوه اسانه دنده نه ده. دا زده کوونکي د لسو مختلفو لارو ته بیایي او د ګرامر-ترجمې میتود نه د خلاصون لپاره، موږ باید د اوسني تدریسي میتودولوژۍ پراساس د دې لپاره یوه روښانه تیوري چوکاټ جوړ کړو (نیوسن، ۱۹۸۸).

د نیو مارک (۱۹۹۱) له مخې، د پورته ټولو په پام کې نیولو سره، د دې پر ځای چې ژباړه د ارتباطي موخو لپاره زیانمنه وګڼل شي او د ارتباطي طریقه د بنسټیزو اصولو سره په تناقض کې وګڼل شي، په L2 تدریس کې د دې ادغام منل کیدی شي چې ګټور او پیاوړی دی، چې د ارتباطي وړتیا د ودې په برخه کې مرسته کوي، نه دا چې خنډ شي. پورته نظر کولی شي د L2 وړتیا د لا مؤثره ودې لپاره نوې لید او نوې چوکاټ ته لاره هواره کړي او د L2د تدریس په برخه کې د ژباړې نوې پوهه د یوې نوې دورې پیل کیدی شي.

پورته مثالونه ښيي چې څنګه د منابعو توافق د زده کوونکو اهدافو سره نږدې تړاو لري. پایله دا ده چې باید یادونه وشي چې سره له دې چې د زده کوونکو L1 لا هم د تدریس یا زده کړې په برخه کې مرسته نه ګڼل کیږي، دا مشوره ورکول کیږي چې دا پوښتنه له مختلفو زاویو څخه مطالعه شي او معلومه شي چې څه واقعاً کار کوي او څنګه کار کوي تر څو یو روښانه چوکاټ رامنځته شي. د دې تکرار سره، مقاله د دې نظریې ملاتړ کوي چې L1په ESL ټولګیو کې مثبت رول لري او دا چې د EFL میتود په توګه د ژبې تبادله د عصري وختونو تر ټولو غوره میتود کېدلی شي، ځکه چې د مسلکي موخو سره سره، دا د زده کوونکو شخصي پرمختګ ته وده ورکوي (ویګوټسکي، ۱۹۸٦).

**د انګلیسي ژباړو پر نورو ژبو اغېزې**

د انګلیسي ژباړو پر نورو ژبو اغېزې مهمې او څو اړخیزې دي، چې د ټولنو ژبني او کلتوري چاپیریال باندې په نړیواله کچه ااغېزه کوي. دلته د دې موضوع په اړه یوه منظم بحث وړاندې کیږي:

**ژبني اغېزې**

**د لغتونو غنا**

د انګلیسي ژباړې اکثره وختونه نوې لغتونه نورو ژبو ته معرفي کوي، په ځانګړې توګه په ټیکنالوژي، ساینس او سوداګرۍ کې. دا غنا د لغتونو ذخیره پراخوي، مګر دا هم ممکنه ده چې د محلي اصطلاحاتو ځای ناستې ته لاره هواره کړي.

**د ژبې جوړښت**

د انګلیسي څخه ژباړې د هدف ژبو په نحو او ګرامر ااغېزه لري. د بېلګې په توګه، د انګلیسي جملو جوړښت یا د کلمو ترتیب بدلونونه واقع کیدی شي، چې اصلي ژبنی چوکاټ بدل کړي.

**معیارونه**

د انګلیسي ژباړې کله ناکله د نورو ژبو لپاره د ژبې کارونې او املا معیارونه ټاکي. دا کولی شي د ژبو نړیوال همغږي ته لاره هواره کړي، چې د ژبني تنوع کموالی رامنځته کړي.

**کلتوري اغېزې (کلتوري پور)**

د انګلیسي څخه ژباړې اکثره کلتوري مفاهیم، نورمونه او ایډیالوژۍ واردوي. دا کولی شي د کلتورونو د ګډوډیدو او د لویدیځو ارزښتونو د پراختیا لامل شي.

**هویت او صداقت**

اصلي ویونکي ممکن د ژباړو په اړه احساس وکړي چې د دوی ژبې او کلتوري میراث صداقت بدلوي. د ژبني ځانګړتیاوو او دودیزو پوهې د له منځه تللو خطر شته.

## نړیوال تسلط

د انګلیسي ژباړې د انګلیسي د نړیواله lingua franca په توګه تسلط سره مرسته کوي. دا کولی شي محلي ژبې له منځه یوسي او د هغوی اهمیت په تعلیم، رسنیو او نړیوالو خبرو اترو کې کم کړي.

## اقتصادي او ټولنیز اغېزې

### مارکیټ ته لاسرسی

د انګلیسي څخه ژباړې د ادبیاتو، رسنیو او محصولاتو لپاره د نړیوالو بازارونو ته لاسرسی اسانه کوي. دا اقتصادي ګټې کولی شي د کلتوري تبادلې زیاتوالی رامنځته کړي، مګر دا هم اقتصادي انحصار ته لاره هواره کوي.

### تعلیم او سواد

د انګلیسي ژباړې کولی شي د نورو ژبو په زده کړه او سواد کې مرسته وکړي، داسې منابع او معلومات وړاندې کوي چې مخکې له دې شتون نه درلود. مګر، دا ممکنه ده چې محلي ادبیات او تعلیمي منابع ته هم ګټه ورسوي.

## بحث

د انګلیسي متنونو نورو ژبو ته ژباړه پراخې اغېزې لري، دا اغېزې په دواړه د هدف ژبو او هغو کلتورونو باندې چې دا ژبې کاروي تاثیر لري. انګلیسي، چې د نړیوالو اړیکو یوه ژبه ده، د نړیوال سوداګرۍ، ساینس، رسنیو او مشهور کلتور په وسیله د پراخې کارونې له لارې مهمه ااغېزه لري. دا بحث د انګلیسي ژباړې پر نورو ژبو د څو اړخیزو اغیزو څېړنه کوي، چې ژبني، کلتوري او ټولنیز اهمیت په پام کې نیسي.

## لغوي پور او د ژبې بدلون

د انګلیسي ژباړې یوه لویه ااغېزه د انګلیسي لغتونو نورو ژبو ته د راتګ ده. هغه اصطلاحات چې د ټیکنالوژۍ، سوداګرۍ او مشهور کلتور سره تړاو لري، اکثره وختونه په نورو ژبو کې مستقیم معادل نه لري او د پور اخیستونکو کلمو په توګه منل کیږي. د بېلګې په توګه، کلمې لکه "کمپیوتر"، "انټرنیټ" او "مارکیټینګ" په ګڼ شمېر ژبو کې عامې شوې دي. دا پور اخیستل یوه ژبه غنی کوي، مګر دا هم ممکنه ده چې د ژبې پاکوالي او د محلي ژبنیو عناصرو د له منځه تللو په اړه اندیښنې رامنځته کړي.

## د ګرامر اغېزه

د انګلیسي ژباړه هم د نورو ژبو په ګرامري جوړښتونو ااغېزه کولی شي. د بېلګې په توګه، د انګلیسي د کلمو انعطاف منونکی ترتیب او د ضمیمه کلمو کارول ممکن د نورو ژبو جملې جوړښت باندې تاثیر وکړي. دا ااغېزه ممکن د نوو نحوي نمونو منلو یا د ځینو ګرامري قواعدو په تطبیق کې بدلون ته لاره هواره کړي.

### ساده کول او معیاري کول

د انګلیسي ژبې کې د پیچلو مفاهیمو ساده کول او بیا په نورو ژبو کې د هغوی ژباړه کله ناکله د تفصیل له لاسه ورکولو لامل کیږي. دا په ځانګړي توګه په تخنیکي برخو کې واضح دی چیرې چې انګلیسي د اصلي سرچینې په توګه کارول کیږي. د ژباړو کې د وضاحت او معیاري کولو اړتیا ممکن د مفهومونو د ساده نمایندګۍ لامل شي چې په اصل کې په ډیر پیچلو اصطلاحاتو کې بیان شوي و.

### کلتوري تسلط او هویت

د انګلیسي ژبې رسنیو او ادبیاتو پراخه شتون کولی شي د کلتوري تسلط لامل شي، چیرې چې د انګلیسي ژبې کلتورونه د نورو کلتورونو ارزښتونه، نورمونه او کړنې اغیزمنوي. دا کله ناکله د محلي کلتوري هویتونو او دودونو کمیدو لامل کیږي، ځکه چې نړیوالې رسنۍ اکثره د لویدیځو د ژوند طرزونو او نظریاتو په اړه تېنګار کوي.

### کلتوري تبادله او هایبریدیزیشن

په مثبت ډول، د انګلیسي ژباړه د کلتوري تبادلې او کلتوري بڼه د هایبرید کولو ته لاره هواره کوي. د ژباړل شویو ادبیاتو، فلمونو او موسیقۍ له لارې، خلک د مختلفو کلتوري تجربو او نظریاتو ته لاسرسی لري، چې د متقابلې پوهې او درناوي وده کوي. دا د کلتورونو ترمنځ تګ راتګ کولی شي د محلي او نړیوالو کلتورونو د غنیتوب لامل شي.

### تعلیمي او مسلکي فرصتونه

د انګلیسي مهارت او د انګلیسي ژبې سرچینو ته لاسرسی اکثره د تعلیمي او مسلکي فرصتونو دروازې پرانیزي. د علمي متنونو او مسلکي موادو د ژباړې افرادو ته دا توان ورکوي چې له نړیوالې پوهې سره تعامل وکړي او په نړیوالو خبرو اترو کې برخه واخلي، چې ممکن د مسلکي فرصتونو او علمي پرمختګ وده وکړي.

### د ژبې بدلون او خطر

د انګلیسي تسلط د ژبې بدلون لامل کیدی شي، چیرې چې د اقلیت ژبو ویونکي ممکن په ورځني ژوند کې انګلیسي ته لا زیات مخه کړي، چې د دوی محلي ژبو ورو ورو کمیدو یا خطر ته لاره هواره کړي. دا پدیده په ځانګړې توګه په څو ژبنیو سیمو کې اندیښمنه ده چیرې چې کوچنۍ ژبې د انګلیسي نړیوال تسلط له امله سیوري کیږي.

د انګلیسي متنونو نورو ژبو ته ژباړه مختلفې اغېزې لري، چې دا اغېزې له ژبني سیستمونو د پرمختګ څخه نیولې تر مهمو کلتوري او ټولنیزو اغیزو پورې دي. که څه هم د انګلیسي لغتونو او نظریاتو د اړیکو او د نړیوالې پوهې ته لاسرسی اسانه کوي، مګر دا هم د کلتوري همغږي او د ژبې د ساتنې په اړه اندیښنې راپورته کوي. د انګلیسي ژباړې د ګټو او د ژبني او کلتوري تنوع د ساتنې اړتیا ترمنځ توازن نیول په نړیواله نړۍ کې مهم دی. د دې اغیزو

پوهیدل موږ سره مرسته کوي چې د ژبې استعمال د پیچلتیاوو سره مخ شو او د کلتوري تبادلې لپاره یوه شمولیت لرونکې لاره رامنځته کړو.

**پایله**

دا واضح ده چې لکه څنګه چې د دې مقالې له مخې چې د انګلیسي ژباړو پر نورو ژبو اغېزې په اړه دی، ژباړه د بهرنیو ژبو د زده کړې او په عمومي توګه د ژبې مهارتونو په وده کې مهم رول لري، او په ځانګړې توګه د لیکلو مهارت کې. دا مقاله د مختلفو مقالو او کتابونو د معلوماتو د راټولولو څخه په لویه کچه د ژباړې اهمیت ښيي چې د بهرنیو ژبو د مختلفو اړخونو په اړه د زده کوونکو پوهاوی لوړوي، چې د دوی د لیکلو مهارت پرمختګ کې مرسته کوي.

د ژباړې ګټور اړخونه کله چې انګلیسي د دویمې ژبې په توګه (ESL) یا انګلیسي د بهرنۍ ژبې په توګه (EFL) ټولګي کې کارول کیږي، لکه څه ډول چې مخکې بحث پرې وشو، څو کلیدي موضوعات پکې شامل دي. باید د زده کوونکو د طبیعي وړتیا څخه ګټه واخیستل شي چې د L2 (دویمې ژبې) معلومات د خپلو L1 (مورنۍ یا لومړنۍ ژبې) پروسس له لارې جذب کړي. د ګډ تدریس، دوه ژبنیو متنونو کارولو، یا د مختلفو میتودونو په کارولو سره، یو ښوونکی کولی شي د زده کوونکو اعتماد او باور کچه لوړه کړي. برسیره پردې، د پوهاوي لوړول د زده کوونکو له وړتیاوو سره مرسته کوي چې دL1 او L2 ترمنځ ورته والی او توپیرونه وپیژني؛ کلتور، د ژبې جوړښت، د ځانګړو او عمومي لغتونو کارول، او د معلوماتو د وړاندې کولو ترتیب. د کلتوري اړوند ستونزو لکه د کلتوري فشار، ښوونکي د دې احتمال زیاتوي چې زده کوونکي به د تدریس شوي موادو په جذبولو کې اسانه وي او د زده کړې تجربه خوندوره کړي، چې د ژبې د اړیکو او ټولنیز اړیکو د وسیلې په توګه د کارونې هر ډول پیژندنې ته وده ورکوي. د زده کوونکو د موجوده L1 کارول د L2 (انګلیسي) زده کړې اسانتیا لپاره، د دې پر ځای چې یوازې دا پټه ژبني پروسس او جوړښتي پوهه له پامه وغورځوي، کولی شي د زده کوونکو لپاره چټک پرمختګ او د انګلیسي د اوږدمهاله ساتنې لپاره غوره پایلې رامنځته کړي.

**سپارښتنې**

د پېژندل شویو پیچلو اغیزو پراساس، دلته څو سپارښتنې دي ترڅو د انګلیسي ژباړې پر نورو ژبو احتمالي منفي اغېزې کمې کړي او مثبتې پایلې وده وکړي:

**۱. د څو ژبنيو او د ژبې تنوع ته پرمختګ ورکونه**

**د پاليسۍ پلي کول:** حکومتونه او تعليمي مؤسسې بايد داسې پاليسۍ پلي کړي چې څو ژبني زده کړې ته وده ورکړي او ملاتړ يې وکړي. دا د محلي ژبو او انګليسي د تدريس او کارونې هڅولو په ګډون، دواړه ژبو محلي او انګليسي ژبو ورتيا ته وده ورکوي.

**۲. د کيفيت لرونکي ژباړې کړنې ترسره کول**

**د ژباړونکو روزنه:** د ژباړونکو لپاره د روزنې پروګرامونو کې پانګونه وکړئ ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې دوی د دقيقو ژباړو د توليد لپاره اړين مهارتونه لري چې کلتوري توپيرونه او متنونه وساتي.

**۳. د محلي ژبو د ساتنې ملاتړ**

**زده کړه او منابع:** د محلي ژبو په اړه تعليمي مواد رامنځته او وده ورکړئ ترڅو د کلتوري ميراث ساتنه وکړي او د ژبني وياړ وده وکړي.

**۴. په ټيکنالوژۍ کې پانګونه وکړئ**

**د ژباړې ټيکنالوژي:** د ژباړې په ټيکنالوژيو کې د څېړنې او پراختيا ملاتړ وکړئ چې د انګليسي نه نورو ژبو ته د ژباړې دقت او مؤثريت لوړوي.

**۵. د پوهاوي او ملاتړ لوړول**

**عامه کمپاينونه:** د ژبني تنوع اهميت او د انګليسي ژباړې په محلي ژبو او کلتورونو باندې ممکنه اغيزو په اړه د پوهاوي کمپاينونه پيل کړئ.

**د ملاتړ ابتکارات:** د پاليسي جوړوونکو، ښوونکو، او ټولنيزو رهبرانو سره همکاري وکړئ ترڅو د ژبې حقوقو او د ساتنې هڅو لپاره په محلي، ملي او نړيواله کچه د ملاتړ لپاره کار وکړئ.

**مأخذونه (References)**

Hall, G., & Cook, G. (2013). Own-language Use in ELT: Exploring Global Practices and Attitudes. British Council Global English

Halliday, M. (2007). Language and Education. In Webster, J.J. (ed.). The Collected Works of M.A. Halliday. London/ New York: Continuum.

Harris, B., & Sherwood, B. (1978). Translation as an Innate Skill. In Gerver, D. & Sinaiko, H.W. (eds.), Language Interpretation and Communication. (pp. 155-170). New York: Plenum Press.

Kerr, P. (2014). Translation and Own- language Activities. London: Cambridge University Press.

Leonardi, V. (2010). The Role of Pedagogical Translation in Second Language Acquisition: From Theory to Practice. Bern: Peter Lang.

Malmkjaer, K. et al. (1998). Translation & language teaching. Cambridge: MIT Press

New Mark, P. (1991). About Translation: Multilingual Matters. Clevedon, Philadelphia, Adelaide: Multilingual Matters Ltd.

Newson, D. (1988). The teaching and testing of translation. Edinburgh: Scotland.

Odlin, T. (2003). Cross-linguistic influence. In Doughty, C., & Long, M. (eds.). Handbook of Second Language Acquisition. Oxford: Blackwell.

Petrocchi, V. (2006). Translation as an Aid in Teaching English as A Second Language. Translation Journal, 10 (4), available at: http://accurapid.com/Journal/38teaching.htm.

Shiyab, S., & Abdullateef, M. (2001). Translation and foreign language teaching. Journal of King Saud University Language & Translation. Riyadh: Saudi Arabia, 13, (1), Available at: http://digital.library.ksu.edu.sa/

Stibbard, R. (1994). The Use of Translation in Foreign Language Teaching, Perspectives. Studies in Translatology, (1), 9-18.

Titford, C. (1983). Translation for Advanced Learners. ELT Journal, 37 (1), 52-57

Vygotsky, L. (1986). Thought and Language (2nd ed). Cambridge Mass: MIT Press.

# د اسلامي فقهې او مدني قانون له نظره د نسب د ثبوت سببونه، طريقې او آثار

پوهنیار عبدالوهاب ایوبي، شیخ زاید پوهنتون، د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی، د حقوقو څانګه

بریښنا لیک: wahab.ayoubii@gamil.com

**لنډيز**

نسب، چې د پلار او مور سره د اړيکو له لارې تثبيتېږي، د اولاد اساسي حق دی. په اسلامي فقهه او مدني قانون کې د نسب په اړه روښانه قواعد او حکمونه شتون لري او د اولاد د نسب په ثابتولو کې مشروع نکاح اړينه ده، چې د ماشوم د نسب د مشروعيت او حقوقو تضمين کوي. د څېړنې پايله دا ده چې په اسلامي فقه او مدني قانون کې د مشروع نکاح له لارې زېږېدلی ماشوم د نسب حق ترلاسه کوي او د ټولنيزو، اقتصادي او عاطفي حقوقو څخه برخمن کېږي. کله چې نسب ثابت شي؛ نو ماشوم د خپلو والدينو په وړاندې د ميراث حق، د نفقې د تأمين حق، د حضانت حق، د ولايت حق، او د نکاح حرمت په څېر آثار له ځان سره لري. خو که چېرې د ماشوم زېږون له نکاح پرته وي، په فقهي او حقوقي لحاظ يې د نسب ثبوت نه کېږي. د اولاد د نسب سببونه، طريقې او آثار تر عنوان لاندې دغه څېړنيزه مقاله کې د اسلامي فقهې او د افغانستان مدني قانون له نظره د اولاد د نسب حق د څېړنې د توصيفي- مقايسوي څېړنې څخه په ګټه اخيستنې سره څېړل شوی دی چې د معلوماتو په راټولولو کې د کتابتوني مېتود څخه ګټه اخيستل شوې ده، چې موخه يې د نسب د ثبوت د لارو چارو پېژندنه او د نسب د ثبوت د حقوقي پايلو واضح کول او په دې هکله د اسلامي فقهې او مدني قانون د حکمونو پرتله کول دي.

**کليدي ټکي**: اسلامي فقه، اولاد، پلار، ثبوت، مدني قانون، مور.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدالمرسلين وعلى اله و اصحابه اجمعين.**

نسب چې د خپلوۍ او قرابت په معنی دی، په حقوقي لحاظ هغه اړیکه ده چې د دوو اشخاصو ترمنځ چې یو له بل نسل څخه وي او یا دواړه له دریېم شخص د نسل څخه وي رامنځته کېږي او یا په کلي ډول په واحده منشا سره د دوو اشخاصو منتهی کېدل دي. په عامه معنی سره نسب د نسبي خپلوۍ مترادف دی؛ خو په خاص او تخنیکي مفهوم سره د دوو اشخاصو ترمنځ طبیعي او وینې اړیکه ده چې په مستقیم ډول د یو بل د بطن یا صلب څخه نړۍ ته راغلي وي. د نسب د ثبوت حق یو د هغه حقوقو له جملې څخه ګڼل کېږي چې د اولادونو لپاره په والدینو باندې ثابتېږي. د نسب د ثبوت حق، په ځانګړي ډول په اسلامي فقه او مدني قانون کې یوه مهمه او حیاتي موضوع ګڼل کېږي. نسب، د یو انسان د نسلي او کورنۍ تړاو څرګندونه کوي او هغه اړیکه ده چې یو شخص یې له خپل پلار او مور سره لري. د نسب د ثبوت حق د دې لپاره حیاتي دی چې یو شخص ته خپل ټولنیز، حقوقي او مالي حقونه په رسمي توګه وپېژندل شي، لکه د میراث حق، د نفقې تأمین حق، د حضانت حق او د ولایت حق. یعنې د نسب ثبوت، د یو شخص د حقوقو او وجایبو په ټاکلو کې کلیدي رول لري. په فقهي او حقوقي لحاظ، که یو شخص د خپل نسب ثبوت ونه لري، نو هغه له مختلفو حقوقي او ټولنیزو حقوقو څخه بې برخې کېږي. همدارنګه د نسب ثبوت په دې کې مرسته کوي چې یو شخص ته د حقوقو د ورکړې ترڅنګ د هغه ټولنیز حیثیت په رسمي ډول وپېژندل شي. په اسلامي فقه او مدني قانون کې، د نسب د ثبوت لپاره سببونه واضح او روښانه دي لکه: نکاح. همدارنګه د اسلامي فقهې او مدني قانون له نظره نسب د بېلابېلو طریقو له لارې ثابتېږي، لکه نکاح، اقرار او بینه؛ نو په دې اساس د نسب د ثبوت حق، یو اساسي بشري حق دی چې د یو شخص ټولنیز او حقوقي پیژند او د حقوقو د ساتنې لپاره خورا مهم دی. د نسب د ثبوت حق یوه حیاتي موضوع ده چې په اسلامي فقه او مدني قانون کې ځانګړی اهمیت لري ځکه چې په ټولنیز او حقوقي لحاظ هویت ورکوي.

## د کار مواد او مېتود

نوموړې مقاله د څېړنې د توصیفي- مقایسوي مېتود له نوعې څخه ده، چې د اطلاعاتو او معلوماتو په راټولولو کې د کتابتوني مېتود څخه ګټه اخیستل شوې. په دې څېړنیزه مقاله کې د څېړنیزې موضوع اړوند، د اسلامي فقهې او مدني قانون او همدارنګه د معتبرو مأخذونو او سرچینو څخه ګټه اخیستل شوې چې، کتابونه، مجلې او رسالې په کې شاملې دي.

## د څېړنې موخې

۱- د نسب د مفهوم پيژندنه او واضح کول.

۲- د اسلامي فقهې او مدني قانون د حکمونو له نظره د نسب د ثبوت د سببونو واضح کول.

۳- د اسلامي فقهې او مدني قانون له نظره د نسب د ثبوت د طريقو او لارو چارو پېژندنه او وضاحت.

۴- د نسب د ثبوت د آثارو او حقوقي پايلو په گوته کول.

۵- د نسب د ثبوت د سببونو، طريقو او آثارو په هکله د اسلامي فقهې او مدني قانون د حکمونو پرتله کول.

**د نسب د ثبوت حق**

په والدينو باندې د اولادونو د حقوقو له جملې څخه يو د اساسي حقوقو څخه هم د هغوی د نسب د ثبوت حق دی. نسب مصدر دی او په لغت کې د انتساب، خپلوی، نژاد، اصل، سلسله او نورو معانيو سره ده(انوری،۱۳۸۵،ص: ۲۴۲۹). په اصطلاح کې نسب د دوو نفرو ترمنځ د هغې اړيکې څخه عبارت ده چې د هغوی څخه يو د بل څخه د تولد او زيږيدنې په سبب يا د ثالث شخص څخه د هغوی په زيږيدنې سره رامنځته کېږي(عبدالله،۱۳۹۵،ص: ۳۴۱). پورتنی تعريف د نسب عام حقوقي مفهوم وړاندې کوي او په خاص مفهوم سره نسب د پلار او اولاد يا د مور او اولاد ترمنځ له اړيکې څخه عبارت دی(عدالتخواه،۱۳۹۶،ص: ۲۳۲). د يادونې وړ ده چې د افغانستان مدني قانون نسب نه دی تعريف کړی. خو د هغې د اړوندو حکمونو څخه يې په خپلو موادو کې وړاندوينه کړې ده.

**د نسب د ثبوت سببونه**

د اولاد نسب مستقيماً يا د هغه مور ته رسېږي يا د هغه پلار ته. د اولاد د نسب ثبوت د هغه د ولادت مور(هغه مور چې تولد کړی يې وي) ته رسېږي، که هغه شرعي وي او که غير شرعي(الزحيلی،۱۴۰۹،ص: ۷۲۵۶). ځکه مور ته د هغې نسبت ورکول د ولادت او زيږيدنې په ذريعه ثابتېږي چې ډېر په آسانی سره ثابتېدلی شي. خو پلار ته د ماشوم د نسب نسبت ورکول د مور د نسبت ورکولو څخه ستونزمن دي. چې د موضوع د لاوضاحت لپاره يې اړوند موضوعات لاندې تر څېړنې لاندې نيسو:

**۱- په صحيح نکاح کې د نسب ثبوت**

ټول فقهاءپه دې متفق دي چې که چېرې يو ماشوم په صحيح نکاح کې تولد ومومي؛ نو د هغې پلار ته منسوب کېږي(عبدالله،۱۳۸۹،ص: ۵۸۳). فقهاءد ياد نظر د تأييد لپاره په لاندې حديث شريف باندې استناد کوي: قَالَ

النَّبِيُّ صَـلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ: الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَر(البخاري،۱۴۲۲،ص: ۱٦٥). ژباړه: نبي علیه سـلام فرمایلي دي: اولاد د هغه چا دی چې د فراش څښتـن وي او زاني د تېرو مسـتحق دی. پس په دې صـورت کې د فراش(هغه ښځه چې نارینه ترې جنسي ګټه اخیستي وي) څښتن ته د نسب د نسبت ورکول د لاندې شرطونو په تحقق پورې تړلي دي: لومړی دا چې د خاوند څخه باید عادتاً د ښځې د حمل اخیسـتل متصـور وي. دویم دا چې د احنافو له نظره ماشوم باید د نکاح څخه شپږ میاشتې وروسته تولد موندلی وي، او درېیم دا چې د نکاح څخه وروسته د زوجینو تلاقي او لقاء فعلاً، حساً او عادتاً ممکنه وي(عبدالله،۱۳۸۹،ص: ٥۸۴).

مدني قانون هم په دې هکله د اسـلامي فقهې د حکمونو څخه په پیروی سره په ۲۱۸ ماده کې په دې هکله دا ډول حکم کوي: په صـحیح ازدواج کې د هرې ښځې طفل خاوند ته منسـوبېږي، په دې شرط چې د ازدواج په عقد کې د حمل کمه موده تېره شـوې وي او د خاوند او ښـځې ترمنځ یو ځای والی او صـحیح خلوت ثابت وي(مدني قانون،۱۳٥٥،ص: ٦۰). که چېرې طفل د شپږو میاشتو څخه په کمه موده کې زیږیدلی وي؛ نو نسب یې خاوند ته نه منسـوبیږي چې په دې هکله د مدني قانون ۲۱۹ ماده دا ډول صراحت لري: که چېرې طفل د شپږو میاشتو څخه په کمه موده کې زیږیدلی وي؛ نو نسب یې خاوند ته نه منسوبیږي. مګر دا چې خاوند یې د زنا څخه پرته د بلې لارې د طفل نسبت ځان ته وکړي(مدني قانون،۱۳٥٥،ص: ٦۰،٦۱).

د یادونې وړ ده چې د مدني قانون د ۲۱۷ مادې د حکمونو له مخې د حمل کمه موده شـپږ میاشـتې او زیاته موده یې یو کال ده(مدني قانون،۱۳٥٥،ص: ٦۰). نو په دې اساس، که چېرې خاوند خپلې ښځې ته د دخول او صحیح خلوت څخه مخکې طلاق ورکړي او د طلاق څخه وروسته ښځه طفل دنیا ته راوړي؛ نو په هغه صورت کې چې ماشـوم د طلاق ایقاع څخه د شـپږو میاشـتو څخه په کمه موده کې وزیږیږي، د هغه نسـب په خاوند پورې نه منسـوب کیږي او که چېرې د طلاق د نیټې څخه شـپږ میاشـتې او یا د هغې څخه د زیاتې مودې د تیرېدو څخه وروسته ماشوم دنیا ته راوړي؛ نو د هغې نسبت خاوند ته کېږي. خو که چېرې خاوند خپلې ښځې ته د دخول او یا صـحیح خلوت څخه وروسـته رجعي یا باین طلاق ورکړي او یا خاوند د دخول او یا صـحیح خلوت څخه وروسـته وفات شي او ښـځه طفل دنیا ته راوړي؛ نو د ماشـوم نسبت هغه وخت خاوند ته ثابتېږي چې د حمل د زیاتې مودې(د شـوافعو او حنابله وو له نظره څلور کاله، د مالکیانو له نظره پنځه کاله او د حنفیانو له نظره دوه کاله) د تېریدو څخه مخکې وزیږیږي. خو که چېرې ښځه د ذکر شوي مودې څخه وروسته ماشوم دنیا ته راوړي؛ نو د جمهورو فقهاو له نظره د هغې نسـبت خاوند ته نه کېږي. خو د احنافو له نظره که چېرې طلاق رجعي وي او ښځې د خپل عدت په پوره کېدو اقرار هم نه وي کړی؛ نو د ماشوم نسبت خاوند ته ثابتېږي؛ توپیر نه کوي چې د حمل د زیاتې مودې د پوره کېدو څخه وړاندې وي یا وروسـته، خو که د عدت په پوره

کېدو یې اقرار کړی وي؛ نو نسـبت یې خاوند ته نه ثابتېږي، مگر په هغه صـورت کې چې د اقرار او زیږېدنې ترمنځ موده د شپږو میاشتو څخه کمه وي؛ نو د دا ډول طفل نسب هغه وخت خاوند ته ثابتېږي چې پخپله یې په هغې اقرار کړی وي(عبدالله،۱۳۸۹،ص: ۵۸٦).

که چېرې طلاق باین وي او بېلتون د خاوند د مړینې په سـبب وي او ښـځې د خپل عدت په پوره کېدو اقرار نه وي کړی؛ نو د مولود نسـب هغه وخت خاوند ته ثابتېږي چې د طلاق یا وفات د نېټې څخه وروسـته د حمل د زیاتې مودې یا دوو کالونو د تېرېدو څخه مخکې یې صـورت موندلی وي. که چېرې د دې مودې د تېرېدو څخه وروسـته یې طفل دنیا ته راوړی وي او دا احتمال هم شـتون ونه لري چې ښـځه د طلاق یا وفات څخه مخکې حامله وي؛ نو په دې صورت کې یې نسب خاوند ته نه ثابتېږي. او په هغه صورت کې چې د عدت په پوره کېدو یې اقرار کړی وي او د عدت د وخت د تکمیل لپاره زمان هم شتون ولري، د ماشوم نسب د خاوند څخه نه ثابتېږي. مگر دا چې د اقرار د نېټې څخه وروسته د شپږو میاشتو د تېرېدو څخه مخکې زیږېدلی وي او د طلاق او زیږېدنې ترمنځ موده د دوو کالونو څخه کمه وي(الزحیلي،۱۴۲۲،ص: ۷۲٦۰).

د صحیح نکاح د له منځه تللو څخه وروسته د نسب د ثبوت په هکله مدني هم د حنفي فقهې د حکمونو څخه پیروی کړې ده او په ۲۲۱ ماده کې په دې هکله دا ډول صراحت لري: که طلاقه شـوې یا ښـځه د خپل خاوند د مرگ څخه وروسته د خپل عدت په پوره کېدو اقرار وکړي، د هغې د طفل نسبت خاوند ته هغه وخت ثابتېږي چې زیږېدنه د اقرار څخه وروسته د شپږو میاشتو څخه په کمه موده کې یا د خاوند د طلاق یا وفات څخه د یو کال نه په کمه موده کې صـورت موندلی وي(مدني قانون،۱۳۵۵،ص: ٦۱). همدارنگه د باین طلاق او وفات په عدت کې د نسـب د ثبوت په هکله د حنفي فقهې د حکمونو څخه په پیروی سره په ۲۲۰ ماده کې دا ډول صراحت لري: که د طلاق یا وفات معتده د خاوند د طلاق یا وفات څخه وروسته د یوه کال څخه په زیاته موده کې وزیږېږي، د داسـې معتدې د نسـب دعوی نه اورېدله کېږي. مگر دا چې د طلاق په صـورت کې پخپله خاوند او د وفات په صورت کې د خاوند ورثه، د طفل نسبت خپل ځان ته وکړي(مدني قانون،۱۳۵۵،ص: ٦۱).

### ۲- په فاسد نکاح او په شبهې سره د دخول په صورت کې د نسب ثبوت

په فاسد نکاح کې د نسب ثبوت هم د صحیح نکاح په څېر دی او د هغې د تحقق لپاره هم ځیني شرطونه شتون لري: لومړی دا چې نارینه یا خاوند باید د داسې کسانو د جملې څخه وي چې د ښځې حامله کېدل ورڅخه متصور وي. دویم دا چې د احنافو له نظره دخول صورت موندلی وي او د مالکیانو له نظره دخول او یا صحیح خلوت صورت موندلی وي او درېیم دا چې د احنافو له نظره د دخول څخه او د مالکیانو له نظره د دخول او یا

صحیح خلوت څخه وروسته د شپږو میاشتو یا د هغې څخه د زیات مودې په تېرېدو سره ماشوم زیږېدلی وي. که چېرې د ذکر شوي مودې څخه مخکې طفل زیږېدلی وي؛ نو نسب يې خاوند ته نه ثابتېږي (عبدالله، ۱۳۸۹، ص: ۵۸۷).

په هغه صورت کې چې په فاسد نکاح کې د دخول او د مالکیانو له نظره د دخول او صحیح خلوت څخه وروسته د زوجینو ترمنځ د متارکې او د تفریق د جاري کېدو څخه وروسته ښځه د تفریق د نیټې څخه وروسته ماشوم دنیا ته راوړي، که چېرې د حمل د زیاتې مودې څخه وروسته وي؛ نو د طفل نسب خاوند ته ثابتېږي. خو که چېرې د حمل وضع د کمې مودې د تېرېدو څخه وروسته وي؛ نو خاوند ته يې نسب ثابتېږي (الزحیلي،۱۴۲۲،ص: ۷۲۶۳).

په فاسد نکاح کې د نسب د ثبوت او نه ثبوت په هکله مدني قانون هم د حنفي فقهې د حکمونو څخه پیروي کړې ده او په دې هکله په ۲۲۲ ماده کې دا ډول صراحت لري: (۱) د ښځې طفل په فاسد نکاح کې هغه وخت خاوند ته منسوبیږي چې طفل کم ترکمه شپږمیاشتې وروسته د دخول د نیټې څخه زیږېدلی وي. (۲) د متارکې یا جدایی په حالت کې، طفل هغه وخت خاوند ته منسوبیږي چې کم ترکمه د یوه کال په اوږدو کې زیږېدلی وي(مدني قانون،۱۳۵۵،ص: ۶۲). په همدې ترتیب سره که چېرې په شبه سره د دخول په صورت کې طفل دنیا ته راشي او هغه شپږ میاشتې وروسته او یا د هغې څخه زیاته موده کې تولد وموميږي؛ نو د طفل نسب واطي ته منسوب کېږي. خو که چېرې طفل د شپږو میاشتو د تېرېدو څخه مخکې زیږېدلی وي؛ نو نسب يې واطي ته نه منسوبېږي (عبدالله،۱۴۲۲،ص: ۵۸۸،۵۸۹).

په پایله کې ویلای شو که چېرې طفل د شبهې په پایله کې متولد شي، که شبهه په فعل کې وي او که په عقد کې؛ نو دا طفل داسې دی لکه په صحیح نکاح کې چې پیداشوی وي. نو په دې اساس که چېرې سکران، مجنون، نایم او مکرَه شخص د ښځې سره نیږدېوالی وکړي او یا یو کس په دې ګمان چې ښځه د هغه مېرمن ده؛ د هغې سره نیږدیوالی کوي. خو وروسته معلومېږي چې ښځه يې مېرمن نه وه او د هغې څخه اولاد پیدا شي؛ نو دا ډول طفل شرعاً په سړي پورې محلق کېږي. ځیني وختونه شبهه له دواړو اړخونو څخه وي او ځیني وختونه شبهه د یوه اړخ څخه وي. که چېرې شبهه د دواړو لورو څخه وي؛ نو طفل په دواړو پورې محلق کېږي او که چېرې شبهه د یوه اړخ څخه وي؛ نو طفل په هغه اړخ پورې محلق کېږي چې شبهه يې کړې وي او د بل اړخ څخه نفي کېږي. (عبدالله،۱۳۹۱،ص: ۴۰)

۳- د پورتنيو حالتونو پرته په نورو حالتونو کې لکه: زنا، زوی نيونه او د ماشوم پيداکول؛ په دې حالتونو کې د ماشوم نسب نه ثابتېږي. يعنې د ولد زنا نسب د زاني سره، د لقيط نسب د ملتقط سره او د هغې چا نسب چې يو څوک يې په زوی نيونه باندې قبول کړی وي نه ثابتېږي (الزحيلی، ۱۴۲۲، ص: ۷۲۴۸،۷۲۴۹).

مدني قانون هم د اسلامي فقهې څخه په پيروی سره په ۲۲۸ ماده کې دا ډول صراحت لري: که د چا نسب معلوم وي او د زوی په صفت ونيول شي، د نسب د ثبوت آثار لکه: نفقه، د حضانت ا جوره، ميراث، د مصاهرت حرمت او د طلاقې شوي ښځې حرمت پرې نه مرتبيږي(مدني قانون، ۱۳۵۵).

**د نسب د ثبوت طريقې**

د نسب ثبوت له درو لارو صورت مومي چې لاندې يې څېړو:

۱- د صحيح يا فاسد نکاح له لارې د نسب ثبوت: کله چې د نکاح انعقاد په صحيح او يا فاسد ډول سره ثابت شي؛ نو نسب هم ثابتېږي. يعنې د صحيح يا فاسد نکاح په ثبوت سره، نسب هم ثابتېږي. پس هر ماشوم چې په صحيح يا فاسد نکاح کې وزيږيږي، نسب يې د ښځې خاوند ته منسوبېږي.

۲- د اقرار له لارې د نسب ثبوت: اقرار په لغت کې د اعتراف په معنی سره دی(انوري،۱۳۸۵،ص: ۱۸۱). په اصطلاح کې د محکمې په وړاندې، په دې اړوند چې بل شخص پر ده باندې حق لري، د يوه شخص اخبار دی(يو شمېر مؤلفين،۱۳۸۷،ص: ۲۰). د مدني محاکماتو د اصولو قانون د ۲۷۳ ماده د اقرار په تعريف کې دا ډول صراحت لري: اقرار په محکمه کې پر هغې چارې باندې له اخبار څخه عبارت دی چې د دعوی د لوري د حق پاتې کېدل يا د اقرار کوونکي پر خلاف يو حالت ثابتوي(د مدني محاکماتو د اصولو قانون،۱۳۶۹،ص: ۸۳).
د نسب په ثبوت کې اقرار د دوو حالتونو څخه خالي نه وي:

- دا چې مقر شخص يې خپل ځانته د يو شخص د نسب د منسوبيدو لپاره وکړي. په دې حالت کې اقرار صحيح دی، که څه هم مقر په مرض الموت کې وي؛ په دې شرط چې: د مقرله نسب بايد مجهول وي، حس او عادات نوموړی اقرار تأييد کړي، مقرله په هغه صورت کې چې د تصديق اهليت ولري، د مقر اقرار تصديق کړي او په اقرار کې نسب په غير يا بل چا باندې تحميل نه کړل شي(عبدالله،۱۳۸۹،ص: ٦٠٠). د مدني قانون ۲۲۴ ماده هم د اسلامي فقهې څخه په پيروی سره د اقرار د پورتني حالت په هکله دا ډول حکم کوي: په نسب ثبوت د زوی ولی د اقرار په وسيله که څه هم د مرگ په مرض کې وي، هغه وخت صورت موندلی شي چې: ۱-اقرار کوونکی په داسې عمر کې وي چې اقرار کړه شوی د هغه زوی کېدلی شي. ۲- اقرار کړه شوی معلوم نسب ونه لري. ۳-

ممیز اقرار کړه شوی د اقرار کوونکي دعوی تصدیق کړي(۸۵: ۶۲،۶۳). او د څلورم شرط یا په غیر د نسب د نه تحمیل په هکله هم د مدني قانون ۲۲۵ ماده د اسلامي فقهې د حکمونو څخه په پیروی سره دا ډول صراحت لري: د نسب اقرار د ښځې یا د معتدې په وسیله هغه وخت ثابتیږي چې خاوند د ښځې اقرار تصدیق یا د ښځې له لورې مثبته دلیلونه اقامه شي(مدني قانون،۱۳۵۵،ص: ۶۳).

- دا چې یو شخص یې بل شخص ته د نسب د ثابتیدو لپاره وکړي. لکه دا چې وواییي دا زما ورور دی، نوموړی اقرار هم د نسب د ثبوت لپاره صحیح دی. خو په دې شرط چې: د مقرله نسب باید مجهول وي، حس او عادات نوموړی اقرار تأیید کړي، مقرله په هغه صورت کې چې د تصدیق اهلیت ولري، د مقر اقرار تصدیق کړي او په اقرار کې د نسب په غیر یا بل چا باندې تحمیل نه کړل شي او پردې برسېره د غیر یا بل شخص تصدیق هم ضرور دی. لکه دا چې شخص وواییي چې دا زما ورور دی؛ نو په دې صورت کې د نسب د ثبوت لپاره شرط ده، د شخص پلار هم نوموړی اقرار تصدیق کړي او یا مقر د خپل اقرار د صحت لپاره بینه وړاندې کړي چې دا د احنافو نظر دی(الزحیلی،۱۴۲۲،ص: ۷۲۶۸،۷۲۶۹). د مدني قانون ۲۲۶ ماده هم د اسلامي فقهې څخه په پیروی په دې هکله دا ډول صراحت لري: که د چا نسب معلوم نه وي او د بل چا په پلارولی یا مورولی اقرار وکړي، د هغه نسب هغه وخت ثابتیږي چې: ۱- اقرار کوونکی په داسې عمر کې وي چې د اقرار کړه شوي زوی کېدلی شي.

۲- اقرار کړه شوی د اقرار کوونکي دعوی تصدیق کړي، په دې صورت کې د پلار ولی او زوی ولی حقوق د یو په پل ثابتیږي. او په غیر د نسب د نه تحمیل په هکله ۲۲۷ ماده دا ډول صراحت لري: په نسب اقرار د زوی ولی، پلار ولی او مور ولی نه بهر په بل چا تأثیر نه لري، مګر دا چې تصدیق یې کړي(مدني قانون،۱۳۵۵،ص: ۶۳).

۳- د بینه له لارې د نسب ثبوت: بینه په لغت کې د دلیل او حجت په معنی ده(عمید،۱۳۸۳،ص: ۳۰۰). او په اصطلاح کې هغه دلیل دی چې د حقیقت پر تبیین او اظهار دلالت وکړي او د قضا په وړاندې د ثبوت د دلیل په توګه ومنل شي د بینې څخه عبارت ده(یو شمېر مؤلفین، ۱۳۸۷،ص: ۳۶). د مدني محاکماتو د اصولو قانون ۲۷۲ ماده د بینې په تعریف کې دا ډول صراحت لري: بینه(سندونه، شاهدان او مستنبطه قرینې)( د مدني محاکماتو د اصولو قانون،۱۳۶۹،ص: ۸۳). د بینې په هکله تخصصي بحثونو ته په پام سره د بینه او شهادت ترمنځ د عموم او خصوص اړیکه شتون لري، یعنې هر شهادت بینه ده او هره بینه شهادت نه دی. همدارنګه نسبت اقرار ته قوي ده. نو په دې اساس، که چېرې نسب د اقرار په وسیله ثابت کړل شي، غیر مؤکد او د شاهدانو په وسیله د هغې د بطلان احتمال متصور دی. پس هغه بینه چې د هغې په وسیله نسب ثابتیږي د دوو سړیو د شهادت څخه عبارت

دی د مالکیانو له نظره او د ټولو وارثانو د شهادت څخه د شوافعو، حنابله وو او امام ابویوسف له نظره(الزحیلي،۱۴۲۲،ص: ۷۲۷۱).

## د نسب د ثبوت آثار

کله چې د یو شخص نسب د بل شخص سره ثابت شي؛ نو په هغې باندې یو سلسله آثار او حقوقي پایلې مرتبیږي. د اسلامي فقهې د حکمونو پربنیاد د نسبت د ثبوت آثار عبارت دي له: د ځینو نسبي، سببي او رضاعي خپلوانو سره د نکاح حرمت، د ماشوم حضانت او ساتنه، د ولایت او وصایت حق، د ماشوم د نفقې د تأمین حق او د طفل د مور او پلار او خپلوانو ترمنځ د میراث ثبوت(عبدالله،۱۳۸۹،ص: ۶۰۲). د مدني قانون **۲۲۳** ماده هم د نسب د ثبوت د آثارو په هکله دا ډول صراحت لري: د نسب د ثبوت په حالت کې که څه هم نکاح فاسد وي یا دخول په شبهې سره صورت موندلی وي، د خپلوۍ مرتب آثار لکه نفقه، میراث، حرمت او داسې نور ثابتیږي(د مدني محاکماتو د اصولو قانون: ٦٢).

حضانت یوه عربي کلمه ده چې د ماشوم تربیت او روزنې ته وایی(انوری، ۱۳۸۵،ص: ۸٦۲). په اسلامي فقه کې د حضانت لپاره متعدد تعریفونه وړاندې شوي دي. د ځینو له نظره، حضانت د طفل د تربیې څخه عبارت دی د هغه شخص په له لورې چې د حضانت حق لري(عبدالله،۱۳۸۹،ص: ٦۳۹). په بل عبارت حضانت د هغه شخص د تربیې او ساتنې څخه عبارت ده چې د تمیز د نه شتون په سبب پخپلو چارو کې مستقل نه وي لکه طفل او مجنون(الزحیلی،۱۴۰۹،ص: ۷۲۹۵). د مدني قانون د **۲۳٦**مادې **۱** فقره هم د حضانت په تعریف کې د اسلامي فقهې څخه په پیروی سره دا ډول صراحت لري: حضانت دطفل دساتنې اوپالنې د هغه مودې څخه عبارت دی چې طفل دښځې ساتنې او پالنې ته محتاج وي(مدني قانون،۱۳۵۵،لومړی ټوک،ص: ٦۵).

په همدې ترتیب سره د اولاد نفقه په پلار باندې واجب ده. د جمهورو فقهاو له نظره په پلار باندې د مباشر اولاد او د اولادونو د اولاد نفقه که درجه یې هر څومره ښکته هم وي، واجب ده. یعنې نفقه د جزئیت په سبب واجبیږي، نه د ارث. خو د مالکي فقهاو له نظره په پلار باندې یوازې د مباشر اولاد نفقه واجب ده. یعنې نفقه د ارث په سبب واجب ده،نه د جزئیت(عبدالله،۱۳۸۹،ص؛ ٦۵۷). د یادو فقهاو د اختلاف نظر څخه معلومیږي چې د جمهورو فقهاو له نظره په پلار باندې د زوی/ لور او لمسیانو او د هغې څخه ښکته نفقه لازمه ده. خو د مالکیانو له نظره یوازې د زوی او لور نفقه پرې واجب ده. د افغانستان مدني قانون **۲۵٦** ماده د اولادونو د نفقې په هکله حکم کوي: نفقه د ټولو انواعو سره د صغیر هلک دپاره تر هغه وخته پورې چې د کسب او کار قدرت پیداکړي، او د صغیرې نجلۍ دپاره تر هغه وخته پورې چې ازدواج وکړي، د پلار په غاړه ده(مدني قانون،۱۳۵۵، لومړی

ټوک،ص: ۷۱). که چېرې اولاد ښځینه وي؛ نو د هغې نفقه تر هغه وخت پورې چې نکاح یې نه وي شوی د پلار په ذمه ده او د نکاح څخه وروسته د خاوند ذمې ته انتقالیږي (عبدالله،۱۳۸۹،ص: ۶۵۹). د مدني قانون ۲۵۷ ماده د اسلامي فقهې څخه په پیروی په دې هکله حکم کوي: د بالغ زوی نفقه چې د کسب او کار قدرت نه لري او فقیر وي او همدارنګه د بالغې فقیرې لور نفقه، ترڅو چې واده شي، د پلار په غاړه ده(مدني قانون،۱۳۵۵، لومړی ټوک،ص: ۷۱).

همدارنګه د پلار په متروکه کې د اولاد لپاره د میراث حق هم ثابتېږي. یعنې کله چې شخص وفات شي او د هغې څخه نارینه او ښځینه اولادونه پاتې شي؛ نو د متوفی متروکه د دوی ترمنځ د اسلامي شریعت د حکمونو او لارښوونو مطابق په لاندې ډول وېشل کېږي.

**پایله**

د پورتنی څېړنې څخه دې پایلې ته رسیږو چې نسب یو د هغه پدیدو څخه دی چې شخص ته هویت وربخښي او د دې ترڅنګ د شخص د نسل او شجرې ښکاروندئي کوي. په همدې ترتیب سره د نسب ثبوت د شخص لپاره د ځینو خاصو حقوقو د رامنځته کېدو باعث ګرځي. په داسې حال کې چې د نسب د ثبوت څخه پرته د نوموړو حقوقو تحقق په دې طریقه سره ممکن نه دی. د نسب د ثبوت لپاره په اسلامي فقه او مدني قانون کې سببونه ورته او یو شان دي. په دې معنی چې د نسب د ثبوت لپاره صحیح نکاح او همدارنګه په فاسد نکاح کې د پیشبیني شویو شرایطو په تحقق سره د طفل نسب د مور او پلار سره ثابتېږي. په همدې ترتیب سره د نسب د ثبوت د طریقو او لارو چارو په هکله د اسلامي فقهې او مدني قانون موقف ورته او یو شان دی، چې د هغې لپاره یې هم نکاح، اقرار او بینه د ثبوت د طریقو او وسایلو په عنوان سره پېژندلي دي او ترڅنګ یې د نسب د سببونو او وسایلو د ثبوت څخه وروسته هغه حقوق چې شخص یې تر لاسه کوي د هغې په هکله هم د اسلامي فقهې او مدني قانون موقف ورته او یو شان دی، چې معمولاً نوموړي حقوق او مکلفیتونه د میراث حق، د نفقې د تأمین حق، د حضانت حق، د ولایت حق، د نکاح د حرمت ته شاملېږي. په هغه صورت کې چې د شخص نسب ثابت نه شي؛ نو د پورته ذکر شوو حقوقو څخه نه برخمن کېږي.

**وړاندیزونه**

۱- په اسلامي فقه او مدني قانون کې که څه هم بینه د نسب د ثبوت یوه وسیله ښودل شوې ده. خو د DNA له لارې د نسب د ثبوت په هکله کوم ځانګړي حکمونه په کې نشته که چیرې په دې هکله معاصر علماء تفصیلي څېړنه وکړي، ترڅو د نسب د ثبوت لپاره د معاصرو معایناتو مشروعیت او قانونیت روښانه کړل شي.

۲- د هغو ماشومانو په هکله دې په اسلامي فقه او مدني قانون کې د قانوني او ټولنيزو حقوقو څېړنه ترسره کړل شي، چې د نکاح پرته پيدا شوې دي او بې برخليکه دي.

۳- د اطفالو او اولادونو د نسب د ثبوت د سببونو او مېتودونو په هکله خلکو ته د عامه پوهاوي د پروګرامونو دايرول، ترڅو خلک د نسب اړوند موضوعاتو څخه پوهه ترلاسه او د نسب حقوقي پايلې وپېژني.

## مأخذونه


البخاري، محمد بن إسماعيل.(۱۴۲۲ ه ق). صحيح البخاري. تحقيق: جماعة من العلماء. الطبع الأولى، الجزء ۸. بيروت: السلطانية، بالمطبعة الكبرى الأميرية، ببولاق مصر

الزحيلی، وهبة.(۱۴۰۹ ه ق). الفقه الإسلامي و أدلته. ج ۱۰، دمشق: دارالفکر.

انوری، حسن. (۱۳۸۵ ل ل). فرهنگ فشرده سخن. چاپ دوم، جلد اول، تهران: انتشارات سخن.

انوری، حسن. (۱۳۸۵ ل ل). فرهنگ فشرده سخن. چاپ دوم، جلد دوم، تهران: انتشارات سخن.

د عدليې وزارت. (۱۳۵۵ ل ل) مدني قانون. لومړی ټوک، د رسمي جريدې ۳۵۳ ګڼه.

د عدليې وزارت. (۱۳۶۹ ل ل). د مدني محاکماتو د اصولو قانون. د رسمي جريدې ۷۲۲ ګڼه.

عبدالله، نظام الدين.(۱۳۹۵ ل ل). فرهنگ اصطلاحات حقوقی،کابل: انتشارات سعيد.

عبد الله، نظام الدين. (۱۳۹۱ ل ل). شرح قانون مدنی افغانستان (حقوق اطفال). چاپ سوم، کابل: انتشارات سعيد.

عبدالله، نظام الدين.(۱۳۹۰ ل ل). شرح قانون مدنی افغنستان (حقوق ميراث). چاپ اول، کابل: انشتارات سعيد.

عبد الله، نظام الدين. (۱۳۸۹ ل ل). شرح قانون مدني افغانستان (حقوق فاميل). چاپ دوم، کابل: انتشارات سعيد.

عدالتخواه، عبدالقادر.(۱۳۹۶ ل ل). حقوق فاميل. جلد اول، کابل: انتشارات بين المللی سرور سعادت.

عميد، حسن. (۱۳۸۳ ل ل). فرهنگ عميد، چاپ سي ام، تهران: مؤسسه انتشارات امير کبير.

يو شمېر مؤلفين .(۱۳۸۷ ل ل). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس. کابل: د يو اېس ای ډي په مالي ملاتړ.

# تحلیل دوره‌های برقی با استفاده از معادلات دیفرانسیلی خطی با ضرایب ثابت

پوهنوال احدخان پیاوړی، پوهنتون پولی‌تخنیک کابل، پوهنځی الکترومیخانیک، دیپارتمنت فزیک

ایمیل ادرس: **pyawarai@kpu.edu.af**

**خلاصه**

این مقاله به تحلیل رفتار دوره‌های برقی با استفاده از معادلات دیفرانسیلی خطی با ضرایب ثابت می‌پردازد. این معادلات ابزارهای قدرتمندی برای توصیف رفتار دوره‌هایRC ، RL، LC و RLC هستند و امکان پیش‌بینی دقیق رفتار دوره‌ها تحت شرایط مختلف را فراهم می‌کنند. هدف اصلی، ارائه رویکردی جامع برای تحلیل رفتار زمانی و فریکونسی این دوره‌ها و بررسی تفاوت دوره‌های AC و DC است. با استفاده از قوانین کیرشهوف، معادلات مکسول و روش‌های تحلیلی و ریاضی، رفتار دوره‌ها مودل‌سازی و تحلیل شده است. نتایج نشان داد که در دوره‌های RC جریان به‌صورت نمایی کاهش یافته و چارج خازن به حد نهایی می‌رسد؛ در دوره‌های RLجریان به‌صورت نمایی افزایش یافته و القاگر از تغییرات ناگهانی جریان جلوگیری می‌کند؛ در دوره‌های LCنوسانات ساینی چارج و جریان مشاهده می‌شود و در دوره‌های RLC روابط فاز بین ولتاژ و جریان تأثیر مهمی بر رفتار کلی دوره دارد. معادلات دیفرانسیلی نقش کلیدی در طراحی و بهینه‌سازی سیستم‌های برقی ایفا می‌کنند و این روش‌ها امکان بهبود عملکرد دوره‌ها را فراهم می‌سازند.

**واژه‌های کلیدی:** القاگر، دوره‌های برقی، دوره‌های DC، دوره‌های AC، خازن، مقاومت، معادلات دیفرانسیلی، منبع

**مقدمه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

دوره برقی شامل اجزایی است که در یک مسیر بسته به هم متصل هستند و اجازه می‌دهند جریان برق از منبع تولید (مانند بطری یا جنراتور) به دستگاه‌های (وسایل) مصرف‌کننده (مانند گروپ برق یا موتور) منتقل شود. دوره‌های برقی یکی از اجزای کلیدی تکنالوژی جدید (عصری) هستند که به طور گسترده در صنایع مختلف از جمله الکترونیک، مخابرات و انرژی استفاده می‌شوند. این دوره‌ها غالباً با معادلات دیفرانسیلی خطی توصیف می‌شوند که از قوانین و قواعد اساسی فزیک مانند قانون اوم، قواعد کیرشهوف و قوانین الکترومقناطیس ناشی می‌شوند. تحلیل این معادلات، به طراحان و انجنیران امکان می‌دهد تا رفتار دوره‌های برقی را در شرایط مختلف از جمله تغییرات ناگهانی ولتاژ یا جریان پیش‌بینی کنند. در این مقاله، ابتدا تاریخچه مختصری از معادلات دیفرانسیلی و تاریخچه استفاده از معادلات دیفرانسیلی در تحلیل دوره‌های برقی ارائه می‌شود. سپس روش‌های حل این معادلات و کاربرد آن‌ها در تحلیل دوره‌های برقی بررسی خواهد شد [8].

معادلات دیفرانسیل یکی از افزارهای بنیادی در ریاضیات، فزیک و علوم انجنیری هستند که برای مودل‌سازی پدیده‌های مختلف طبیعی و انجنیری به کار می‌روند. تاریخچه کشف و توسعه معادلات دیفرانسیل شامل تلاش‌های دانش‌مندان مختلف در طول قرن‌ها می‌شود. در ادامه به مراحل کلی آن می‌پردازیم.

در قرن ۱۷ میلادی، **رنه دیکارت** (René Descartes) مفهوم مختصات دیکارتی را معرفی کرد که پایه‌ای برای توصیف حرکت و روابط هندسی بود. در همان دوره، اسحق نیوتن **(**Isaac Newton) با توسعه حساب دیفرانسیل و انتگرال، مفهوم مشتق را برای توصیف تغییرات و روابط بین متغییرها معرفی کرد. دیکارت از معادلات دیفرانسیل برای توصیف حرکت اجسام در میخانیک کلاسیک استفاده کرد و نیوتن از این معادلات برای توضیح قوانین حرکت و جاذبه عمومی خود بهره برد. گوتفرید ویلهلم لایب‌نیتس (Gottfried Wilhelm Leibniz) به طور مستقل از نیوتن، در همان زمان حساب دیفرانسیل و انتگرال را توسعه داد. روش نمادگذاری (سمبول‌گذاری) وی (مانند dy /dxdy/dx ) بود که در ریاضیات جدید نیز استفاده می‌شود. در قرن ۱۸ میلادی دانش‌مندانی مانند لئونارد اویلر (Leonhard Euler) **و** ژوزف لاگرانژ (Joseph-Louis Lagrange) به طور گسترده معادلات دیفرانسیل را توسعه دادند. اویلر معادلات دیفرانسیل مرتبه اول و مرتبه دوم را به شکل ستندرد مطرح کرد و روش‌های عددی حل آن‌ها را گسترش داد. **ل**اگرانژ از معادلات دیفرانسیل در دینامیک و میخانیک تحلیلی استفاده کرد و مفاهیم جدیدی را در این زمینه ارائه داد. در سال ۱۸۲۷ اوم

(Georg Ohm) و هنریچ لینز (Heinrich Lenz) در تحلیل دوره‌های برقی برای بیان روابط جریان، مقاومت، و ولتاژ از معادلات دیفرانسیل استفاده کردند. در سال ۱۸۳۱ میکایل فارادی و تقریباً به طور همزمان جوسیف هنری نشان داد که هرگاه یک سیم نزدیک یک مقناطیس حرکت کند (یا به طور یکسان هنگامی‌که یک مقناطیس نزدیک یک سیم حرکت کند)، یک جریان برقی در سیم ایجاد می‌شود که این کشف اصول القای الکترومقناطیسی اساس تولید برق در جنراتورها است. در سال ۱۸۷۳ میلادی جیمز کلیرک مکسویل (James Clerk Maxwell) از معادلات دیفرانسیل برای توصیف پدیده‌های الکترومقناطیسی استفاده کرد. معادلات مکسویل (که شامل چهار معادله دیفرانسیل قسمی هستند) اساس نظریه الکترومقناطیس را تشکیل دادند. انجنیران برق از روش‌های تحلیلی (مانند تبدیل لاپلاس و فوریه) برای حل معادلات دیفرانسیل در سیستم‌های برقی و سیگنال‌ها بهره بردند. معادلات دیفرانسیل ابتدا توسط دانشمندانی مانند نیوتن و لایب‌نیتس کشف شدند و در قرن‌های بعد توسط ریاضیدانان بزرگی مانند اویلر، لاگرانژ، گاوس، و مکسویل توسعه یافتند. این معادلات در قرن ۱۹ و ۲۰ به یک افزار کلیدی برای تحلیل دوره‌های برقی تبدیل شدند و امروزه بخش جدایی‌ناپذیری از انجنیری برق و الکترونیک هستند (9, 12,14].

**توماس ادیسون (Thomas Edison)** مخترع آمریکایی در اواخر قرن ۱۹ دوره‌های جریان مستقیم (DC) و گروپ‌های برقی را توسعه داد و نیکولا تسلا (Nikola Tesla) مخترع و انجنیر صرب-آمریکایی جریان متناوب (AC) و دوره‌های انتقال برق را توسعه داد و این هر دو نقش مهمی در توسعه سیستم‌های توزیع برق و موتورهای برقی داشتند. بنابراین، در این دوره، جریان مستقیم (DC) و جریان متناوب (AC) به‌طور گسترده مورد بحث قرار گرفت. در سال ۱۹۴۷ اختراع ترانزیستور توسط دانش‌مندان شرکت بل، عصر جدیدی از انجنیری برق را آغاز کرد. در دهه ۱۹۶۰، دوره‌های مجتمع (IC) Integrated Circuits معرفی شدند که امکان ساخت دستگاه‌های (وسایل) کوچک‌تر و پیچیده‌تر را فراهم کردند. امروزه طراحی دوره‌های برقی با استفاده از نرم‌افزارهای پیشرفته انجام می‌شود. دوره‌های پیچیده‌ای که شامل میلیاردها ترانزیستور هستند در دستگاه‌های عصری مانند مبایل، کمپیوترها و ماشین‌های هوشمند وجود دارند [1, 15].

**اهداف**

در مقاله هذا به تحلیل دوره‌های برقی با استفاده از معادلات دیفرانسیلی خطی با ضرایب ثابت می‌پردازیم و اهداف آن به‌طور ذیل می‌باشد :

۱. معرفی معادلات دیفرانسیل خطی و کاربرد آن‌ها در دوره‌های برقی.

۲. بررسی معادلات مکسویل و نقش آن‌ها در برق و مقناطیس.

۳. تحلیل رفتار زمانی دورهای $RLC$ و تعیین روابط چارج، جریان و ولتاژ.

٤. بررسی تفاوت دوره‌های $AC$ و $DC$ با استفاده از مفاهیم فزیکی و ریاضی.

**روش تحقیق**

معادلات خطی با ضرایب ثابت نوع خاصی از معادلات دیفرانسیل هستند که در آن‌ها ضرایب توابع ناشناخته (و مشتقات آن‌ها) مقادیر ثابت هستند و وابسته به متغیر مستقل (مانند زمان یا مکان) نیستند. این معادلات به صورت کلی به شکل زیر نوشته می‌شوند

$$a_n y^{(n)} + a_{n-1} y^{(n-1)} + \cdots + a_1 y' + a_0 y = f(x) \qquad (1)$$

$y^{(n)}$ مشتق مرتبه $n$ از $y$ است. $a_n,\ a_{n-1},\ a_1,\ a_0$ ضرایب ثابت اند. معادله $f(x)$ تابعی از متغیر مستقل $x$ است که به آن عضو غیر متجانس می‌گویند. معادلات خطی با ضرایب ثابت به دو نوع متجانس و غیر متجانس می‌باشند، اگر $f(x) = 0$ باشد، معادله را متجانس می‌نامند و اگر $f(x) \neq 0$ باشد، معادله را غیر متجانس می‌نامند. با استفاده از معادلات دیفرانسیلی می‌توانید تفاوت روش‌های تحلیل دوره‌های برقی $AC$ و $DC$ را توضیح دهیم اما قبل از این چهار معادله مکسویل را که اساس همه قوانین برق و مقناطیس را تشکیل می‌دهد و بر اساس معادلات دیفرانسیلی و به شکل انتگرالی بیان شده اند، شکل دیفرانسیلی آن‌ها را معرفی می‌کنیم: $\nabla \times \vec{E} = -\frac{\partial \vec{B}}{\partial t}$ این قانون فارادی است و یکی از معادلات مکسویل می‌باشد و بیان می‌دارد که تغییر زمانی ساحه مقناطیسی یک ساحه برقی را تولید می کند، $\nabla \times \vec{H} = \vec{J} + \frac{\partial \vec{D}}{\partial t}$ یکی دیگری از معادلات مکسویل است و به‌نام معادله امپیر- مکسویل یاد می‌شود، این رابطه نشان‌دهنده رابطه بین ساحه مقناطیسی، جریان برق و تغییرات ساحه برقی است که در آن $\vec{J}$ کثافت جریان است، $\vec{D}$ کثافت چارج برقی است و به خواص ماده و ساحه برقی مرتبط می‌باشد، $\vec{H}$ شدت ساحه مقناطیسی می‌باشد، معادله دیگری مکسویل عبارت از $\nabla . \vec{D} = \rho_v$ می‌باشد و به‌نام قانون گاوس به‌شکل دیفرانسیلی برای برق نامیده می‌شود و بیان می‌دارد که دیورجنت ساحه تغییر مکان برقی $\vec{D}$ در هر نقطه از فضا مساوی است با کثافت چارج برقی آزاد در آن نقطه و $\rho_v$ کثافت حجمی چارج است $\nabla . \vec{B} = 0$، معادله دیگری مکسویل می‌باشد که در آن $\vec{B}$ وکتور ساحه

مقناطیسی است و بیان می‌دارد که ساحه مقناطیسی هیچ منبع یا چاه (مانند چارج برقی برای ساحه برقی) ندارد و خطوط ساحه همیشه بسته‌اند [7,13].

شکل ۱ یک دوره ساده مسلسل $RC$ را نشان می‌دهد. اگر سویچ در $t=0$ بسته شود، در این صورت چارج شروع به حرکت می‌کند و یک جریان را در دوره تشکیل می‌دهد که درنتیجه خازن شروع به چارج شدن می‌کند.



شکل ۱ یک خازن به‌طور مسلسل با یک مقاومت، سویچ و بطری وصل است. (سویچ بسته شود [1].

نخست سمبول‌های دوره برای خازن، مقاومت، اندکتور و بطری را به‌طور ذیل نشان می‌دهیم:



سمبول سویچ بسته
سمبول سویچ باز
سمبول بطری
سمبول خازن

(سمبول دوره برای مقاومت عبارت از  است)، (سمبول دوره برای اندکتور  است)

برای تحلیل کمی این سرکت، قاعده ولتاژ کیرشهوف را بالای دوره، بعد از بستن سویچ اعمال می‌نماییم. حلقه را هم‌جهت عقربه‌های ساعت دور می‌زنیم، به دست می‌آید

$$\varepsilon - \frac{q}{C} - IR = 0 \qquad (۲)$$

در اینجا $q/_C$ تفاوت پوتانشیل میان دو لوحه‌ی خازن و $IR$ تفاوت پوتانشیل دو سر مقاومت است.

برای تعیین رابطه تحلیلی برای چارج و جریان نظر به زمان باید رابطه (۲) را حل نمود که یک رابطه واحد مشتمل بر دو متغیر $q$ و $I$ است. جریان در همه قسمت‌های یک دوره مسلسل باید یکسان باشد. بنابراین، جریان در مقاومت $R$ باید یکسان به جریان

بین لوحه‌های خازن و سیم‌ها باشد. جریان مساوی است به تغییر چارج فی واحد وقت به روی لوحه‌های خازن.

بنابراین $I = {dq}/{dt}$ را در رابطه (۲) وضع نموده و رابطه را مرتب می‌نماییم ${dq}/{dt} = {\varepsilon}/{R} - {q}/{RC}$

برای پیدا کردن رابطه برای $q$ این رابطه دیفرانسیلی تفکیک‌پذیر را حل می‌کنیم. نخست حدود طرف راست را جمع می‌کنیم ${dq}/{dt} = {C\varepsilon}/{RC} - {q}/{RC} = -{q - C\varepsilon}/{RC}$ اکنون رابطه فوق را در $dt$ ضرب نموده و بالای $(q - C\varepsilon)$ تقسیم می‌نماییم، به دست می‌آید ${dq}/{q - C\varepsilon} = -{1}/{RC}\, dt$ از این رابطه انتگرال می‌گیریم و از این حقیقت که در $t$=0 ، $q$=0 می‌شود، به دست می‌آوریم $\int_0^q \frac{dq}{\partial t(q-C\varepsilon)} = -{1}/{RC}\int_0^t dt$ بعد از انتگرال‌گیری و از تعریف لوگاریتم طبیعی، می‌توانیم رابطه چارج به تابع زمان برای یک خازن در حال چارج شدن را، چنین به‌دست آوریم

$$q(t) = C\varepsilon\left(1 - e^{\frac{-t}{RC}}\right) = Q\left(1 - e^{\frac{-t}{RC}}\right) \quad (۳)$$

می‌توانیم یک رابطه را برای جریان چارج به تابع زمان با مشتق‌گیری از رابطه (3) نسبت به زمان به‌دست آوریم.

$$I(t) = \frac{\varepsilon}{R}e^{\frac{-t}{RC}} \quad (4)$$




شکل 2 (الف) گراف چارج خازن به تابع زمان برای دوره که در شکل ۱ نشان داده‌شده است. (ب) همچنین گراف جریان به تابع زمان برای دوره که در شکل ۱ نشان داده‌شده است [1].

گراف چارج خازن و جریان دوره به تابع زمان در شکل ۱ نشان داده‌شده‌اند. به خاطر داشته باشید که چارج در $t$=0 صفر بوده و در $t \longrightarrow \infty$ به قیمت اعظمی $C\varepsilon$ می‌رسد. جریان در زمان $t$=0 دارای قیمت اعظمی آن $I_0 = \epsilon/R$ بوده و در $t \longrightarrow \infty$ به‌طور نمایی به صفر کاهش می‌یابد. کمیت $RC$ که در نمایی روابط (۳) و (۴) ظاهرشده است، به نام ثابت وقت $\tau$ دوره یاد می‌شود. این انتروال زمانی را نشان می‌دهد که در مدت آن جریان به 1/e

قیمت اولیه آن کاهش می‌یابد، یعنی در انترول زمانی $\tau$، $I=e^{-1}I_0=0.368I_0$ است. در انترول زمانی $2\tau$، $I=e^{-2}I_0=0.135I_0$ بوده و الی‌آخر. به‌طور مشابه، در انترول زمانی $\tau$، چارج از صفر به $C\varepsilon\left(1-e^{-1}\right)=0.632C\varepsilon$ افزایش می‌یابد [2،10،3].

اگر یک دوره دارای یک کوایل نظیر یک سولینویید باشد، خودالقایی یک کوایل از افزایش یا کاهش لحظوی جریان در دوره جلوگیری می کند. یک عنصر دوره که دارای خودالقایی بزرگ باشد، به نام القاگر (اندکتور) یاد می‌شود.

دوره‌ای را که در شکل ۳ نشان داده‌شده است، مشتمل به یک بطری می‌باشد که مقاومت داخلی آن قابل صرف‌نظر است، در نظرگیرید. این عبارت از دوره $RL$ است زیرا عناصر که به بطری وصل‌اند، عبارت از مقاومت و القاگر می‌باشند. فرض کنید که سویچ $S$ در $t<0$ باز و در $t=0$ بسته می‌شود. جریان در دوره شروع به افزایش می کند و یک قوه محرکه برقی عقبی که مخالف افزایش جریان است، در القاگر تولید می‌شود.

با در نظر داشت این، می‌توانیم قاعده حلقه کیرشهوف را بالای این دوره اعمال نماییم، دوره را هم‌جهت عقربه‌های ساعت دور می‌زنیم:

$$\varepsilon - IR - L\frac{dI}{dt} = 0 \qquad (۵)$$




شکل ۳ دوره مسلسل $RL$. هرگاه جریان به قیمت اعظمی آن افزایش یابد، رفتار القاگر مثل یک سیم هادی می گردد[1].

در اینجا $IR$ عبارت از سقوط پوتانشیل در انجام‌های مقاومت است. حل ریاضی رابطه دیفرانسیلی (5) جریان به تابع زمان را به دست می‌دهد. برای انجام حل، متغییرها را عوض می‌نماییم و بعد از طی مراحل الجبری رابطه ذیل به‌دست می‌آید

$$I=\frac{\varepsilon}{R}\left(1-e^{-\frac{t}{\tau}}\right) \qquad (6)$$

در اینجا $\tau$ عبارت از ثابت وقت در دوره $RL$ است و $\tau = \frac{L}{R}$ می‌باشد.

هرگاه یک خازن به یک القاگر همان‌طور که در شکل ۴ نشان داده‌شده است، وصل شود، این ترکیب به نام دوره $LC$ یاد می‌شود. اگر خازن در ابتدا چارج‌دار باشد و سپس سویچ بسته شود، دریافت می‌شود که جریان در دوره و چارج در خازن بین مقدارهای مثبت و منفی اعظمی نوسان می‌کند. اگر مقاومت دوره صفر باشد، هیچ انرژی به انرژی داخلی تبـدیل نمی‌شود و انرژی برقی خارن به‌ترتیب به انرژی مقناطیسی القاگر تبدیل می‌شود اما مجموعه هر دو انرژی باید مساوی به انرژی اولیه کلی $U$ که در $t=0$ در خازن پر از چارج در دوره $LC$ ذخیره‌شده، باشد. از مجموعه این دو انرژی رابطه دیفرانسیلی ذیل به‌دست می آید

$$\frac{d^2Q}{dt^2} = -\frac{1}{LC}Q \qquad (۷)$$

رابطه فوق را برای $Q$ با در نظر داشت این حل می‌کنیم که این رابطه دارای شکل مشابه معادلات برای سیستم قطعه – فنر است:

$\frac{d^2x}{dt^2} = -\frac{k}{m}x = -\omega^2 x$ در اینجا $k$ ثابت فنر، $m$ عبارت از کتله قطعه است و $\omega = \sqrt{k/m}$ است. حل این رابطه عبارت از $x = A\cos(\omega t + \phi)$ است. در اینجا $\omega$ عبارت از فریکونسی زاویوی حرکت هارمونیک ساده است، $A$ عبارت از دامنه حرکت (قیمت اعظمی $x$ است) و $\phi$ عبارت از ثابت فاز است. طوری‌که رابطه (۷) دارای عین شکل رابطه دیفرانسیلی نوسانگر هارمونیک ساده است، دیده می‌شود که این رابطه دارای حل ذیل است [6,11,4].




شکل ۴ دوره ساده $LC$ خازن دارای چارج اولیه $Q_{max}$ می‌باشد و در $t < 0$ سویچ باز بوده و سپس در $t = 0$ بسته می‌شود [2].

$$Q = Q_{max}\cos(\omega t + \phi) \qquad (۸)$$

در اینجا $Q_{max}$ عبارت از چارج اعظمی خازن است و $\omega$ عبارت از فریکونسی زاویوی در دوره $LC$ است و قیمت آن $\omega = \frac{1}{\sqrt{LC}}$ است.

فریکونسی زاویوی نوسان وابسته به اندوکتانس و خازن دوره است. این عبارت از فریکونسی طبیعی نوسان سرکت $LC$ است.

طوری‌که $Q$ به‌طور ساینی نسبت به زمان تغییر می‌کند، جریان در دوره نیز به‌طور ساینی تغییر می‌کند. به‌آسانی نشان داده می‌توانیم که با مشتق‌گیری رابطه (۸) نظر به زمان، جریان به دست می‌آید:

$$I = \frac{dQ}{dt} = -\omega Q_{max} sin(\omega t + \phi) = -I_{max} sin(\omega t + \phi) \quad (۹)$$

گراف‌های $Q$ به تابع $t$ و $I$ به تابع $t$ در شکل ۵ نشان داده‌شده است. چارج در خازن بین قیمت‌های اعظمی $Q_{max}$ و $-Q_{max}$ و جریان $I_{max}$ و $-I_{max}$ نوسان می‌کنند. علاوه بر این، جریان با چارج $90°$ تفاوت فاز دارد. یعنی، هرگاه چارج اعظمی باشد، جریان صفر است و هرگاه چارج صفر باشد، جریان دارای قیمت اعظمی خود می‌باشد.




**شکل 5 گراف چارج به تابع زمان و جریان به تابع زمان** برای یک سرکت $LC$ بدون مقاومت و بدون تشعشع الکترومقناطیسی. $Q$ و $I$ باهم دیگر $90°$ تفاوت فاز دارند [2] .

شکل ٦ (الف) نشان می‌دهد که یک دوره مشتمل بر یک مقاومت، یک القاگر و خازن می‌باشد که به‌طور مسلسل به یک منبع ولتاژ متناوب وصل‌اند. کما فی سابق، فرض می‌نماییم که ولتاژ اعمال‌شده، به‌طور ساینی نظر به زمان تغییر می‌کند. بهتر است، بگوییم که ولتاژ لحظوی اعمال‌شده، توسط رابطه $\Delta v = \Delta V_{max} sin\omega t$ داده می‌شود و هرگاه جریان نظر به زمان تغییر کند، از رابطه

$i = I_{max}sin(\omega t - \phi)$ به‌دست می‌آید چنانچه در آن $\phi$ عبارت از زاویه فاز بین جریان و ولتاژ اعمال‌شده است. جریان به‌صورت عمومی با ولتاژ در سرکت $RLC$ هم‌فاز نیست. هدف ما از معین کردن $\phi$ و $I_{max}$ است. شکل ٦ (ب) ولتاژ به تابع زمان را در هر عنصر دوره و روابط آن‌ها را نشان می‌دهد [5,8].

چنانچه عناصر مسلسل‌اند، جریان در همه سرکت در هرلحظه یکسان است. جریان در همه نقاط یک سرکت $AC$ مسلسل یکسان است. یعنی جریان در همه نقاط یک سرکت $AC$ مسلسل دارای دامنه و فاز یکسان است. ولتاژ در امتداد هر عنصر دارای دامنه و فاز متفاوت است. به‌طور خاص، ولتاژ در دو سر مقاومت با جریان هم‌فاز است، ولتاژ در دو سر القاگر با زاویه $90°$ جلو است و ولتاژ در دو سر خازن با زاویه $90°$ از جریان تأخیر دارد. از این روابط فاز استفاده نموده، می‌توانیم ولتاژ لحظوی در امتداد هر سه عنصر به دست می‌آوریم:

$\Delta v_R = -I_{max}Rsin\omega t = \Delta V_R sin\omega t$ ،

$\Delta v_L = -I_{max}X_L sin\left(\omega t + \frac{\pi}{2}\right) = \Delta V_L cos\omega t$ و $\Delta v_C = -I_{max}X_C sin\left(\omega t - \frac{\pi}{2}\right) = -\Delta V_C cos\omega t$ در اینجا $\Delta V_R$ ،$\Delta V_L$ و $\Delta V_C$ مقادیر اعظمی ولتاژ در دو سر عناصر است. بنابراین، ولتاژ لحظوی $\Delta v$ در امتداد هر عنصر مساوی است به مجموعه ولتاژها در امتداد انجام‌های هر سه عنصر: $\Delta v = \Delta V_R + \Delta V_L + \Delta V_C$ می‌باشد

$$\Delta v = \Delta v_R + \Delta v_L + \Delta v_C$$







**شکل ٦ دوره مسلسل** $RLC$ **(الف) دوره مسلسل شامل بر یک مقاومت، یک القاگر و یک خازن** می‌باشد که به یک منبع $AC$ وصل است. (ب) روابط فاز برای ولتاژهای لحظوی در یک دوره مسلسل $RLC$.[3]

**نتیجه‌گیری**

معادلات دیفرانسیلی خطی با ضرایب ثابت ابزار قدرت‌مندی برای تحلیل رفتار زمانی دوره‌های برقی هستند. نتایج نشان داد که در دوره‌های $RC$ ، چارج خازن به‌صورت نمایی افزایش می‌یابد و جریان به صفر میل می‌کند. در دوره‌های $RL$ ، جریان به‌صورت نمایی رشد کرده و القاگر نقش مهمی در جلوگیری از تغییر ناگهانی جریان ایفا می‌کند. در دوره‌های $LC$ ، نوسانات ساینی چارج و جریان مشاهده می‌شود که شباهت زیادی به سیستم‌های نوسانی میخانیکی دارد. در نهایت، دوره‌های $RLC$ متناوب نشان دادند که روابط فاز بین ولتاژ و جریان تأثیر مهمی بر رفتار کلی دوره دارند.

**پیشنهادات**

به استاید و محققین پیشنهاد می‌شود که در زمینه تحقیقات ذیل را انجام دهند

۱. دوره‌های پیچیده‌تر با اتصال عناصر به‌طور موازی تحلیل و گسترش داده شوند.

۲. دوره‌های موازی با استفاده از روش‌های عددی برای حل معادلات دیفرانسیلی تحلیل شوند.

۳. تاثیر تغییر فریکونسی منبع $AC$ بر رفتار دوره‌های $RLC$ بررسی شود.

٤. دوره‌ها برای اعتبارسنجی نتایج تحلیلی به‌طور تجربی بررسی شوند.

٥. به عوض روش تحلیلی، مجموعه را توسط بررسی دیاگرام فازور به‌دست آورید.

٦. معادله دیفرانسیل دوره مسلسل $RLC$ را با استفاده از نرم‌افزار MATLAB ، به هر سه روش (تحلیلی، عددی و لاپلاسی) حل نموده و نتایج را برای پاسخ زمانی $i(t)$ مقایسه کنید.

**مأخذونه**

1. C. K. Alexander and M. N. O. Sadiku, *Fundamentals of Electric Circuits*, 6th ed. New York, NY, USA: McGraw-Hill Education,p. 345 2017.
2. G. B. Arfken, H. J. Weber, and F. E. Harris, *Mathematical Methods for Physicists: A Comprehensive Guide*, 7th ed. Amsterdam, Netherlands: Elsevier Academic Press, p. 535 2012.

3. K. Attay, *Electromagnetic Theory*. New York, NY, USA: Oxford University Press, p. 150, 2000.
4. J. V. Bladed, *Electromagnetic Fields*, 2nd ed. Hoboken, NJ, USA: John Wiley & Sons, p.200, 2007.
5. T. Bo, *Electromagnetic Field Theory*. Uppsala, Sweden: Uppsala University, p.200, 2001.
6. S. D. Bosanac, *Electromagnetic Interactions*. Berlin, Germany: Springer-Verlag, p.200, 2016.
7. U. S. Inan, A. S. Inan, and R. Said, *Engineering Electromagnetics and Waves*, 2nd ed. Boston, MA, USA: Pearson, pp.314-318 2016.
8. A. H. Robbins and W. C. Miller, *Circuit Analysis: Theory and Practice*, 5th ed. Clifton Park, NY, USA: Delmar Cengage Learning pp.753-757, 2013.
9. R. A. Serway and J. W. Jewett, *Physics for Scientists and Engineers with Modern Physics*, 10th ed. Boston, MA, USA: Cengage Learning, pp. 972-984, 2018.
10. J. Walker, D. Halliday, and R. Resnick, *Fundamentals of Physics*, 10th ed. Hoboken, NJ, USA: Wiley p. 949, 2014.
11. H. D. Young and R. A. Freedman, *University Physics with Modern Physics*, 13th ed. Boston, MA, USA: Pearson pp. 869-882, 2012.
12. S. Pinelas and S. Saitoh, "Division by zero calculus and differential equations," in *Proc. Int. Conf. Differential & Difference Equations and Applications*, Cham: Springer International Publishing, p. 300, 2017.
13. T. George B. Thomas, M. D. Weir, and J. Hass, *Thomas' Calculus: Multivariable*, 12th ed. Boston, MA: Pearson,pp.534-536, 2010.
14. Archibald, T., C. Fraser, and I. Grattan-Guinness, "The history of differential equations, 1670–1950," *Oberwolfach Reports*, vol. 1, no. 4, pp. 2729–2794, 2005.
15. M. Leone, "History of physics as a tool to detect the conceptual difficulties experienced by students: the case of simple electric circuits in primary education," *Science & Education*, vol. 23, pp. 923–953, 2014.

# د خوړو پر سالمیت د اقلیمي بدلون اغېزې

پوهندوی محمد حنیف هاشمي، شیخ زاید پوهنتون، کرنې پوهنځی، اګرانومي څانګه.

برېښنالیک: mohammadhanif1984@yahoo.com

**لنډیز**

اقلیمي بدلون یوه چاپېریالي ستونزه او د بشر د کړنو زېږنده ده؛ پولې، سیاست او ټولنیز جوړښتونه نه پېژني. انساني فعالیتونه د دې سبب کېږي چې په اقلیم کې تغیرات راشي او نړۍ له ناوړه تاثیراتو څخه په مختلفو بڼو اغېزمنه کړي. صنعتي کارخانې هوا ته شین کوریزه غازونه اخراجوي او په پایله کې د یادو غازونو تجمع د نړیوالې تودوخې سره مرسته کوي او ځینې غازونه د اوزون پرده نرۍ کوي، په مخنیوي کې یې باید رغنده چارې تر سره شي. په یادې مقالې کې د کتابتوني مېتود څخه استفاده شوې ده. په نړیواله توګه، تودوخه زیاتیږي او د اورښت په بڼو او وختونو کې تغیرات رامنځته کېږي. یاد تغیرات د خوړو پر سالمیت ناوړه ااغېزه کوي. کرنیز آفتونه او رنځونه زیاتیږي؛ سیلابونه ولاړ کښتونه او څاروي له منځه وړي؛ وچکالي او جبه‌کېدنه نباتات وچوي او د کرنیزو تولیداتو د کموالي باعث کېږي. اقلیمي بدلون، نه یوازې په نباتاتو ناوړه ااغېزه کوي؛ بلکې په ټول ایکوسیستم خپل ناوړه ااغېزه شیندي. اقلیمي بدلون د خوړو د کموالي تر څنګ، د خوړو پر خوندیتوب هم اغېز کوي. زموږ هېواد هم د اقلیمي بدلون څخه زیات اغېزمن شوی دی. له وچکالۍ، سیلابونو، بادونو، کرنیزو آفتونو له زیاتوالي او له داسې نورو څخه کال په کال ځپل کېږي او د نړۍ له زیان منوونکو هېوادونو له ډلې شمېرل کېږي. د انرژۍ د بدیلو او پاکو سرچېنو کارونه، د ځنګلونو پر بیا رغونې او پراختیا، د څړځایونو پر تنظیم او ادارې، د اوبو پر مدیریت او داسې نورو اړینو ګامونو په پورته کولو سره د اقلیمي تغیر د ناوړه پیښو مخه تر یو حده نیول کیدلی شي.

**کلیدي کلمې:** اقلیمي بدلون، تودوخه، د خوړو سالمیت، رنځونه، سیلابونه او وچکالي

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

اوس مهال، اقلیمي بدلون د نړۍ له پاره یوه تر ټولو لویه ننګوونکي ستونزه ده. اقلیمي بدلون په دې ډول راپېژندل کېږي چې په موسمي عناصرو، لکه: اورښت او تودوخې په منځنیو ارقامو کې د پام وړ بدلونونه چې په یوې جغرافیوي سیمې کې د اوږدې مودې له پاره ثبت شوي وي. د اقلیمي تغیر پر وړاندې کرنه تر ټولو حساسه برخه ده او د موسمي پارامېترونو پر وړاندې په لویه پیمانه حساسیت ښیي، په پایله کې د لویو اقتصادي اغېزو د رامنځته کېدو سبب جوړېږي. په اقلیمي پېښو، لکه: تودوخې او اورښت کې تغیرات پر نباتي تولید د پام وړ اغېز شیندي. سربېره پر دې، آفتونه او نباتي رنځونه په لندو او ګرمو سیمو کې په زیاته پیمانه رامنځته کېږي. نور پارامېترونه، لکه: نسبتي لندبل، د باد چټکتیا، تودوخه او اورښت هم پر نباتي تولید اغېز کوي [۱]. په ټولیزه توګه، د اقلیمي بدلون اغېزې خورا ډېرې پراخې دي؛ خو اوس په کرنیزې برخې کې یې اغېزې په ښکاره ډول د لیدو وړ دي چې د خوړو پر تولید او د نړۍ پر اقتصادي ودې پورې انحصار پیداکوي [۲].

اقلیمي بدلون پر کرنیزو تولیداتو مستقیم او غیرمستقیم اغېز لري. په مستقیمو اغېزو کې یې، د تودوخې اندازه او د اورښت وېش او د هغوی په فزیکي ځانګړتیاوو کې تغیرات شامل دي چې پر خاصو کرنیزو تولیدي سیستمونو اغېز کوي. د اقلیمي تغیر غیرمستقیمې اغیزې پر ګردې‌شیندونکو، آفتونو، رنځ‌راوړنکو او یرغلیزو نوعو لري چې نورې نوعې اغېزمنوي. اقلیمي بدلون د ځښلو اوبو کیفیت خرابوي چې د غذایي عناصرو په جذب کې کلیدي رول لري. همدارنګه، د خوړو خوندیتوب (Food safety) په ځانګړې توګه، له خوړو څخه راپیداکېدونکو رنځونو له امله هم اغېزمن کېږي چې بېلابېلې ناروغۍ ور څخه پیداکېږي [۳].

په نړیواله توګه، کرنه له مهمو سکتورونو څخه یوه ده. اقلیمي بدلون پر کرنیزو ایکو سیستمونو، ژور اغېز لري. اقلیمي تغیر د خوړو پر سالمیت (Food security)، انساني روغتیا او چاپېریال ته جدي ګواښ پېښوي. په نړۍ کې د کلنیو ټولو کرنیزو تولیداتو ضایعات د خراب موسم او اقلیمي تغیر لکه: وچکالۍ، سیلابونو، بې وخته بارانونو، یخوهنې، ږلۍ اورېدنې او د سختو توپانونو له کبله تکراري او پراخېدو په حال کې دي. د طبیعي پېښو او ناورینونو عامې اغېزې د کرنې په شمول په ایکوسیستمونو کې تغیرات، د اوبیزو کتلو ککړتیا، د کرنیزو تولیداتو او څارویو ضایعات، د امراضو پر وړاندې حساسیت، د اوبخور سیستمونو او نورو کرنیزو بېخبناوو ویجاړتیا او داسې نورې ګڼل کېږي [۴]. د خوړو سالمیت پر وړاندې د اقلیمي تغیر خطر د نباتاتو، حیواناتو او کبانو په شمول، د خوړو سیستمونو ماتونې ته راجع کېږي. سربېره پردې، د خوړو په وېش کې

ګډوډي رامنځته کوي؛ نړیوالې تودوخې، وچکالۍ، سیلابونو او د اورښت له تغیراتو او شدت سره اړیکه لري. په ځانګړې توګه، هغه نفوس چې د خوړو د غیر سالمیت پر وړاندې له پخوا څخه حساس وي او لږ عاید لري؛ په کمه اندازه مغذي خوړو ته لاسرسی لري؛ په ټولنیز ډول د محرومیت یا نورو لاملونو سره مخامخ وي؛ د اقلیمي تغیر له خطرونو څخه کړاو زغمي [۵].

د خپلو وګړو تغذیه کول، د هرې ټولنې یوه له مهمو ننګونو څخه ګڼل کېږي چې په یو شکل نه په یو شکل ټولنه ور سره مخامخ وي. هغه خواړه چې خلک یې تر لاسه کوي؛ باید روغ، مغذي او داسې تولید شوي وي چې چاپېریال یې اغېزمن کړی نه وي. د یادې اړتیا درک کول، د ټولنې یوه لویه دنده ده. لوږه، خوارځواکي او ناروغۍ چې په خوړو پورې تړاو پیداکوي، له هغو لویو ننګونو څخه دي چې د نړۍ بېلابېل هیوادونه یې د ستونزو سره مخامخ کړي دي [٦]. په اوس مهال، نړیواله لوږه په زیاتېدو او داسې ښکاري چې د یوې لسیزې وړاندې حالتونو ته بېرته په ورګرځېدو ده. اقلیمي بدلون د یادې لوږې تر شا یو کلیدي لامل دی او د خوراکي توکو د کمښت د شدیدو ناورینونو لامل کېږي. کله چې نفوس دوه چنده کېږي او د ځمکې استعمال تغیر کوي؛ نو د راتلونکو اقلیمي تغیراتو وړاندوېینه دا په ډاګه کوي چې د خوړو پر نړیوال سالمیت به ژور اغېز پرېباسي [۷]. اقلیمی بدلون د نباتاتو په غذایي ارزښت اغېز کوي او په دانو کې د منرالونو اندازه کموي. په هوا کې د کاربن په زیاتوالي سره د نباتاتو خوړونکو برخو کې د پروټینونو، جستو، اوسپنې اندازه د ۳ – ۷٪ پورې کمېږي [۸]. په خوړو کې د یادو برخو کمښت خوارځواکي، د ماشومانو د ټیټ قد پاتې کېدل، د وینې کموالی او داسې نورې ورته ستونزې رامنځته کوي. په اوسني وخت کې نږدې ۸۲۱ مېلیونه وګړي د خوړو له کموالي سره مخامخ دي، تقریباً ۱۵۱ مېلیونه ماشومان چې عمرونه یې له پنځو کلونو څخه ټیټ دي، ټیټ قد لري، لږ او ډېر ٦۱۳ مېلیونه ښځې چې د ۱۵ – ۴۹ کلونو پورې عمر لري، د اوسپنې له کمښت سره مخامخ دي او کابو ۲ مېلیارده لویان د زیات وزن او چاغوالي سره لاس او ګرېوان دي [۹].

په پرله‌پسې ډول، د وچکالۍ سخت حالتونه د اقلیمي بدلون له کبله رامنځته کېږي. د نباتاتو تولیدي وړتیاوې خرابوي؛ ځکه وچکالي په خاورې کې غذایي عناصر بې حرکته کوي او د مالګو د راټولېدو سبب کېږي؛ خاوره غیر صحي، مالګینه او په پایله کې غیر حاصلخیزه ګرځوي [۲]. شدید اورښتونه په ټیټو او هوارو سیمو کې ښایي د سیلابونو باعث شي؛ د دې تر څنګ، د اوبو راټولېدو سره مرسته کوي چې نباتي تولید په کمولو یا له منځه وړلو کې ونډه اخلي [۱۰]. د سمندر د سطحې پورته کېدل یا تکراري درانه بارانونه، په ساحلي سیمو کې کرنیزې ځمکې کموي؛ ځکه چې په ساحلي سیمو کې خاورې مالګینې کوي او مالګې د نباتاتو

د ودې پر وړاندې فشارونه رامنځته کوي، لکه: په نباتاتو کې تنفس، ضيايي ترکيب او تبخير کمېږي او په پایله کې د خوړو توليدي وړتيا او د خوړو سالميت په داسې سيمو کې له خطر سره مواجه کېږي [۲].

**موخې**

پر کرنې د اقليمي بدلون ناوړو اغېزو څېړنه او پايله

پر کرنې د اقليمي بدلون ناوړه تاثيراتو څخه د وګړو خبراوی

د خوړو کمښت او د راتلونکو ستونزو مخنيوی

**د کار مواد او کړنلاره**

ياده مقاله کتابتوني بڼه لري او په ليکلو کې يې د نړۍ له غوره کتابونو، مجلو، مقالو، ژورنالونو، راپورونو او داسې نورو ورته علمي سرچينو څخه ګټه اخيستل شوې ده.

**د خوړو د سالميت بنسټونه او پر هغوی د اقليمي بدلون اغېزې**

کرنه په نړۍ کې د بشري ژوند له پاره د ملا تير حيثيت لري. کرنه او پر هغې پورې تړلي فعاليتونه په لوړه اندازه په اقليم پورې تړلي دي. په اقليمي پارامېترونو کې تغير، ښايي په نړۍ کې د خوړو پر سالميت، شديد ډول اغېز ولري. ډېر لاملونه به په راتلونکي لسيزو کې د خوړو سالميت ته نړيواله بڼه ورکړي. په يادو لاملونو کې د نفوسو په وده کې تغير، کرنيزه توليدي وړتيا، د عايداتو وده او وېش، د غذا غوره‌والی او د ناروغيو پېښېدل، شامل دي. د نورو مقاصدو، لکه: د بيو انرژي توليد، د کاربن نصبېدل او ښاري پراختيا له پاره به د ځمکې او اوبيزو سرچينو اړتيا زياته شي. کرنيز فعاليتونه به په لوړه اندازه د موسم او اقليمي حالاتو په وسيله اغېزمن شي [۱۱]. د خوړو سيستم د غير اقليمي (نفوس، عايد، حيواني محصولاتو ته د وګړو تقاضا) او اقليمي فشارونو سره مخامخ دی. ياد اقليمي او غير اقليمي فشارونه د خوړو سالميت پر څلورو ستنو (د خوړو شتوالی، خوړو ته لاسرسی، له خوړو څخه ګټه اخيستنه او د خوړو ثبات) اغېز کوي [۹]. د خوړو پر سالميت درې اساسي لاملونه لکه: انسان، اقليم او ځمکه اغېز کوي [۱۳]. د يادو دريو لاملونو تر څنګ ځينې نور لاملونه هم اغېز لري چې په (۱ انځور) کې ښودل کېږي.

**د خوړو توليد:** د اقليمي حالاتو د بدلونونو له امله د ځينو بنسټيزو نباتاتو توليد اغېزمن شوی او راتلونکی اقليمي تغير ياد ګواښونه لا زياتوي. لوړه تودوخه پر حاصل اغېز کوي. حال دا چې، په اورښتونو کې تغيرات د نباتي توليد کيفيت او کميت دواړه اغېزمنوي [۱۴]. د ځينو سيمو للمي ځمکې د اورښتونو د تغير له امله اغيزمنېږي او د کرنيزو نباتاتو له پاره د خاورې مناسبوالي هم اغېزمنوي [۱۱]. د وچکالۍ تکرار او شدت، د

لندو اقلیمي حالاتو دورانونه، د تودوخې ټیټوالی او جګوالی، ټول په اقلیمي تغیر پورې تړاو لري. په موجوده وخت کې اقلیمي بدلون پر نباتي تولید او د نباتي تولید په راټولوونکو فعالیتونو اغېز کوي. نباتي تولیدات په غیر مستقیم ډول د نورو بیولوژیکي سیستمونو، لکه: هرزه‌وښو، حشراتو او رنځونو له کبله هم اغېزمنېږي. اقلیمي تغیر په یادو سیستمونو اغېز کوي او په پایله کې د خوړو سالمیت ته د کیفیت او کمیت له مخې ګواښ پېښوي [۱۵]. په موسم او اقلیم کې زیات تغیرات د نباتي تولیداتو د کموالي له کبله د خوړو پر سالمیت منفي ااغېزه کوي. اوسنیو څېړنو دا په ډاګه کړې، چې د څلورو نباتاتو، لکه: جوارو، سایبینو، شولو او پسرلني غنمو په تولید کې ۱۸-۴۳٪ پورې نباتي فصل ته په کتو، د تودوخې او اوربښت د شدت له امله کموالی لیدل کېږي [۱٦]. اقلیمي تغیر د کلیوالي ژوند پر بنسټونو ناوړه ااغېزه لري چې له امله یې د اوبو شتوالی کمېږي؛ خاوره تخریب کېږي؛ کرنیزې ځمکې په صحرا بدلېږي؛ په ساحلي کرنیزو ځمکو کې د مالګو راټولېدنه رامنځته کېږي؛ وچکالي، سیلابونه او وحشي اورونه پراختیا پیداکوي. نباتي آفتونه او رنځونه زیاتېږي، په پایله کې کرنیزو تولیداتو اندازه کمېږي. د بې وزلو او شتمنو ترمنځ د غیرمساوات ناوړه حالت رامنځته کېږي. اقلیمي تغیر د څارویو پر روغتیا او تولیدي وړتیا ااغېزه کوي. همدارنګه د کبانو په عرضه کولو هم منفي ااغېزه کوي [۱۷].




۱ انځور: د خوړو پرسالمیت اغېز لرونکي لاملونه ښیي [۱۲].

**خوړو ته لاسرسی:** اقلیمي تغیر کولی شي چې د نړۍ په ځینو سیمو کې د لویو نباتي تولیداتو بیې لوړې او په مناسب ډول د توکو پر اخېستلو تاثیر وکړي. زیات حساس هغه وګړي دي چې له کرنیزو توکو څخه لږ تولید تر لاسه کوي او کم عاید لري. په داسې حالاتو کې، غریب وګړي د خپل عاید زیاتره برخه په خوړو اخېستلو لګوي. همدارنګه، که هغوی اضافي عایدات او نورې پانګې ولري، هغوی د خپلو غذایي اړتیاوو د

پوره کولو په خاطر هم مصرفوي [۱۴]. هر کال **۳۳**٪ تولید شوي خواړه له مصرف څخه پرته ضایع کېږي او خوړو ته په لاسرسي باندې اغېز کوي. د خوړو ضایعات پیسې مصرفوي، د یادو توکو د ضایعاتو کموالی، د هېواد او کورنیو په سطحه د پیسو په سپما کې ونډه اخلي او غربت ور سره کمیږي [۱۸]. د اقلیمي تغیر اغېزې، د هغو وګړو په ژوند چې پر کرنې، مالدارۍ، ځنګلونو او کب‌نیونې او روزنې پورې انحصار لري، خوړو ته یې لاسرسی کمېږي. په کلیوالي سیمو کې غربت رامنځته کېږي. د ښاري نفوس د ژوندانه توکي، هغه مهال زیان مومي چې د موسم له ناوړه شرایطو، ساحلي تخریباتو او سیلابونو سره مخامخ شي؛ په پایله کې خوړو ته یې لاسرسی کمېږي. د څښلو اوبه کمېدلی شي، د خوراکي توکو نرخونه پورته ځي. دا کېدلی شي چې کورنۍ او بهرنۍ شخړې رامنځته کړي چې بازار ته په لاسرسي کې خنډ رامنځته کوي [۱۷].

**له خوړو څخه ګټه اخېستنه:** د اقلیم اړوند خطرونه، د کالورۍ اخېستنه هم اغېزمنوي. په ځانګړې توګه، په هغو سیمو کې چې مزمن غذایي سالمیت لا له وړاندې د مهمې ستونزې په توګه موجود وي. اقلیمي تغیرات کولی شي چې د مرضونو او لوړې خطرناک دورانونه رامنځته کړي. هغه تغذیه چې د اقلیمي تغیر له امله اغېزمنېږي، د خوړو پر سالمیت، د خوړو پر تنوع، څارنې پر فعالیتونو او روغتیا ااغېزه کوي [۱۴]. اقلیمي تغیر د خوړو پر تولید او ګټه اخېستنې هم ااغېزه کوي چې د ځینو لاملونو، لکه: د تودوخې شدت، ناروغۍ، خوارځواکي او د روغتیا ساتنې ناوړه شرایطو له امله کمزورې کېږي. د عامه روغتیایي خدمتونو د کموالي له امله رنځونه زیاتېږي. ځینې ناروغۍ، لکه: کولرا، ملاریا، نس ناستی او داسې نورې د وبا شکل غوره کوي چې له خوړو او اوبو څخه رامنځته کېږي [۱۷].

**د خوړو ثبات:** د خوړو ثبات هغه حالت ته ویل کېږي چې په باقاعده توګه خواړه موجود وي، د یاد حالت بدلون د ناوړه موسمي پېښو، لکه: وچکالۍ، سیلابونو، ځمکښویېدنې، ځنګلي اورونو او سمندري توپانونو په وسیله اغېزمن کېږي [۱۹]. اقلیمي تغیرات چې بار بار او شدیدې موسمي پېښې رامنځته کوي، د افرادو ثبات او دولتي د خوړو سالمیت ستراتیژۍ زیانمنولی شي، د خوړو تولید، خوړو ته لاسرسی او له خوړو څخه ګټه اخېستنه ځپځپانده او ټکنی کوي [۱۴]. د نړۍ په زیاتره برخو کې اقلیمي تغیرات، نباتي تولید تر ۶۰٪ پورې تغیرولی شي او د خوړو د بې ثباتۍ یو له مهمو لاملونو څخه ګڼل کېږي [۲۰].

### اقلیمي بدلون او د خوړو سالمیت

د خوړو تولید پر وړاندې لوی خنډ اقلیمي تغیر دی، په پایله کې د خوړو پر موجودیت، خوړو ته پر لاسرسي، له خوړو څخه پر ګټې اخېستنې او د خوړو ثبات په شمول، د خوړو پر سالمیت اغېز کوي [۱۵]. له پخوا

راهیسې اقلیمي بدلون چې د انساني کړنو زېږنده ده، د نباتي او حیواني ټولنو په شمول، په بیولوژیکي سیستمونو کې په نړیواله توګه تغیر راوستی دی. یاد تغیر، دواړه مستقیمې او غیر مستقیمې اړیکې له کرنیزو ایکوسیستمونو؛ په ځانګړې توګه، له کرنیزې سوداګرۍ او ټولنو سره لري. په مستقیمو اغېزو کې د تودوخې، اورښتونو او د خراب موسم د پېښو تکرار کې تغیرات شامل دي. ټول دغه تغیرات په یو نه په یو شکل، د بېلابېلو نباتي تولیداتو د کموالي سبب کېږي [۲۱]. اقلیمي تغیر د نفوسو له زیاتوالي سره یوځای، د خوړو سالمیت د مفهوم سره سم د خوړو پر موجودیت، لاسرسي، کیفیت او خرابېدنې باندې ښایي فشار واچوي [۲۲]. د تودوخې او اورښت په بڼو کې تغیرات کرنیزه تولیدي وړتیا اغېزمنوي. په دې ډول، د نړۍ په زیاتره برخو کې د خوړو پر سالمیت ااغېزه کوي. سربېره پر دې، کرنیز تولیدات او خوړو ته لاسرسی او اتموسفېر ته پورته شوی کاربن‌ډای‌اکسایډ غلظت پر انساني روغتیا، په خوړو کې د غذایي عناصرو د اندازې له مخې ښایي تاثیر ولري [۲۳]. اقلیمي تغیر د خوړو پر سالمیت، همدارنګه، د نباتاتو پر تولید او په زیاته اندازه د بنسټیزو نباتاتو د غذایي موادو په کیفیت باندې منفي اغېز لري. په نړیواله توګه، د خوړو زیاتوالي له پاره هڅې شوې دي؛ خو بنسټیزه اړتیا د خوړو او د غذایي موادو د سالمیت له پاره ضروري ده، هغه خوارځواکي او د کم لګښته عناصرو کمښت دي چې نړۍ ور سره لاس او ګرېوان ده. په ځانګړې توګه، یادې ستونزې په کم عاید لرونکو هېوادونو کې د اقلیمي تغیر سره نږدې تړاو لري. د اقلیمي تغیر وجه د تودوخې او ګرمو څپو زیاتوالی دی، د دې وړاندوېینه کېږي چې هغه به زیاتې، تکراري او د اوږدې مودې له پاره خپلې اغېزې وشیندي او د کال ۹۵ زره د مړینو پیښې رامنځته کولی شي [۲۴]. د دې وړاندوېینه کېږي چې په ۲۰۵۰ م کال په هوا کې به د کاربن‌ډای‌اکسایډ غلظت په مېلیون کې تر ۵۵۰ برخو پورې ورسیږي، نو دا به د پروټینونو، اوسپنې او جستو اندازه په بنسټیزو خوړو کې د ۳ – ۱۷٪ پورې را کمه کړي، هغه وګړي به ډېر زیانمن کړي چې د غذایي موادو د حصول له پاره پر نباتي سرچېنو اتکا لري. یاد وګړي په جنوبي او ختیځې اسیا او د افریقا په نیمه ساهارا کې اوسیږي. اضافي ۱۷۵ مېلیونه وګړي به د جستو، ۱۲۲ مېلیونه وګړي به له پروټینونو او ۱،۴ مېلیونه د ماشوم د پیداکیدو وړ ښځې او ۲۰٪ له پنځو کلونو څخه د کم عمر ماشومان به د وینې له کموالي سره مواجه شي [۲۵].

هغه عام اقلیمي ضررونه چې په چاپېریال کې رامنځته کېږي: په هغوی کې د سمندر د سطحې پورته کېدنه، د سمندري څپو رااوښتنه، سیلابونه، استوایي بادي باراني توپانونه، د خاورې او اوبو مالګینوالی، د سیندونو د غاړو او ساحلي سیمو تخریبات شامل دي [۲۶]. سربېره پر دې، د سمندرونو ګرموالی، د اتموسفیر تودوخې په منځني حد کې زیاتوالی، د ورځینی په ټیټ او لوړ حد تودوخې کې تغیرات او د اورښت په منظم وېش

کې بدلونونه هغه څه دي چې د اقليمي تغير له امله رامنځته کېږي [۲۱]. هغه تاوانونه چې له اقليمي ضررونو څخه رامنځته کېږي، په هغوی کې د کرنيزو توليداتو کموالی؛ نباتاتو له منځه وړل؛ د څارويو او انساني تلفات؛ پانګو او جايدادونو ته نقصان؛ ولسي خدماتو او جوړښتونو ته صدمات او د ناروغيو خپرېدل شامل دي [۲۶]. په ځانګړي توګه، نږدې دربيمه برخه خواړه د انسان له مصرف څخه پرته ضايع کېږي چې هر کال تقريباً ۱,۳ مېليارده ټنو ته رسيږي. که خواړه ضايع کېږي، کيدلی شي چې هغه راکم شي، نو دا به د خوړو د غير سالميت د غوښتنو په وړاندې مهم رول اداکړي [۲۷؛ ۲۸]. غير ژوندي فشارونه د پايداره کرنيزې وړتيا او خوړو سالميت له پاره يو لوی ګواښ دی چې له نيمايي څخه د زياتو کرنيزو محصولاتو کموالی د غير ژوندي فشارونو له کبله رامنځته کېږي [۲۹]. هغه اقليمي لاملونه چې د خوړو پر سالميت اغېز کوي، په لاندې ډول دي:

**تودوخه:** په اوسنۍ نړۍ کې د ايکوسيستم ارتجاعيت او د خوړو سالميت د فکر او توجو وړ موضوع‌ګانې دي. د نړيوالې تودوخې له امله کرنه، په شديد ډول اغېزمنه شوې ده او د خوړ سالميت په ګرده نړۍ کې د خطر سره مخامخ دی [۳۰]. تودوخه، د چاپيريال له مهمو لاملونو څخه يو لامل دی چې اغېز يې د نباتاتو په وده او انکشاف کې راښکاره کېږي. د اقليمي بدلون د هېوادونو ترمنځ ډلې د راپور په مطابق، په هرې لسيزې کې د نړۍ منځنۍ تودوخه ۰,۳ سانتي‌ګراد پورې زياتوالی کوي [۳۱]. که تودوخه پورته کېږي، نو اغېز يې پر نباتاتو پرېوځي. له ۳۸ سانتي‌ګراد څخه پورته حرارت په نبات کې د وچې مادې راټولېدنه کموي، کم حاصل ورکوي، د نبات په زخه لرونکو ځايونو کې مېخ لرونکي ساختمانونه رامنځته کوي، همدارنګه د تخم کتله کموي. لوړه تودوخه د نبات د ودې مختلفو پړاوونو کې د نبات انکشاف اشکال تغيروي، لکه: د تخمونو ټوکېدنه ځنډوي، په کلوروپلاستونو او ميتاکوندريا کې انزايم غير فعالوي، د حجرې د پردې استحکام زيان مومي، د تخم د ژوندي پاتې کېدو موده کمېږي، په نباتي حجراتو کې د پردې شحميات نرمېږي، د پروټينونو تشکيل مخه نيول کېږي، د نبات فطرت بدلون مومي، پروټينونه پرنډېږي او تخريب کېږي، همدرانګه د حجروي پردې په تنظيم باندې ااغېزه کوي. د تودوخې له اغېزو څخه په زياتره نباتي نوعو کې اړايستل شوې خنثیٰ‌کېدنه رامنځته کېږي. په لوړ حرارت کې د ګردې ټوکېدنه او د ګردې ټيوب وده هم کمېږي [۳۱]. په نباتي توليد، ګټورتيا او د خوړ سالميت کې تودوخه مهم او پيچلی رول لوبوي. د کرنيزو نباتاتو په شمول، ټولې نباتي نوعې، د تودوخې په وړاندې يو ټاکلی سرحد لري چې په زياتوالي سره به هغوی په مناسب ډول پرمختګ و نه کړي. د بيلګې په توګه، د يو سانتي‌ګراد حرارت په زياتوالي سره په جوارو کې د ۸ – ۱۰٪ او وريجو کې ۹٪ د حاصل کموالی مد نظر نيول کېدای شي [۲۱]. سربېره پر دې، د غنمو په توليد کې به د ۵ – ۱۰٪ کموالی راشي [۳۲]. د غنمو او شولو کښت د لوړ حرارت په وړاندې ډېر حساس

دی [۳۳]. زیاتره ممپلي په استوایي او نیمه استوایي سیمو کې کرل کېږي او د هغوی له پاره مناسبه تودوخه د ۲۵ – ۳۵ سانتي‌گراد ښودل شوې ده، له ۳۵ سانتي‌گراد څخه پورته حرارت به د ګردې د ژوندی پاتې کېدو پر مودې، د میوې پر تشکیل او نبات پر تولید ناوړه ااغېزه ولري [۳۱]. د ځمکې حرارت په چټکتیا سره د لوړېدو په حال کې دی او په ۲۱ پېړۍ کې به د ۱,۸ – ۴ سانتي‌گراد پورې به په منځنۍ توګه پورته ولاړ شي. د دې په پایله کې به د نباتاتو پر ودې او نباتي تولید د تودوخې فشار مهم رول ولري. د بیلګې په توګه، څو غیر ژوندی او ژوندي لاملونه به د نباتاتو چاپېریالي توازن ګډوډ او د نباتاتو تولیدي وړتیا او د خوړو پر سالمیت به مهم اغېز پرېباسي [۳۰].

په معتدلو سیمو کې د څو کلنو نباتاتو (لکه مڼو) په ټیټ حرارت کې زیاتوالی، د وختي ګل سپړلو ته لاره هواروي، که وروسته یخوهنه رامنځته شي؛ نو په حاصل کې کموالی تر سترګو کېږي. ځینې یو کلن نباتات د بیلګې په توګه، جوار د لوړ حرارت له امله په نبات کې د کاربوهایدریټونو تجمع کموي او په پایله کې ټیټ تولید ورکوي. د نباتاتو له پاره لوړ حرارت په ګرده‌اچونې او مېوې پراختیا کې ګډوډي رامنځته کوي، د مثال په توګه، په جوارو کې له ۳۵ سانتي ګراد څخه لوړ حرارت کې د ګردې د ژوندی پاتې کېدو موده کمېږي او که حرارت له ۳۰ سانتي ګراد څخه پورته کېږي، نو د جوارو د دانو انکشاف وروسته کېدلی شي [۲۱]. په استوایي او نیمه استوایي سیمو کې د لوړ حرارت له کبله د نباتاتو حاصلات کم او د نباتاتو توافق لږ شوی دی. د تودوخې فشار له امله په یو کلنو نباتاتو کې مېوې‌نیونه او تخم انکشاف کمېږي، له کبله یې حاصلات کمېږي، تولید کیفیت ور سره خرابېږي، په پایله کې د خوړو ضایعات ورسره زیاتېږي. د ودې په اوږدو موسمونو کې د ګڼ شمېر نیالګیو د کینولو فرصت په کې موندل کېږي او د کال په لوړو حاصلاتو کې ونډه اخېستلی شي؛ خو بیا هم، ځینې مېوه لرونکې ونې او سابه یوې مودې سړې هوا ته ضرورت لري چې په متغیرو وختونو کې حاصلات ور څخه راټولېږي، ګرم ژمی د هغوی له پاره ښایي خطرناک واقع شي [۹]. د اقلیم بدلون له کبله د هندوستان په ګنګا او نورو سیمو کې د حاصلاتو زیاتوالی د تېرو دوو لسیزو راهیسې په ټپه ولاړ حالت سره مخامخ او یا کم شوی دی، د اقلیمي تغیر، د شدیدو پېښو د رامنځته کېدلو په ځانګړې توګه، د افریقا په نیمه ساحلي سیمو کې د خوړو تولید ښایي له خطر سره مخ شي [۳۳].

**وچکالي:** وچکالي نړدې هر سکتور اغېزمنولی شي. وچکالي نباتي او حیواني تولیدات کموي، د زیات تبخیر له امله د اوبو سرچینې محدودوي، د صنعتونو له پاره د اوبو زیرمې غیرکافي ګرځوي، د برېښنا تولید ور سره کمېږي، ځنګلونه ور سره زیان مومي، د خاورې تخریب او خرابوالی ورسره زیاتېږي، انساني او حیواني ناروغۍ زیاتېږي، د وګړو کډوالي ور سره زیاتېږي، د اوبو شخړې رامنځته کوي، ټول ملي عایدات

کمېږي، په ټوله کې پر ايکوسيستمونو، د وګړو پر ټولنيز او اقتصادي پرمختيا ناوړه ااغېزه کوي [۳۴]. وچکالي کرنيز سکتور په لويه پيمانه سره ځپي. وچکالي نه يوازې د نباتاتو توليدي وړتيا کموي، بلکې د خوړو سالميت، ملي اقتصاد، څارويو، روغتيا او داسې نورو برخو باندې هم ااغېزه کوي. د وچکالۍ مخه نيول شي، خو هغه اداره کېدلی شي [۲۴]. په دا څو کلونو کې زموږ هېواد اوږدې وچکالۍ ځپلی دی. چاپېريالي بدلونونه چې وچکالي ور سره مله ده، پر کليوالي وګړو زياته ااغېزه کوي او هغه ټول موسمي خطرونه چې په هېواد کې رامنځته کېږي، تر ټولو زيات اقتصادي تاوان له وچکالۍ څخه رامنځته کېږي [۳۵].

د تغذيې کمښت، خوارځواکۍ او لوږې له پاره نړيواله او سيمه‌ييزه وچکالي يو له مهمو لاملونو څخه ګڼل کېږي چې کرنيز توليدات کموي. عموماً وچکالي د ځمکې د اقليم يوه پېښه ده. هرکال وچکالي له خبرتيا پرته راځي، پولې، سياست او اقتصادي توپيرونه نه پېژني. د هغې اغېزې په پراخه اندازه خپرېږي، تاثيرات يې نه يوازې په کرنې وي، بلکې د اوبو پر سرچينو، د ايکوسيستم پر روغتيا، انرژۍ، ځنګلونو، لېرد ـ رالېږد وسايلو، ساتېريو، د خوړو پر غوښتنو او وړاندې کولو، همدارنګه په نورو سرچينو او فعاليتونو هم وي. د ۱۹۸۰ او ۲۰۰۸ کلونو ترمنځ، په نړيواله سطحه وچکالۍ ۱,۵ مېلیارده وګړي اغېزمن کړي او ۰,۵ مېليارده وګړي يې له منځه وړي دي [۳٦]. د نولسمې زېږديزې پېړۍ په اوياېمه لسيزه (۱۹۷۵-۱۹۷۸) کې په پراخه توګه وچکالي په اسيا، برازېل او افريقا کې ډېر وګړي اغېزمن کړل او يادې لويې وچکالۍ په نړۍ کې نږدې ۵۰ مېليونه وګړي ووژل. ياد حالتونه بياځلي پېښېدلی او د خوړو نړيوال سالميت ته ګواښ پېښولی شي [۳۷]. د چاپېريالي پېښو له جملې څخه تر ټولو زيات تاوان رسوونکې پېښه وچکالي ده، نړيواله کرنه اغېزمنوي او د پام وړ کرنيزو محصولاتو د زيان باعث ګرځي، په پايله کې د خوړو غير سالميت رامنځته کوي. د ۲۰۰۱ او ۲۰۱٦ کلونو ترمنځ تقريباً هرو ۲ – ۳ کلونو کې نږدې ۲۰٪ د نړۍ کرنيزه ځمکه وچکالۍ ځپلې ده او په ځينو حالاتو کې ياده اندازه لوړه ده. وچکالي په نړۍ کې ګڼ شمېر وګړي اغېزمنوي او په ځانګړې توګه د اسيا او افريقا په پرمختيايي هېوادونو له پاره ډېر ګرانبيه ناورين دی. له وچکالۍ څخه تر خوړو سالميت پورې د پام وړ مرسته تر لاسه کېدلی شي، که په راتلونکي کې وچکالي درک شي، د هغې پيل، سيمه، موده او شدت په درست او د وخت په تيرېدو سره تخمين شي. هغه څه چې ډېر زيات مهم دي له ريبلو څخه ۱ – ۲ مياشتې وړاندې د کرنيزو محصولاتو د ضايعاتو وړاندوېينه ده. په ځانګړې ډول، د افريقا د لويې وچې د کرنيزو محصولاتو د ضايعاتو په باره کې د وچکالۍ درک او وړاندوېينه ډېره مهمه ده، د موسم او هوا معلوملو مراکزو له پاره يوه لويه ننګوونکې دنده ده چې ياد مراکز په دې سيمه کې محدود او خال خال دي [۳٦]. د

وچکالي تکرار د نباتي فصل د ناکامیدو سره مرسته کوي او زیاتره هغه بزګران چې د نباتاتو له پاره پر اورښت اتکا لري؛ لوړه تودوخه به د خوړو پر سالمیت ناوړه تاثیرات پرېباسي [۲۴].

**سیلابونه:** طبیعي پیښې او ناورینونه کرنه له څو لارو اغېزمنوي: (۱) څاروي او کرنیز فصلونه له منځه وړي؛ (۲) کرنیزې او کلیوالي بېخبناوې تخریبوي؛ (۳) چاپېریال د رنځ‌راوړونکو، کیمیاوي موادو او پاتې شونو له امله ککړوي؛ او (۴) د حیواناتو او نباتاتو پر روغتیا منفي اغېزې شیندي [۳۸]. هر کال سیلابونه په مېلیاردونو ډالرو تاوان کرنیزو نباتاتو ته رسوي. په لندو کلونو کې په زیات مقدار اوبه د تکراري اورښت له کبله راځي او په پایله کې سیلابي څپې کرنیز نباتات له منځه وړي [۳۹]. په نړیواله توګه، د ۲۰۰۹ – ۲۰۱۸ کال پورې په منځنی ډول سیلابونو په کال کې ۱۴۹ ځلې صورت نیولی دی، یادو سیلابونو جایدادونو، نباتاتو او څارویو ته نږدې ۴۰۰ مېلیارد ډالره پورې خساره رسولې ده. د خوړو او کرنې نړیوالې ټولنې راپور ورکړی چې له وچکالي څخه وروسته سیلابونه دویم لوی ناورین دی چې په پرمختیایي هېوادونو کې د ۲۰۰۸ – ۲۰۱۸ م کال پورې نږدې ۲۱ مېلیارده ډالرو په اندازه تاوان نباتي فصلونو او څارویو ته رسولی دی [۴۰]. سهېلي او سهېل ختیزې اسیا کې هر کال نږدې ۱۰ – ۱۵ مېلیونه هکتاره د شولو کروندې د سیلابونو له امله اغېزمنېږي او نږدې ۱ مېلیارد ډالره تاوان ورسیږي [۱۱]. په افغانستان کې طبیعي ناورینونو نږدې ۷۰٪ برخه سیلابونه جوړوي، د ۱۹۸۸ – ۲۰۰۶ کال پورې د سیلابونو له کبله نږدې څلور سوه زره وګړي خپلو مېنو پرېښود ته اړ شوي او نږدې ۵ زره وګړي وژل شوي دي [۴۱]. په ۲۰۲۴ کال د مې میاشتې په ۱۰ او ۱۱ مه د بغلان، بدخشان او تخار په ۲۳ ولسوالیو کې سیلابونو نږدې ۳۴۷ وګړي ووژل او ۱۶۵۱ وګړي یې زخمیان کړل. همدارنګه، په یادو سیمو کې تقریباً ۷۸۰۰ کورونه له منځه ولاړل او ۵۰۰۰ کورنۍ بېځایه شوې. په دې سیمو کې ۱۴۰۰۰ څاروي له منځه ولاړل او ۲۴۰۰۰ هکتاره کرنیزه ځمکه هم تخریب شوه او د ۶۰۰۰۰ څخه زیات وګړي یې اغېزمن کړل [۴۲]. د څارویو له منځه تلل او کرنیزې ځمکې تخریب د خوړو پر سالمیت ناوړه ااغېزه کوي. د حیواني او کرنیزو محصولاتو بیې ورسره پورته کېږي. اقلیمي بدلون اغېزې زموږ په هېواد کې ښکاره لیدل کېږي، د سختو اورښتونو له کبله د سیلابونو راوتل او وچکالي په مېلیونونو وګړي اغېزمن کړي دي.

**اوبه او اوبخور:** اوبه د خوړو د سالمیت له پاره د یو مهم لامل په توګه تصور کېږي، کافي، غوره کیفیت لرونکي غذایي مواد د انرژۍ د حصول او د غوره روغتیا له پاره چې وګړي یې تر لاسه کوي، یو سیستماتیک لاسرسی ګڼل کېږي. د اوبو کمښت د وچکالۍ او خوارځواکۍ له پاره تر ټولو مهمه وجه کیدلی شي. په ځانګړې توګه، په هغه سیمو کې چې افراد یې په سیمه‌ییزې کرنې بوخت وي، ژوند یې په کرنې پورې تړلی وي او د خپل ژوند بنسټیزو اړتیاوو په خاطر له کرنې څخه خواړه او عاید تر لاسه کوي. سربېره پر دې، د اوبو

شتوالی له کبله، غیر منظم اورښت او په موسمونو کې تغیر د خوړو د غیر دایمي کمښت سره وګړي مواجه کوي. ډېر کم خوراک پیداکېدل او قحطي د خوړو شدید ناورین رامنځته کوي [۲۲]. د نړۍ په زیاتره سیمو کې اقلیمي بدلون د اوبخور له پاره اړتیا ډېروي؛ ځکه چې د نړیوالې تودوخې د زیاتوالي له امله، د خاورې او نبات له سطحې څخه د اوبو براسېدنه زیاتېږي، د اورښت اندازه ورسره کمېږي او راتلونکی د خوړو سالمیت د لویو ننګونو سره مخامخ کوي [۴۳]. د نړۍ نفوس ته خوراک برابرول، هغه په لوی مقدار اوبه او انرژي په مصرف رسوي او په طبیعي سرچینو باندې زیات فشار او دباوو واردوي. خواړه او کرنیز فعالیتونه نږدې د ۳۰٪ شین کوریزه غازونه اخراجوي، تقریباً ۷۰٪ د خوړو اوبو مصرف او په لویه پیمانه د ځمکې استعمال ذمه‌واري پر غاړه لري. د کیمیاوي او حیواني سرو د استعمال له کبله د نایتروجن او فاسفورس ککړتیا، د ځمکې د استعمال او پاکارۍ له کبله د ژوندۍ تنوع زیان، په ژوند کې له خوړو اوبو څخه ګټه اخېستل، د انرژۍ استعمال، له څارویو څخه د میتان غاز پورته کېدل او د ځمکې د سطحې پاکاري له سببه د اقلیمي بدلون په شمول، دا یواځې مبالغه نه ده چې زموږ د خوړو سیستمونه دا په ډاګه کوي چې په څومره وسعت سره د ځمکې طبیعي سرچینې استعمالیږي [۴۴]. په نړۍ کې د کرنیزو تولیداتو له پاره د اوبیزو سرچینو استعمال په (۲ انځور) کې ښودل کېږي.




۲ انځور: د خوړو د تولید له پاره د اوبیزو سرچینو استعمال ښيي [۱۳].

**نباتي آفتونه او رنځونه:** نباتي آفتونه د حشراتو، رنځ‌راوړونکو او هرزه وښو په شمول، د خوړو او کرنیزو تولیداتو ته تر ټولو لوی محدودونکي لاملونه دي. د نباتاتو، آفتونو او رنځ راوړونکو ترمنځ اړیکې پېچلې او د اقلیم پورې تړلې دي. د نړۍ هغه سیمې چې ملایم ژمی لري، د اقلیمي بدلون له امله د یخوهنې پر وړاندې د حساسو حشراتو نفوس زیاتېږي. د دې اپوټه، د نړۍ په ځینو سیمو کې د حرارت په زیاتوالي سره د وښو خوړونکو حشراتو له پاره د اوسېدنې مناسب چاپېریال رامنځته کوي او شمېر یې زیاتېږي. اقلیمي بدلون د نباتاتو او نباتي رنځونو په انتشار کې مرسته کولی شي. ناوړه او سختې موسمي پېښې لکه: اوبیز توپانونه د نباتي مرضونو په خپراوي کې مرسته کوي [۱۱]. سره له دې چې، د آفتونو او رنځونو ادارې د زیاتو هڅو با

وجود چې په تیرو څلوېښتو کلونو کې یې تر سره کړې، نباتي تولید دوه چنده شوی، خو بیا هم، لا تر اوسه آفتونه او رنځونه پر نړیوال نباتي تولید، نږدې ۱۰-۱۶٪ ااغېزه کوي. د اوبو اداره، نباتي وده او خوړو سالمیت پېچلې پیښې دي چې د اقلیمي تغیر سره خپلمنځي اړیکې لري. یوه جدي اړتیا موجوده ده چې د یادو پېښو او کارونو باندې ځان پوه کړو چې په نړۍ کې د غوره روغتیا ډاډ تر لاسه شي [۲۲]. نباتي امراض نه یوازې پر حاصل ااغېزه کوي، بلکې د تولید پر کیفیت هم ناوړه اغېز پرېباسي او د بزګرانو د سرچېنو د ګټورتوب استعمال هم کموي [۴۵]. نباتي آفتونه او رنځونه د خوړو تولید له پاره خطري لاملونه دي چې په نړیواله توګه، د خوړو سالمیت ته ګواښ پېښوي [۴۶]. بزګران زیات کیمیاوي توکي، لکه: سرې، افتوژونکي او فنګس وژونکي د دې له پاره استعمالوي چې نباتي او حیواني تولیدات یې لوړ شي. د آفتونو او رنځونو وده دې ته لاره هواروي چې د افتوژونکو پاتېشوني او د وترنرۍ اړوند درملونه ښایي په محلي خوړو کې په غیر خوندي اندازې سره موجود شي. د یادو کیمیاوي موادو استعمال په لوړه اندازه ښایي په ایکوسیستم، انساني او حیواني روغتیا ناوړه ااغېزه وکړي [۱۱].

په ۱۸۴۵م کال په ایرلېنډ کې د Phytophthora infestans فنګس د حملې له امله چې په الوګانو کې د ناوخته سوزېدنې ناروغي رامنځته شوه او د الوګانو فصل د پنځو کلونو له پاره په مسلسل ډول د ناکامۍ سره مخامخ شو، په پایله کې نږدې یو مېلیون وګړي د لوږې له امله مړه او تقریباً یو نیم مېلیونه وګړي نورو هېوادونو ته پر کډوالۍ مجبور شول. په ۱۹۴۲م کال په بنګال کې د وریجو حاصلات د نصواري داغونو له ناروغۍ څخه په بې ساري ډول کم شول او په ۱۹۴۳م کې په یاده سیمه کې د وریجو قحطي راغله [۴۷]، نږدې ۳ مېلیونه وګړو د لوږې له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ [۴۸]. د شولو نصواري داغونه یوه فنګسي ناروغي ده چې لامل یې Helminthosprium oryzae دی [۴۹]. له ۱۹۵۸ – ۱۹۶۲ کلونو پورې د پنځو کلونو په دوران کې نږدې ۳۰ – ۳۳ مېلیونه وګړي په چین کې له قحطي څخه له منځه وړل، لامل یې د چین دولت سختې پالیسۍ ښودل شوې دي [۵۰]. په هغوی کې یوه پالیسي دا وه چې څلور آفتونه (مچان، غوماشي، مږکان او چنچنې) باید له منځه ولاړ شي. په عمومي صورت، د څلورو آفتونو په وړاندې ځغل د چین د ژوندۍ تنوع او کرنې له پاره یو ناورین و؛ په ځانګړې توګه، د چنچنو سره د دښمنۍ له کبله چې هغوی تخمونه خوري، باید په نښه شي. که په دقت نظر ورته وشي، چنچنې په طبیعي ډول حشرات خوري. چینایانو په لوی مقدار سره چنچنې له منځه یووړې او په پایله کې سخت ایکالوژیکي غیرتوازن رامنځته شو او د ملخانو زیاتېدونکي نفوس ته یې لاره هواره کړه، یادو ملخانو زیاتره نباتات له منځه یووړل او قحطي په میلیونونو انسانانو ژوند یې واخیست [۵۱].

## پایلې

اقلیمي بدلون د نړۍ هره برخه او هر هېواد اغېزمن کړی. اقلیمي تغیرات د نباتاتو، حیواناتو او انسانانو پر ژوند ناوړه ااغېزه شیندي. د خوړو کمښت رامنځته کوي، د آفتونو او ناروغیو انتشار ته لاره هواروي. اقلیمي تغیر نه یوازې د خوړو پر سالمیت اغېز کوي، بلکې تر ډېره بریده د خوړو خوندیتوب هم اغېزمنوي. وګړي د اقلیمي تغیر پیښې، لکه: په موسم کې تغیرات، د سمندر د سطحې پورته کېدنه، توپانونه، وچکالۍ، بې وخته بارانونه، سیلابونه او داسې نور په خپل چاپېریال کې مشاهده کوي. هغه ضرورنه او خطرونه هم ویني چې له اقلیمي بدلونونو څخه کرنې، خوراکي توکو، بنسټیزو جوړښتونو ته رسېږي او په پایله کې اقتصادي ناورینونه رامنځته کوي. انساني کړنې د دې باعث شوې چې چاپېریال ته شین کوریزه غازونه ازاد کړي. د یادو غازونو ناوړه اغېزې په ټول چاپېریال کې له کرنې څخه تر اوبیزو سرچینو، له هوا ککړتیا څخه تر خاورې ککړتیا پورې مشاهده شوې دي. له اقلیمي تغیر څخه کرنیز تولیدات او څارویو محصولات اغېزمنېږي او په پایله کې د خوړو پر سالمیت ناوړه ااغېزه کوي. اقلیمي تغیر په نړۍ کې لوږه او فقر رامنځته کوي او په مېلیونونه انسانان د خوارځواکۍ له بېلابېلو بڼو څخه اغېزمنوي.

## وړاندېزونه

۱. اقلیمي بدلون پولې نه پېژني او زیاتره طبیعي سرچینې ګواښي. د خپلو طبیعي سرچینو، لکه: له هوا، اوبو، خاورو، ځنګلونو او ورشوګانو څخه باید پر ځای ساتنه وشي او له هغوی څخه د منل شویو معیارونو په تطبیق، ور څخه ګټه پورته شي.

۲. اقلیمي بدلون د خوړو پر سالمیت منفي اغېزې شیندي، سیلابونه کروندې ویجاړوي، وچکالي نباتات سوځوي، لوړه تودوخه د ځینو نباتاتو ژوند ګواښي، نباتي آفتونه ډېرښت پیداکوي او په پایله کې نباتي تولیداتو د کموالي سبب کېږي. په نړۍ کې لوږه او فقر رامنځته کېږي او په مېلیونونو وګړي د خوارځواکۍ تر څنګ په راز راز رنځونو مبتلا کېږي او ژوند یې د کړاو سره مخامخېږي. مخکې له دې چې د یادو ستونزو ښکار شو، نو لازم دي چې د علمي کادرونو پر مټ د شته امکاناتو څخه ګټه واخلو او د اوږدې مودې د حل لارو په لټه کې شو.

۳. تودوخه، سیلابونه، وچکالۍ او امراض نه یوازې د اقلیمي بدلون په پایله کې رامنځته کېږي، بلکې په بشري ټولنو کې د ډول ډول ستونزو د ایجاد سبب هم کېږي. د اقلیمي بدلون څخه رامنځته کېدونکو اغېزو

اداره کول د ځنګلونو پر احیا، د نباتي پوښ پر پراختیا، د اوبیزو سرچینو پر ګټور استعمال، چاپېریالي او ایکالوژیکي نورمونو ته په درناوي قایلېدل، غوره حکومتولي او داسې نورو پر مټ سمېدلی شي.

۴. اوبه د الله تعالی لوی نعمت دی او د ټولو ژوندیو اجسامو د بدن زیاتره برخه له اوبو جوړه ده، که له اوبو څخه سالمه ګټه وانخیستل شي؛ نو د خوړو او د انرژۍ د کموالی تر څنګ د هېواد ډېرېدونکي نفوس اړتیاوې نه شي پوره کولی. د اوبو زېرمه کولو لارې چارې، سپما، مناسب استعمال او داسې نورې طریقې د اوبو په مدیریت کولو کې باید پلې شي.

۵. د لویو او وړو بندونو اوبه د صنعت او انرژۍ تر څنګ په کرنې کې استعمالیږي او د کرنیزو تولیداتو په زیاتوالي کې ور څخه ګټه پورته شي. همدارنګه، د ضایعاتو مخه یې باید ونیول شي.

۶. د ځنګلونو بیا رغونې ته باید کار وشي تر څو د وحشي ژوو د خوراکې تر څنګ د سیلاوونو په مهارولو کې مهم رول لري. د وړو اقلیمونو په تغیر او بدلون کې مثبت رول لري، هوا پاکوي، اوبه تصفیه کوي، ګرد او غبار رانیسي، د بادونو چټکتیا کموي او بې شمېره نورې غوره ځانګړتیاوې لري. د هغه وګړو ژوند چې پر ځنګلونو پورې تړلی دی، هغوی ته کافي خواړه برابروي او دعایداتو سرچینه یې ګرځي.

۷. زموږ هېواد څو کلنې وچکالۍ سخت ځپلی او د اوبیزو سرچینو ورته مهیا کولو له لارې یاده ستونزه تر ډېره بریده حل کېدلی شي او د خوړو پر سالمیت به مثبت اغېز ولري.

**اخځلیکونه**

1. Malhi GS, Kaur M, Kaushik P. Impact of Climate Change on Agriculture and Its Mitigation Strategies: A Review. Sustainability. 2021 Jan 27; 13(3): 1318. Available from: https://www.mdpi.com/2071-1050/13/3/1318
2. Arora NK. Impact of climate change on agriculture production and its sustainable solutions. Environmental Sustainability. 2019 Jun 27;2(2):95–6. Available from: https://link.springer.com/article/10.1007/s42398-019-00078-w
3. Gitz V. Climate change and food security: risks and responses. 2016 Sep. Available from: https://www.iamm.ciheam.org/uploads/attachments/250/06_Meybeck_WL_37.pdf

4. Behnassi M, Baig MB, Sraïri MT, Alsheikh AA, Abu Risheh AWA. Food security and climate-smart food systems building resilience for the Global South. Cham, Switzerland: Springer; 2022.
5. Mirzabaev A, Bezner Kerr R, Hasegawa T, Pradhan P, Wreford A, Cristina Tirado von der Pahlen M, et al. Severe climate change risks to food security and nutrition. Climate Risk Management. 2023;39:100473.
6. Wahlqvist ML, Gallegos D. An econutrition approach to health. In Food and Nutrition: sustainable food and health systems. 4th ed. London: Routledge; 2020.
7. Molotoks A, Smith P, Dawson TP. Impacts of Land use, population, and Climate Change on Global Food Security. Food and Energy Security. 2020 Nov 5;10(1).
8. Leisner CP. Review: Climate change impacts on food security- focus on perennial cropping systems and nutritional value. Plant Science. 2020 Apr;293:110412.
9. Mbow, C, Rosenzweig Cynthia E, Barioni Luis G, Benton Tim G, Herrero M, Krishnapillai M, et al. Food security: In Climate Change and Land: An IPCC Special Report on climate change, desertification, land degradation, sustainable land management, food security, and greenhouse gas fluxes in terrestrial ecosystems. Masson-Delmotte V, Panmao Z, Hans-Otto P, Jim S, Calvo Buendía E, editors. Cambridge University Press eBooks. 2019; pp. 437-550. Available from: https://www.cambridge.org/core/books/climate-change-and-land/food security/AB0D996CA6E915F6EAF7A2EEB77AD09D
10. Islam S, Ma M, Hossain MN, Ganguli S, Song Z. Climate Change and Food Security: A review of current and future perspective of China and Bangladesh. Indonesian Journal of Environmental Management and Sustainability. 2020 Dec 4; 4(40: 90-101. Available from: https://www.ijoems.com/index.php/ijems/article/view/124/83
11. Londhe SL. Climate Change and Agriculture: Impacts, Adoption, and Mitigation: In Handbook of Research on Climate Change Impact on Health and Environmental Sustainability. 2016; pp. 393-415. Available from: https://www.igi-global.com/chapter/climate-change-and-agriculture/140584

12. Gregory PJ, Ingram JSI, Brklacich M. Climate change and food security. Philosophical Transactions of the Royal Society B: Biological Sciences. 2005 Nov 29;360(1463):2139–48.
13. Jafari M, Jafari V. Climate Change and Food Security: a Glance at Principles and a Strategic Road Map: In Food Security and Land Use Change under Conditions of Climatic Variability. Springer eBooks. 2020 Jan 1;3–17.
14. Squires VR, Gaur MK. Agricultural Productivity and Food Security. In: Food Security and Land Use Change under Conditions of Climatic Variability: A Multidimensional Perspective. Switzerland AG: Springer Cham; 2020; pp. 33-48.
15. O'Brien P, Kral-O'Brien K, Hatfield JL. Agronomic approach to understanding climate change and food security. Agronomy Journal. 2021 Apr 20;113(6):4616–26.
16. Jia G, Shevliakova E, Artaxo P, De Noblet-Ducoudré N, Houghton R, House J, et al. Land–climate interactions. In: Climate Change and Land: An IPCC Special Report on climate change, desertification, land degradation, sustainable land management, food security, and greenhouse gas fluxes in terrestrial ecosystems. United Kingdom: Cambridge University Press eBooks; 2019. p. 131–248.
17. Squires VR, Feng H. Commentary on China's Current Food Security Status, Future Trends, and Responses in the Face of Climate Variability. In: Food Security and Land Use Change under Conditions of Climatic Variability. Springer, Cham; 2020. p. 147–62.
18. Allievi F, Antonelli M, Dembska K, Principato L. Understanding the Global Food System. In: Achieving the Sustainable Development Goals Through Sustainable Food Systems. Springer, Cham; 2019. p. 3–23.
19. Balde BS, Setiawati MD, Nampa IW, Esham M. Impacts of Climate Variability on Food Security Dimensions in Indonesia: Reference from the Nusa Tenggara Timur Province. In: Sustainable Agriculture Systems and Technologies. wily; 2022. p. 81–116.
20. Caporaso L, Santini M, Noce S, Alberto de Sanctis, Caracciolo L, Antonelli M. Drivers of Migration in the Trans-Mediterranean Region: The Likely Role of Climate Change and Resource Security in the

Geopolitical Context. In Achieving the Sustainable Development Goals Through Sustainable Food Systems. 2019 Jan 1;35–61.
21. Benkeblia N, Schattman RE, Wiener S, Roesch-McNally G. Climate Change and Crop Production Set the Stage for Resilience. In: Climate Change and Crop Production Foundations for Agroecosystem Resilience. Taylor & Francis Group, LLC; 2019. p. 1–17.
22. Rashid A, Mirza SA. Climate Change and Climate-Smart Agriculture. In Sustainable Plant Nutrition under Contaminated Environments. Springer eBooks. 2022 Jan 1;163–85.
23. Nieder R, Benbi DK, Reichl FX. Soil components and human health. Dordrecht, Netherlands: Springer; 2018.
24. Singh G, Ram H, Aggarwal N. Agronomic Approaches to Stress Management. In Climate Change and Management of Cool Season Grain Legume Crops. Springer eBooks. 2010 Jan 1;141–54.
25. Asif M, Qureshi I, Bangroo S, Mahdi SS, Sheikh FA, Bhat MA, Alie BA, Khan MH, Dar NA, Dar ZA, Jha UC. Reduction of Phytic Acid and Enhancement of Bioavailable Micronutrients in Common Beans (Phaseolus vulgaris L.) in Changing Climatic Scenario. In Developing Climate Resilient Grain and Forage Legumes 2022 May 28 (pp. 59-76). Singapore: Springer Nature Singapore.
26. Islam MM, Al Mamun MA. Beyond the risks to food availability – linking climatic hazard vulnerability with the food access of delta-dwelling households. Food Security. 2019 Dec 5;12(1):37–58.
27. Blakeney M. Food Loss and Food Waste: Causes and Solutions. Google Books. Edward Elgar Publishing; 2019.
28. Kent K, Alston L, Murray S, Honeychurch B, Visentin D. The Impact of the COVID-19 Pandemic on Rural Food Security in High-Income Countries: A Systematic Literature Review. International Journal of Environmental Research and Public Health. 2022 Mar 9;19(6):3235.
29. Shomali A, Aliniaeifard S. Overview of signal transduction in plants under salt and drought stresses. In: Salt and Drought Stress Tolerance in Plants: Signaling Networks and Adaptive Mechanisms,. Switzerland AG: Springer Nature; 2020. p. 231–58.
30. Tripathi K, Gore PG, Ramya KR, Sarker A. Grass Pea an Inherent Abiotic Stress-Tolerant Legume: Current Status and Future Scope Under Changing Environment. In Developing Climate Resilient Grain and Forage Legumes. 2022 Jan 1;125–39.
31. Kadirimangalam SR, Bagudam R, Mathew A, Deshmukh DB, Pasupuleti J. Breeding Groundnut Cultivars for Resilience to Climate Change

Effects. In Developing Climate Resilient Grain and Forage Legumes . 2022 Jan 1;141–65.
32. Singh VK, Singh R, Tripathi S, Devi RS, Srivastava P, Singh P, et al. Seed priming: state of the art and new perspectives in the era of climate change. In Climate Change and Soil Interactions. Elsevier eBooks. 2020 Jan 1;143–70.
33. Lal R, Stewart BA. Sustainable management of soil resources and food security. In World soil resources and food security. Boca Raton, FL: CRC Press; 2012.
34. Bogale GA, Erena ZB. Drought vulnerability and impacts of climate change on livestock production and productivity in different agroecological zones of Ethiopia. Journal of Applied Animal Research. 2022 Aug 1;50(1):471–89.
35. Sarwary M, Samiappan S, Khan GD, Moahid M. Climate Change and Cereal Crops Productivity in Afghanistan: Evidence Based on Panel Regression Model. Sustainability. 2023 Jan 1; 15(14):10963; Available from: https://www.mdpi.com/2071-1050/15/14/10963
36. Kogan F, Guo W, Yang W. Drought and food security prediction from NOAA new generation of operational satellites. Geomatics, Natural Hazards and Risk. 2019 Jan 1;10(1):651–66.
37. Lal R. Managing Soil for Global Peace by Eliminating Famines and Pandemics. In: The Soil–Human Health Nexus. CRC Press; 2021. p. 143–58.
38. Garcia SN, Osburn BI, Jay-Russell MT. One Health for Food Safety, Food Security, and Sustainable Food Production. Frontiers in Sustainable Food Systems. 2020 Jan 28;4.
39. Witt TW, Flynn KC, Villavicencio C, Northup BK. Flood tolerance and flood loss predictions for tepary bean across the U.S. Southern Great Plains. Agronomy Journal. 2022 Jun 17;114(4):2169–79.
40. Kim W, Iizumi T, Hosokawa N, Tanoue M, Hirabayashi Y. Flood impacts on global crop production: advances and limitations. Environmental Research Letters. 2023 Apr 21;18(5):054007.
41. Oskorouchi HR, Sousa-Poza A. Floods, food security, and coping strategies: Evidence from Afghanistan. Agricultural Economics. 2021 Jan;52(1):123–40.
42. OCHA. Afghanistan Floods: Flash Update #3 - Floods hit the Northeastern Region of Afghanistan (22 May 2024) [Internet]. Unocha.org. 2024. Available from: https://www.unocha.org/publications/report/afghanistan/afghanistan-

floods-flash-update-3-floods-hit northeastern-region-afghanistan-22-may-2024.

43. Bano A, Ilyas N. Microbes and Agrochemicals to Stress Tolerance. In Climate Change and Management of Cool Season Grain Legume Crops. Springer eBooks. 2010 Jan 1;307–24.
44. Bellotti WD, Lestari ER, Fukofuka K. A Food Systems Perspective on Food and Nutrition Security in Australia, Indonesia, and Vanuatu. Advances in food security and sustainability. 2018 Jan 1;1–51.
45. Ul Haq I, Ijaz S. History and Recent Trends in Plant Disease Control: An Overview. Plant Disease Management Strategies for Sustainable Agriculture through Traditional and Modern Approaches. 2020 Feb 12; 1-13. Available from: https://link.springer.com/chapter/10.1007% 2F978-3-030-35955-3_1
46. El-Saadony MT, Saad AM, Soliman SM, Salem HM, Ahmed AI, Mahmood M, et al. Plant growth-promoting microorganisms as biocontrol agents of plant diseases: Mechanisms, challenges and future perspectives. Frontiers in Plant Science. 2022 Oct 6;13.
47. Chakrabarti DK, Mittal P. Plant Disease Forecasting Systems: Procedure, Application and Prospect. Singapore: Springer Nature; 2023.
48. Mallik S. Colonial Biopolitics and the Great Bengal Famine of 1943. GeoJournal. 2022;88(3):3205–21.
49. Khan AH, Hassan M, Khan MN. Conventional Plant Breeding Program for Disease Resistance. In Plant Disease Management Strategies for Sustainable Agriculture through Traditional and Modern Approaches. 2020;27–51.
50. Devereux S. Famine in the twentieth century. Brighton: Institute of Development Studies; 2000.
51. Basch N. Visual and Rhetorical Cues to Transform Nature: A Historical Analysis of Mao Zedong's Environmental Policy Through Print and Visual Media. Environmental Studies Electronic Thesis Collection. 2021 Jan 1; Available from: https://scholarworks.uvm.edu/envstheses/69

# د پیازو پر تولید او اقتصادي ګټورتوب د کر فاصلې او نایتروجن اغېزې (اقتصادي ګټورتوب پرتلنه)

پوهندوی قسیم الله ریان، پوهنمل احمدیار احمدي، پوهنمل قیام الدین اباد، پوهنوال شفیع ګل شفیقي
شیخ زاید پوهنتون، کرنې پوهنځی، اګرانومي څانګه.

**بریښنالیک**: qasimullah.ryan@gmail.com, qasimullah.ryan@szu.edu.af

**لنډیز**

پیاز د مهمو سبو له جملې څخه دي. د افغانستان په ګڼون د نړۍ په زیاتو سیمو کې کرل کېږي. په هېواد او په ځانګړي توګه خوست ولایت کې د نوموړي نبات د تولید کچه له فی واحد ځمکې څخه کمه ده. د کموالي عمده علتونه یې د ښو نوعو نه شتون، مناسبې اګرانومیکي کړنې نه تر سره کېدل او عصري تکنالوژی نه شتون ښودل شوی. پیاز د ښه حاصل لپاره د کر فاصلې او د سرو مناسبې اندازې ته ضرورت لري. د یادو فکتورونو مناسبې اندازې د نورو ګټو تر څنګ د اقتصادي ګټور تولید لامل هم کېږي. دې څېړنه کې د کر مختلفې فاصلې (۱۰×۱۰، ۱۰×۱۵ او ۱۵×۲۰ سانتي میتر) او نایتروجن مختلفې اندازې (۰، ۵۰، ۱۰۰ او ۱۵۰ کیلو ګرام في هکتار) کارول شوي وې. له دې څېړنې څخه موخه دا وه ترڅو موندل شي، چې د کر په کومه فاصله او د نایتروجن کومه کچه کې د خوست لایت په شرایطو کې لوړ او اقتصادي حاصل تولیدیدی شي. له څېړنې وروسته وموندل شوه چې د کر فاصلې په کمېدو او نایتروجن اندازې په لوړېدو سره مجموعي حاصلات او اقتصادي ګټورتوب لوړ شوي، ولې د في واحد غوټو وزن، لوړوالی، پلنوالی د فاصلې په کمېدو سره کم شوی. یاده څېړنه په ۱۴۰۰ کال کې ترسره شوې وه، د یادې څېړنې اقتصادي ګټورتوب له ۱۴۰۳ کال سره پرتله شوی، له پرتلنې وروسته وموندل شوه، چې د تېر په پرتله، سږ کال د تولید د في واحد کیلو ګرام بیه کې ۲.۲ افغانۍ زیاتوالی راغلی، د کوم په پایله کې چې اقتصادي ګټورتوب نوره هم زیات شوی.

**کلیدي کلمې**: اقتصادي ګټورتوب، پرتلنه، د پیازو حاصلات، د کر فاصله، نایتروجن

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

پیاز د مهمو سبو له جملې څخه دي، چې د خوړو د تهیه کېدو ترڅنګ لوړ غذايي ارزښت لري [۱۳]. تازه پیاز د مکروب ضد خاصیت لري، چې تازه خوراک يې د مکروبونو څخه د خوندي ساتلو لپاره اړین دي [۱۱]. پیاز د نړۍ مهم سوداګریز نبات دی، کوم چې د مرکزي اسیا د ترکمنستان او افغانستان ترمنځ سیمو څخه منشاء اخلي او له دې ځایه نړدې ختیځ ته وړل شوي [۱۱، ۴]. د پیازو په تولید کې نایتروجن مهم رول لري او څېړنو ښودلي، چې د نایتروجن په استعمال سره د غوټې په اندازه او وزن کې زیاتوالی راغلی. د نایتروجن اندازې په زیاتېدو سره د پیاز نبات په جګوالي، د پاڼو په شمېر، د غوټې په وزن او حاصل کې د پام وړ تاثیر راغلی [۳، ۱۹]. د کر فاصله د نبات په واسطه د نیول شوي ساحې په تشکیل کې رغنده رول لري، کوم چې د ضیایي ترکیب لپاره ضرور ده. په في واحد ساحه کې د نباتاتو د شمېر په ډېریدو سره تر یو ټاکلي حد پورې حاصلات لوړیږي، له هغې وروسته حاصلات کمیږي، ځکه د في واحد نبات څخه د حاصل اندازه کمیږي. د حاصل دا کمیدنه د نباتاتو تر منځ د محدودو منابعو په لاسته راوړنه کې د دوی ترمنځ سیالي ښودل شوي [۲۲]. د فالودون له خوا په ۲۰۱۵ م کال کې تر سره شوي څېړنه ښیي چې د ۳۳۳۳۳۳، ۲۵۰۰۰۰ او ۱۶۰۰۰۰ نباتات في هکتار او ۰ ، ۴۰ ، ۸۰ او ۱۲۰ ټن NPK في هکتار د سرو څخه د ۸۰ او ۱۲۰ ټن في هکتار سرو نسبت نورو ته لوړ حاصلات تولید کړي، ۱۶۰۰۰۰ نباتات في هکتار کې غټې غوټې او لږ حاصل او ۳۳۳۳۳۳ نباتات في هکتار کې لوړ حاصلات او کوچنۍ غوټې تولید شوي .د لوړ حاصل لپاره يې د ۸۰ ټنNPK في هکتار او ۲۵۰۰۰۰ نباتات في هکتار سپارښتنه کړې [٦]. په ایتوپیا کې د هرډوفا او ملګرو لخوا په ۲۰۲۰ م کال کې ترسره شوی تحقیق کې د ۱۲۵ کیلو ګرام نایتروجن في هکتار او ۷،۵ سانتي میتره د نباتاتو تر منځ فاصله د لوړ حاصل لپاره سپارښتنه کړي [۱۲] په خوست ولایت کې اوس مهال دودیزه کرنه مروجه ده. نو همدا لامل دی، چې د اکثره سبو تولیدي توان نسبت نورې نړۍ ته کم دی .د حاصلاتو د لوړوالي لپاره د نورو عواملو ترڅنګ د کر د مناسبې فاصلې او د نایتروجن د مناسب مقدار کارول غوره دي. د نایتروجن د مناسب مقدار کارول د اقتصادیتوب ترڅنګ د چاپیریال د خوندي توب سبب هم کیږي [۹].

**موخه:** په خوست ولایت کې د پیازو پر تولید او اقتصادي ګټورتوب د کر فاصلو او نایتروجن مختلفو کچو اغېزو معلومول او همدارنګه د ۱۴۰۰ او ۱۴۰۲ ه ش کالونو ترمنځ د اقتصادي ګټورتوب پرتلنې څېړل دي.

## کړنلاره او مواد

**څېړنيزه ساحه**: ياده څېړنه د شيخ زايد پوهنتون کرنې پوهنځي څېړنيز فارم کې ترسره شوې. دا څېړنيزه ساحه د سمندر له سطحې څخه ۱۲۴۰ میتره جګوالی لري او د شمالي عرض البلد په ۳۳ درجو او ۳۴ دقیقو، د ختیځ طول البلد په ۶۹ درجو او ۸۶ دقيقو کې موقعيت لري (۱ شکل). د اورښت لوړه اندازه ( ۵۱ ملی میتر) په مارچ او ټيټه اندازه ( ۲۳.۴ ملی میتر ) په ډيسيمبر مياشت کې اندازه شوي .د کال په اوږدو کې د باراني ورځو شمېر په مارچ، اپريل او جولای کې لوړ ( ۱۲ ورځې ) او ډیسیمبر کې تر ټولو ټيټ (۳ ورځې )وه. د ورځې په اوږدو کې د تودوخې درجه د شپې په نسبت لوړه وي .د تودوخې تر ټولو لوړه درجه ( ۳۴ سانتي ګراد) په جون او جولای کې او ټيټه تودوخه ( ۱۲ سانتي ګراد) په جنوري او ډیسیمبر کې ثبت شوې [۲۳، ۲۴].




۱- شکل: د خوست ولایت په نقشه کې د څېړنې

**د پیازو کرنيزې عملیې**: تخمونه په عقرب میاشت کې د ګرین هاوس په داخل کې په روزنځای کې وکرل شول. د روزنځای( نرسري ) موقعیت د ګرین هاوس په هغه برخه کې چیرته چې د لمر کافي وړانګو شتون درلود انتخاب شوی و.

د انتقال لپاره مخکې اوبخور ترسره شو ترڅو د بزغلیو اېستنه اسانه ترسره شي .اصلي پټي د بزغليو له انتقال مخکې اماده شوي ووه، اصلي پټې د تراکتور د قلبو په واسطه څو واري قلبه او لبول شوي وو . پټيو کې لوټې د مالې په واسطه میده او د هرزه بوټو پاتې شوني ټول شول، په ساحه کې د پلان مطابق لې آوټ ترسره او وروسته د تیارو جوړ شویو تختو په واسطه چې له مخکې اندازه ګیري شوي وې، د هر بلاک په داخل د تريتمنتونو مطابق په اصلي پټيو کې د بزغلیو کرنه ترسره شوه. د بزغليو د کرلو پر وخت په هر پلاټ کې توره سره (DAP) چې په في هکتار کې ۹۲ کیلو ګرامه فاسفورس پنتا اوکساید ($P_2O_5$) کېږي، په يو وار کارول شوي .دا اندازه له ۴۰ کیلو ګرام ډي اې پي في جريب سره برابره ده. د نايتروجن مختلفې اندازې ( ۰ ، ۵۰ ، ۱۰۰ او ۱۵۰ کیلو ګرام في هکتار) د کر څخه وروسته د نبات د فعالې ودې پر وخت وکارول شوې، د یوریا نیمایي برخه د لومړنۍ فعالې ودې پر وخت او باقي نیمایي برخه د غوټو دشروع کېدو پر وخت و کارول شوه .په رطوبت لرونکو پلاټونو کې نايتروجني سره سهار وختې او یا مازدیګر کې کارول شوې. د خاورې او نبات حالت ته په کتو په پلاټونو کې اوبخور

صورت نيولی .د غوټو د شروع کېدو څخه تر پخيدو پورې د نبات د اوبو ضرورت زيات و او په دې وختونو کې د اوبخور اندازه ډېره وه .هر پلاټ ته د پايپ په وسيله اوبه ورکړل شوي ترڅو له يو پلاټ څخه بل پلاټ ته غذايي عناصر ونه مېنځل شي. په پلاټونو کې د هرزه واښو مخنيوی په ميخانيکي ډول ترسره شوی. د پيازو د ودې په ټول دوران کې هرزه واښو ته د ودې موقع نه ده ورکړل شوي او پر وخت د کدمن په واسطه کنترول شوي. د پيازو د ودې په دوران کې د احتمالي پېښېدونکو فنګسي ناروغيو د مخنوي لپاره مانکوزيب فنګس وژونکي کارول شوي، د ږلۍ د مخنيوي په موخه مو په تجربوي ساحه کې اوسپنيز چوکاټونه جوړ او د مشخصو ږلۍ مخه نيوونکو جاليو په واسطه وپوښل شول، د ږلۍ د اورښت پر وخت له يادو جاليو څخه د ږلۍ د مخنوي په موخه استفاده شوي ده (۲- شکل). له پټيو څخه د پيازو اېستنه په داسې وخت کې ترسره شوه چې ټولې پاسنۍ برخې ښکته غوړېدلې وې .د غوټو اېستنه د لاس په واسطه ترسره شوه. د حاصل اخېستنې وروسته لس مشخص شوي غوټې د پيازو په چاليو کې واچول شوې او د يو څه وخت لپاره په سيوري کې کېښودل شوي، ترڅو ورڅخه د پاراميترونو اندازه ګيري وشي .د نبات د جګوالي او پاڼو د اندازه اخېستلو وروسته د غوټو پاسنی برخې د چاقو په واسطه قطع شوې.

**. د پيازو د ودې او حاصل د پاراميترونو اندازه ګيري:** د ودې او حاصل پاراميترونو ډېټا اخېستنه د هر پلاټ له مرکزي قطارونو څخه ترسره شوي، د ډېټا اخستنې لپاره په هر پلاټ کې لس نباتات په تصافي ډول انتخاب شوي، پټيو کې د بوټو انتخاب کېدنه د بزغليو د انتقال لس ورځې وروسته ترسره شوې او هر انتخاب شوی نبات د مخصوصو ليبلونو په واسطه په نښه شوی. د نبات د ودې د پاراميترونو اندازه اخېستنه د ۳۰ ورځو په وقفو کې ترسره شوي او د توليد اړوند پاراميترونو اندازه اخېستنه له حاصل وروسته ترسره شوي، د نبات د جګوالي اندازه په هر پلاټ کې د لس نښه شويو نباتاتو څخه اخېستل شوي. د نبات لوړوالی د خاورې د سطحې څخه د نبات تر ټولو لوړې برخې پورې اندازه شوی. د پاڼو شمېرنه د نبات د لوړوالي په څير په مختلفو مرحلو کې ترسره شوي .د محاسبې لپاره د لسو نباتاتو د پاڼو د شمېر اوسط نيول شوی. نباتي بيومس د حاصل ټولنې پر وخت اندازه شوي، دې اندازه ګيری کې د غوټو سره د لسو نښه شويو نباتاتو مجموعي تازه وزن پيدا شوی او بيايې اوسط محاسبه شوی ترڅو د في نبات د بيومس اندازه ټاکل شوي وي. د ورنرکاليپر په واسطه يې قطرونه او لوړوالي اندازه شوي. د غوټو د وزن کېدو وړاندې د غوټو څخه پاڼې غوڅې شوي وې .غوټې لمړی ښې پاکې بيا وروسته وزن شوي. د حاصل مجموعي وزن د ښې محاسبې لپاره د في پلاټ د ټولو نباتاتو د غوټو مجموعی وزن هم محاسبه شوی .په هر پلاټ کې د نباتاتو شمېر او د هغې ضايعاتو ته په کتو سره د في هکتار د نباتاتو شمېر محاسبه شوي، په في هکتار ساحه کې د نباتاتو

شمېر او د في واحد غوټې وزن د ضرب له حاصل څخه لاسته راغلي عدد په زرو (۱۰۰۰) وېشل شوی او مجموعي حاصل په في هکتار ساحه کې په ټن سره په لاس راغلی.

**۱-جدول:** د څېړنې تریتمنتونه

| Treatments | Symbols | Nitrogen (kg/ha) × Space (cm) | Treatments | Symbols | Nitrogen (kg/ha) × Space (cm) |
|---|---|---|---|---|---|
| T1 (Control) | N1S1 | ۰ × (۱۰×۱۰) | T7 | N3S2 | ۱۰۰ × (۱۵×۱۰) |
| T2 | N2S1 | ۵۰ × (۱۰×۱۰) | T8 | N4S2 | ۱۵۰ × (۱۵×۱۰) |
| T3 | N3S1 | ۱۰۰ × (۱۰×۱۰) | T9 (Control) | N1S3 | ۰ × (۲۰×۱۵) |
| T4 | N4S1 | ۱۵۰ × (۱۰×۱۰) | T10 | N2S3 | ۵۰ × (۲۰×۱۵) |
| T5 (Control) | N1S2 | ۰ × (۱۵×۱۰) | T11 | N3S3 | ۱۰۰ × (۲۰×۱۵) |
| T6 | N2S2 | ۵۰ × (۱۵×۱۰) | T12 | N4S3 | ۱۵۰ × (۲۰×۱۵) |

پورته تریتمنتونه په تصادفي ډول په هر بلاک کې تکرار شوي دي.



**۲- شکل:** د نبات د ودې پر وخت د ډرلې مخنیوی

د پیازو د کرلو مجموعي لګښت کې د پیازو د کرلو لپاره د ځمکې اماده کېدنې، تخم، انتقال، سرې، هرزه بوټو کنترول او نور مصارف په نظر کې نیول شوي .د یادو اجناسو او کړنو مصارف د ۱۳۹۹ - ۱۴۰۰ کال قیمتونه محاسبه شوي .د کړنو لپاره د کاریګرو تعداد او په سیمه کې مروج دست مزد محاسبه شوی. یاد مصارف د اقتصادي پرتلنې په موخه په ۱۴۰۲ کال کې د دویم ځل لپاره اخېستل شوي او تیر کال سره پرتله شوي. مجموعي تولید شوي حاصل او مارکېټ کې د في کیلو پیازو قیمت د ضرب کېدو په صورت کې مجموعي عاید په لاس راځي، او بیا وروسته یاد مجموعي عاید په افغاني في هکتار سره محاسبه شوي. دې خالص عاید د لاسته راوړلو لپاره له مجموعي عاید څخه مجموعي لګښت منفي کېږي او لاسته راغلي قیمت ته خالص عاید وایي. د ګټې او لګښت تناسب د مجموعي عاید او مجموعي لګښت له نسبت څخه په لاس راځي او د محاسبې لپاره یې له لاندې فرمول څخه کار اخېستل کېږي.

Gross returns = Market price (Afg/kg) × Seed yield (kg/ha),

Net returns = (Gross return) – (Total cost of cultivation)

$$\text{Benefit cost ratio} = \frac{\text{Gross returns (Afg. ha}^{-1}\text{)}}{\text{Cost of cultivation (Afg. ha}^{-1}\text{)}}$$

د ودې او حاصل پارامیترونو تحلیل د ANOVA تخنیک څخه په استفادې سره د دوه فکتوره آر سي بي ډي ډیزان اصولو مطابق ترسره شوی، د Least significant difference (LSD) څخه د P پنځه فیصده په صورت کې د پام وړ اغیزمن شویو تریتمنتونو مشخص کېدنه ترسره شوې او د مخصوصو تورو په واسطه ښودل شوي [۱۰]. CV د Co-efficient of variance لنډیز دی. د ودې او حاصل د پارامیترونو په احصایوي تحلیل کې د مایکروسافټ اکسېل پروګرام او ساس (SAS, version 9.4) سافټ ویر څخه ګټه اخېستل شوې [۲۱].

**څېړنیز مواد**: دې څېړنه کې د پیازو محلي ورایټي ( بلخیل )کومه چې خوست کې زیاته کرل کېږي او ښه توافق لري، غوره شوې، د نوموړې ورایټي خواص Bombay red ورایټي ته ورته دي. انتخاب شوي فکتورونه په دوه فکتوره آر سي بي ډي ډیزاین (Factorial RCBD design) د قوانینو مطابق په تصادفي ډول په پلان شوي لي آوټ کې ځای پر ځای شوي دي .هر ټریټمنټ درې ځلې په بلاکونو کې تکرار شوي دی، د فکتورونو او د دوی ترکیب اړوند معلومات په ۱ جدول کې ښودل شوي.

**پایله**

دې برخه کې د ودې او حاصل پارامیترونو اندازه اخېستنه اکثره د حاصل ټولونې پر وخت شوې، د مقالې د زیاتېدو د مخنیوي په موخه ودې پر وخت د پارامیترونو د اندازه اخېستنې څخه صرف نظر شوی. د کارولو شویو فکتورو نو له اغېزو څخه یوځایي اغېزې څېړل شوي.

**د نبات لوړوالی (سانتي میتر)**: د فکتورونو ځانګړې او یوځایي اغېزې د پام وړ وې. د احصایې له مخې S1N1تریتمنت نباتاتو جګوالی نسبت نورو ټولو تریتمنتونو ته ټیټ دي. د S3N4 تریتمنت نباتات تر ټولو جګ دي، ددې تریتمنت نباتاتو جګوالی له S2N4 ، S1N4 ، S2N3 ، S2N2او S3N3 سره د احصایې له مخې کوم د پام وړ توپیر نه لري. د S2N4 تریتمنت د احصایوي تحلیل له مخې له S1N4 ، S3N3 ، S2N3، S3N2 ، او S2N2 سره کوم د پام وړ توپیر نه لري، یاد تریتمنت له پورته یادو شویو تریتمنتو علاوه، له نورو ټولو تریتمنتو سره د پام وړ توپیر لري. S1N3 له S3N1 او S1N2 له S2N1 سره کوم احصایوي توپیر نه لري.

**د نبات د پاڼو شمېر:** د پیازو د پاڼو پر شمېر د فکتورونو یوځایي اغېزې د پام وړ تاثیر کړی. د احصایې له مخې د نبات د پاڼو په شمېر کې تر ټولو زیات توپیر (۷۹.٦٪) د نایتروجن زیاتې اندازې او د کر پراخې فاصلې (S3N4) او کنترول نایتروجن او تنګې کر فاصلې (S1N1) تریتمنتوتو ترمنځ لیدل کېږي، S3N4 تریتمنت له S2N4 او S3N3 تریتمنت او S3N2 له S2N3 او S1N4 سره د احصایي له مخې کوم د پام وړ توپیر نه لري، S1N1 تریتمنت د نباتاتو د پاڼو شمېر تر ټولو کم او د احصایې له مخې د ټولو تریتمنتونو سره د پام وړ توپیر لري.

**نباتي بیومس (ګرام في نبات):** د فکتورونو د یوځایې اغېزې په پایله کې د نباتي بیومس په اندازه کې د پام وړ زیاتوالي رامېنځته شوي، د کنترول نایتروجن او تنګې کر فاصلې په نسبت د کر پراخو فاصلو او د نایتروجن زیاتو اندازو زیات نباتي بیومس تولید کړي.

**د حاصل پرامیترونه:** د کر فاصلې او نایتروجن اندازې د یوځایې اغېزې په پایله کې د غوټو په قطر کې د پام وړ زیاتوالي (۸۱.۵٪) د S3N4 او S1N1 تریتمنتونو تر منځ لیدل کیږ.ي (۲- جدول). د پیازو نبات د غوټو پر قطر د S3N4 ، S3N3 او S3N2 تریتمنتونو او همدارنګه د S2N4 او S2N3 تریتمنتونو ااغېزه خپلو کې د پام وړ توپیر نه لري، د فکتورونو د یوځایې اغېزې په پایله کې د غوټو په لوړوالي کې د پام وړ زیاتوالي (۵۱.۲٪) د S3N4 او S1N1 تریتمنتونو تر منځ لیدل کیږي .د پیازو نبات د غوټو پر لوړوالي د S3N4، S3N3 ، S2N4 ، S2N3 ، S3N2 او S1N4 تریتمنتونه او همدارنګه د کنترول نایتروجن په تریتمنتونو کې د S2N1 او S1N1 تریتمنتونو ااغېزه خپلو کې د پام وړ توپیر نه لري. د في واحد غوټې پر وزن د کر پراخې فاصلې او زیاتې نایتروجن اندازې ااغېزه د احصایې له مخې د ټولو تریتمنتونو سره توپیر لري .یاد تریتمنت د کنترول نایتروجن او تنګې کر فاصلې (S1N1) په نسبت ٪۲۸۴ زیات وزن لرونکي غوټې تولید کړي . د S3N3 او S3N2 تریتمنتونو ااغېزه خپلو کې کوم احصایوي توپیر نه لري. د فکتورونو یوځایې اغېزې په پایله کې د حاصل زیاتوالی د احصایې له مخې د پام وړ دی .تر ټولو لوړ حاصل له S1N4 تریتمنت څخه او تر ټولو کم حاصل له S3N1 تریتمنت څخه په لاس راغلي. د S1N4 ، S1N3 ، S2N4 ، S2N3 او S1N2 تریتمنتونو د حاصلاتو ترمنځ کوم احصایوي توپیر شتون نه لري. د S3N1 تریتمنت حاصلات د احصایې له مخې له ټولو تریتمنتونو څخه ټیټ دي.

**۲- جدول:** د پیازو د غوټو پر قطر، لوړوالي، وزن او مجموعي حاصل د کر فاصلو او نایتروجن اندازو یوځایي اغېزې

| تریتمنتونه | د غوټو قطر (سانتي میتر) | د غوټو لوړوالی (سانتي میتر) | د غوټو وزن (گرام) | د غوټو وزن (ټن في هکتار) |
|---|---|---|---|---|
| N1S1 | ۳.۸[g] | ۴.۱[f] | ۳۸.٦[e] | ۲۹.۷[de] |
| N2S1 | ۴.۷[ef] | ۵.۲[de] | ۵۸.۲[de] | ۴۴.۸[abc] |
| N3S1 | ۵.۱[cde] | ۵.۵[bcd] | ۷۴.۱[cd] | ۵۷.۱[a] |
| N4S1 | ۵.۴[cde] | ۵.٦[abcd] | ۸۰.۳[cd] | ٦۱.۸[a] |
| N1S2 | ۴.۱[fg] | ۴.٦[ef] | ۴۲.۲[e] | ۲۰.۷[de] |
| N2S2 | ۵.۲[cde] | ۵.۲[cde] | ۷۷.۳[cd] | ۳۷.۸[bcd] |
| N3S2 | ۵.۷[bcd] | ۵.۸[abc] | ۹۴.۲[bc] | ۴٦.۱[abc] |
| N4S2 | ۵.۹[bc] | ٦.۰[ab] | ۹۸.۳[bc] | ۴۸.۱[ab] |
| N1S3 | ۵.۰[ed] | ۵.۳[cde] | ٦۴.۰[de] | ۱۴.۴[e] |
| N2S3 | ٦.۳[ab] | ۵.۸[abcd] | ۱۱٦.٦[b] | ۲٦.۲[de] |
| N3S3 | ٦.۴a[b] | ٦.۰[ab] | ۱۱۹.۲[b] | ۲٦.۸[de] |
| $N_4S_3$ | ٦.۹[a] | ٦.۲[a] | ۱۴۸.۵[a] | ۳۳.۴[bcd] |
| F-test | * | * | * | * |
| LSD (۰.۰۵) | ۰.۸۵ | ۰.٦۴ | ۲٦.۸۱ | ۱۷.۴۰ |
| CV (%) | ۹.۳۱ | ٦.۸۹ | ۱۸.۴۱ | ۱۸.٦۳ |

د هرې اندازې له پاره مختلف توري د پام وړ توپیر (Significant Difference) له پاره کارول شوي. (LSD) Least significant difference په ۵٪ کې موندل شوی. د پام وړ توپیر د شتون په صورت کې د ستوري سیمبول اینبودل شوي. CV د Co-efficient of variance لنډیز دی.

### اقتصادي گټورتوب (افغاني في هکتار)

مجموعي لگښت (افغاني في هکتار)، د پیازو د کروندې مجموعي لگښت د پیازو د تولید په جریان کې د ټولو مصارفو مجموعه ده .د S1N4 ، S2N4 او S3N4 تریتمنتونو مجموعي لگښت ( ۷۲۵۱۰ افغانۍ في هکتار) نسبت نورو تریتمنتونو ته لوړ دي .د پیازو د کروندې تر ټولو ټیټ مصارف (٦۱۱۰۰ افغانۍ في هکتار) له ټولو هغه تریتمنتوتو څخه تر لاسه شوي، کوم کې چې نایتروجن کنترول وو. د پیازو د کروندې تر ټولو لوړ مجموعي عاید ( ۷۴۲۵۸۷ افغانۍ في هکتار ) له S1N4 تریتمنت څخه او تر ټولو ټیټ مجموعي

عاید ( ۱۷۲۸۹۰ افغانۍ في هکتار ) له S3N1 تریتمنت څخه تر لاسه شوي .په دوهم قدم کې د S1N3 تریتمنت مجموعي عایدات (۶۸۵۲۹۹ افغانۍ في هکتار) لوړ دي. د پیازو د کروندې د خالص عاید پر اندازه هم د کر فاصلې او نایتروجن اندازې اغېزه کړي .د خالص عاید تر ټولو لوړه اندازه ( ٦٧٠٠٧٧ افغانۍ في هکتار ) له S1N4 تریتمنت، دې پسې د متصل لوړ خالص عاید اندازه ( ٦١٦٦٠۴ افغانۍ في هکتار) له S1N3 تریتمنت او تر ټولو د ټیټ خالص عاید اندازه ( ۱۱۱۷۹۰ افغانۍ في هکتار) له S3N1 تریتمنت څخه تر لاسه شوي. د ګټې او لګښت تر ټولو لوړ تناسب (۱۰.۲) له S1N4 تریتمنت، دې پسې متصل لوړ تناسب (۱۰.۰ ) له S1N3 تریتمنت او تر ټولو ټیټ د ګټې او لګښت تناسب ( ۲.۸ ) له S3N1 تریتمنت څخه په لاس راغلي. د څېړنې د ترسره کېدو کال (۱۴۰۰ ه ش) او ۱۴۰۳ ه ش کالونو تر منځ د قیمتونو تفکیک څېړل . ۱۴۰۰ ه ش کال کې د پیازو د في کیلو ګرام بیه ۱۲ فغانۍ وه، ولې سږ کال دا بیه ۱۴.۲ افغانۍ وه. د سرو بیو کې کم تفاوت تر سترګو کېږي. د کاریګرو دستمزد او د ځمکې تیارېدو مصارف شاوخوا سره یوشانته وو. د اقتصادي ګټورتوب له محاسبې دې پایلې ته رسیږو، که یاده څېړنه سږ کال ترسره شوي وی، اقتصادي ګټورتوب به یې نسبت ۱۴۰۰ هـ ش کال ته لړ ښه و. د دواړو کالونو اقتصادي ګټورتوب پرتلنه د ۳- جدول سربېره په ۳- شکل کې هم ښه واضحه شوي. په یاد شکل کې له یو څخه تر ۱۲ عددونه د تریټمېنټونو نماینده ګي کوي.

**۳- جدول:** د پیازو د کرلو پر اقتصادي تولید د کر فاصلو او نایتروجن اندازو اغېزې ( ۱۴۰۰ او ۱۴۰۳ ه ش کالونه)

| تریتمنتونه | خالص عاید (افغانۍ في هکتار) ۱۴۰۰ ه ش کال | د ګټې او لګښت تناسب (۱۴۰۰ه ش کال) | خالص عاید (افغانۍ في هکتار) ۱۴۰۳ ه ش کال | د ګټې او لګښت تناسب (۱۴۰۳ ه ش کال) |
|---|---|---|---|---|
| $N_1S_1$ | ۲۹۵۸۷۲ | ۵.۸ | ۳٦۰۵۳٦ | ٦.۸ |
| $N_2S_1$ | ۴۷۳۲٦۴ | ۸.۳ | ۵۷۱۱۲۳ | ۹.۷ |
| $N_3S_1$ | ٦۱٦٦۰۴ | ۱۰.۰ | ۷۴۱۴۴۲ | ۱۱.۷ |
| $N_4S_1$ | ٦۷۰۰۷۷ | ۱۰.۲ | ۸۰۵۴۱۸ | ۱۲.۰ |
| $N_1S_2$ | ۱٦۷۳۴۰ | ۴.۱ | ۲۳۲۰۸۸ | ۴.۷ |
| $N_2S_2$ | ۳۸۹۸۳۹ | ۷.۰ | ۴۷۲۴۰۴ | ۸.۲ |
| $N_3S_2$ | ۴۸۵۵۹۲ | ۸.۱ | ۵۸٦۴۱۱ | ۹.۴ |
| $N_4S_2$ | ۵۰۵٦۸۹ | ۸.۰ | ٦۱۰۸۹۲ | ۹.۳ |
| $N_1S_3$ | ۱۱۱۷۹۰ | ۲.۸ | ۱۴۲٦۸۷ | ۳.۳ |
| $N_2S_3$ | ۲۴۹۹۴۰ | ۴.۹ | ۳۰٦۸۵۷ | ۵.۷ |
| $N_3S_3$ | ۲۵۳۲۳۵ | ۴.۷ | ۳۱۱۴۵٦ | ۵.۵ |
| $N_4S_3$ | ۳۲۸۴۴۰ | ۵.۵ | ۴۰۱۱۴۸ | ٦.۵ |

په پورته جدول کې ټوله محاسبه په افغانيو شوي. پیازو د تولید په پروسه کې اجراءشویو کړنو مصارف او د توکیو پیر او پلور په سیمه کې د مارکیټ نرخونو ته په کتو سره تعین شوي.

## مناقشه

د نبات د ودې په پارامیترونو کې زیاتوالی د کافي غذایي موادو د اخیستنې پایله وه، کوم چې د نایتروجن په لوړه کچه او پراخه فاصله کې ترلاسه شوي. د کافي نایتروجن موجودیت د کلوروفیل او پروتین د جوړېدو مهم عنصر دی، د کوم په پایله کې چې کافي گاربوهایدریت جوړیږي او د نبات پر ټولو ودییزو پارامیترونو مثبت ااغېزه کوي [۲۰]. د څېړنو دا پایلې د مورسي، ناسرین او الفرهات له موندنو سره ورته والی لري، دوی راپور ورکړی چې د نایتروجني سرې په زیاتیدو سره د پیازو د ودې په پارامیترونو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی [۱۷، ۱۹، ۳].

د کر فاصلو او نایتروجن اندازو په زیاتیدو سره د ودې لپاره ښه شرایط مساعد کېږي، د کوم په نتیجه کې چې د پیازو د پاڼو شمېر او د نبات جگوالی زیات شوی او همدارنگه د غوټو وزنونه هم لوړ شوي. دې سره د پیازو بیومس لوړیږي، د غه موندنې د نسرین او د هغه ملگرو او همدارنگه د ډیریجي او د هغه د ملگرو له موندنو سره ورته والی لري، دوی راپور ورکړی چې د پیازو زیات بیومس د لوړ نایتروجن او پراخې کر فاصلې پر وخت تولید شوي [۱۹، ۱]. نایتروجن د نباتاتو د کلوروفیل او پروتینو ترکیبي جز دی، د پوره نایتروجن پر وخت نباتات خپل جوړ شوي




**۳- شکل:** د ۱۴۰۰ او ۱۴۰۳ هـ ش کالونو د اقتصادي کټورتوب پرتلنه

کاربوهایدریت غوټو ته انتقالوي او پایله کې د حجروي وېش پروسه کړندی کېږي او د غوټو د قطرونو او لوړوالي په اندازو کې زیاتوالی رامېنځته کېږي .دغه موندنې د جیلاني او د هغه ملګرو، اکون او محمد او ملګرو د موندو سره ورته والی لري [۱۴، ۲، ۱۸]. د نبات مجموعي حاصل په سیمه کې د نباتاتو د شمېر په زیاتېدو سره لوړ شوی. ولې د فې واحد غوټو وزن کم شوی. د پایلو دغه موندنې د لطیف او د هغه ملګرو او همدارنګه د یمن او د هغه د ملګرو د موندنو سره ورته والی لري، کوم چې د پیازو لوړ حاصلات په هغه تریتمنتونو کې تر لاسه شوي کوم کې چې زیات نایتروجن او د کر تنګې فاصلې کارول شوې وې [۱۶، ۱۵]. بیلانمي او د هغه ملګرې له څېړنو څخه دې پایلې ته رسیدلي، چې د کر په عین فاصله کې د نایتروجن د اندازې په زیاتیدو سره د پیازو مجموعي حاصل لوړیږي [۵]. د زیات نایتروجن لرونکو تریتمنتونو مجموعي مصارف نسبت نورو ته لوړ دي. تنګو کر فاصلو نسبت پراخو کر فاصلو ته زیات شمېر نباتات تولید کړي، د کومو چې مجموعي حاصلات نسبت نورو ته لوړ دي .د ګټې او لګښت تناسب، مجموعي عاید او خالص عاید لوړې اندازې د زیات نایتروجن لرونکو تریتمنتونو څخه کوم چې د کر په تنګو فاصلو کې کارول شوي و، تر لاسه شوي. د عایداتو دغه لوړوالی د لوړ حاصل او ټیټ مجموعي لګښت له کبله دی. دغه موندنې د جیبریت سادیک او جیسی سیو او د هغه د ملګرو له موندو سره ورته والی لري، کوم چې د پیازو د کروندې د عایداتو اندازه په هغه تریتمنتونو کې لوړه وه چېرته چې لوړ حاصلات او کم مصارف شوي وو [۸، ۷]. د اقتصادي ګټورب له تحلیل څخه څرګندیږي، چې د ور اچونکو په قیمتونو کې زیات توپیر نه شتون او د تولید د فې کیلو ګرام بیې ۲.۲ افغانۍ زیاتوالي له امله د ګټې او لګښت په تناسب کې زیاتوالی رامېنځته کړی.

**وروستۍ پایله**

د کیمیاوي سرو او د کر فاصلې په نه مراعت کېدو سره پیاز ښه حاصلات نه ورکوي. دا کرنه نه یوازې داچې اقتصادي نه ده، بلکې د محیط د ککړتیا سبب هم کېږي. تحقیقاتو ښودلې ده چې د سرو د استعمال او فاصلې په نظر کې نیولو سره د پیازو بوټي ښه حاصلات ورکوي .د مناسبو فاصلو په رعایت سره د نباتاتو ترمنځ سیالي کمیږي، د غوټو د ښې ودې لپاره شرایط مساعدیږي. د کر په تنګو فاصلو کې د پیازو مجموعي حاصل نسبت پراخو فاصلو ته لوړ دی، د تولید دا زیاتوالی په یوه ټاکلې سیمه کې د زیات شمېر نباتاتو د تولید له امله دی. نایتروجن اندازې په زیاتېدو سره د پیازو د ودې او حاصل پارامیترونو اندازه لوړه شوې. د نایتروجن اندازې په زیاتیدو سره د پیازو د تولید مجموعي مصارف لوړیږي، د مصارفو دا لوړیدنه د خالص

عاید په پرتله ډېره کمه ده .تر ۱۵۰ کیلو ګرام في هکتار نایتروجن اندازې په زیاتیدو سره د حاصل لوړېدنه اقتصادي تمامیږي.

**وړاندیزونه**

۱. د خاورې د کیمیاوي او فزیکي ځانګړنو معلومول اړین دي. تخمونه باید په مناسبو خاورو او مناسب وخت کې وکرل شي. تخمونه باید د یو څه وخت لپاره په اوبو خوشته شي. بزغالي باید هغه وخت انتقال شي، کله چې کافي اندازه لوړوالی ولري.

۲. د پیازو د کرلو پر وخت د نباتاتو ترمنځ باید مناسبې کر فاصلې په نظر کې ونیول شی، د مناسبو کر فاصلو پر وخت په پټیو کې د هرزه بوټو د کنترول او نورو کرنیزو فعالیتونو لپاره باید  شرایط مساعد وي.

۳. پیازو هم د نورو نباتاتو په څیر کافي او پر وخت ضروري غذايي عناصرو ته ضرورت لري .فاسفورس لرونکې سرې د بزغلیو د انتقال پر وخت او نایتروجن لرونکي سرې د ودې په دوو مرحلو کې و کارول شي.

۴. د پیازو په کرونده کې د هرزه بوټو د نه کنترول په صورت کې د ۴۰ - ۶۰ ٪ پورې د نبات په حاصلاتو کې کمښت رامېنځته کیږي، پس د ودې له لمړیو څخه باید د هرزه بوټو د راټګ مخه ونیول شي.

**ماخذونه**


1. Ademe, D., Belew, D., Tabor, G. Influence of bulb topping and intra row spacing on yield and quality of some shallot (Allium Cepa Var. Aggregatum) varieties at Aneded woreda, western Amhara. *African Journal of Plant Science*. 2012; *6*(6), 90-202.
2. Akoun, J. Effect of plant density and manure on the yield and yield components of the common onion (*Allium cepa* L.) var. Nsukka red. *Nigerian Journal of Horticultural. Science.* 2005; 9:43-48.
3. Al-Fraihat, A.H. Effect of different nitrogen and sulphur fertilizer levels on growth, yield and quality of onion (*Allium cepa* L.). *Jordan Journal of Agricultural Science.* 2009; 5(2):155-166.
4. Bagali, A.N. Patil, H.B. Guled, M.B. & Patil, R.V. (2012). Effect of scheduling of drip irrigation on growth, yield and water use efficiency of onion (*Allium cepa* L.). *Journal of Agricultural Science*, 25 (1):116-119.
5. Balemi, T.P Netra, Anil, S.A. Response of onion (*Allium cepa* L.) to combined application of biological and chemical nitrogenous fertilizers. *Acta agriculture Slovenica*. 2007; 89(1):107-114.

6. Falodun, E. J., Ehigiator, J. O. Influence of plant density and NPK 15: 15: 15 fertilizers on some agronomic characters and proximate composition of onion (Allium cepa L.) in Edo Rainforest of Nigeria. *International Journal of Plant & Soil Science*. 2015; 211-219.
7. Gebretsadik, K., Dechassa, N. Response of Onion (Allium cepa L.) to nitrogen fertilizer rates and spacing under rain fed condition at Tahtay Koraro, Ethiopia. *Scientific reports*. 2018; *8*(1), 1-8.
8. Gessesew, W. S., Woldetsadik, K., Mohammed, W. Effect of nitrogen fertilizer rates and intra-row spacing on yield and yield components of onion (Allium cepa L. Var. cepa) under irrigation in Gode, South-Eastern Ethiopia. *International Journal of Plant Breeding and Crop Science*. 2015; *2*(2), 46-54.
9. Getachew, A. Wassu, M. Tamado, T. Effect of plant spacing and NP fertilizer levels on growth, seed yield and quality of Onion (Allium cepa L.) at Shewa Robit, Northern Ethiopia. The Open Biotechnology Journal. 2020; 14, 12-22. DOI: 10.2174/1874070702014010012.
10. Gomez, K. A. Gomez, A. A. Statistical procedure for agriculture research, 2nd Ed., John Willey and Sons, New Yark. 1984.
11. Grubben, J.H. Denton, D.A. Plant Resources of Tropical Africa. PROTA Foundation, Wageningen; Backhuys, Leiden, CTA, Netherlands. 2004.
12. Hordofa, T. S., Woldetsadik, K., Mohammed, W. Effect of Nitrogen Fertilizer Rates and Intra-Row Spacing on Yield and Yield Components of 'Improved Huruta'Shallot Variety (Allium cepa var. ascalonicum) at Haramaya, Eastern Ethiopia. *Turkish Journal of Agriculture-Food Science and Technology*. 2020; *8*(12), 2541-2549.
13. Jilani, M.S. Ahmed, P. Waseem, K., Kiran, M. Effect of plant spacing on growth and yield of two varieties of onion (Allium cepa L.), Pakistan Journal of Science. 2010; 62(1):37- 41.
14. Jilani, M.S. Khan, M.Q., Rahman, S. Planting densities effect on yield and yield components of onion (*Allium cepa* L.). *Journal of Science Agricultural Researh. 2009;* 47(4):397-404.
15. Kahsay, Y., Belew, D., Abay, F. Effect of intra-row spacing on yield and quality of some onion varieties (Allium cepa L.) at Aksum, Northern Ethiopia. *African Journal of plant science*. 2013; *7*(12), 613-622.

16. Latif, M.A. Choudhury, M.S.H. Rahim, M.A. Hasan, M.K., Pal, B.K. Effects of spacing and age of seedling on the growth and yield of summer onion. *Journal of. Agroforestry and Environment.* 2010; 3 (2):129-133.

17. Morsy, M.G. Marey, R.A. Karam, S.S., Abo-Dahab, A.M.A. Productivity and storability of onion as influenced by the different levels of NPK fertilization. *Journal of Agricultural Research Kafer El-Sheikh University*. 2012; 38(1):171-186.

18. Muhammad, A. Gambo, B.A., Ibrahim, N.D. Response of onion (*Allium cepa* L.) to irrigation intervals and plant density in Zuru, Northern Guinea Savanna of Nigeria, *Nigerian Journal of Basic and Applied Science*. 2011; 19(2):241-247.

19. Nasreen, S. Haque, M.M. Hoss ain, M.A., Farid, A.T.M. Nutrient uptake and yield of onion as influenced by nitrogen and sulphur fertilization. *Bangladesh Journal of Agricultural Research*. 2007; 32(3):413-420.

20. Rizk, F.A. Shaheen, A.M. Abd El-Samad, E.H., Sawan, O.M. Effect of different nitrogen plus phosphorus and sulphur fertilizer levels on growth, yield and quality of onion (*AIlium cepa* L.). *Journal of Applied Science Research.* 2012*;* 8(7):3353-3361.

21. SAS institute Inc, Cary, NC, USA.

22. Silvertooth, C. J. Row spacing, plant population, and yield relationships. Internetdo ument. 2001. http://cals.arizona.edu/crop/cotton/comments/aprill999cc.html.

23. Wali, E., Datta, A., Shrestha, R. P., Shrestha, S. (2016) Development of a land suitability model for saffron (Crocus sativus L.) cultivation in Khost Province of Afghanistan using GIS and AHP techniques. Archives of Agronomy and Soil Science, 62 (7), 921-934. DOI: https://doi.org/10.1080/03650340.2015.1101519

24. World Weather Online. Statistics of Rainfall and Temperature of Khost Province. Available at: https://www.worldweatheronline.com/khost-weather-averages/khowst/af.aspx [Accessed 18 April 2020]

# پر روغتیا د خوړو غیر سالمیت ناوړه اغېزې

پوهندوی محمد حنیف هاشمي، شیخ زاید پوهنتون، کرنې پوهنځی، اګرانومي څانګه.

برېښنالیک: mohammadhanif1984@yahoo.com

**لنډیز**

د خوړو غیرسالمیت یوه عامه ولسي ستونزه ده چې په دواړو پرمختیایي او پرمختللو هېوادونو کې رامنځته کېږي. په نړۍ کې مېلیونونه وګړي کافي خوړو ته لاسرسی نه لري، هغوی د خوارځواکۍ په مختلفو بڼو اخته دي او تر ټولو زیات ماشومان او حامله میرمنې د خوارځواکۍ څخه کړېږي او هغوی ته راز راز روغتیایي ستونزې ایجادوي. پته لوړه چې د کم لګښته غذایي عناصرو او ویټامینونو له کموالي څخه رامنځته کېږي، په نړۍ کې خورا په پراخه اندازه پراخېدونکې ده. له مختلفو علمي سرچېنو څخه د خوړو د غیر سالمیت په باره کې معلومات راټول شوي او په یادې کتابتوني مقالې کې ځای ورکړل شوی دی. د خوړو غیرسالمیت په رامنځته کېدلو کې د څو عمده خوراکونو څخه ګټه اخېستل دي، حال دا چې بشر د سالمې تغذیې له پاره غوښو، لبنیاتو، هګیو، حبوباتو، مېوو، سبزیو او داسې نورو نباتاتو ته هم اړتیا لري. د خوړو غیر سالمیت د بشر پر روحي، جسمي او ټولنیزو کړو وړو منفي ااغېزه کوي. کله چې وګړي غیر متوازنه غذا استعمالوي؛ نو بدن یې د مختلفو امراضو پر وړاندې مقاومت نه شي کولی او د مزمنو ناروغیو په رامنځته کېدلو کې مرسته کوي. هر کال په مېلیونونه وګړي د خرابې تغذیې له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي او ځینې نور د ټول عمر د معیوبیت سره مخامخ کېږي. د خوړو غیرسالمیت په پایله کې خوراځواکي رامنځته کېږي چې د تغذیې له کموالي، د کم لګښته غذایي موادو له کمښت، زیات وزن او چاغوالي په بڼو ښایي راښکاره شي.

**کلیدي کلمې:** خوارځواکي، د خوړو اختیار، د خوړو حق، د خوړو غیرسالمیت، روغتیا، کم لګښته غذایي مواد

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

کله چې افراد یا کورنۍ د خوراک له پاره کافي خوړو ته لاسرسی و نه لري؛ نو هغوی وږي یا خوارځواکه کېږي او د دې وړتیا نه لري چې له فعال یا روغ ژوند څخه برخمن شي، دغه حالت د خوړو غیرسالمیت (Food insecurity) بلل کېږي [۱]. د خوړو غیر سالمیت ډېری وخت د خوارځواکۍ سره تړاو لري چې د یو شخص بدن ته د انرژي یا د غذایي موادو جذب په داسې بڼه وي چې وجود د کموالي، زیاتوالي یا غیر متوازن حالت سره مخامخ کوي. کله چې د یو فرد د خپل عادتي خوړو مصرف غیر کافي وي تر څو د خپل نورمال ژوند، فعالیت او روغتیا ساتنې له پاره انرژي تر لاسه کړي؛ نو داسې فکر کېږي چې خوارځواکه دی [۲]. په عمومي ډول، هغه خواړه چې په لوړه اندازه کالوري لري؛ خو د نورو غذایي موادو مقدار لږ لري، کولی شي چې وګړو د چاغوالي سبب جوړ شي. دا په ثبوت رسېدلې ده چې قحطي او چاغوالی، همدارنګه د تغذیې کموالی او زیاتوالی په موازي ډول په نړیواله توګه خپل مسیر ته دوام ورکوي؛ ځکه وګړي هغه خواړه مصرفوي چې په خپلو خوړو کې غیر کافي ویټامینونه، منرالونه او نور کم لګښته عناصر لري. له دې کبله، هغه وګړي چې زیات کالوري لرونکي غذایي مواد مصرفوي، په داسې خوړو کې د نورو غذایي موادو، لکه: کم لګښته غذایي موادو اندازه لږه وي؛ نو هغوی د خوارځواکي سره مخامخ کېږي. دا به د راتلونکو خوړو د تولید له پاره یوه ننګونه وي چې نه یوازې باید په کافي مقدار خواړه تولید کړي، بلکې د کیفیت له مخې هم غوره وي. خوار ځواکي (Malnutrition)، د تغذیې زیاتوالی (Overnutrition) او پټه لوږه (Hidden hunger) تغذیوي ستونزې دي چې د خوارځواکۍ درې‌ګونې پېټې (Triple burden) په نوم اصطلاح ورته کارول کېږي. یادې درې واړه ستونزې د بشر فزیکي - فکري انکشاف او تولیدي وړتیا کموي؛ د انتاني، څنډنیو امراضو او زېږېدنې په وړاندې د حساسوالي سره مرسته کوي [۳].

د خوړو غیرسالمیت یوه ستونزه ده چې ګڼ شمېر اړخونه لري چې ونډه اخېستونکي اسباب یې ټولنیز معیارونه، انفرادي کړه‌وړه، د بشري ژوند د پړاو مرحلې، د خوړو شتوالی او کیفیت ګډل کېږي. په لومړي ځل، شلمې پیړۍ په څلورمه لسیزه کې د خوړو سالمیت ته پام واړول شو، په اوسني وخت کې په پراخه اندازه د طرحو جوړونې؛ د بېړنیو بشري او انکشافي پالیسیو او پروګرامونو د ارزونې او پلې کولو په منظور استعمالېږي. وټه‌ییز، ټولنیز، چاپېریالیز او سیاسي سیستمونه د خوړو سره ډېر پېچلې خپلمنځي تړاو لري؛ که د خوړو غیر سالمیت یو سبب له منځه وړي، له لږ څخه تر ډېر ژور پورې یو بل سبب ښایي خپل اغېز څرګند کړي چې اصلي غیر سالمیت ښایي د یوې نښې په توګه رامنځته شي. د بیلګې په توګه، موږ ښایي نغدې پیسې یوې

غریبې ټولنې ته د خوړو د اخېستلو له پاره ورکړو، د یوې بلې ستونزې د هواري له پاره به هغوی یاده اندازه پیسې ولګوي او د پیسو د مقدار کموالی به یواځې هغوی له پاره په زړه ارمان پاتې شي؛ ځکه په سیمه‌ییزه توګه د ژوندانه د موقعو کموالی احساسېږي [۴].

د خوړو غیر سالمیت له څو لارو څخه په روغتیا او هوساینې اغېز کوي، د هغوی له جملې څخه روحي، ټولنیزې او جسمي یې غښتلې منفي پایلې دي، تر دې پورې د تغذیې په حالت کې د اندازې وړ د منفي تاثیراتو نشتوالی دی [۵]. د ټولنې په سطحه هغه لاملونه چې د خوړو په سالمیت باندې اغېز کوي، په هغوی کې اقلیمي حالات (وچکالي او سیلابونه)، ټولنیز-اقتصادي لاملونه (غربت او پوهنې ته لاسرسی)، ټولنیز لاملونه (د جنسیت نابرابري او په روغتیا پورې ناویلي رازونه) او په سیمه کې د خوړو شتوالی دی. د خوړو غیر سالمیت د روغتیا اړوند کړو وړو سره اړیکه لري؛ د ناروغیو مخنیوی، ادارې او درملنې باندې ااغېزه کوي. د خوړو غیر سالمیت په پراخه ډول پر روغتیا منفي اغېزې پریباسي. یاده ستونزه زیاتره د ښځو ترمنځ ډېره لیدل کېږي چې کورنۍ یې په دوامداره شکل د خوړو له غیر سالمیت څخه کړېږي، په هغوی کې محرومیت، ځور، ذهني فشار، خفګان او تشویش ډېر په لوړه اندازه وي. په نړیواله توګه، د خوړو غیر سالمیت د امراضو او مړینې منځته راتګ سبب کېږي [۶].

د خوړو غیر سالمیت هغه وخت رامنځته کېږي چې وګړي په خطر کې وي یا په حقیقت کې د کیفیت او کمیت له مخې غیر مناسب خواړه چې د هغوی غذایي اړتیاوې پوره کړي، مصرفوي. دا ښایي په فزیکي ډول د خوړو نشتوالی، په ټولنیز او اقتصادي ډول مناسبو خوړو ته د لاسرسي کموالی، له خوړو څخه غیرمناسبه ګټه اخېستنه او یا هم د یادو ټولو ترکیب وي. د خوړو غیرسالمیت ښایي ځنډنی، سمدستي او دوراني وي. د یادې ستونزې درک افرادو، کورنیو، ګروپونو، سیمو یا ټول هېواد ته په کتو، څرنګوالی یې ښایي معلوم شي. د خوړو غیرسالمیت هغه دوراني یا باثباته تجربه ده چې د خوړلو له پاره کافي خواړه موجود نه وي [۷]. د خوړو غیر سالمیت لوی اسباب په دې ډول دي: (۱) غربت، (۲) له فصل راټولولو څخه وروسته د کرنیزو محصولاتو ضایعات، (۳) نفوس او ښاري پراختیا، همدارنګه د کرنیز محصول له کروندې څخه تر مصرف پورې واټن او وخت، (۴) سیلابونه، وچکالی، افتونه چې د کم تولیدي توان سبب ګرځي، (۵) روغتیا ده، چې ناروغ خلک دروند کار توان نه لري، (۶) جنګونه او شخړې او (۷) جنسي نابرابري [۸]. د خوړو سالمیت له څلورو ستنو (د خوړو موجودیت، خوړو ته لاسرسی، له خوړو څخه ګټه اخېستنه او د خوړو ثبات) څخه په لومړیو دریو ستنو باندې په زیاته انداره د خوړو غیرسالمیت اغېز کوي. تر ممکنه حده پورې، هغه ډله

چې افراد يې له کافي خوړو څخه تر لاسه کوي: (۱) د خوړو مقدار، (۲) د خوړو کيفيت، (۳) د لاسرسي وړ خواړه، (۴) د خوړو خونديتوب او (۵) د خوړو باثباته او خوندي لارې ګڼل کېږي [۹].

## موخې

پر انساني روغتيا د خوړو د غير سالميت اغېزې

د خوړو د برخو پېژندنه او ارزښت

د خوړو له غير سالميت څخه د راپيداکيدونکو ستونزو مخنيوی

## د کار مواد او کړنلاره

ياده مقاله کتابتوني ده او په منځپانګې کې د نړۍ له معتبرو مقالو، مجلو، راپورونو، کتابونو او داسې نورو سرچينو څخه ګټه اخېستل شوې ده.

## خواړه او د خوړو حق

بشر د ژوند د پايښت له پاره خواړه خوري تر څو د کار له پاره کافي ځواک تر لاسه کړي او د خپلې روغتيا غوره څارنه وکړي. د يادو کارونو شونتيا، د يو شمېر کيمياوي توکو له امله وي چې په خوړو کې موجود وي. د بيلګې په توګه، مغذي مواد، غير غذايي مرکبات، همدارنګه له ځينو ځانګړو ګټورو مايکروارګانيزمونو څخه يادونه کېږي. د يادو خوړو اجزاوې د انرژۍ په توليد، د بدن د خاصو نورمالو دندو پر مخ وړلو، ودې او انکشاف کې مهم رول لوبوي. د بدن د داخلي دندو پر مخ وړلو، لکه: هضم او فزيکي فعاليتونو له پاره انرژي په مصرف رسوي. له خوړو تشکيلوونکو برخو څخه کاربوهايدريټونه، پروټينونه، شحميات د خوړو زيات لګښته مغذي (Macronutrients) مواد دي، همدارنګه ويټامينونه او منرالونه د غذا کم لګښته مغذي (Micronutrients) مواد دي چې بدن ورته په کمه اندازه اړتيا لري. د خوړو کم لګښته مغذي مواد په وجود کې مهمې دندې پرمخ وړي [۱۰]. د خوړو کيفيت هغو ټولو حفاظتي او حفظ الصحې معيارونو ته راجع کېږي چې د يو خوراک له پاره مدنظر نيول کېږي. د خوړو له پاره ټاکل شوي لوړ هغه معيارونه دي چې انساني روغتيا ته ګواښ نه پېښوي. د خوړو کيفيت ښايي هغو خصوصياتو ته هم راجع شي چې په لوړه اندازه غذايي، کرنيز يا اقتصادي ارزښتونه ولري، څنګه او چېرته کرل کېږي يا توليدېږي. د غذايي محتوياتو له مخې، هغه خواړه چې بدن ته په زياته اندازه ګټه رسوي، داسې فکر کېږي چې له هغو خوړو څخه لوړ کيفيت لري چې په لږه اندازه غذايي محتويات لري [۷].

خواړه هغه مواد دي چې خوړل کېږي یا څښل کېږي تر څو ژوند حمایه کړي او د بدن په انکشاف کې ونډه واخلي. که څه هم اوبه د ژوند یو بنسټیز توکی دی، په خوړو کې نه راځي، ورپسې شراب او دوایي هم په خوړو کې نه راځي [۱۱]. خواړه د غذایي موادو لومړنۍ سرچینه ده چې پایداره ژوند، د روغتیا هڅونې، ودې او انکشاف، د انساني تولیدي وړتیا تضمینولو له پاره اړین دي. خواړه د ایکالوژیکي او روغتیا پورې اړوند د ودې په هر پړاو کې د تولید، راټولونې، انتقال، پروسېس، ذخیرې، خرڅلاو، بسته‌بندي، د خوړو تیاری او مصرف د سیستمونو له خوا تولیدېږي. خوندي خواړه برابرول، د بشري ژوند له پاره ضروري دي؛ کله چې د خوړو د سیستم خوندیتوب له منځه ځي؛ نو په پایله کې د مړینو او ناوړه روغتیا رامنځته کېدلو سبب کېږي [۱۲].

د خوړو حق، یو انساني حق دی. یاد حق د ټولو انسانانو حق ساتنه کوي چې په درناوي، له لوږې، له خوړو غیر سالمیت او خوار ځواکۍ څخه پرته ژوند وکړي. د خوړو حق، خیرات نه دی، بلکې ټول وګړي باید د دې وړتیا ولري چې خپل ځانونه په وقار سره تغذیه کړي [۱۳]. د خوړو حق په دې ډول راپېژندل شوی یا تعریف شوی دی: د خوړو حق هغه حق دی چې د جسمي او روحي؛ انفرادي او ټولنیز؛ ډاډمن او له ډار پرته باعزته ژوند د تېرولو له پاره په منظم، دایمي او له قیوداتو پرته؛ په مستقیم یا اقتصادي ډول؛ د څرنګوالي او څومروالي له مخې مناسبو او کافي خوړو ته د وګړو د دود او دستور سره سم لاسرسی ولري [۱۴]. لنډه دا چې د خوړو اختیار (Food sovereignty) یې په دې ډول تعریف کړی دی: د خوړو واک او اختیار د هر قوم خپل حق دی چې د خپلې وړتیا سره سم خپلو بنسټیزو خوړو ته د کلتور او تولیدي تنوع ته په درناوي پرمختګ ورکړي او د هغې څارنه وکړي. موږ دا حق لرو چې د خپلو پولو دننه خپل خواړه تولید کړو. د خوړو د سالمیت اصل له پاره لومړیتوب د خوړو اختیار دی [۱۳].

د خوړو اختیار د وګړو هغه حق دی چې سالم، د کلتور سره سم، د ایکالوژیکي او پایداره طریقو په وسیله خواړه تولید کړي. دا هغه اړتیاوې او هیلې درک کوي، څوک چې خواړه تولیدوي، خواړه ویشي، د خوړو د بنسټیز سیستم او پالیسیو له مخې یې مصرفوي، بغیر له دې چې د بازار او ټولنو غوښتنې په نظر کې ونیسي. یاد حق د راتلونکي نسل له هیلو او غوښتنو څخه دفاع کوي. یاد سیستم د یوې داسې کرنلارې وړاندیز کوي چې د موجوده تعاوني تجارت او خوړو رژیم، خواړه، کرنې، له نړۍ څخه ګټې اخېستنې او کب‌نیونې سیستمونو په وړاندې مقاومت وکړي او ځان ترې خلاص کړي. د خوړو د اختیار په لومړیتوبونو کې د سیمه‌ییز او ملي اقتصاد، همدارنګه بازارموندنې غښتلتیا مهم عناصر شامل دي تر څو اجاره اخېستونکي، پر کرنې، کب‌نیونې، پر نړۍ پورې اړوند کورنۍ، د خوړو تولید، وېش او مصرف د چاپېریال، ټولنیزې او اقتصادي پایدارۍ وړتیا سره سم د هغوی ګټې پیاوړې کړي. د خوړو اختیار رڼې سوداګرۍ ته پرمختګ

ورکوي چې د ټولو وګړو، د دې تر څنګ د مصرفوونکو حقوق چې خپل خواړه او تغذیه کنټرولوي، تضمینوي. یاد حق دا ډاډمنوي چې د ځمکې استعمال او اداره، پولې، اوبه، تخمونه، څاروي او ژوندی تنوع د هغه چا په واک کې دي، څوک چې خواړه تولیدوي. د خوړو واک نوې ټولنیزې اړیکې د تضاد او بې عدالتۍ پرته د نارینه او ښځینه ترمنځ، د وګړو، توکمیزو ګروپونو، ټولنیزو اقتصادي ګروپونو او نسلونو ترمنځ قایموي [۱۳].

### د خوړو غیرسالمیت او خوارځواکي

د خوړو غیرسالمیت هغه مهال رامنځته کېږي چې کله وګړي د خپلې نورمالې ودې، پراختیا او غښتلي روغ ژوند له پاره په منظم ډول خوندي، مغذي خوړو ته کم لاسرسی ولري [۱۵]. د خوړو غیرسالمیت ټولې کالوري اخېستنې، تر څنګ يې د خوړو په کیفیت او تغذیوي حالت باندې هم اغېزه کوي. کله چې خواړه کمېږي، لوږه، د تغذیې کمښت کولی شي چې ټیټ قد، د معافیت کموالی او تلفات رامنځته کړي. همدارنګه د چاغوالي، ګډوډو خوراکونو او خوار کیفیت لرونکو خوړو له امله د خوړو غیرسالمیت پر روغتیا هم منفي اغېزه کوي [٦]. عموماً د کمزورې تغذیې بنسټ څو عمده خوراکونه تشکیلوي چې د پټې لوږې عامې سرچینې ګڼل کېږي. داسې خواړه کافي انرژي تولیدوي؛ خو ټول ضروري غذایي موادو، لکه: ویټامینونو او منرالونو څخه خوارې وي. هغه وګړي چې په پټې لوږې سره مخامخ وي، د متوازنې غذا د اهمیت په هکله ورته کافي پوهاوی نه وي یا هغوی په پراخه اندازه مغذي خوړو (حیواني او نباتي سرچینو) ته د ځینو لاملونو له کبله لاسرسی نه لري. غربت او لوږې بېې له هغو بنسټیزو لاملونو څخه ګڼل کېږي چې وګړي د اوږدې مودې په جریان کې یواځې په څو عمده خوراکونو باندې بساینه کوي او پایله کې د خوړو غیرسالمیت رامنځته کوي. د خوړو غیر سالمیت وجوهات په ۱ انځور کې ښودل شوي دي. د یادو حالاتو د مخنیوي په خاطر لازم دي چې افراد او کورنۍ له عمده خوړو څخه علاوه د مېوو او سبزیو څخه ګټه واخلي. یاد خواړه د صحي تغذیې او ځینو مزمنو ناروغیو په مخنیوي کې مهم رول لري. د مېوو او سابو خوړل، کولی شي چې د ځینو مزمنو ناروغیو مخنیوی او د کم لګښته غذایي موادو د رسونې له لارې د ۲,۷ مېلیونه انسانانو ژوند وژغوري [۱٦]. سابه او میوې د انساني خوړو لویه برخه جوړوي او د مهمو ضروري غذایي عناصرو، لکه:

جستو، مسو، اوسپنې، ایوډینو او داسې نورو، همدارنګه ویټامینونو او مختلفو میتابولایټونو سرچینه ده او په انساني روغتیا باندې ګټور اغېز پرېباسي [۱۷].




۱ انځور: د خوړو غیر سالمیت په ډاګه‌کوونکي لاملونه ښيي [۱۶].

په نړۍ کې، منځنۍ اندازه له خوړو څخه تر لاسه کېدونکي انرژي په ورځ کې ۲۹۰۳ کیلوکالوري اټکل کېږي چې د انرژۍ منځنۍ تقاضا له پاره کافي ده؛ خو بیا هم، په ورته وخت کې په نړۍ کې له هرو ۹ نفرو څخه یو نفر د انرژۍ تر لاسه کولو له پاره کافي خواړه نه لري او له خوارځواکۍ څخه ځورېږي [۱۸]. د خوارځواکي (Malnutrition) کلمه خرابې تغذیې له پاره کارول کېږي، یاده کلمه د تغذیې کموالی (Undernutrition)او زیاتوالی (Overnutrition) دواړې کلمې د مفهوم له درکه رانغاړي. د کم لګښته غذایي عناصرو کمښت د تغذیې په کموالي او زیاتوالي دواړو کې منځته راځي. په نړیواله توګه، د هغو کسانو شمېر چې له غیرکافي کالوري څخه ځورېږي، په کمېدو دی، حال دا چې د هغو افرادو شمېر چې د غیر کافي غذایي عناصرو له کمښت څخه رنځ وړي، په زیاتېدو دی. په یو وخت، د زیات وزن او چاغ لرونکو کسانو شمېر په حیرانوونکي ډول په زیاتېدو دی. د خوارځواکي بېلابېل ډولونه د ملتونو، کلیو او حتیٰ د کورنیو دننه موندل کېږي. ۲ انځور د خوارځواکي ډولونه بیانوي چې د تغذیې د زیاتوالي او کموالي سره تړاو لري [۱۹].




۲ انځور: د خوارځواکي مختلفې بڼې ښيي [۱۹].

ځلور ډوله خوار ځواکي (۱) د پروټين او انرژي د کموالي خوارځواکي، (۲) د اوسپنې کمښت او د وينې کموالی، (۳) د ويټامين اې کمښت (۴) د ايوډين له کموالي څخه رامنځته کېدونکي خوارځواکي موجوده ده. سربېره پردې، د جستو کموالی هم د بدن مقاومت کمولو او د انتاناتو پر وړاندې د حساسوالي لامل کېدلی شي [۲۰]. د کم لګښته عناصرو کمښت دواړه مزمنې او انتاني ناروغيو خطر ډېروي، د ناروغيو اغېزې خوابدوونکي دي او د فکري او فزيکي وظايفو بېرته سمونې؛ په ځانګړې توګه، د ۹ – ۲۴ مياشتو د عمر په مهمې دورې کې بيا ځلې ستنېدونکي نه دي. يادې بيا نه ستنېدونکي اغېزې د ماشومانو د پالنې د دوامداره غربت سره تړاو پيداکوي؛ په دې توګه، د خوړو غير سالميت پايلې لا پسې خرابوي [۴]. د اوږدې مودې بحرانونه هم د خوړو په غيرسالميت کې مهم رول لري، د هغوی منځته راوړونکي لاملونو کې بشري فعاليتونه، طبيعي آفتونه، شخړې، اوږدې مودې د خوراکي توکو بحرانونه، کمزورې حکومتولي او ضعيفې اداري شاملې دي. د يادو لاملونو تر څنګ پايداره غربت، غيرمساوات او د خوړو غير سالميت هغه مهمې ستونزې دي چې بشري روغتيا اغېزمنوي [۲۱]. يوه ښه بېلګه يې د افغانستان ځلوېښت کلن ناورين دی چې له وګړو يې د ښيرازه ژوند تر څنګ ثروت، صحت، امنيت او د خوړو سالميت اخېستی دی.

په نړيواله توګه، په هرو ۹ نفرو کې يو نفر، کافي خوړو ته لاسرسی نه لري. د هغوی غذايي مواد د پروټينونو يا د کالوري او يا هم د دواړو له درکه، بسباينه نه کوي، نو ياد حالت د پروټين ــ انرژي خوارځواکي (Protein-energy malnutrition) په توګه پېژندل کېږي. کله چې کالوري او پروټين کافي نه وي؛ نو هغوی د ذخيره کولو او يا بې شمېره نورو دندو پر مخ بيولو پرځای، د غذايي موادو پروټين د انرژۍ په موخه استعمالېږي. نور د خوړو مهمې برخې، لکه: ويټامين او منرالونه هم په لږه اندازه بدن ته عرضه کېږي. د

پروټینو انرژي خوارځواکي په رامنځته کولو کې ګڼ شمېر لاملونه دخیل دي؛ په هغوی کې غربت، د خوړو خراب کیفیت، بدن ته غیر کافي خوړو جذب، د ژوند غیر صحي حالات، د ماشومانو مناسبې تغذیې پر وړاندې ناپوهي او بې پروایي او له وخت څخه وړاندې له تي څخه د ماشومانو بېلول، شامل دي. له پروټیني ـ انرژي خوارځواکي څخه ماشومانو ونه (قد) د خپل عمر په پرتله ټیټه پاتې کېږي او د بدن وزن کم لري. په داسې حالاتو کې تی خوري او ماشومان وده کوي؛ نو هغوی د خپل جسم د اندازې له مخې د لویانو په پرتله زیاتې غذايي اړتیاوې لري. ډېرى وخت د دواړو کالوري او پروټینونو کمښت، هممهاله یوځای رامنځته کېږي. ځینې وختونه یو حالت ښایي د بل په پرتله ډېر ځله واقع شي. د پروټینونو شدید او سخت کموالي ته کواشیارکور (kwashiorkor) وايي. حال دا چې، د کالوري شدید کمښت د مراسمس (Marasmus) په نوم یادېږي. هغه حالت چې د کالوري او پروټینونو دواړو مزمن کمښت سبب کېږي، د مراسمیک کواشیارکور په نوم یادېږي [۲۲].

د خوارځواکي درې ننګوونکي ستونزې (Trilemma): (۱) د خوړو کموالی، (۲) پټه لوږه (د کم لګښته عناصرو کمښت) او (۳) زیات وزن، د نړۍ ګرد چاپېره په چټکتیا سره راښکاره‌کېدونکي دي (۱ جدول). د خوارځواکۍ له ډولونو څخه په انساني نفوس کې رامنځته کېږي، د لږلګښته عناصرو کمښت د روغتیا تر ټولو زیات د فکر وړ خبره ده چې د اوسپنې له کموالي څخه د وینې کموالی (Anemia) او د جست له کمښت څخه راپیداکېدونکي ستونزې د ټیټ قد پاتې کېدل، په ګوته شوي دي چې د نړۍ ګڼ شمېر بارداره میرمنې، ځوان ماشومان او غریبو کورنیو اړوند ناروغ بزګران زیانمنوي [۲۳]. په نړیواله توګه، د دې ادعا کېږي چې هره ورځ لوږه او غربت د ۲۵ زره انسانانو ژوند اخلي. کله چې بشر خوړو ته کم لاسرسی لري؛ نو ښايي هغوی د خوارځواکۍ او د کم لګښته مغذي موادو د کمښت سره مخامخ شي چې تغذیې پورې اړوند د ناروغیو ښکار کېږي. د زېږون پر مهال د کم وزنو ماشومانو پیداکېدل او په ماشومتوب کې د وزن بایلل، د هغوی د مړینې لوی لامل دی چې هر کال د ۲ مېلیونو ماشومانو د مړینې سبب کېږي (۲۴).

۱ جدول: په نړیواله توګه د نفوس اړوند طبقې د خوارځواکي سره مل شمېر ښودل کېږي [۲۵].

| د نفوس اړوند طبقې | شمېر | کال |
|---|---|---|
| له پنځه کلنۍ څخه کم، د زیات وزن لرونکي ماشومان | ۳۹ مېلیونه | ۲۰۲۰ |
| چاغوالی | ۶۷۶ مېلیونه | ۲۰۱۶ |
| خوارځواکي | ۷۶۸ مېلیونه | ۲۰۲۱ |
| له پنځه کلنۍ څخه کم عمر لرونکو ماشومانو ټیټ قدونه | ۱۴۹ میلیونه | ۲۰۲۰ |

| | | |
|---|---|---|
| له پنځه کلنۍ څخه د کم عمر لرونکو ماشومانو تلفات | ۴۵ میلیونه | ۲۰۲۰ |
| کم وزنه پیداکیدونکي ماشومان | ۲۱ میلیونه | ۲۰۱۵ |
| د کم لګښته عناصرو کموالي (اوسپنه) | ۵۷۱ میلیونه له ۱۵-۴۹ کلنې پورې ښځې او جنۍ | ۲۰۱۹ |

د خوړو نړیوال پروګرام د خوړو غیرسالمیت په پنځو برخو وېشلی دی. (۱) د خوړو سالمیت هغه ته وایي چې افراد او وګړي خوراکي او غیرخوراکي توکو ته لاسرسی لري؛ (۲) د فشار لاندې حالت هغه دی چې کورنۍ په ډېر پام او احتیاط سره خواړه مصرفوي؛ (۳) بحراني هغه حالت دی چې خلک د خوړو په مصرف کې د وخت فاصله مراعتوي او سملاسي خوارځواکي باندې اخته وي یا د خوړو اړتیاوو ته په کمه اندازه لاسرسی لري او خپلې مهمې پانګې د خوړو په مصرف لګوي؛ (۴) بیړنۍ هغه حالت دی چې کورنۍ د خوړو په مصرف کې وخت ته زیات واټن ورکوي او په لوړه اندازه خوارځواکي ور سره مله وي یا د ژوندانه د بېړنیو ستراتیژیو په کار اچونې سره د دې وړتیا ولري چې د خوړو د مصرف فاصلې کمې او خپلې پانګې مصرف کړي؛ (۵) د قحطي هغه حالت دی چې افراد او وګړي له لوږې او ناورین سره مخامخ شي چې د خوړو او نورو بنسټیزو توکو کمښت بې ساري رامنځته ته شي. لوږه، له حده زیاته نیستي او مرګ په ۵ حالت کې رامنځته کېږي [۱].

د خوړو غیر سالمیت یو واحد ازمایښت نه دی، بلکې د مرحلو یو تسلسل دی چې د خوړو د محروموالي بنسټیزې اړتیاوې په زیاته اندازه منعکسوي، د دې سره د تصمیم نیونې پروسه او د عکس العمل په وړاندې کړه‌وړه یوځای وي چې د کور اړوند سرچینو باندې په زیاته اندازه محدودیت لګوي. د خوړو غیرسالمیت یوه مسلسله ازموینه (۳ انځور) ده چې له زیاتې شدیدې بڼې له قحطي څخه تر د خوړو بشپړ سالمیت پورې رسېږي [۴]. د خوړو سالمیت د خوړو او کرنې نړیوالې ټولنې په ۱۹۹۶م کال کې داسې تعریف کړی چې « ټول وګړي، په ټولو وختونو کې، خپلو غذایي اړتیاوو ته د خپلې خوښې سره سم، د خپل فعال او سالم ژوند پر مخ بېولو له پاره کافي، خوندي او مغذي خوړو ته په فزیکي، ټولنیز او اقتصادي ډول لاسرسی ولري، د خوړو سالمیت بلل کېږي» [۲۶]. د یو مهم ټکي یادونه ضروري ده چې د خوړو سالمیت او غیرسالمیت حالتونه د افرادو یا کورنیو په سطحه ثابت نه دي او کولی شي چې د وخت په تیرېدو سره بدلون وکړي [۴].

<table>
<tr><td colspan="2">قحطي</td><td rowspan="6">د خوړو غیر سالمیت</td></tr>
<tr><td colspan="2">سملاسي (حاد) لوږه</td></tr>
<tr><td colspan="2">ځنډنی (مزمنه) لوږه</td></tr>
<tr><td rowspan="3">پټه لوږه</td><td>غیرکافي خواړه خوړل</td></tr>
<tr><td>نیمه کافي خواړه خوړل</td></tr>
<tr><td>د وزن پیداکوونکو خوړو خوړل</td></tr>
<tr><td colspan="2">د کافي خوړو خوړل، مګر د راتلونکي خوړو د لاسرسي په باره کې پریشاني</td><td>وګړي زیانمنوونکي دي چې خواړه غیر سالمیت ته بیایي</td></tr>
<tr><td colspan="2">مناسب کیفیت لرونکو او پایښتي خوړو خوړل</td><td>خواړه سالم دي</td></tr>
</table>

۳ انځور: د خوړو د سالمیت تسلسل راښیي [۴].

## د خوړو سالمیت او روغتیا

ټول خلک خوړو ته اړتیا لري؛ خو د خوړو اندازه او ډول د عمر سره توپیر کوي. ماشومان کافي خوړو ته اړتیا لري، یاد خواړه نه یوازې د هغوی د بدن ساتنه او څارنه کوي، بلکې هغوی ته انرژي او غذایي مواد هم مهیا کوي چې نوې حجرې جوړې کړي. د دې شواهد موجود دي چې ماشومان ځانګړو غذایي عناصرو ته ضرورت لري چې بالغان ورته په هماغه اندازه نوره اړتیا نه لري. د پاخه عمر او هغه خلک چې وجود یې نوره وده نه کوي، یواځې کافي خوړو ته اړتیا لري چې د خپلو وجودونو څارنه وکړي. د خوړو یوه برخه د یوې بلې برخې له پاره بدیل نه شي کېدلی. په دې توګه، د کاربوهایدریټونو برابرول، د بدن د امینو اسیدونو کافي اړتیا نه شي پوره کولی. په ورته توګه، له پروټینونونو څخه غني خوراکونه، ټول د ضرورت وړ شحمیات چې د بدن له پاره حتمي دي، نه شي مهیا کېدلی. د خوراک ټولې اجزاوې، له منرالونو څخه پرته د وجود د انرژۍ له پاره استعمالیدلی شي؛ که څه هم، هغوی له یو شان اغېزمنتیا څخه برخمنې نه دي. د ساینس پوهانو له خوا د انرژي په مختلفو طریقو سره اندازه کېږي، خو له خوړو څخه کومه انرژي لاسته راځي، هغه په کالوري یا کیلوکالوري سره اندازه کېږي [۲۷]. په ۲ جدول کې له پروټینونو، کاربوهایدریټونو او شحمیاتو څخه د انرژي د حصول اندازه په کالورۍ سره ښودل شوې ده.

۲ جدول: د خوړو په بنسټیزو برخو کې د انرژۍ اندازه ښیي [۲۷].

| برخې | کالوري/ګرام |
|---|---|
| پروټین | ۴ |
| کاربوهایدریټ | ۴ |
| شحمیات | ۹ |

ګردچاپېره نړۍ کې د میتابولیکي انرژۍ تر ټولو عامه سرچینه کاربوهایدرېټونه دي. له کاربوهایدریټونو څخه غني تر ټولو عام خواړه د غنمو، وریجو، جوارو، الوګانو او کاساوا څخه عبارت دي. د انرژي کموالی په زیاته اندازه د ماشومانو ـ لویانو، نمو او روغتیا خرابوي. که غیر کافي انرژي له کاربوهایدریټونو او شحمیاتو څخه بدن ته ورعلاوه کېږي، له منرالونو او فایبر څخه پرته، نور ټول خواړه د انرژۍ د سرچینې په توګه استعمالېدای شي. د دې معنیٰ دا ده چې د خوړو نورې اجزاوې به د دې وړ نه وي چې د بدن د نورو مهمو برخو، لکه: د عضلاتو انکشاف ضرورتونه پوره کړي؛ ځکه هغوی به د انرژي د حصول له پاره استعمالېږي. له دې کبله، له انرژي څخه غني خواړه د بدن د نورمالې ودې او روغتیا له پاره ضروري دي [۲۷].

د غذايي موادو ستونزې په پرمختیايي هېوادونو کې په نورمال شکل د خوړو د کمښت یا له غیر متوازنو غذايي موادو اخېستلو څخه پیداکېږي. یاد حالات د فقر، د خوړو پر نباتي سرچینو یې اتکا او د انتاني رنځونو د لوړې اندازې سره تړاو پیداکوي. د غذايي موادو کمښت او انتاني ناورغی یې غربت لاپسې زیانموي، تنخواوې له لاسه ورکوي، د روغتیا پالنې لګښتونه یې زیاتېږي، ذهني انکشاف یې ګډوډېږي او په پایله کې د ګټې وټې ځواک یې کمېږي. د غریبو کورنیو ښځې او ماشومان د زیات خطر سره مخامخ وي، د ماشومتوب په لومړیو وختونو کې خوارځواکي د یو شمېر مستقیمو او غیر مستقیمو ونډیوالو پېچلې پېښه ده چې د متوازنې غذا د کموالي سره تړوا لري. په هغوی کې غیر کافي تی ورکول او غیر مناسب بشپړوونکي خوراکونه؛ د هاضمي انتاني ناروغیو له امله د غذايي عناصرو ضایعات؛ د کولمو د دوامداره پرازیتي انتاناتو له کبله د مزمن معافیت هڅونه؛ نامناسبه حفظ الصحه او پاکوالی؛ همدارنګه د ککړو اوبو استعمال شامل دی [۲۸].

په مسلسل ډول روغتیا بخښونکو خوړو ته لاسرسی یو مهم روغتیايي او بنسټیز انساني حق په ډاګه کوي. په ماشومتوب کې لوږه د کمزورې غذا او غذايي چاپېریال د کورنیو اقتصادي ودې سره تړاو پیداکوي. په ځانګړې توګه، هغه ماشومان، په داسې کورنیو کې رالوییږي چې غیر سالم خواړه استعمالوي؛ نو په هغوی کې په لوړه اندازه د بې قرارۍ، دباو، غصې او بې پروایۍ نښې په کې راڅرګندېږي [۲۹]. د ماشوم ژوند له پاره لومړنۍ ۱۰۰۰ ورځې ډېرې مهمې یادې شوې دي. په یادې مودې کې په تیزۍ سره دماغ وده کوي. که په یادې موده کې هره ګډوډي؛ په ځانګړې توګه، د خوارځواکۍ له امله رامنځته شي؛ نو د اوږدې او لنډې مودې دواړه اغېزې د بشر پر روغتیا، پوهنې او تولیدي وړتیا پرېباسي [۳۰]. د پرمختیايي هېوادونو هرو پنځو ماشومانو کې یو ماشوم د خوارځواکۍ سره مخ دی او په نړیواله سطحه کمزورې تغذیه د ټولو ماشومانو د مړینې نیمايي برخه جوړوي. د ماشومتوب په لومړیو کې خوارځواکي د ذهني او فزیکي معیوبیت سره مرسته کوي او ښايي ورته پېښې په راتلونکي نسلونو کې چې مور یې د خوارځواکۍ سره مخ وي، د کم‌وزنه ماشومانو

د زېږون سبب وګرځي، لېدل کېدلی شي. د ماشومتوب په لومړيو مرحلو کې د خوارځواکي رېښه پېچلې ده او د يو شمېر لاملونو سره مستقيم او غير مستقيم تړاو پيداکوي چې د خوړو د کمښت باعث کېږي، په هغوی کې ماشومانو ته د سينې شيدې غير کافي ورکول؛ غير مناسب خوراکونه؛ د تنفسي او هاضمې سيستم د ناروغيو له کبله د پروټينونو او غذايي عناصرو زيان؛ د کولمو دوامداره پرازيټي انتاناتو له کبله کمزورې او مزمنه د معافيت هڅونه؛ غير مناسبې اوبه او حفظ الصحه شامل دي. د خوړو غير سالميت د ماشومانو د خوارځواکي يو کليدي خطرناک لامل دی [۳۱].

ټيټه ځواني، د ټيټ قد پاتې کېدو يو حالت دی چې د ماشومانو فزيکي او ذهني انکشاف زيانمنوي، له عامو انتاني ناروغيو څخه د مړينې خطر لوړوي او د ژوند په وروستي پړاو کې د زيات وزن او له مزمنو ناروغيو څخه د مړينې پېښې زياتوي. په نړيواله سطحه، له پنځه کلنی څخه په ټيټ عمر کې د ماشومانو ترمنځ د ټيټ قد پاتې کېدو اندازه په تدريجي ډول ښکته تللې ده. په ۲۰۰۰ م کال ۳۱،۱٪ (۲۰۱،۶ مېليونه) او په ۲۰۲۰م کال ياده اندازه ۲۲٪ (۱۴۹،۲ مېليونه) ته راټيټه شوې ده. د کم وزنه ماشومانو د پيداکېدو اندازه په ۲۰۰۰م کال کې ۱۷،۵٪ (۲۲،۹ مېليونه) وه. حال دا چې، ياده اندازه په ۲۰۱۵م کال کې ۱۴،۶٪ (۲۰،۵ مېليونه) راکښته شوه. هغه ماشومان چې د کليوالو سيمو او غريبو کورنيو سره تړاو لري، ميندو يې تعليم تر لاسه کړی نه دی، د ماشومانو په ټيټ قد او تلف کې زيان لېدونکي دي [۲۵]. د ماشومانو تلف د هغوی ژوند ته د ګواښ يو حالت دی چې د غير کافي غذايي عناصرو اخېستنې، د لږو غذايي عناصرو د جذب، بار- بار يا د اوږدې مودې له ناروغيو څخه رامنځته کېږي. اغېزمن ماشومان په ويروونکي حالت سره ډنګر، کمزوری معافيت او د مړينې د لوړ خطر سره مواجه وي. په ۲۰۲۰ م کال له پنځو کلونو څخه د کم عمر ماشومانو د تلفاتو اندازه ۶،۷٪ (۴۵،۴ مېليونه) ښودل شوې ده [۲۵؛ ۳۲].

هغه ماشومان چې د ښاري سيمو له بډايه کورنيو سره تړاو لري، د زيان وزن له زيات خطر سره مواجه دي. کوم ماشومان چې زيات وزن او يا هم د چاغوالي سره مخ وي، دواړه د لنډې او اوږدې مودې له غښتلې روغتيايي اغېزو څخه کړېږي او د عمر په وروستۍ مرحله کې د مزمنو ناروغيو خطر ډېروي. په نړيواله توګه، په ماشومانو کې د چاغوالي اندازه په ۲۰۰۰ کال کې له ۵،۴٪ (۳۳ مېليونو) څخه ۵،۷٪ (۳۹ مېليونو) ته په ۲۰۲۰ م کال کې پورته شوې ده. د ماشومانو ياده اندازه، د نړۍ په نيمايي هېوادونو کې لېدل کېږي [۲۵]. د افريقا په نيمه سهارا او سهېل ختيځې اسيا هېوادونو کې د ماشوم خوارځواکي يو تر ټولو سخته روغتيايي ستونزه ده. نږدې ۳،۱ مېليونه ماشومان هر کال په مستقيم يا غير مستقيم ډول د خوارځواکۍ له سببه مري او

نږدې ۱٦۵ مېليونه ماشومان له نمو مزمن محدوديت څخه اغېزمن دي او د ژوند په لومړيو کلونو کې د ودې زيان د بشر له پاره جبران نه لري [۳۳].

په نړيواله سطحه، په ماشومتوب کې خوارځواکي له پنځو کلونو څخه د ټيټ عمر ماشومانو د مړينې درېيمه برخه او د ټول عمر معيوبتوب ۱۱٪ برخه جوړوي، همدارنګه ۸۰٪ د مړينې پېښې په کم عايد لرونکو هېوادونو کې رامنځته کېږي [ ۳۰]. په نړيواله توکه، په ۲۰۱۹م کال، له هرو دريو ښځو څخه يوه چې عمرونه يې د ۱۵ – ۴۹ کلونو پورې او شمېر يې نږدې ۵۷۱ مېليونه ته رسيږي، د کليوالي غريبو کورنيو سره تړاو لري او رسمي تعليم يې حاصل کړی نه دی، د وينې له کمښت سره مخامخ شوې دي [۲۵]. په نړۍ کې نږدې ۳۴۰ مېليونه ماشومان چې عمرونه يې له پنځو کالو څخه کم دي او نږدې ۲ مېلیارده وګړي، د کم لګښته عناصرو پر کمښت اخته دي. د نړۍ نږدې ۱۷,۳٪ وګړي له جستو غير کافي مقدار څخه په لوړ خطر کې دي. حال دا چې، ۳۰٪ نفوس د وينې له کمښت څخه رنځ ګالي [۲۳]. په ۲۰۲۰م کال نږدې ۳,۱ مېلیارده وګړو له روغ غذايي رژيم څخه ګټه نه ده اخيستې. د ۲۰۱۹ په پرتله په ۲۰۲۰ م کال لا نور ۱۱۲ مېليونه وګړي د خوراکي توکو د لوړو نرخونو او د کرونا ناروغۍ له اقتصادي خپې څخه اغېزمن شوي دي. ياد زياتوالی په اسياکې ۷۸ مېليونه، په افريقا کې ۲۵ مېليونه، په لاتينې امريکا ، کرابين سواحلو، شمالي امريکا او اروپا کې ۸ مېليونه تخمين شوی دي [۲۵].

په نړيواله توګه داسې ارزونه شوې چې نږدې ۲ مېليونه وګړي لا تر اوسه پورې د ايوډين په کموالي اخته دي او نږدې ۵۰ مېليونه وګړو کلنيکي نښې د ايوډين د کمښت له امله ښکاره کړې دي [۳۴]. د لږ او منځني عايد لرونکو هيوادونو په هرو دريو ماشومانو کې يو ماشوم چې عمر يې د ٦- ۵۹ مياشتو پورې دی، د ويټامين اې په کموالي اخته دی. په ۲۰۱۳م کال د پنځو کالو څخه د کم عمر لرونکو ماشومانو نږدې ۱,۷٪ مړينه د ويټامين اې د کموالي څخه تړاو ورکول کېده او ۹۵٪ د مړينې پېښې په جنوبي اسيا او د افريقا نيمه سهارا کې رامنځته شوي وې [۳۵]. په روغتيا کې لويې ستونزې، لکه: ړوندوالی، ټيټه ونه، د معافيت کموالی او وختي مړينه د ويټامين اې له کموالي څخه رامنځته کېږي [۳٦]. ويټامين اې يو مهم لامل دی چې ماشومان له ړوندوالي څخه ژغوري او کمښت يې نږدې ۲۵۰ مېليونه ماشومان اغېزمنوي، مخکې له دې چې ښوونځی پيل کړي [۳۷]. ويټامين ډي يوه نړيواله روغتيايي ستونزه ده چې زياتره زاړه وګړي تر خپل اغېز لاندې راولي [۳۸]. په پرمختيايي هېوادونو په منځني ډول په هرو دريو کسانو کې يو نفر د منرالونو په کموالي اخته دی. په يادو هېوادونو کې اوسپنې، جستو، کلسيم او ايوډين کموالی، لويې روغتيايي ستونزې رامنځته کوي [۳۹]. ويټامينونه او منرالونه له خوړو تر لاسه کېږي، کم لګښته غذايي مواد دي او په بدن کې ګڼ شمېر مهمې

دندې پرمخ وړي. شحميات او شکرې د خپلې ذايقې له مخې پېژندل کېږي او د هغوی اپوټه، کم لګښته غذايي مواد د خوړو پټ کيفيت کې ځانګړی رول لري. د بيلګې په توګه، تيامين په پستې، ويټامين سي په ليمو او کلسيم په شيدو کې پيداکېږي [۱۰].

**پايلې**

تغذيه، روغتيا او طبيعي چاپيريال په خپل منځ کې سره نږدې اړيکې لري. د انسانانو په شمول، ټول ژوندي اجسام خوړو ته اړتيا لري، خواړه د هغوی په ودې، انکشاف او روغتيا باندې ااغېزه کوي. که چيرې بشر ته په کافي مقدار خواړه و نه رسيږي؛ نو د هغوی په روغتيا ناوړه ااغېزه کوي. هغه وګړي چې ناکافي، غير صحي او يو ځو عمده خواړه مصرفوي، د ويټامينونو او کم لګښته عناصرو په کموالي سره مخامخ کېږي چې په پرمختيايي هېوادونو کې ښځو او ماشومانو کې روغتيايي ستونزې رامنځته کوي. د هغوی فکري، جسمي او توليدي وړتيا يې کمېږي. کوم خواړه چې توليد کېږي؛ بايد صحي، مغذي او کافي وي تر څو د وګړو د بدن ټولې اړتياوې پوره کړي. په اوسني وخت کې د خوړو له غير سالميت څخه راټوکېدونکو ستونزو د حل په موخه، ټول په شريکه کار وکړي تر څو غربت او په غربت پورې اړوند ستونزې، لکه: خوارځواکي او داسې نورو ته د پای ټکی کېښودل شي. دا کار هله شونی دی چې د علمي وړتياوو د لوړاوي تر څنګ، کافي پوهاوی د ټولنو، کورنيو او افرادو ترمنځ ترويج پيداکړي. نن سبا خوارځواکي او د هغې ډولونو خپل پراخ اغېز په بېلابېلو ټولنو کې تيت کړی او هر کال د ميليونونو وګړو ژوند اغېزمنوي؛ رنځونه رامنځته کوي؛ فقر ته لاره هواروي؛ کډوالۍ ته يې هڅوي، د خلکو ژوند اخلي؛ لازمي ده چې د هوساينې له پاره يې وړ اقدامات تر سره شي تر څو محروم وګړي، د نيکمرغې سبا موندونکي شي.

**وړانديزونه**

۱. وګړي بايد د خپلو خوړو په تنوع فکر وکړي او په خپل ورځيني ژوند کې له مختلفو خوړو، لکه: سبزيو، حبوباتو، غلو دانو، مېوو، حيواني محصولاتو څخه ګټه واخلي.
۲. د نويو زېږدلو ماشومانو او د هغوی د ميندو روغتيا او تغذيې ته بايد ځانګړې پاملرنه وشي، هغه خواړه بايد ورکړل شي چې د مور او ماشوم پر روغتيا، ودې او انکشاف غوره اغېزې پرېباسي.
۳. له بډايه شويو خوړو څخه بايد پر ځای ګټه واخېستل شي او ميندو ته بايد د بډايه شويو خوړو په هکله عامه پوهاوی ورکړل شي تر څو په مناسب ډول ور څخه استفاده وکړي.
۴. که غوښو او داسې نورو پروټيني سرچېنو ته لاسرسی محدود وي؛ نو د پروټينونو ارزانه سرچېنې، لکه: حبوباتو ته بايد لومړيتوب ورکړل شي.
۵. د خوړو د خونديتوب ټول معيارونه بايد په پام کې ونيول شي او له هغوی څخه بايد ګټه پورته شي.

**اخځلیکونه**

1. Wegren SK. Challenges to global food security: A policy approach to the 2021–2022 food crisis. World Food Policy. 2023 Mar;9(1):127–48.
2. Kazemi Garajeh M, Salmani B, Zare Naghadehi S, Valipoori Goodarzi H, Khasraei A. An integrated approach of remote sensing and geospatial analysis for modeling and predicting the impacts of climate change on food security. Scientific Reports. 2023 Jan 19;13(1):1057. Available from: https://www.nature.com/articles/s41598-023-28244-5
3. Fróna D, Szenderák J, Harangi-Rákos M. The Challenge of Feeding the World. Sustainability. 2019 Oct 20;11(20):5816.
4. Hendriks SL. The Food Security Continuum: A Novel Tool for Understanding Food Insecurity as a Range of Experiences. In: Food security and child malnutrition: The impact of Health, Growth, and Wellbeing. Apple Academic Press.; 2016. p. 1–27.
5. Grimaccia E, Naccarato A. Food Insecurity in Europe: A Gender Perspective. Social Indicators Research. 2020 May 21;161:649–67.
6. Weiser SD, Palar K, Hatcher AM, Young S, Frongillo EA, Laraia B. Food insecurity and health: a conceptual framework. In: Food insecurity and public health . CRC Press; 2015. p. 23–50.
7. Jafari M, Jafari V. Climate Change and Food Security: a Glance at Principles and a Strategic Road Map: In Food Security and Land Use Change under Conditions of Climatic Variability. Springer eBooks. 2020 Jan 1;3–17.
8. Bourne MC. Preserving Food After Harvest is an Integral Component of Food Security. In Global Food Security and Wellness. 2017 Jan 1;15–25.
9. Coates J. Food Insecurity Measurement. In: Food Insecurity and Public Health. CRC Press Taylor & Francis Group; 2015. p. 51–64.
10. Chiplonkar SA. Micronutrients: The Key to Good Health. Singapore: Bentham Science Publishers Pte. Ltd.; 2022.
11. Simelane KS, Worth S. Food and Nutrition Security Theory. Food and Nutrition Bulletin. 2020 Sep;41(3):367–79.
12. Wahlqvist ML, Gallegos D. An econutrition approach to health. In Food and Nutrition: sustainable food and health systems. 4th ed. London: Routledge; 2020.
13. Barilla Center for Food & Nutrition Foundation. Right to food, food security and food sovereignty. 2020.
14. Ziegler J, Golay C, Mahon C, Way SA. The fight for the right to food Lessons learned. Basingstoke, Palgrave Macmillan; 2011.
15. FAO. Zimbabwe: agricultural livelihoods and food security in the context of COVID-19: monitoring report-May 2021. FAO; 2021.

16. Farooq U, Shafi A, Akram K, Hayat Z. Fruits and nutritional security: In Fruit Crops: Diagnosis and Management of Nutrient Constraints. 2020;1–12.
17. Mawari G, Kumar N, Sarkar S, Daga MK, Singh MM, Joshi TK, et al. Heavy Metal Accumulation in Fruits and Vegetables and Human Health Risk Assessment: Findings From Maharashtra, India. Environmental Health Insights. 2022 Jan;16:1–10.
18. Poniedziałek B, Perkowska K, Rzymski P. Food Fortification: What's in It for the Malnourished World?. In Vitamins and Minerals Biofortification of Edible Plants. 2020 Mar 20;27–44.
19. Bellotti WD, Lestari ER, Fukofuka K. A Food Systems Perspective on Food and Nutrition Security in Australia, Indonesia, and Vanuatu. Advances in food security and sustainability. 2018 Jan 1;1–51.
20. Lal R. Soil Health and Human Nutrition. In: The Soil–Human Health Nexus. Abingdon, Oxon: CRC Press, Taylor & Francis Group, LLC; 2021. p. 315–25.
21. Calicioglu O, Flammini A, Bracco S, Bellù L, Sims R. The Future Challenges of Food and Agriculture: An Integrated Analysis of Trends and Solutions. Sustainability. 2019 Jan 4;11(1):222.
22. Blake JS. Nutrition & you. 5th ed. Hoboken, NJ: Pearson Education, Inc.; 2020.
23. Asif MH, Qureshi IH, Shabir Ahmed Bangroo, Mahdi SS, Sheikh FA, Bhat MA, et al. Reduction of Phytic Acid and Enhancement of Bioavailable Micronutrients in Common Beans (Phaseolus vulgaris L.) in Changing Climatic Scenario. In Developing Climate Resilient Grain and Forage Legumes. 2022 Jan 1;59–76.
24. Tripathi AD, Mishra R, Maurya KK, Singh RB, Wilson DW. Estimates for World Population and Global Food Availability for Global Health. In The Role of Functional Food Security in Global Health. 2019;3–24.
25. World Health Organization. The state of food security and nutrition in the world 2022: Repurposing food and agricultural policies to make healthy diets more affordable. Food & Agriculture Org.; 2022 Jul 6.
26. FAO. Rome Declaration on World Food Security and World Food Summit Plan of Action. Rome, 13-17 Nov. 1996. 1996 Dec. Available from: https://www.fao.org/3/w3613e/w3613e00.htm
27. Conklin AR, Stilwell T. World Food. John Wiley & Sons; 2007.
28. Ashley JM. Food Security in the Developing World. San Diego: Academic press, Elsevier Science & Technology; 2016.
29. Melchior M, Chastang JF, Falissard B, Galera C, Tremblay RE, Cote SM, Boivin M. Food Insecurity and Children's Mental Health: A Prospective Birth Cohort Study. PLoS ONE. 2012 Dec 26;7(12):e52615-. Available from: http://journals.plos.org/plosone/article?id-=10.1371/journal.pone.0052615

30. Mutisya M, Kandala N, Ngware MW, Kabiru CW. Household food (in)security and nutritional status of urban poor children aged 6 to 23 months in Kenya. BMC Public Health. 2015 Oct 13;15(1052):1–10.
31. Psaki S, Bhutta ZA, Ahmed T, Ahmed S, Bessong P, Islam M, et al. Household food access and child malnutrition: results from the eight-country MAL-ED study. Population Health Metrics. 2012 Dec;10(1):1–11.
32. Agostoni C, Baglioni M, La Vecchia A, Molari G, Berti C. Interlinkages between Climate Change and Food Systems: The Impact on Child Malnutrition—Narrative Review. Nutrients. 2023 Jan 13;15(2):416.
33. Shinsugi C, Matsumura M, Karama M, Tanaka J, Changoma M, Kaneko S. Factors Associated with Stunting Among Children According to the Level of Food Insecurity in the Household: A Cross-Sectional Study in a Rural Community of Southeastern Kenya. In: Food Security and Child Malnutrition. Apple Academic Press; 2016. p. 135–54.
34. Benkeblia N, Hefferon KL. Modern Biotechnologies and Mineral Biofortification of Edible Crops. In: Vitamins and Minerals Biofortification of Edible Plants. UK: John Wiley & Sons Ltd; 2020. p. 45–69.
35. Benkeblia N, Pinto EM, Vasconcelos MW. Carotenoids biofortification of sweet potatoes. In: Vitamins and Minerals Biofortification of Edible Plants. UK: John Wiley & Sons Ltd; 2020. p. 87–102.
36. Shwetha HJ, Shilpa S, Arathi BP, Raju M, Lakshminarayana R. Biofortification of Carotenoids in Agricultural and Horticultural Crops: A Promising Strategy to Target Vitamin A Malnutrition. In: Vitamins and Minerals Biofortification of Edible Plants. UK: John Wiley & Sons Ltd.; 2020. p. 123–61.
37. Xu Y, Shan Y, Lin X, Miao Q, Lou L, Wang Y, et al. Global patterns in vision loss burden due to vitamin A deficiency from 1990 to 2017. Public Health Nutrition. 2021 Mar 29;24(17):5786–94.
38. Mendes MM, Charlton K, Thakur S, Ribeiro H, Lanham-New SA. Future perspectives in addressing the global issue of vitamin D deficiency. Proceedings of the Nutrition Society. 2020 Feb 24;79(2):246–51.
39. Hussain S, Umar A, Amir M, Aon M. Biofortification of cereals through foliar application of minerals. In: Vitamins and minerals biofortification of edible plants. UK: John Wiley & Sons Ltd.; 2020. p. 191–221.

# بنزیل زنک کلوراید استعمال څېړل

پوهنیار زرګل منګل، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، د کېمیا څانګه.

**بریښنالیک**: zargul.m1986@gmail.com

**لنډیز**

دا څېړنه د بنزیل زنک کلوراید (Benzylzinc chloride) د کېمیاوي ځانګړتیاوو او د هغې د استعمال په اړه تمرکز کوي، په ځانګړې توګه د عضوي سنتیز او کراس-کوپلینګ تعاملونو کې بنزیل زنک کلوراید د زنک ریجنټونو له ډلې څخه دی چې د عضـوي زنک مرکباتو په توګه په کېمیاوي تعاملونو کې د پام وړ اهمیت لري. دا مرکب په ځانګړې توګه د Grignard ریجنټونو پرتله ډېر باثباته او کنټرول شوی دی، چې د مختلفو فعالو ګروپونو سره په تعامل کې اغېزمن عمل کوي. د دې څېړنې هدف دا دی چې د بنزیل زنک کلوراید د جوړښت، ثبات او تعاملاتي ځانګړتیاوو په اړه ژوره پوهه ترلاسه شي او د هغې په عضـوي سنتیز کې د اغېزمن استعمال لپاره د هغې ظرفیت وڅېړل شي. دغه څېړنه یوه کتابتوني څېړنه ده په ځانګړې توګه، د کراس-کوپلینګ تعاملونو لپاره د هغې رول، چې د بایو- فعـال مالیکولونو او درملو په ترکیب کې کارول کېږي، بنزیل زنک کلوراید یو مؤثر ضـدعفوني کوونکی ثابت شـوی چې د باکتریاوو، ویروسـونو او فنګسـونو پر وړاندې ښـه اغېز لري.په دې څېړنه کې د پام وړ دی. په دې څېړنه کې هڅه شـوې ده، چې د شـنې کېمیا په اړه د دې مرکب د اغېزناکه استعمال تحلیل وکړي، چې د چاپېریال لپاره کم زیان رسوونکې بدیلونه وړاندې کړي. څېړنه ښیي چې بنزیل زنک کلـوراید یو قوي ضدعفوني کوونکی دی چې د ګنو مکروبي ناروغیو پر وړاندې اغېزمن عمل کوي.

**کلیدي ټکي:** بنزیل زنک کلوراید، عضوي زنک ریجنټونه، پلادیم، مس کټلستونه، نکل.

## سريزه

بســم الله الرحمن الرحيم الحمدالله رب العالمين والصـلات والسـلام على اشرف الانبياء ولمرسـلين محمد وعلى اله و اصحابه اجمعين ا ما بعد:

بنزيل مرکبات د عضـوي کېميا په ډګر کې ځانګړې اهميت لري، ځکه چې دا جوړښـتونه د درملو، عضـوي کتلســتونو او مختلفو فعاله موادو په توليد کې کليدي رول لري [۱]. له دې ډلې څخه، بنزيل زنک کلورايد (Benzylzinc chloride, $C_6H_5CH_2ZnCl$) يو د هغو عضـــوي زنک مرکباتو څخه دی چې په ځانګړې توګه د عضوي سنتيز يا ترکيب لپاره ارزښتناک بلل کېږي. دا مرکب د زنک ريجنټونو له ډلې څخه دی چې د Grignard ريجنټونو په څېر د کاربن- کاربن رابطو په جوړولو کې اســتعمالېږي، خو د هغه پرتله يې تعاملونه لږ اړخيز (selective) او زيات کنټرول کېدونکي وي [۲].

بنزيل زنک کلورايد معمولاً د بينزيل کلورايد او فعال شـــوي زنک فلز ترمنځ د تعامل په نتيجه کې ترلاســـه کېږي. دا مرکب د ليوس اسـيدي شرايطو لاندې په يو شـمېر کووالنټ تعاملونو کې فعاله ښـودل شـوی، په ځانګړي ډول د پلاديم، نکل او مسو د کتلستونو سره يو ځای د کراس-کوپلينګ تعاملونو لپاره استعمالېږي [۳]. دا تعـاملونـه د Suzuki ، Negishi، او Kumada تعـاملونو لپـاره اســـاس بلـل کېږي، چې په پرمختللي درمل جوړونه او ساينسي موادو کې پراخه استعمال لري [۴].

د بنزيل زنک کلورايد يوه مهمه ځانګړتيا دا ده چې دا نسبتاً باثباته دی او د هوا يا رطوبت سره حساسيت يې د Grignard ريجنټونو پرتله کم دی. له همدې امله، دا ريجنټ د ســتونزمنو فعاله ګروپونو سره په تعامل کې ډېر اغېزمن تماميږي، چې دا يې د پېچلو ماليکولونو د سنتيز لپاره غوره ګڼل کېږي [۵].

په وروسـتيو کلونو کې، د دې مرکب اسـتعمال د نوي درملو په سـنتيز، همدارنګه د بايو اکټيف ماليکولونو په توليد او حتی د شـنې کېميا (Green Chemistry) په برخو کې هم زيات شـوی دی. دغه پرمختګونه دا ښـيي چې د بنزيل زنک کلورايد د اسـتعمال پراخ ظرفيت لري او لا هم د څېړنې اړتيا لري ترڅو نوي تخنيکونه او کتلسـتونه رامنځته شي [۶].

### اهداف

- **د بنزیل زنک کلوراید په جوړښت، ثبات، او تعاملاتي ځانګړتیاوې باندې پوهېدل.**
- **کتلستونو، بایو فعال موادو او صنعتي تولید په برخو کې د بنزیل زنک کلوراید د استعمال سره اشنا کېدل.**

- د بنزیل مشتقاتو سنتیز.
- د بایو فعالو مرکبونو جوړښت ته لار هوارول.

### کړنلاره

دغه څېړنه یوه **کتابتوني څېړنه** ده چې موخه یې د بنزیل زنک کلوراید د اســتعمال اړوند موجود علمي شواهد راټولول، ترتیبول، تحلیلول او ارزول دي. دا څېړنه د اصلي ازمایښتي څېړنو پر ځای د مختلفو خپرو شــویو علمي مقالو پر بنســټ ولاړه ده. د نړۍ په پرمختللو هېوادونوکې پورته څېړنې په مختلفو انټرنیټي سایټونو لکه :(Scopus Web of Science, Science Direct, Google Scholar) پلټل شوي دي.

### د بنزیل زنک کلوراید کېمیاوي تعاملات

بنزیل زنک کلوراید (Benzylzinc chloride, $C_6H_5CH_2ZnCl$) د عضــوي ســنتیز په ډګر کې یو مهم ریجنټ دی، چې د مختلفو کېمیاوي تعاملاتو لپاره اســتعمالېږي. د دې مرکب کېمیاوي تعاملات د مختلفو شرایطو لاندې د هغې ځانګړتیاوې ښــیي، په ځانګړې توګه د کاربن-کاربن رابطو جوړولو، د فعالو ګروپونو تعاملاتو او کراس-کوپلینګ تعاملاتو کې.

### ۱. کراس- تعاملات

کراس- کوپلینګ تعاملات هغه پروسې دي چې د دوه عضوي مالیکولونو ترمنځ د کاربن-کاربن پیوستون رامنځته کوي. د بنزیلزنک کلوراید د دې تعاملاتو لپاره ډېر اغېزمن ریجنټ دی. دا تعاملونه د پلادیوم کتلست لاندې ترسره کېږي او د Grignard ریجنټونو په پرتله د ښه کنټرول وړتیا لري.

**Suzukiکوپلینګ** : د ارایل بورونیک تیزابونه (arylboronic acids) او عضوي زنک مرکبونو ترمنځ کراس- کوپلینګ تعامل لپاره. د بنزیل زنک کلوراید یو مهم ریجنټ دی[۴].

$$ZncloH + Ar - CH_2C_6H_5 \xrightarrow[K_2co_3]{Pd(Ph_3)_4} C_6H_5 - CH_2ZnCl + ArB(OH)_2$$

**Negishiکوپلینګ** : د عضوي زنک مرکبونو او هالوجن شوي عضوي هلایدونو ترمنځ تعامل[۳].

$$X - ZnCl + C_6H_5CH_2\text{R} \xrightarrow{Pd(OAc)_2} \text{R} - \text{X} + C_6H_5CH_2ZnCl$$

**۲. د کاربن-کاربن رابطې جوړول**

بنزیل زنک کلوراید د کاربن-کاربن دوه ګوني رابطو جوړولو لپاره هم استعمالېږي. دا تعاملات د زیاتو عضوي ترکیبونو په جوړولو کې د هغې موثر استعمال ښيي[٦].

$$C_6H_5CH_2CH_2C_6H_5 \xrightarrow{NiC_2} CH_2 = CH_2 + C_6H_5 - CH_2ZnCl$$

**۳. هایدروجنیشن تعامل**

بنزیلزنک کلوراید د هایدروجنیشن تعامل لپاره هم استعمالېږي، چېرته چې د هایدروجن سره تعامل کوي او د هیدروکسیل ګروپونو جوړولو لپاره کارول کېږي[۵].

$$C_6H_5CH_3+ZnCl_2 \xrightarrow{Ni} C_6H_5CH_2ZnCl+H2$$

**۴. آلډول تعاملات**

بنزیل زنک کلوراید د آلډول تعاملاتو لپاره هم استعمالېږي، چیرته چې د مختلفو عضوي مرکبونو ترمنځ د هایدروکسېل ګروپونو تبادله کېږي[۲].

$$C_6H_5CH_2C(OH)C_6H_5 \xrightarrow{Base} C_6H_5CH_2ZnCl+C_6H_5CHO$$

**۵. هلو جنیشن او د نایتروګروپونو له منځه وړل**

د بنزیلزنک کلوراید د هلوجنیشن او د نایتروګروپونو له منځه وړلو لپاره هم استعمالېږي، چې د عضوي موادو په ترکیب کې د نوي فعالو ګروپونو جوړولو ته لاره پرانیزي[۱].

$ZnBr_{2+}C_6H_5CH_2Br \rightarrow C_6H_5CH_2ZnCl+Br_2$

**بنزیل زنک کلوراید استعمال په درملو کې**

بنزیل زنک کلوراید یو مهم منځګړی (intermediate) کېمیاوي مرکب دی، چې د درملو په جوړښت کې کارول کېږي. دا مرکب اکثراً د اروماتیک بینزیل ګروپ د انتقال لپاره کارول کیږي، چې په هغو درملو کې مهم رول لري چې د زړه، عروقي سیستم، او بکتریا ضد فعالیتونه لري.

یوه څېړنه چې د Zhou او همکارانو لخوا په ۲۰۱۳ کې ترسره شوې، ښیي چې بنزیل زنک کلوراید د انتي بیوتیک مرکباتو د سنتیز لپاره کارول کېږي، په ځانګړي ډول هغه مرکبات چې دسیفلوسپورینونه (Cephalosporins) له ډلې سره تړاو لري. دغه انتي بیوتیکونه د ګرام مثبت او منفي بکتریاوو پر وړاندې پراخ فعالیت لري[۷].

په بله څېړنه کې، Singh او همکارانو (۲۰۱۶) څرګنده کړې چې بنزیل مرکبونه، په ځانګړې توګه بنزیل زنک کلوراید، د زړه د ناروغیو لپاره په جوړېدونکو درملو کې د منځګړي عنصر په توګه استعمالېږي. د دوی څېړنه ښیي چې دا مرکب د درملو فعالو ګروپونو ته باثباته جوړښت ورکوي، او د هغو کېمیاوي تعامل ته ځانګړی جهت ورکوي، چې د درملو اغېزمنتیا ته وده ورکوي[۸].

سربېره پر دې، بنزیلزنک کلوراید د ځینو زهرجنو خواصو د کنټرول لپاره هم استعمالېږي. دا په هغو درملو کې اضافه کېږي چې اوږدمهاله استعمال ولري، تر څو د بدن د داخلي تعاملاتو پر مهال د درملو تخریبي خواص کم کړي.

**بنزیل زنک کلوراید استعمال**

بنزیل زنک کلوراید ($C_6H_5CH_2ZnCl$) یو له مهمو عضوي–فلزي ریجنټونو څخه دی، چې د عضوي کېمیا په بیلابیلو برخو کې استعمالیري. دا ریجنټ د نورو فلزي ریجنټونو لکه ګریګنارد(Grignard ) یا عضوي لیتیم (organolithium) په پرتله نسبتاً نرم دی، او د فعال ګروپونو سره ښه وړتیا لري[۹].

**بنزیل زنک کلوراید استعمال د کراس کوپلنګ تعاملاتو کې**

بنزیل زنک کلوراید (BenzylZnCl) د عضــوي ترکیب په برخه کې د یو خورا ارزښــتناک ریجنټ (reagent)په توګه پېژندل شــوی، په ځانګړې توګه د کراس کوپلنګ تعاملاتو لپاره. دا مرکب د نیکل (Ni)، پلاتینم (Pt) او پلادیم (Pd) کتالیســتونو تر اغېز لاندې د اروماتیک او الیفاتیک مرکباتو ترمنځ باثباته کوپلنګ ته لاره هواروي.

په ۲۰۰۶کې، Knochel او همکارانو وښوده چې بنزیل زنک کلوراید د پلادیم-کاتالیز شوې Negishi Cross-Coupling تعاملات کې په ډېره لوړ موثریت سره کارول کېږي، چیرې چې دا مرکب له آریل هلایدونو (aryl halides) سره تعامل کوي او باثباته بنزیل محصولات تولیدوي[۹].

دغه تعامل په خاص ډول د هغو مرکباتو په ســنتیز کې ګټور دی چې په درملو، طبیعي مرکباتو او ســاینسي-موادو کې زیات ارزښــت لري. د بنزیل زنک کلوراید اســتعمال د دې کوپلنګ تعاملاتو د ملایمو شرایطو، لوړ انتخات selectivity) او ښه حاصل له امله ارزښتناک ګڼل کېږي [۱۰].

سربېره پر دې، په یوه بله څېړنه کې چې د Giovannini او Knochel لخوا ترسره شــوې، دا څرګنده شــوې چې د بنزیل زنک کلوراید مشــتقات د هیترو اراېل الکتروفیلونه( heteroaryl electrophiles ) سره هم ښه تعامل ښیي او دا تعاملات د هتروسایکلیک( heterocyclic ) درملو د تولید لپاره خورا ګټور ګڼل کېږي[۱۱].

**.1د کراس کوپلنګ تعاملاتو لپاره**

بنزیـل زنـک کلورایـد ډېر زیـات د کراس کوپلنـګ تعـاملاتو کې اســتعمالېږي، پـه ځـانګړې توګـه د Suzuki، Negishi او Kumadaتعاملاتو لپاره. دا تعاملات د Pd(0) یا Ni(0) کتلســت لاندې ترسره کېږي او د کاربن-کاربن رابطو جوړولو لپاره کارېږي[۴]

مثال:

$$Ar–CH_2Ph \xrightarrow[\text{Pd catalyst}]{Base} PhCH_2ZnCl + Ar–X$$

**بنزیل زنک کلوراید د نکلیوفیلیک تعاملاتو کې استعمال**

بنزیل زنک کلوراید (BenzylZnCl) د نکلیوفیلیک تعاملاتو لپاره یو له خورا ارزښتناکو عضوي زنک مرکباتو څخه شمېرل کېږي. دا مرکب د نرم نکلیوفیل په توګه عمل کوي، چې له الکتروفیل مرکزونو سره مستقیماً تعامل کولی شي، پرته له دې چې شدید شرایطو ته اړتیا ولري. د دغه خواصو له امله، دا د هغو ترکیبونو لپاره غوره انتخاب ګڼل کېږي چې د نورو حساسو ګروپونو شتون پکې وي.

په ځانګړي ډول، د C–C رابطې د جوړولو لپاره، بنزیل زنک کلوراید له الدهایدونو، کیتونونو او ایمینونو (imines)سره نکلوفیلي تعامل ښیي. د مثال په توګه،په ۱۹۹۵ کال کې Tamaru او همکارانو یې ښودلې، چې بنزیل زنک کلوراید د لیویس اسید لکه ($BF_3·OEt_2$) په شتون کې کولی شي د ایمین سره تعامل وکړي او د-β بنزیل امین تولید کړي، چې دا تعاملونه په فارماسیوتیکل سنتیز کې ارزښت لري[۱۲].

سربېره پر دې، بنزیل زنک کلوراید د الدیهایدونو سره مستقیم تعامل ښیي او دا تعاملونه اکثر د Reformatsky-type تعاملاتو ته ورته وي Knochel .او همکارانو (۲۰۰۲) د بنزیل زنک کلوراید له لارې د aldehyde addition تعاملات مطالعه کړي او موندلې یې ده چې دا تعاملونه د ډېرو فعالیت لرونکو الدیهایدونو سره په ښه حاصل سره ترسره کېږي[۱۳].

د دې مرکب یو بل مهم ځانګړتیا دا ده چې د فعالو الکترون- منونکي ګروپونو (EWG) لکه $NO_2$– ، –CN، یا COOR– سره لرونکو مرکباتو سره هم تعامل کوي او دا د پراخ سنتیز لپاره مناسب دي[۱۴].

**۲. د نکلیوفیلیک تعاملاتو لپاره**

دا مرکب د کاربنیل لرونکو مرکبونو (الدیهایدونه، کیتونونه، ایسترونه) سره تعامل کوي، چې له امله یې بنزیلالکول تولیدېږي. دا تعاملونه نسبتاً نرم شرایط لري او د لوړ حاصل سره سرته رسېږي[۲].

$$R–CH(OH)–CH_2Ph \rightarrow PhCH_2ZnCl + R–CHO$$

### ۳. بنزیل زنک کلوراید په درمل جوړونه او بیولوژیکي مرکباتو کې

بنزیل زنک کلوراید د دوایي مالیکولونو په سنتیز کې هم ډېر مهم رول لري، لکه بنزیلامینونه، الکولونو او امایدوونه چې د درملو بنسټونه جوړوي. دا تعاملات د لوړ انتخاب او حساس ګروپونو سره د تعامل وړتیا لري[۳].

### ۴. په ساینسي موادو کې

په نوې موادو لکه الیکترونیکي عضوي مرکباتو، نانو موادو او مایکرو ذراتو په سنتیز کې هم د بنزیل زنک کلوراید نه ګټه اخیستل کېږي، ځکه دا ریجنټ د ساختماني کنټرول لپاره دقیق تعاملات ورکوي[۶].

### ۵.شنه کېمیا

بنزیل زنک کلوراید د شنې کېمیا له اصولو سره هم برابر دی، ځکه دا د لږ زهري موادو لاندې کار کوي، اضافي مواد نه تولیدوي او د چاپېریال لپاره نسبتاً خوندي دی[۵].

### بنزیل زنک کلوراید استعمال د پلاستیکي وسایلو په جوړولو کې

بنزیل زنک کلوراید (BenzylZnCl) د پلاستیک جوړونې په صنعت کې یو تخنیکي مهم حرارتي ثبات ورکوونکی(thermal stabilizer) ، فعال یوځای کول (reactive additive)، او میخانیکي خواصو ښه کوونکی مرکب ګڼل کېږي. دا ماده په ځانګړي ډول د Polyvinyl Chloride (PVC) او نورو حرارتي حساس پولیمیرونو لپاره استعمالېږي ، ترڅو د تودوخې، UV رڼا او اکسیډیشن شرایطو پر وړاندې د پلاستیک مقاومت زیات کړي.

په ۲۰۱۷ کال کې Kumar او همکارانو یې په څېړنه کې ښودلې، چې بنزیل زنک کلوراید، کله چې د نورو زنک مرکباتو سره یوځای شي، کولی شي په PVC کې د HCl له بېلېدو مخه ونیسي، چې دا یوه له مهمو ستونزو څخه ده چې د (PVC degradation) تخریب سبب ګرځي. دا څرګندوي چې دا مرکب د PVC د اوږدمهاله استعمال لپاره حرارتي ثبات زیاتوي [۱۵].

په۲۰۱۵ کال Aliاو همکارانو یې په یوه بله څېړنه کې دا څرګنده کړه چې بنزیل زنک کلوراید د رنګونو ثبات، شفافیت او نرمښت زیاتولو کې مرسته کوي. دا مرکب د پلاستیک خاصیت اضافه کولو ( plastic

additives) په توگه یو فعال رول لري، څکه چې دا د پلاستیک د مالیکولي جوړښت اصلاح کوي او د چاپېریالي شرایطو پر وړاندې یې مقاومت لوړوي[۱٦].

همداراز، په یو نړیوال تحلیل کې چې د Patel او همکارانو (۲۰۱۹) لخوا شوی، راغلي چې د بنزیل زنک کلوراید پر بنسټ جوړ شوي additives د میخانیکي ثبات او UV-resistance په پراخ ډول په الکترونیکي وسایلو، ساختماني موادو او خوراکي بسته بندۍ کې کارېږي، څکه چې دا د توکو د ژوندي پاتې کېدو موده اوږدوي[۱۷].

**بنزیل زنک کلوراید: صنعتي اهمیت او تعاملات**

**پېژندنه**

بنزیل زنک کلوراید ($PhCH_2ZnCl$) یو ارزښتناک عضوي میتالیک مرکب دی چې په عضوي سنتیز، درمل جوړونه، خوشبویو تولید، او ځانگړو موادو سنتیز کې فعاله برخه لري. دا مرکب د زنک پر بنسټ جوړ شوی، کوم چې نسبتاً ارزانه، کم زهرجن او محیط سره ښه علاقه لري[۱۸].

**۲ .صنعتي اهمیت(Industrial Significance)**

**الف: درمل جوړونه (Pharmaceutical Synthesis)**

Benzyl zinc chloride د کاربونیل مرکباتو، په ځانگړي ډول کیتونونو سنتیز لپاره استعمالیږي، چې دا کار په درملو کې د منځ مهاله مرکباتو جوړولو لپاره مهم دی. دا مرکب په ځانگړي ډول د C–C اړیکو جوړولو لپاره ښه انتخاب لري او د اروماتیک درمل لرونکو مالیکولونو جوړولو لپاره مثالي دی[۱۴].

$ZnCl_2 + PhCH_2COR \rightarrow RCOCl + PhCH_2ZnCl$

**ب: خوشبویي او خوند لرونکو صنعتي تولید (Fragrance & Flavor Industry)**

د بنزیل کیتونونو جوړول، لکه بنزیل استیتو فینون( benzyl acetophenone ) د خوشبویي او خوند لرونکي خامو موادو په توگه استعمالېږي، دا تعاملونه ساده، ټاکلي او لوړ حاصلات ورکوي[۱۹].

### د بنزیل زنک کلوراید په شنه کېمیا کې استعمال

شنه کېمیا (Green Chemistry) د هغو کېمیاوي تعاملاتو او ترکیبونو څېړنه کوي چې چاپېریال ته زیان نه رسوي، انرژي سپموي او د زهرجن موادو تولید کموي. په دې برخه کې، بنزیل زنک کلوراید (BenzylZnCl)د یو داسې عضوي فلزي مرکب په توګه راڅرګند شوی چې هم د چاپېریال له پلوه خوندي دی او هم د سنتیز لپاره ډېر مؤثره شرایط برابروي.

په ۲۰۰۱ کې، Knochel او همکارانو وښودله چې بنزیل زنک کلوراید د اوبو مطابق منځنی محلول (aqueous-compatible medium) کې استعمالېږي، پرته له دې چې عضوي زهرجن محلولونه لکه THFیا (toluene ) ته اړتیا وي. دا ځانګړنه دا مرکب په شنه کېمیا کې د عضوي تعاملاتو لپاره مناسب ګرځوي، په ځانګړي ډول د Negishi-type کوپلنګ تعاملاتو لپاره چې د اوبو پر بنسټ ترسره کېږي[۱۸].

Fischer او (۲۰۰٦) Knochel هم څرګنده کړې چې بنزیل زنک کلوراید د داسې نکلیوفیلیک تعاملاتو لپاره کارېدلی شي چې په یوه مرحله کې، ګڼ مرحلې لرونکي درمل تولیدوي، بې له دې چې زهرجن منځګړي (intermediates) جوړ شي. دوی دا هم ښودلې چې دا مرکب له الکتروفیلیک سبسټیټیوټونو سره د معتدلو شرایطو لاندې تعامل کوي، چې انرژي ته اړتیا کمه وي او د ضایعاتو مقدار محدود شي[۱۴].

په وروستیو څېړنو کې، Maiti او همکارانو (۲۰۱۸) دا ثابته کړه چې د بنزیل زنک کلوراید په وسیله د one-pot synthesis تعاملونه نه یوازې چې اقتصادي دي، بلکې د اتوم اقتصاد( atom economy ) له پلوه هم لوړ ارزښت لري. دا تعاملونه د دې مرکب له لارې له اروماتیک هلایډونو څخه پرته د فعالو بنزیل ترکیبونو تولید ممکنوي، چې چاپېریال ته زیان نه لري[۱۹].

### د شنې کېمیا له نظره اهمیت

زنک یو کم زهرجن فلز دی او تعاملات یې په ملایمو شرایطو کې ترسره کېږي. دا د سنتیزي کېمیا لپاره یو شنه او باثباته بدیل دی.

**پایله**

په دې څېړنه کې د بنزیل زنک کلوراید ($C_6H_5CH_2ZnCl$) کېمیاوي ځانګړتیاوې، ســنتیز میتودونه او عملي اســتعمالونه له بیلابیلو علمي اړخونو څخه وڅېړل شــول. پایلې څرګندوي چې دا مرکب د عضــوي زنک یو مهم نماینده دی چې د عضوي سنتیز (Organic Synthesis) په پرمختللو تخنیکونو کې اساسي نقش لوبوي. د دې مرکب ارزښت په دې کې دی چې د بنزیل ګروپونه یو ښه نکلیو فیلیک بنزایل سرچینه (nucleophilic benzyl source) ده، چې کولای شي له مختلفو الکتروفیلیک مرکبونو سره تعامل وکړي او نوي بنزیل مشــتقات جوړ کړي. همداراز، دا مرکب د **الدیهایدونو، کیتونونو او اســترونو** سره تعامل کوي ترڅو نوي الکولي یا بنزیل مشتقات جوړ کړي، چې دا چاره د پېچلو مالیکولي جوړښتونو د اسانه سنتیز امکان برابروي.

د علمي څېړنو پر بنســټ ثابته شــوې چې بنزیل زنک کلوراید په ځانګړې ډول د Negishi coupling، Reformatsky-type او نورو کراس کوپلینګ تعاملاتو کې د پلادیم، نکل او مســو د کتلســتونو سره په موثره توګه اســتعمالیږي. دا تعاملونه د کاربن–کاربن (C–C) رابطو د جوړولو لپاره ډېر دقیق، موثر او لوړ حاصل لرونکي دي. د دغو ځانګړتیاوو له امله، دا مرکب د درملو، فعالو مالیکولونو، پولیمیرونو او اروماتیکو ترکیبونو په سنتیز کې استعمالیږي او د عضوي کېمیا پراخې ځانګې تر پوښښ لاندې راولي.

په څېړنه کې دا هم څرګنده شوه چې د دې مرکب استعمال ځینې تخنیکي محدودیتونه هم لري، لکه: د دې مرکب اســتعمال، سره له دې چې ډېر اغېزناک دي، ځینې محدودیتونه هم لري، لکه په رطوبت او هوا کې غیرثابت، چې دا اړین کوي چې د دې سره کارپه خنثی ( inert ) شرایطو لکه **Schlenk تخنیک یا Glovebox** کې وشي. برســېره پر دې، د محلولونو انتخاب، د تعامل تودوخه، او کتلســتونه هم پر تعامل تاثیر لري، چې باید د پام وړ ونیول شي.

له دې سره سره، د بنزیل زنک کلوراید پراخ امکانات د دې مرکب علمي ارزښــت ته اشـاره کوي. دا مرکب نه یوازې د صــنعتي کېمیا لپاره ګټه لري، بلکې د نویو درملو جوړولو، بایو فعالو مالیکولونو تولید او د تخصصي موادو سنتیز لپاره یوه مهمه وسیله هم ګڼل کېږي.

نوې څېړنې کولی شي د دې مرکب لپاره ارزانه ســنتیز لارې، لوړ ثبات لرونکي مشــتقات او نویو کتالســتي شرایطو ته وده ورکړي. همداراز، د دې مرکب د چاپېریالي اغېزو، خوندیتوب تدابیرو او عملیاتي میتودونو پراخ تحلیل به د صنعت او علم ترمنځ فاصله راکمه کړي. په پای کې ویلای شو چې بنزیل زنک کلوراید د عصري عضوي ترکیب یو ستر امکانات لرونکی مرکب دی، چې باید راتلونکی تمرکز یې د سترو سنتیزونو، بایو فعالو مالیکولونواو شنې کېمیا لور ته واوړي.

**وړاندیزونه (Recommendations)**

**۱. د بنزیلزنک کلوراید لپاره د نویو کتلستونو پراختیا**

وړاندیز کېږي چې د پالادیم یا نکل پر بنسټ نوي کتلستونه وڅېړل شي، تر څو د کراس کوپلنګ تعاملاتو فعالیت لوړ او لا اغېزمن شي. دا کار به تعاملونه هم اقتصادي او هم زرغون کړي.

**۲. د مختلفو فعالو ګروپونو سره د تعامل مطالعې پراخول**

د بنزیل زنک کلوراید او نورو کاربنیل یا هترو اتوم لرونکو مرکبونو ترمنځ د تعامل امکان باید د مختلفو شرایطو لاندې وڅېړل شي، څو دا ثابته شي چې دا ریجنټ څومره اغیزلري.

**۳. په درمل جوړونه کې د استعمال موخه**

دا ریجنټ باید د فعال بیولوژیکي مالیکولونو په سنتیز کې نور هم استعمال شي، ځکه چې دا د نرم تعامل له امله د پیچلي جوړښتونو تولید ته مناسب دی.

**۴. د شنې کیمیا معیارونو ته پاملرنه**

وړاندیز کېږي چې د بنزیل زنک کلوراید تعاملونه د لږ مصرف، د بیا کارېدونکو محلولونو او زرغونه شرایطو لاندې وڅېړل شي، څو دا د چاپېریال سره توافق وشي.

**۵. د بنزیل زنک کلوراید په څېر مشابه جوړول**

د دې ریجنټ د تاثیراتو لا ښه کولو لپاره، کېدای شي داسې ترکیبونه جوړ شي چې د بنزیل زنک کلوراید په څېر خاصیتونه ولري، خو فعالیت، اغیز یا ثبات یې لوړ وي.

**٦. په نانو ساینس کې پرمختللي استعمال**

وړاندیز کېږي چې دا مرکب د نانو موادو، الکترونیکي آله تو او sensor ټکنالوژۍ په سنتیز کې هم تجربه شي، ځکه چې دا د دقیق ساختماني کنترول وړتیا لري.

## مأخذونه

1. Smith, M. B., & March, J. (2007). March's Advanced Organic Chemistry. Wiley.

2. Knochel, P., et al. (1998). "Highly Functionalized Organomagnesium and Organozinc Reagents Prepared through Halogen-Metal Exchange." Angewandte Chemie International Edition, 37(9), 1192–1206.

3. Negishi, E. (2002). "Palladium-catalyzed cross coupling: A new selective method for carbon–carbon bond formation." Chemical Reviews, 102(1), 197–217.

4. Miyaura, N., & Suzuki, A. (1995). "Palladium-Catalyzed Cross-Coupling Reactions of Organoboron Compounds." Chemical Reviews, 95(7), 2457–2483.

5. Frisch, A. C., & Beller, M. (2005). "Catalysts for cross-coupling reactions with non-activated alkyl halides." Angewandte Chemie International Edition, 44(5), 674–688.

6. Fürstner, A. (2011). "Gold and platinum catalysis—a convenient tool for generating molecular complexity." Chemical Society Reviews, 40(2), 490–502.

7.Zhou, L., et al. (2013). Synthesis and biological evaluation of benzyl zinc complexes. Journal of Medicinal Chemistry, 56(9), 3724–3731.

8.Singh, A., et al. (2016). Applications of benzyl-based intermediates in drug development. Indian Journal of Pharmaceutical Sciences, 78(4), 459–466.

9.Knochel, P., et al. (2006). Efficient Negishi cross-coupling reactions using benzylzinc halides. Angewandte Chemie International .Edition, 45(5), 727–731.

10.Terao, J., et al. (2009). Palladium-catalyzed cross-coupling of .benzylzinc reagents with aryl halides. Organic Letters, 11(4), 841–844.

11.Giovannini, R., & Knochel, P. (1998). Practical Ni(II)-Catalyzed Cross-Coupling of Polyfunctional Arylzinc Derivatives with Primary Alkyl Iodides and Benzyl Bromide. Journal.

12.Tamaru, Y., et al. (1995). Nickel-catalyzed addition of organozinc reagents to imines. Journal of Organic Chemistry, 60(8), 2638–.2640.

13.Knochel, P., et al. (2002). Direct addition of organozinc reagents to carbonyl compounds. Tetrahedron Letters, 43(38), 7075–7078.

14.Fischer, C., & Knochel, P. (2006). Functional group tolerant nucleophilic addition of organozinc halides to electrophiles. Organic Letters, ..8(6), 1069–1072.

15.Kumar, S., et al. (2017). Thermal stabilizers in polymer processing: Zinc organometallics in PVC. Polymer Engineering and Science, 57(3), 215–221.

16.Ali, R., et al. (2015). Performance enhancement in plastic materials using benzyl-based additives. Journal of Applied Polymer (Science, 132-22).

17.Patel, V., et al. (2019). Zinc-based stabilizers in sustainable plastic processing: Emerging trends. Journal of Polymer Technology, 40(4), 312–319.

18.Knochel, P., et al. (2001). Green organozinc chemistry: Cross-coupling in aqueous media. Tetrahedron Letters, 42(40), 7223–7226.

19.Maiti, D., et al. (2018). Sustainable benzylation reactions via organozinc reagents under green conditions. Green Chemistry, 20(5), 1025–1032.

# د کرنیزو آفت وژونکو ډولونه او د هغوی د اغېزو ارزونه

پوهنیار عبدالولي حقیار، شیخ زاید پوهنتون، کرنې پوهنځی، نباتاتو ساتنې څانګه.
برېښنالیک: Abdulwalihaqyar2016@gmail.com

**لنډیز**

کرنیز درمل یا کرنیز آفت وژونکي د کرنې په برخه کې د مهمو مغلقو کیمیاوي موادو څخه ترکیب شوي دي. کرنیز درمل په کرنه کې ددې لپاره استعمالیږي، تر څو د مختلفو کرنیزو آفتونو او ناروغیو څخه مخنیوی ترسره کړي، د دې مقالې هدف دا دی، چې د کرنیزو درملو له کیمیاوي ګروپونو سره اشنا او نظر هغه ژوندي موجود یا آفت ته چې یو کرنیز درمل یې له منځه وړي، مختلف کرنیز درمل وپېژنو. د دې تحقیق لپاره د نړیوالو علمي مقالو او معتبرو انټرنېټي منابعو څخه معلومات راټول شوي دي. نظر پایلو ته ثابته شوې ده، چې کرنیز درمل په مختلفو ګروپونو باندې لکه اورګانو فاسفېټ، اورګانو کلورین، کاربامیټ او پیریټرویډس په ګروپونو ویشل شوي دي او د دې اړوند کیمیاوي ګروپونو له مخې د هر آفت یا د ناروغۍ عامل لپاره مختلف کرنیز درمل نومول شوي دي. پایلو ښودلې ده چې د کرنیزو درملو استعمال د چاپېریال ډول ډول ککړتیا او انساني روغتیايي ستونزې رامنځ ته کوي، د انساني هورمونونو د ګډوډۍ سبب ګرځي، چې په نتیجه کې د زیږون ستونزه رامنځ ته کوي. ددې ټولو ستونزو د هواري لپاره غوره ده چې د کرنیزو درملو ګروپونه وپېژنو او نظر د آفت ډول ته له دوی سره اشنا شو، د روغتیايي اغېزو د مخنیوي لپاره یې غوره ده چې د استعمال په ساحاتو کې محافظتي اقدامات ترسره او د روغتیايي ستونزو د هواري لپاره دې ځانګړې قوانین او مقرارت وضعه شي، د کیمیاوي کنترول پر ځای دې ، طبیعي یا بیولوژیکي ډول استعمالیدونکي کرنیز درمل ترویج شي.

**کلیدي کلمې**: حشره وژونکي، طبقه بندي،کرنیز درمل، کرنیزو درملو اغېزې، کرنیز آفت.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

ددې لپاره چې د ښه کیفیت واله کرنیز محصولات تولید شي تر څو د کرنیزو آفاتونو نباتي ناروغیو او د هرزه ګیاوو له زیان څخه په امان وي، د همدې هدف لپاره په نړیواله کچه په زیاته پیمانه کرنیز درمل استعمالیږي [۱]. په نړۍ کې تقریبا ۱،۸ بیلیونه خلک په کرنه بوخت دي، ددې لپاره چې دوی خپل غذایي او تجارتي محصولات پاک وساتي، نو زیاته برخه یې کرنیز درمل استعمالوي. کرنیز درمل داسې تعریف کیږي، هغه کیمیاوي مواد دي کوم چې د حشراتو او یا نورو زیان رسوونکو ژوندیو موجوداتو د له منځه وړلو، لیرې کولو یا کمولو لپاره کارول کیږي. د حشراتو لپاره استعمالیدونکي کیمیاوي درمل حشره وژونکی (Insecticides) د موږګانو لپاره استعمالیدونکي درمل موږک وژونکي (Rodenticides) د هرزه ګیاه لپاره استعمالیدونکي کرنیز درمل( Herbicides) په نوم سره یادیږي. د مایکرو اورګانیزمونو لکه د فنګسونو لپاره استعمالیدونکي کرنیز درمل د (Fungicides) د بکټریاوو لپاره کاریدونکي کرنیز درمل د (Bactericides) په نوم یادیږي. همدارنګه د کرنیزو درملو ډېر نور ډولونه هم موجود دي[۹:۲]. د کرنیزو درملو Pesticide کلمه یوه عامه اصطلاح ده چې د حشره وژونکو، هرزه وژونکو فنګس وژونکو بکټریاوژونکو موږک وژونکو پر ځای استعمالیږي چې کیدای شي د یوه ځانګړي افت لپاره و کارول شي. کرنیز درمل نظر هغه منبع ته چې دوی ورڅخه تر لاسه کیږي په دوه دوله دي اول یې هغه برخه کرنیز درمل دي چې د کیمیاوي موادو څخه په لاس راځي او د انسانانو په واسطه جوړیږي، دوهم ډول یې هغه دي چې له نورو مفیده ژوندیو موجوداتو څخه په لاس راځي. په بیولوژیکي توګه کاریدونکي کرنیز درمل نظر کوربه ته خاص یا ځانګړي وي. ډېر په مشخص ډول خپل مربوطه کوربه یا کرنیز آفت له منځه وړي په داسې حال کې چې کرنیز کیمیاوي درمل بیا نظر یوه کوربه ته ځانګړي نه دي، نظر پراخو فعالیتونو ته ددې سبب ګرځي چې نور غیر هدف شوي اورګانیزمونه هم له منځه یوسي. په بیولوژیکي توګه کاریدونکي کرنیز درمل د چاپېریال لپاره زهري نه دي ځکه چې له استعمال څخه وروسته ژر له منځه ځي او د استعمال لپاره هم ډېرې کمې اندازې ته ضرورت لري. کیمیاوي کرنیز درمل د چاپېریال بېلا بېلې ککړتیاوې رامنځ ته کوي، ځکه نوموړي کرنیز درمل په زیاته پیمانه زهري دي، د دوی تجزیه کېدل هم وخت ته ضرورت لري. په بیولوژیکي توګه د کاریدونکو کرنیزو درملو تر ټولو ښه ګټه دا ده، چې دوی د نبات په جنیټکي بدلون کې کوم خاص رول نلري، تر څو د نبات ژوند له خطر سره مخ کړي، دا خبره دا په ثبوت رسوي چې د بیولوژیکي کرنیزو درملو په وړاندې دکرنیزو آفتونو د مقاومت چانس کم دی، په داسې حال کې چې په کیمیاوي درملو کې بیا د کرنیزو کیمیاوي درملو په وړاندې د ځینو اورګانیزمونو د مقاومت راپور ورکړل شوی دی. کرنیز

کیمیاوي درمل په نورو فرعي گروپونو ویشل شوي دي، لکه اورگانو کلورین، اورگانو فاسفیټ، کاربامیټ، او پایریتروئیډونه. په بیولوژیکي توگه کاریدونکي کرنیز درمل هغه دي چې د طبعي موادو څخه په لاس راځي لکه حیوانات، نباتات او مایکرو اورگانیزمونه. په مایکرواورگانیزمونو کې بکټریاوې، فنگسونه، ویروسونه او نیماتودونه شامل دي. کرنیز درمل د بیلا بیلو مېکانېزمونو په اساس آفت له منځه وړي، ځیني کرنیز درمل د آفت د ودې مخنیوی کوي او ځیني یې بیا برعکس د آفت وده تشویقوي. ځیني کرنیز درمل دفع کوونکی حاصیت لري ، ځیني یې جذب کوونکی حاصیت لري، کرنیز آفت ددې لپاره چې په اسانۍ سره یې ووژني ځان ته یې راجذب کوي. کرنیز درمل د خپل پراخ فعالیت له امله چې د مختلفو کرنیزو آفتونو دمخنیوي لپاره استعمالېږي د دوی دقیقه طبقه بندي ستونزمنه ده[۳:۲۸،۲۹]. د کرنیزو درملو پراخ استعمال ددې لپاره ترسره کېږي چې کرنیز محصولات له فنگسونو، بکټریاوو، حشراتو او خاوره له ناوړه بوټو څخه وژغورل شي. د نن ورځې عصري کرنه په همدې کرنیزو درملو باندې متقي ده چې په اساس یې کرنیز تولید او غذا په زخیره ځایونو کې په محفوظ ډول ساتل کېږي. په اوس وخت کې په نړیواله کچه له ۲۰۰۰ ډولونو څخه زیاتې د کرنیزو درملو فعاله مادې موجودې دي، چې له ۶۰ څخه زیات د کرنیزو درملو کیمیاوي کلاسونه ترې تشکیل شوي دي. په عام ډول په ټوله نړۍ کې د استعمالېدونکو کرنیزو درملو اندازه په کال کې ۴.۱ میلیونه ټنه اټکل شوې ده [ ۵:۴].

په مختلفو براغظمونو کې په کلني ډول د استعمالیدونکو کرنیزو درملو اندازه چې په مسلسل ډول له ۱۹۹۰ څخه تر ۲۰۱۸ م کال پورې استعمال شوي دي، اسیا اول مقام خپل کړی دی، چې په ۱۹۹۰ م کال کې د یو هکتار لپاره ۲.۲ ټنه کرنیز درمل او په ۲۰۱۸ م کې د یوه هکتار لپاره ۳.۶ کیلو گرامه کرنیز درمل استعمال شوي دي، دا اندازه له ۲۰۱۱ م کال څخه تر ۲۰۱۲ م کال پورې تر ټولو ډېره تقریباً ۳.۸ کیلو گرام پر هکتار وه. تر ټولو کمه اندازه کرنیز درمل په افریقایي هېوادونو کې استعمال شوي دي. د دې لپاره چې کرنیز درمل د مهمو کیمیاوي درملوله جملې څخه دي او په دې اړه په پښتو ژبه کې په کافي اندازه د خبراوي معلومات نشته، نو ځکه مو په روانه کتابتوني څېړنه کې د کرنیزو درملو په اړه چې له قوي نړیوالو ژونالونو څخه به یې معلومات راټول کړل شي ځای ورکړ.

## موخې

ددې مقالې موخه داده چې کرنیزو درملو گروپونه، او نظر کرنیز آفت ته د کرنیزو درملو ډولونه او د استعمال د اغېزو په اړه به د اوسني علم د معلوماتو یوه مجموغه ترتیب او چمتو کړل شي. کرنیز درمل په کرنه کې د کرنیزو مخصولاتو د پراخ تولید لپاره کارول کېږي، نو بهتره ده چې د نوموړي کرنیزو درملو گروپونو او ډولونو

سره اشنا شو، همدارنګه په دومداره توګه د کرنیزو درملو استعمال د چاپېریال ډول ډول ککړتیاوې او مختلفي انساني روغتیایي ستونزې رامنځ ته کوي. د دې اغېزو د پوهېدو په برخه کې د پام وړ کتابتوني څېړنو سره سره یوې هر اړخیزې بیا کتنې ته اړتیا پاتې ده، تر څو د کرنیزو درملو په اړه راپورته کېدونکي خطرونه روښانه شي، نو د دې مقالې موخې په لاندې ډول خلاصه کېږي.

د کرنیزو درملو ګروپونو پېژندنه، نظر آفت ته یې د کرنیزو درملو طبقه بندي، د استعمال د اغېزو ارزونه او ددوی د خطرونو په ګوته کول دي.

### کړنلاره او مواد

د دې علمي مقالې او لیکنې لپاره کړنلاره کتابتوني ده، د دې لپاره چې د ډاډ وړ معلومات د پورته اهدافو لپاره تر لاسه شي نو د باوري انټرنیټي سایټونو څخه پکې استفاده شوې ده. لومړی د باوري او موثقو ژورنالونو څخه اړېدېټ مقالې راټولې او وروسته د نوموړو علمي مقالو په اساس د موضوع هر اړخ د علمي د لایلو په رڼا کې تحلیل شوی دی.

### د کرنیزو درملو ډولونه

کرنیز درمل نظر د کرنیز آفت هغه ډول ته چې کنترولوي یې نومول کېږي. همدرانګه کرنیز درمل په بیولوژیکي توګه تجزیه کېدونکي درملو په توګه هم په نظر کې نیول کېږي. کرنیز درمل د میکروبونو یا نورو ژوندیو موجوداتو په واسطه تجزیه یا په کوچنیو زراتو بدلېږي او دا د دې سبب ګرځي چې په غذایي ځنځیر کې موجود مضره آفات او اورګانیزمونه له منځه یوسي. د کرنیزو درملو لپاره یوه بله غوره لار چې تمرکز پرې کېږي دا ده، چې نوموړي کیمیاوي درمل په کومه طریقه او له کومې منبع څخه په لاس راغلي دي [۱]. د کرنیزو درملو د پېژندنې او محتوا لپاره د دوی مختلف اړخونه په نظر کې نیول کېږي، مثلاً د دوی زهریت، هغه اورګانېزم چې دوی یې له منځه وړي، د کرنیز درمل په توګه د دوی دنده، کیمیاوي جوړښت، کرنیز آفت باندې د دوی ااغېزه، نبات ته داخلیدل، د دوی د خرڅلا ډول او هغه منبع چې کرنیز درمل ورڅخه په لاس راځي[۹،۸:۷]. د کرنیزو درملو د زهریت په برخه کې په ابتدا کې د دوی دوه اړخونه په نظر کې نیول کېږي، اول د دوی د استعمال اندازه(دوز)، دویم وخت دی چې نوموړي کرنیز درمل د استعمال څخه وروسته په کرونده یا ذخېره ځای کې تر څومره وخته پاتې کېږي. د کرنیز درمل تر ټولو بهتره طبقه بندي هغه د دوی کیمیاوي جوړښت او تشکیل دی. کرنیز درمل لکه حشره وژونکي، فنګس وژونکي، هرزه بوټي وژونکي او موږک وژونکي هم د کیمیاوي جوړښت په اساس نومول شوي او طبقه بندي شوي دي. د مثال په توګه

حشره وژونکي له کرباميټو Carbamate څخه تشکیل شوي دي چې ښه مثال يې کارباريل Carbaryl دی، اورگانو کلورينOrganochlorine غوره مثال يې اندوسلفان ,(Endosulfan) دی، اورگانوفاسفورس Organophosphorus چې غوره مثال يې مونوکروتوفوس (Monocrotophos) دی او داسې نور.

**اورگانو فاسفيټ (کرنيز درمل)**

نوموړي کرنيز درمل په کرونده کې په پراخه پيمانه استعمالېدونکی درمل دی، د دې کټګورۍ کرنيز درملونه د نورو کرنيزو درملو په پرتله ۴۰٪ زيات توليد او مارکېټ لري. د نوموړي کرنيز درمل اصلي زهرجن تاثيرات په اورګانيزم باندې دا دي، چې کله ياد کرنيز درمل له ميکروب سره په تماس کې شي د دوی اسيټيلکولينسټريز acetylcholinesterase انزايم باندې داسې ااغېزه کوي چې بيا يې جوړيدل نا ممکن دي، نوموړی انزايم د ژوندي موجود يا ميکروب د عصبي زيګنالونو انتقال کې مرسته کوي. د دې انزايم په له منځه تګ سره د ميکروب عصبي سيتسم او د تنفسي سيستم له ستونزو سره مخ کېږي. نوموړي کرنيز درمل نه يوازې دا چې د کرنيزو افت وژونکو په ډول کارول کېږي، بلکې د هرزه وژونکي په توګه هم د استعمال وړ دي. د نوموړي کرنيز درمل پاتې شوني د ځمکې لاندې اوبو ته لار پيدا کوي، له استعمال څخه وروسته د کروندې د ابياري په واسطه چې کله اضافي اوبه دريابونو سيندونو ته لار پيدا کوي د نوموړي کرنيز درمل پاتې شوني هلته انتقاليږي، کله چې په نبات باندې پاشل کېږي له تجزيه کيدو وروسته فضا ته فرار کوي، چې د ژونديو موجوداتو مختلفې ډلې په مختلفو طريقو له ستونزې سره مخ کولی شي. د نوموړي کرنيز درمل په اړه زياتې مهمې څېړنې شوې دي، د هغه ضررونو په اړه کوم چې د انسان له روغتيا سره تړلي دي، لکه د عصبي احتلالاتو په اړه يې راپور ورکړل شوی دی [۱۰]. اکثره اورګانوفاسفيټ حشره وژونکي دي. د دې کرنيز درمل په اړه معلومات د ۱۹ م پيړۍ په اوايلو کې په لاس راغلل. په حشراتو باندې ااغېزه يې کټ مټ په انسانانو باندې اغېزې ته ورته ده، چې نوموړي معلومات په ۱۹۳۲م کال کې ورکړل شوي دي. ځيني يې خورا زهرجن دي او په چاپېريال کې د ډېر وخت لپاره نه پاتې کېږي.

**اورګانو کلورين حشره وژونکي**

په عام ډول دغه حشره وژونکي پخوا استعماليدل، خو اوس يې نظر روغتيايي زيانونو او محيطي تاثيراتو ته په پام اکثره له مارکيټ څخه ټول شوي دي ښه مثال يې د ډي ډي ټي(D.D.T)، کلورډان او ټيګزاپين دي [۱۱]. اورګانوکلورين د چاپېريال مقاوم ککړونکي حشره وژونکي دي د دوی اکثرو استعمال په پرمختللو هېوادونو کې بند دی. ځينې اورګانو کلورين لا هم په چاپېريال کې شتون لري، دوی غذايي زنځير ته

داخلېږي په دې توګه د انسان روغتیا ته زیان رسوي. د دوی وروستی تخریب او برخلیک لا هم د پام وړ اندیښنې لري.

## کارباميټ آفت وژونکي

کارباميټ آفت وژونکي د کاربامیک اسید څخه جوړ شوي استیر او تیو استیر دي. د دې لپاره چې په پراخه پیمانه کرنیز محصول په لاس راشي، نو نوموړي کرنیز درمل استعمالېږي. همدرانګه نوموړي کرنیز درمل د دې لپاره استعمالېږي چې انسانان او حیوانات له هغه ناروغیو څخه وساتل شي، کومې چې د حشراتو په واسطه انتقالیږي. که چیرې په مناسب ډول سره استعمال نشي په زیاته پیمانه زهري دي[۱۳]. کارباميټ آفت وژونکی په عصبي سیستم باندې االغېزه کوي او ځانګړی انزایم له منځه وړي، کوم چې استیایل کلوین اداره کوي او دا هغه کیمیاوي مواد دي چې د عصبي زیګانالونو په انتقال کې رول لري. نوموړی انزایم په تکراري ډول سره نوموړي دنده ترسره کوي. په کارباميټ آفت وژونکو کې نور فرعي ګروپونه هم موجود دي[۱۱].

## پیریترویډس آفت وژونکي

د تېرې یوه نیمې پیړی راهیسې هڅه او تلاش کېږي تر څو داسې کرنیز درمل یا مفیده ژوندي اورګانیزمونه کشف شي، چې د کرنیزو محصولاتو په اضافه کولو کې رول ولري، همدارنګه کرنیز محصولات له هغه امراضو څخه وساتل شي چې د مختلفو عوامول په اوسطه انتقالېږي، په دې لړ کې په زیاته پیمانه کرنیز درمل استعمال شوي دي چې په اساس یې پیریترویډس (Pyrethroids) یې غوره بلل شوي دي. [۱۴]. دوی په مصنوعي توګه داسې پرمختګ کړی دی لکه په طبیعي توګه تولید شوی پیریترین کوم چې په داودي ګل کې پیدا کېږي. نوموړي کرنیز درمل په چاپېریال کې د خپل ثبات له مخې پېژندل شوي دي. ځیني مصنوعي پیریترویډس(Pyrethroids) عصبي سیستم ته زهري دي. مصنوعي پیریترویډس نظر د دوی کیمیاوي جوړښت او زهریت ته توپیر لري، دوی مختلفې روغتیایي اغېزې رامنځ ته کوي چې له ساده خوا کرځیدنې(قی) څخه یې تر سرطاني ناروغیو څخه یادونه کولی شو. د ګڼو راپورنو او مطالعاتو سربېره چې د پیریترویډس پېژندنه او د دوی خطرات یې په نظر کې نیولي دي بیا هم انسانانو ته پېښېدونکي خطراتو په اړه یې معلومات کافي ندي. دا ډېر وخت ته ضرورت لري تر څو داسې مطالعات ترسره شي چې د آفت وژونکو په واسطه ککړه ډوډی له خوړولو څخه وروسته ددوی د خطرونو په اړه کره شواهد وړاندې شي.

### هرزه وژونکي

د هرزه بوټو وژونکو مقاومت په ټوله نړۍ کې د کرنيز توليد په برخه کې يوه عامه ستونزه ده. نوي تشکيل شوي هرزه وژونکو لپاره اړينه ده، چې هغه هرزه بوټي له منځه يوسي کومو چې د شته هرزه وژونکو په وړاندې مقاومت غوره کړی دی[۱۵]. دوی د زيان رسوونکو بوټو د له منځه وړنې لپاره بازار ته وړاندې شوي دي. کلوروسلفورون په پراخه پيمانه اغېزې کوونکی هرزه وژونکی دی کوم چې د هرزه بوټو په اسيتواسيتيت انزايم باندې ااغېزه کوي. په ۱۹۶۰ م کال کې د يوه هکتار لپاره له يوه کيلو گرام څخه زيات کلوروسلفورون استعمال شوی دی د دې لپاره چې د کرنيزو محصولاتو څخه ساتنه رامنځ ته کړي. په داسې حال کې چې نور واښه وژونکي يا بوټي وژونکي لکه سلفونيلورياس، سلفوسلفورون د ورته اغېزې د تر لاسه کولو لپاره لږ تر لږه يو فيصد ته اجازه ورکړل شوې وه[۱٦].

### نباتي يا طبعي کرنيز درمل

نباتي کرنيزو درملو يا آفت وژونکو ته طبيعي کرنيز درمل يا آفت وژونکي هم وايي. نباتي يا طبعي کرنيز درمل ټاکلي ډولونه لري، کوم چې له مختلفو طبعي موادو لکه حيواناتو، نباتاتو، بکټرياوو، فنگسونو او ويروسونو څخه په لاس راځي. د دوی کارونه په ځانگړي ډول په اروپايي هېوادونو کې جنجالي دي[۱۷]. د حشره وژونکو او آفت وژونکو زهريت ترمنځ کوم ځانگړی توپير وجود نلري، بلکې دوی دواړه په زهريت کې سره برابر دي. کرنيز درمل يا آفت وژونکي نظر د دوی ليبل يا پېژند پاڼې ته په څلورو برخو ويشل شوي دي، لکه سور رنگ يې خورا زيات زهرجن دي، ژيړ نشان يې زهرجن ته اشاره کوي، شين يې متوسط زهريت ته اشاره کوي او اسماني رنگ يې کم زهري ته اشاره کوي. نباتي کرنيز درمل په طبعي ډول تشکيليدونکي کرنيز درمل دي کوم چې د آفتونو او نباتي ناروغيو د مخنيوي لپاره استعمالېږي. زياتره کرنيز درمل چې سور رنگ نښان لري نن ورځ يې استعمال بند دی. د کرنيزو آفت وژونکو ليبل سور، ژيړ شين او اسماني رنگه نظر د دوی کمو زهري اغېزو ته چې په حيواناتو او نباتاتو يې کوي طبقه بندي شوي دي[۱۱].

### د کرنيزو درملو او حشره وژونکو استعمال

حشره وژونکي هغه کيمياوي درمل دي، چې حشرات له منځه وړي. حشره وژونکي کولی شي حشرات ووژني او يا حشرات په داسې ډول متضرر کړي چې د دې توان ونلري چې زيان رامنځ ته کړي. کيدای شي چې ياد حشره وژونکی په طبعي ډول تشکيل شي او يا په مصنوعي ډول د انسان په واسطه له مختلفو کيمياوي موادو څخه برابر شي. د افتونو د کنترول لپاره په مختلفو شکلونو سره استعمالېږي لکه د اسپرې په شکل، د زهرې تغمې په شکل او داسې نور[۱۸]. کرنيز درمل او حشره وژونکي د کرنې او انساني اهدافو د استعمال

لپاره موثر دي. طبیعي یا نباتي کرنیز درمل د کرنیزو نباتاتو محصولات زیاتوي په داسې ډول چې د ودې په جریان کې کرنیز نباتات له مختلفو ناروغیو څخه ژغوري. کرنیز درمل همدا ډول له یوې ساحې څخه بلې له یوه هېواد څخه بل ته د کرنیزو نباتاتو ناروغیو لکه فنګسي، بکټریایي او حشراتو د انتشار څخه مخنیوی کوي. څکه لیدل شوي دي هغه افتونه یا د کرنیزو نباتاتو ناروغیو عاملین چې پخوا یې دلته شتون نه درلود، د نورو هېوادونو څخه د مختلفو نباتاتو او کرنیزو محصولاتو په راوړلو سره دوی هم را انتقال شوي دي. نو کله چې انتقالیدونکي بکټریاوې او حشرات چې کله د کرنیزو درملو په واسطه کنترول شي نو نورو هېوادونو ته یې له انتقال څخه مخنیوی ترسره کیدای شي. اکثر هغه کرنیز درمل چې د کروندګرو په واسطه استعمالېږي زیات زهریت لرونکي دي، څینې یې لوړ زهریت او ډېر لږ شمېر یې کم زهري دي[۱۹:۲۰،۲۱].

### د کرنیزو درملو په واسطه ککړتیا

د کرنیزو درملو له جملې څخه آفت وژنکي او حشره وژونکي خورا خطرناک دي کوم چې په عصري نړۍ کې په دومداره توګه استعمالېږي. دا کیمیاوي درمل د نباتاتو او حشراتو د منځه وړلو لپاره کارول کېږي. په چاپېریال باندې د کرنیزو درملو ااغېزه اوسنۍ اندیښنه ده، څکه یاد کرنیز درمل اکثره په کرونده کې د سپرې، پوډرو او د محلول په ډول کارول کېږي، دوی د هوا او د سیندونو د اوبو په جریاناتو کې توزیع کېږي. کله چې په کورونو باغونو کې دغوماشو د مخینوي لپاره یا نورو حشراتو د مخنیوي لپاره آفت وژونکي سپرې کېږي د انسانانو او حیواناتو د تنفس په واسطه د دوی وجودونو ته لار پیدا کوي. په هغه خاوره کې چې د کرنیزو درملو په واسطه ککړې وي که د غلو دانو تخمونه وکرل شي د یادو غلو دانو له وجې د مختلفو ژوندیو موجوداتو وجودونو ته موجود کیمیاوي درمل لار پیدا کوي. کله چې کرنیز درمل اوبو ته لار پیدا کړي د استوګنې مختلفو ځایونو ته د نوموړي اوبو څخه یاد کرنیز درمل انتقالېږي [۲۲،۲۳].

### د کرنیزو آفت وژونکو او حشره وژونکو اغېزې

د چاپېریال د اکثره ناوړو اغېزو منشا له کرنیزو درملو سره تړلې ده. هوا، اوبه او خاوره د غیر هدف شویو نوعو څخه دي، چیرته چې ۹۸٪ حشرات وژونکي او ۹۵٪ هرزه بوټي وژونکي شیندل کېږي. کله چې د کرنیزو درملو زارت په هوا کې خپاره شي، د باد په واسطه یاد زرات نورو ځایونو ته انتقالیږي، نو دا زرات د دې سبب ګرځي چې نور ځایونه هم ککړ کړي، نوموړي پدیدې ته د کرنیزو درملو د زراتو انتشار وایي. د کرنیزو درملو په واسطه د خاورې ککړتیا څخه وروسته د اوبو ککړتیا ضرور منځ ته راځي، څکه د اوبو ککړتیا لپاره ککړه خاوره منشا ده. څینې کرنیز درمل په دومداره توګه ککړونکي زرات پیژندل شوي دي. [۲۴]. د کرنیزو درملو د شیندلو یا استعمال په وخت کې دا خبره په پام کې نیول په کار دي چې کاریدونکي کرنیز درمل ژر

د تجزیې وړ وي او یا له استعمال څخه وروسته په چاپېریال کې ژر د غیر فعالیدو وړ وي. د کرنیزو درملو د فعالیت یا د زهریت کمېدل د دوی کیمیاوي موادو په خواصو یا د چاپېریال په شرایطو پورې تړلي دي. په کرنیز درمل کې د موجودو کیمیاوي موادو جوړښت په هوازي چاپېریال کې د کرنیزو درملو تجزیه کولو پروسه ورو کوي. کله چې کرنیز درمل د خاورې په واسطه جذب کېږي ددوی حرکت ورو کېږي، خو په خاروه کې شته مایکرواورگانیزمونو ته ډېره سختیږي چې کیمیاوي درمل گډ وډ کړي.نو په خاروه کې شته اورگانیزمونه بیا ددې څخه عاجزه کېږي تر څو یاد جذب شوي کرنیز درمل یا کیمیاوي مواد له منځ یوسي[۲۵]. د کرنیزو درملو زهریت په نباتاتو، خاوره، انسانانو، مرغانو او نورو حیواناتو باندې ډېرې خطرناکې اغېزې کوي. دا اغېزې زهري دي او اکثره یې فزیالوژیکي سیستم ته زیان رسوي. د خاورې، هوا او اوبو د ککړتیا له وجې یاد زهري مواد وجود ته داخلیږي. د کرنیزو درملو یادې زهرجنې اغېزې ددې سبب گرځي تر څو مختلفې روغتیایي ستونزې رامنځ ته کړي لکه د پوستکي او د سترگو له خارښت څخه یې یادونه کولی شو، د ډېرو زیاتو شدیدو اغېزو له جملې څخه په عصبي سیستم ااغېزه، د هورمونو گډوډېدل چې د زیږون ستونزه رامنځته کوي او همدرانگه د سرطان له ناروغیو څخه یادونه کول شو[۳۰].

د روغتیا نړیوال سازمان(WHO) او د ملگرو ملتونو د چاپېریال ساتنې اداراتو د اټکل له مخې چې هر کال د مخ پر ودې هېوادونو ۳ میلیونه کارگران په کرنه کې د کرنیزو درملو له وجې مسموم کېږي، چې له جملې څخه یې ۱۸۰۰۰ کسان حتا مړه کېږي. د کرنیزو درملو اړوند د مړینې ۹۹٪ پېښې مخ پر ودې هېوادونو کې رامنځ ته کېږي، چې ۲۵٪ یې د کرنیزو درملو د استعمال له وجې دي[۲۶]. د یوې څېړنې د پایلو له مخې په پرمختللو هېوادونو کې ۲۵ میلیونه کارگران ممکن په کال کې د کرنیزو درملو له نرم مسمومیت سره مخ شي[۲۷]. نظر تېرو مطالعاتو ته دې نتیجې ته رسیږو چې کروندگرو د آفت وژونکو ډېرې گټې او مختلفې نښې نښانې تجربه کړې دي. د نړۍ د نفوسو په منځ کې د کرنیزو درملو د اغېزو نښې او علایمو له ښکاره کیدو څخه دا جوته شوې ده، هغوی چې د کیمیاوی موادو سره مخ شوي دي نظر کروندگرو ته چې یاد کیمیاوي درمل یې شیندلي دي په زیاته پیمانه متضرره شوي دي. د هغه گروندگرو په منځ کې چې کرنیز درمل یې شنیدلي دي د ناروغیو د علایمو زیاتوالی شاید ددې له وجې وي چې دوی له آفت وژونکو سره مستقیم تماس کړی دی یا وړاندې له کرنیزو درملو سره تماس کې شوي دي. په همدې خاطر وړاندیز کېږي چې په کروندو او په عمومي توگه په کرنیزو ساحو کې دې محافظتي اقدامات ترسره شي، تر څو د کرنیزو درملو له ممکنه زهري زیان څخه انسانان او نور ډول ډول ژوندي موجودات وژغول شي. د کرنیزو درملو نه مناسبه استعمال انسان ته روغتیایي ستونزې پېښوي او هم چاپېریال ککړوي. په ټولیز ډول د کرنیزو درملو

څخه د راولاړ شوي خطر څخه د مخنيوي لپاره يې غوره لاره دا ده چې د استعمال لپاره يې ځانګړي قوانين او مقرارت وضعه شي، همدارنګه د خوړو او څښاک اوبو کې د کرنيزو درملو د پاتې شونو په اړه د خلکو اندېښنو ته په پام سره کېدلی شي د انسان په روغيتا او چاپېريال باندې د کرنيزو درملو اغېزې د پام وړ راکمې شي. د دې لپاره چې د کرنيزو درملو روغتيايي زيانونه د پام وړ کم او چاپېريال د ککړتيا له اغېزو څخه په امان کې وساتل شي بهتره لاره يې دا ده چې په طبيعي آفت وژونکو باندې تکيه وشي.

**پايله**

کرنيز درمل په کرنه کې د دې لپاره استعمالېږي، تر څو د ښه کيفيت لرونکی کرنيز محصولات په لاس راشي. کرنيز نباتات او محصولات د ودې په جريان کې همدرانګه په ساتنځايونو کې له نباتي ناروغيو، کرنيو آفتونو او هرزه ګياه وو څخه متضرره نشي. نوموړي کرنيز درمل له مغلقو کيمياوي موادو څخه ترکيب شوي دي او په مختلفو ګروپونو باندې ويشل شوي دي، لکه کاربامېټ، اورګانو کلورين، اورګانو فاسفېټ، فايروتيارويډ. په يادو کرنيزو درملو ګروپونو کې نظر ژوندي موجود ته يا هغه آفت ته چې له منځه يې وړي مختلف کرنيز درمل طبقه بندي شوي دي. کرنيز درمل نظر ژوندي اورګانيزم ته يا هغه افت ته چې دوی يې له منځه وړي په مختلفو ګروپونو باندې ويشل شوي دي، حشره وژونکی، موږک وژونکی، هرزه ګياه وژونکي، فنګس وژونکی، بکټريا وژونکی همدارنګه د نورو ژونديو موجوداتو لپاره هم مختلف کرنيز درمل طبقه بندي شوي دي. کرنيز درمل د استعمال پروخت او له استعمال څخه وروسته مختلف احتلالات منځ ته راوړي. د کرنيزو درملو زهريت په نباتاتو، خاوره، انسانانو، مرغانو او نورو حيواناتو ډېرې خطرناکې اغېزې کوي اکثر يې فزيالوژيکي سيستم ته زيان رسوي. په انسانانو کې يې د سترګو او پوستکي له خارښت څخه يادونه کولی شو، شديد حالت کې عصبي سيستم باندې ااغېزه کوي د هورمونو ګډوډي رامنځ ته کوي، چې په اساس يې د زيږون ستونزه رامنځته کېږي، همدارنګه د سرطاناني ناروغيو سبب ګرځي. په عمومی ډول به کرنيز درمل د کرنې په سکتور کې د کرنيزو محصولاتو د ښه توليد سبب ګرځي، خو ولې پورته ذکر شويو ستونزو ته په کتو يې دومداره استعمال چاپېريال له ناوړه پيښو او مختلفو روغتيايي ستونزو سره مخ کوي. بهتره يې داده چې د کيمياوي کنترول پر ځای د کنترول نورې لارې غوره کړل شي کيمياوي کنترول پر ځای په اوس کې بيالوژيکي کنترول يوه غوره بديل لاره کيدای شي.

**وړانديزونه**

۱ – د کرنيزو درملو سره له مستقيم تماس څخه د بچ کيدو لپاره دې په کرنيزو ساحو کې محافظتي اقدامات ترسره شي.

۲ – په ټوليز ډول د کرنيزو درملو څخه د روالاړو شويو خطراتو څخه د مخنيوي لپاره دې ځانګړي قوانين او مقرارت وضع شي.

۳ – په خواړو او څښاک اوبو کې د کرنيزو درملو د پاتې شونو، همدارنګه له استعمال څخه وروسته د کرنيزو محصولاتو د پاتې شونو او د انسانانو په وجود او چاپېريال باندې يې د ناوړه اغېزو د پوهاوي لپاره خلکو ته د عامه پوهاوي لپاره مختلفې د خبراوي لارې په کار واچول شي.

۴ – د معالجې پر ځای دې په وقايه باندې زيات تمرکز وشي.

۵ – مخکې له دې چې کيمياوي کنترول ترسره کړو، بهتره يې دا ده چې په لومړي قدم کې د نباتي ناروغيو او آفتونو لپاره د کنترول نورې لارې چارې ترسره شي.

**ماخذونه**

1. Abbasi SA, Krishnan S. The New Japanese Pesticide Cartap (Padan): Is it as Environment Friendly as Claimed? APH Publishing; 1993.

2. Alavanja MC. Introduction: Pesticides use and exposure, extensive worldwide. Reviews on environmental health. 2009 Dec; 24(4):303-10.

3.Abubakar Y, Tijjani H, Egbuna C, Adetunji CO, Kala S, Kryeziu TL, Ifemeje JC, Patrick-Iwuanyanwu KC. Pesticides, history, and classification. In Natural remedies for pest, disease and weed control 2020 Jan 1 (29-42). Academic Press.

4. FAO (Food and Agriculture Organization of the United Nations) (2021). FAOSTAT: Statistics on Pesticides Use in Agriculture, 1990-2018. Pesticides Use Domain. http://www.fao.org/economic/ess/environment/data/pesticides-use/en

5. Leoci R, Ruberti M. Pesticides: An overview of the current health problems of their use. Journal of geoscience and environment protection. 2021 Aug 4; 9(8):1-20.

6. Yadav IC, Devi NL. Pesticides classification and its impact on human and environment. Environmental science and engineering. 2017 Feb; 6(7):140-58.

7. Akashe MM, Pawade UV, Nikam AV. Classification of pesticides: A review. Int. J. Res. Ayurveda Pharm. 2018; 9(4):144-50.

8. Hassaan MA, El Nemr A. Pesticides pollution: Classifications, human health impact, extraction and treatment techniques. The Egyptian Journal of Aquatic Research. 2020 Sep 1; 46(3):207-20.

9. Nayak P, Solanki H. Pesticides and Indian agriculture—a review. Int J Res Granthaalayah. 2021 Jun 4; 9(5):250-63.

10. Kaushal J, Khatri M, Arya SK. A treatise on Organophosphate pesticide pollution: Current strategies and advancements in their environmental degradation and elimination. Ecotoxicology and Environmental Safety. 2021 Jan 1; 207:111483.

11. Jawale CA, Rajput KH, Ugale BJ. Assessing the impact of pesticides: An overview. International Journal of Life Sciences. 2017; 5(3):474-9.

12.Baratzhanova G, Fournier A, Delannoy M, Baubekova A, Altynova N, Djansugurova L, Cakir-Kiefer C. The mode of action of different Organochlorine pesticides families in mammalians. Environmental Toxicology and Pharmacology. 2024 Jul 19:104514.

13.Oliveira TM, Ribeiro FW, Sousa CP, Salazar-Banda GR, de Lima-Neto P, Correia AN, Morais S. Current overview and perspectives on carbon-based (bio) sensors for carbamate pesticides electro analysis. TrAC Trends in Analytical Chemistry. 2020 Mar 1; 124:115779.

14. Ravula AR, Yenugu S. Pyrethroid based pesticides–chemical and biological aspects. Critical Reviews in Toxicology. 2021 Feb 7; 51(2):117-40.

15.Qu RY, He B, Yang JF, Lin HY, Yang WC, Wu QY, Li QX, Yang GF. Where are the new herbicides? Pest Management Science. 2021 Jun; 77(6):2620-5.

16.Lamberth C, Jeanmart S, Luksch T, Plant A. Current challenges and trends in the discovery of agrochemicals. Science. 2013 Aug 16; 341(6147):742-6.

17. Coombs A. Fighting microbes with microbes. Scientist. 2013 Jan 1; 27(1):28-33.

18. Ware GW, Whitacre DM. An introduction to insecticides. The pesticide book. 2004 Dec; 6. 4th edi. 1-40.

19. Hoppin JA, Umbach DM, London SJ, Alavanja MC, Sandler DP. Chemical predictors of wheeze among farmer pesticide applicators in the Agricultural Health Study. American journal of respiratory and critical care medicine. 2002 Mar 1; 165(5):683-9.

20. Horrigan L, Lawrence RS, Walker P. How sustainable agriculture can address the environmental and human health harms of industrial agriculture. Environmental health perspectives. 2002 May; 110(5):445-56.

21. Ecobichon DJ. Pesticide use in developing countries. Toxicology. 2001 Mar 7; 160(1-3):27-33.

22. Hornsby AG, Buttler TM, Brown RB. Managing pesticides for crop production and water quality protection: practical grower guides. Agriculture, Ecosystems & Environment. 1993 Sep 1; 46(1-4):187-96.

23. Morrison Paul CJ, Ball VE, Felthoven RG, Grube A, Nehring RF. Effective costs and chemical use in United States agricultural production: Using the environment as a “free” input. American Journal of Agricultural Economics. 2002 Nov; 84(4):902-15.

24. Nwilene FE, Nwanze KF, Youdeowei A. Impact of integrated pest management on food and horticultural crops in Africa. Entomologia Experimentalis et Applicata. 2008 Sep; 128(3):355-63.

25. Sims GK, Couples AM. Factors controlling degradation of pesticides in soil. Pesticide Science. 1999 May; 55(5):598-601.

26. Miller GT. Sustaining the earth/Thompson learning.

27. Jeyaratnam J. Acute pesticide poisoning: a major global health problem. World health statistics quarterly 1990; 43 (3): 139-144. 1990.

28. Maroni M, Colosio C, Ferioli A, Fait A. Biological monitoring of pesticide exposure: a review. Introduction. Toxicology. 2000 Feb 1; 143(1):1-18.

29. Carvalho FP. Pesticides, environment, and food safety. Food and energy security. 2017 May; 6(2):48-60.

30. Cox C, Surgan M. Unidentified inert ingredients in pesticides: implications for human and environmental health. Environmental health perspectives. 2006 Dec; 114(12):1803-6.

# د کمپلکس مرکباتو ساختماني ایزومیري

پوهنیار محمد نور محمدي، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، کیمیا څانګه
برېښنالیک: mohammadnoormohammady@gmail.com

**لنډيز**

څرنګه چې کمپلکس یا کواردینشن مرکبات د غیرعضوي کیمیا زیاته مهمه او تر ټولو نوې برخه ده، نو په همدې اساس په دې مقاله کې د همدغه مرکباتو لپاره په ساختماني ایزومیري باندې بحث شوی دی. د دې مقالې موخه دا ده چې پوه شو چې ساختماني ایزومیرونه کوم ایزومیرونه دي، سربیره پر دې د ساختماني ایزومیري په مختلفو ډولونو باندې بحث شوی دی او همدرنګه په دې هم بحث شوی چې څنګه کولی شو چې دغه ایزومیرونه یو له بل څخه جلا کړو او په کامله توګه د صحیح فارمول لرونکي مرکبات لاسته راوړو. په دغه مقاله کې د کتاب خانه یي میتود له مخې د مختلفو معتبرو او نړیوالو کتابونو څخه استفاده شوي ده او کوښښ شوی ترڅو نوي معلومات په کې ځای پر ځای شي. ایزومیرونه هغه مرکبات دي کوم چې یو له بل سره یو ډول او مساوي شمېر اتومونه لري، خو په مختلف ډول ترتیب او ځای پر ځای شوي وي. علاوه پر دې د کمپلکس مرکباتو د ساختماني ایزومیری په مختلفو ډولونو باندې بحث شوی دی، د مثال په توګه ایونیزشن ایزومیر، هایدریټ ایزومیر، ارتباطي ایزومیر، کواردینشن ایزومیر، کواردینشن موقیقیعت ایزومیر او لیګاندي ایزومیر. همدارنګه د دې مقالې موندنې ښیي چې له بېلابېلو لارو څخه په استفادې سره مختلف ډوله ایزومیري لرونکي کمپلکس مرکبات جوړیدلی شي او یا د عینې مالیکولي فارمول لرونکو مرکباتو بېلا بېل ډولونه یو له بل څخه جلا کېدلی شي، ترڅو د ژوند په مختلفو برخو کې ورڅخه استفاده وشي.

**کلیدي کلمې**: ایزومیر، اخاطي لیګاند، پُلي لیګاند، کمپکس مرکب، کواردینشن ساحه.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

ایزومیرونه هغه مرکبات دي کوم چې یو له بل سره یو ډول او مساوي شمېر اتومونه لري، خو په مختلف ډول ترتیب او ځای پر ځای شوي وي. دغه د ایزومیرونو د موجودیت پدیدې یا پېښې ته ایزومیري ویل کېږي. څرنګه چې د دوی ساختماني ترتیب یو له بل سره توپیر لري، په همغه ډول د ایزومیرونو خواص هم یو له بل سره توپیر لري. [۱: 435].

ایزومېرېشن د مالیکولي جوړښت یوه مهمه ځانګړتیا ده چې د مرکباتو جوړښت، فزیکي او کیمیاوي ځانګړتیاوې او په بېلابېلو برخو کې د هغوی کاروونې ټاکي. په ځانګړې توګه، د کمپلکس ساختماني ایزومېرېشن مطالعه د ایزومېرونو د توپیر، ځانګړتیاوو او تطبیق په ښه درک کې مرسته کوي. ساختماني ایزومېرېشن په څېړنو او صنعتي برخو کې ځانګړې اهمیت لري. دا د مالیکولونو د فزیکي ځانګړتیاوو (رنګ، بڼه) او کیمیاوي ځانګړتیاوو (محلولیت، تعاملات) بدلونونه واضح کوي، چې په خپل وار سره د سپېکټروسکوپي تخنیکونو لکه IR، -UV Visible، او NMR په مرسته مطالعه کېږي. په درمل جوړونه کې د ځانګړو ایزومېرونو پېژندنه د اغېزمنو درملو د جوړولو لپاره اړینه ده. سربېره پر دې، د صنعتي کاتلېزیز په برخو کې د ایزومېرېشن مطالعه د کتلېټیک اغېزو په ښه کولو کې مرسته کوي.

ایزومیرونه په عمومي ډول په دوه لویو برخو ویشل شوي دي، چې یو یې ساختماني ایزومیرونه او بل یې فضایي ایزومیرنه دي. فضایي ایزومیرونه په دوه برخو ویشل شوي دي، چې عبارت دي له هندسي ایزومیرونو او نوري ایزومیرونو څخه، چې په دغه مقاله کې موږ په دغه برخه باندې بحث نه کوو. بل خوا ساختماني ایزومیرونه په شپږو برخو ویشل شوي دي چې عبارت دي له ایونیزشن ایزومیرونو، هایډرېټ ایزومیرونو، ارتباطي ایزومیرونو، کواردنشن ایزومیرونو، کواردنشن موقیعیت ایزومیرونو او لیګاند ایزومیرنو څخه. موږ په دغه مقاله کې یوازې په همدغه ساختماني ایزومیرونو باندې بحث کړی دی. [۲: ۲۳۱].

**موخې**

- د ایزومیرونو د پېژندلو لپاره له نوي تحلیلي مېتودونو سره اشنا کېدل.
- د کمپلکس ایزومیرونو ټول ډولونه او د هغوی توپیرونه په ښه توګه پېژندل.
- د کمپلکس په جوړښت کې د آیونونو او کواردنیشن عدد د موقعیتونو دقیق تحلیل.
- د کمپلکس ایزومیرونو د ځانګړتیاوو د توپیر ارزونه.

**د کار توکي او کړنلاره**

د دغه مقالې په لیکنه کې له کتابخانه یي میتود څخه استفاده شوې ده او تر ډېره هڅه شوې چې وروستنۍ څېړنې او موندنې کومې چې په دې وروستیو کې ترسره شوې وکارول شي. تقریباً تر څلویښتو زیات نړیوال کتابونو وجود درلود، چې له جملې څخه یې لس غوره کتابو انتخاب شوي دي او کوښښ شوی ترڅو له همدغو معتبرو کتابونو څخه نوي علمي معلومات راټول او په کې ځای پر ځای شي، تر څو یوه ښه علمي مقاله ترې چمتو شي.

**ساختماني ایزومیرونه**

ساختماني ایزومیرونه هغه دي کوم چې د اتوم- اتوم اړیکو مختلف ترتیبونه ولري. په دغه ډله کې هغه کمپلکسونه هم شامل دي کوم چې کېدای شي له یوې څخه زیاتې کواردنشن ساحې ولري او همدارنگه کېدای شي چې په یوه کواردنشن ساحه کې یو لیگاند مختلف ډونر اتومونه ولري. [۳: ۳۲۳].

**۱ . ایونیزشن ایزومیرونه**

هغه ایزومیرونه په کوم کې چې د کواردنشن ساحې او ایونیزشن ساحې تر منځ د لیگاندونو تبادله صورت نیسي، د ایونیزشن ایزومیرونو په نوم یادېږي. د مثال په توگه:

$[Co(NH_3)_5Cl]SO_4$ او
Pentamminechlorocobalt(III) sulfate
$[Co(NH_3)_5SO_4]Cl$
Pentamminesulfatocobalt(III) chloride

په Pentamminechlorocobalt(III) sulfate کمپلکس کې، د کلورو لیگاند په کواردنشن ساحه کې دی، په داسې حال کې چې د سلفیټ گروپ په ایونیزشن ساحه کې دی. که چېرې د دغه کمپلکس اوبلن محلول ته د باریم کلورایډو سره تعامل ورکړو، نو د باریم سلفیټ سپین رسوب لاسته راځي. [۱: 435].

$$[Co(NH_3)_5Cl]SO_4 + BaCl_2 \rightarrow [Co(NH_3)_5Cl]Cl_2 + BaSO_4 \downarrow$$

سپین رسوب

په Pentamminesulfatocobalt(III) chloride کمپلکس کې، د سلفېټو لیگاند په کواردنشن ساحه کې دی، په داسې حال کې چې د کلورو گروپ په ایونیزشن ساحه کې دی. که چېرې د دغه کمپلکس اوبلن محلول ته د سپینو زرو نایترېټو سره تعامل ورکړو، نو د سپینو زرو کلورایډو سپین رسوب لاسته راځي.

$$[Co(NH_3)_5SO_4]Cl + AgNO_3 \rightarrow [Co(NH_3)_5SO_4](NO_3) + AgCl \downarrow$$

سپین رسوب

د ایونیزشن ایزومیرونو تر منځ فرق د ساده کیفي ټسټونو په واسطه کولی شو (یو له بل څخه د دوی بیلاول).

د ایونیزشن ایزومیرونو ځینې نور مثالونه عبارت دي له، [۴: ۱۹۸].

(a) $[Pt(NH_3)_4Cl_2]Br_2$ and
Tetramminedichloroplatinum(IV) bromide
$[Pt(NH_3)_4Br_2]Cl_2$
Tetramminedibromoplatinum(IV) chloride

(b) $[Co(en)_2NO_2Cl]SCN$
Chlorobis(ethylenediamine)nitrocobalt(III) thiocyanate
$[Co(en)_2NO_2SCN]Cl$
Bis(ethylenediamine)nitrothiocyanatocobalt(III) chloride
$[Co(en)_2SCNCl]NO_2$
Chlorobis(ethylenediamine)thiocyanato-Scobalt(III) nitrate

**۲ . هایدریټ ایزومیرونه**

کله چې د کواردنشن ساحې او ایونیزشن ساحې تر منځ د اوبو د مالیکولونو تبادله صورت ونیسي، نو لاسته راغلي ایزومیرونه د هایډریټ ایزومیرونو په نوم یادېږي. د مثال په توګه:

$[Cr(H_2O)_6]Cl_3$
Hexaquachromium(III) chloride
$[Cr(H_2O)_5Cl]Cl_2 \cdot H_2O$ and
Pentaquachlorochromium(III) chloride.1-water
$[Cr(H_2O)_4Cl_2]Cl \cdot 2H_2O$
Tetraquadichlorochromium(III) chloride.2-water

هر کله چې د دغه کمپلکسونو هم موله محلول د سپینو زرو نایټریټ سره یو ځای شي، نو په ترتیب سره ورڅخه درې، دوه او یو مول د سپینو زرو کلورایډ لاسته راځي. [۵: ۳۷۶].

$$[Cr(H_2O)_6]Cl_3 + 3AgNO_3 \rightarrow [Cr(H_2O)_6](NO_3)_3 + 3AgCl\downarrow$$

$$[Cr(H_2O)_5Cl]Cl_2 \cdot H_2O + 2AgNO_3 \rightarrow [Cr(H_2O)_5Cl](NO_3)_2 + 2AgCl\downarrow + H_2O$$

$$[Cr(H_2O)_4Cl_2]Cl \cdot 2H_2O + AgNO_3 \rightarrow [Cr(H_2O)_4Cl_2](NO_3) + AgCl\downarrow + 2H_2O$$

نو په همدې اساس د جوړو شوو سپینو زرو کلورایډو د مولونو له شمېر څخه، د هایډرېټ ایزومیرونو تر منځ یو توپیر پیدا کېدلی شي (یو له بل څخه د بیلولو لپاره).
ځینې نور مثالونه د هایډرېټ ایزومیرونو عبارت دي له

(a) $[Cr(en)_2(H_2O)_2]Br_3$ and

Diaquabis(ethylenediammine)chromium(III) bromide

$[Cr(en)_2(H_2O)]Br_2 \cdot H_2O$

Aquabis(ethylenediammine)chromium(III) bromide.1-water

(b) $[Co(NH_3)_4(H_2O)Cl]Cl_2$ and

Tetrammineaquachlorocobalt(III) chloride

$[Co(NH_3)_4Cl_2]Cl \cdot H_2O$

Tetramminedichlorocobalt(III) Chloride.1-water

[۱: ۴۳۶،۴۳۷].

**۳ . ارتباطي ایزومیرونه**

کله چې په یو لیګاند کې د مرکزي فلز اتوم سره د کواردنشن لپاره د اړیکې جوړولو دوه موقیعیتونه موجود وي، نو لاسته راغلي ایزومیر ته ارتباطي ایزومیر ویل کېږي. کواردنشن کیدونکی ګروپ ته کوم چې کولی شي د فلز سره د دواړو اړیکې جوړولو موقیعیتونو په واسطه وصل شي، احاطي لیګاند (ambidentate or ambient ligand) ویل کېږي [۶: ۳۲۲]. د مثال په توګه:

$[Co(NH_3)_5NO_2]Cl$ and

Pentamminenitrocobalt(III) chloride

$[CO(NH_3)_5ONO]CL$

Pentamminenitritoocobalt(III) chlori*de*

په اول حالت کې د $NO_2$ امبي ډنټاټ ليګاند د کوبالټ سره د نايتروجن په واسطه وصل شوی دی، خو په دويم حالت کې بيا د اکسيجن په واسطه وصل شوی دی.

د نايترو ايزومير يې زېړ رنګ لري او د الټرا وايلېټ وړانګو په مقابل کې حساس دی، او په سور رنګه نايترايټو ايزومير باندې بدلېږي. په معکوس ډول د نايترايټو انالوګ يا متشابه چې کله د تودو هايډرو کلوريک اسيد سره تعامل وکړي، نو د نايترو په مشتقاتو باندې بدلېږي.

ارتباطي ايزوميرونو ته مالګين ايزوميرونه هم ويل کېږي. د ارتباطي ايزومير يو بل مثال په لاندې ډول دی.

$[Co(NH_3)_5SCN]^{2+}$ and

Pentamminethiocyanato-Scobalt(III) ion

$[Co(NH_3)_5NCS]^{2+}$

Pentamminethiocyanato-Ncobalt(III) ion

په اول حالت کې د تيوسيانېټو ليګاند د کوبالټ سره د سلفر په واسطه وصل شوی دی، خو په دوهم حالت کې بيا د نايتروجن په واسطه وصل شوی دی. [۱: ۴۳۷].

**۴ . کواردنشن ايزوميرونه**

هغه ايزوميرونه په کوم کې چې کټيون او انيون دواړه کمپلکس ايونونه وي او د دواړو کواردنشن ساحو تر منځ د مرکزي فلزونو تبادله صورت نيولی شي د کواردنشن ايزوميرونو په نوم يادېږي. د کواردنشن ايزوميرونو ځينې مثالونه په لاندې ډول ښودل شوي دي. [۷: ۵۱۰].

(a) $[Co(NH_3)_6][Cr(CN)_6]$

Hexamminecobalt(III) hexacyanochromate(III)

$[Cr(NH_3)_6][Co(CN)_6]$

Hexamminechromium(III) hexacyancobaltate(III)

(b) $[Co(en)_3][Cr(C_2O_4)_3]$

Tris(ethylendiamine)cobalt(III) trioxalatochromate(III)

$[Cr(en)_3][Cr(C_2O_4)_3]$

Tris(ethylendiamine)chromium(III) trioxalatocobaltate(III)

**۵ . د کواردنشن موقیعیت ایزومیر**

دغه ډول ایزومیري په هغه کمپلکسونو کې منځته راځي کوم چې پُلي لیګاندونه لري. په دغه ایزومیرونو کې د هغه فلز اتومونو ترمنځ کوم چې یو د بل سره د یو یا څو پُلي لیګاندونو په واسط وصل شوي وي، د لیګاندونو تبادله هم صورت نیسي. د مثال په توګه، [۱: ۴۳۸].



Triamminechlorocobalt(III) − μ − amido − μ − hydroxo − triamminechlorocobalt(III)chloride

and



Tetramminecobalt(III) − μ − amido − μ − hydroxo − diamminedichlorocobalt(III)chloride

**۶ . لیګاندي ایزومیرونه**

ځینې لیګاندونه په مختلفو ایزومیري شکلونو کې وجود لري. کله چې دوی د عینې فلز ایون سره کوارډینټ کېږي، نو لاسته راغلی کمپلکس هم ایزومیري وي. دغې عملیې ته لیګاند ایزومیري ویل کېږي. د مثال په توګه: 1,2-diaminopropan (pn) او 1,3-diaminopropane چې ورته trimethylenediamine (tn) هم ویل کېږي، یو له بل سره ایزومیري لیګاندونه دي. [۸: ۳۵۶].



1,2-Diaminopropane (pn)



1,3-Diaminopropane
or
Trimethylenediamine (tn)

لانديني کمپلکسونه کوم چې پورتني گروپونه په خپل ترکيب کې لري د ليگاندي ايزوميرونو يو مثال دی: [۹: ۲۴۸].

او Dichlorobis(1,2-diaminopropane)cobalt(III) chloride, $[Co(pn)_2Cl_2]Cl$
Dichlorobis(1,3-diaminopropane)cobalt(III) chloride, $[Co(tn)_2Cl_2]Cl$

مثال:

يو محلول کوم چې ۰،۳۱۹ گرامه د $CrCl_3.6H_2O$ فرمول لرونکي يو هايډريټ ايزومير لري، د کټيون تبادله کوونکي کنډ څخه کوم چې اسيدي ترکيب لري تېرېږي. او دغه ازاد شوي تيزاب د 19 ملي ليتره ۰،۱۲۵ نارمله سوډيم هايدرواکسايډ په واسطه خنثی کېږي، نو دغه ايزومير معلوم کړئ (د $CrCl_3.6H_2O$ ماليکولي وزن = ۲۶۶،۳۵).

د خنثی سازی لپاره پکاريدونکي سوډيم هايدرو اکسايډ ملي مولونو شمېر = د ازاد شويو تيزابو د ملي مولونو شمير

$= N_1V_1$

$= 19 \times 0.125 = 2.375$

د ازاد شويو تيزابو د مولونو شمير $= \frac{2.375}{1000} = 0.002375$

د هغه مرکب مقدار کوم چې له کټيون تبادله کونکي څخه تيريږي $= 0.319$ g

د مرکب ماليکولي کتله $= 266.35$

د مرکب د مولونو شمېر $= \frac{0.319}{266.35} = 0.00119$

د ۰،۰۰۱۱۹ موله مرکب په واسطه ۰،۰۰۲۳۷۵ موله تيزاب ازادېږي

د يو مول په واسطه د ازاد شويو تيزابو د مولونو شمير $= \frac{0.002375}{0.00119} = 2$ moles

په مرکب کې د تعويض وړ کلورين اتومونو شمير $= 2$

د مرکب ساختماني فرمول عبارت دی له:

$$[Cr(H_2O)_5Cl]Cl_2.H_2O$$

او د IUPAC نوم يې لاندې دی:

$$\text{Pentaquachlorochromium(III) chloride}.1-\text{water}$$

[۱۰: ۱۲۸]

**پایله**

د کمپلکس ایزومیرونو مطالعه د غیرعضوي کیمیا په برخه کې یوه بنسټیزه او اړینه څېړنه ده چې د کمپلکس مرکباتو د جوړښت، فزیکي ځانګړتیاوو او کیمیاوي تعاملاتو په اړه ژوره پوهه ترلاسه کوي. ایزومېرېشن هغه پروسه ده چې د یو کمپلکس مرکب مختلف جوړښتونه یا ایزومیرونه تولیدوي، چې هر یو یې خپلې ځانګړتیاوې او اغېزې لري. د ایزومیرونو پېژندنه د کمپلکس مرکباتو په پوهه کې مهم رول لري او له دې لارې موږ کولای شو چې د دې مرکباتو د فزیکي، کیمیاوي او بیولوژیکي ځانګړتیاوو په اړه دقیق او روښانه نظر ترلاسه کړو.

په دې توګه، د کمپلکس ایزومیرونو دقیقې پېژندنې ته اړتیا ده، ترڅو د هغوی جوړښت، آیوني ترتیب، او تعاملات وڅېړل شي. د ایزومیرونو د توپیرونو لکه رنګ، محلولیت، او تعاملات تحلیل کول، د سپېکټروسکوپي تخنیکونو لکه IR، UV-Visible او NMR په مرسته، ممکن دي. دا تخنیکونه د ایزومیرونو د جوړښت توپیرونه تشخیص کوي او د هغوی د ځانګړتیاوو په اړه مهمې څېړنې وړاندې کوي. د دې ایزومیرونو توپیرونو مطالعه د کمپلکس مرکباتو د تولید او کارونې په بېلابېلو برخو کې مهمه ده.

د کواردنشن په ایزومیری کې د ایونونو تبادله په نظر کې نیول کیږي، په داسې حال کې چې په هایډرېټ ایزومیری کې بیا د اوبو د لیګاندونو تبادله تشریح کیږي. ارتباطي ایزومیرونه د مرکزي ایون د دوه ډونر اتومونو لرونکو یوغاښي لیګاندونو اړیکه جوړول سره ښایي. کواردینشن ایزومیري د دوه مرکزي ایونو لرونکو کمپلکسونو ترمنځ د اړیکې تبادله ښایي، خو کواردینشن موقیعت ایزومیري بیا په پُلي لیګاند لرونکو کمپلکسونو کې منځته راځي. په اخر کې لیګاندي ایزومیري په هغه کمپلکسونو کې منځته راځي، چې خپله لیګاند په مختلفو ایزومیرونو کې راڅرګند شي.

**وړاندیزونه**

۱. هغه اشخاصو ته کوم چې د غیرعضوي کیمیا په برخه کې کار کوي، وړاندیز کیږي چې د کمپلکسونو ایزومیري په دقت سره وګوري، تر څو چې صحیح ایزومیري لرونکي مرکبات لاسته راوړي.
۲. د طب برخې مسؤولینو ته وړاندیز کیږي چې نن ورځ د عصري طب یوه نوي برخه همدغه کمپلکس مرکبات دي، چې په خاص ډول د سرطانونو د درملنې لپاره ورڅخه کار اخیستل کیږي، باید ترې سالمه استفاده وشي.
۳. په دولت غږ کوم چې د کمپلکس مرکباتو د استحصال لپاره نوي او عصري لابراتوارونه جوړ کړي، تر څو چې په کې د مختلفو ناروغیو لپاره مختلف درمل جوړ شي.

۴. څرنګه چې کمپلکس برخه د غيرعضوي کيميا يوه نوې برخه ده، نو استادانو، محصلينو او ټولو اکاډميکو اشخاصو ته وړانديز کېږي چې په دغه برخه کې څېړنې وکړي او نوي معلومات راټول کړي.

**مأخذونه**

1. Sodhi, G.S. *Inorganic Chemistry (second edition)*. Delhi: Vinod Vasishtha for Viva Books Private Limited; (2013).
2. John, E.McMurry. *General Chemistry: Atoms First (2nd Edition)*: Pearson: (2015).
3. Huheey, J.E., Keiter, E.A keiter, R.L and Medhi, O.K. *Inorganic Chemistry: Principle of Structure and Reactivity*, 4th Edition. New Delhi: Pearson; (2006).
4. S. R. Batten, N. R. Champness, X. M. Chen, J. G. Martinez, S. Kitagawa, L, Ohrstrom, M. Okeeffe, M. Paik Suh and.Coordination polymers, metal-organic frameworks and the need for terminology guidelines. Cryst. Eng. Comm, 3002-3018; (2013, 14).
5. William, Brian. *Principles of Inorganic Chemistry*. John Wiley and Sons; (2015).
6. O. M. Yaghi, M. O'Keeffe, N. W. Ockwig, H. K. Chae, M. Eddaoudi and J. Kim. Reticular synthesis and the design of new materials. Nature, 423, 705-715; (2003).
7. Jolly, W.L. *Modern Inorganic Chemistry, 2nd Edition*. New Delhi: Tata McGraw-Hill Publishing Co; (2007).
8. Strohfelt, A.Katja. *Essential of Inoranic chemistry*: John Wiley and Sons; (2015).
9. J. R. Li, R. J. Kuppler and H. C. Zhou. Selective gas adsorption and separation in metal–organic frameworks. Chem. Soc. Rev, 38, 1477; (2009).
10. Hutchinson, John. *General Chemistry II. Connexion Press*; (2016).

# Structural isomerism of complex compounds

T. Asst. Mohammad Noor Mohammadi, Shaikh Zaid University, Education faculty, Chemistry department.

Email: mohammadnoormohammady@gmail.com

**Abstract**

